
ایمان او اسلام

د غوره عالم او کامل ولي حضرت مولانا ضیاءالدین شیخ خالد بغدادي رحمه الله تعالی لیکنه

مړینه: ۲۴۲۱هـ [٦٢٨١ م] شام



حسین حلمی اشک



ایمان او اسلام

د غوره عالم او کامل ولي حضرت مولانا ضیاءالدین شیخ خالد بغدادي رحمه الله تعالی لیکنه

مړینه: ۲۴۲۱هـ [٦٢٨١ م] شام

حسین حلمی اشک

www.hakikatbooks.com

سریزه ۵
۱-پیل ۹
۲- ایمان او اسلام ۱۳
۳- د اسلام ارکان ۱۷
د امام شرف الدین احمد بن یحیی المنیري له لیکونو څخه غوره کړل شوې برخې ۸۷
الله جل جلاله وو، نور هېڅ شی نه وو ۹۵
او هر څه له منځه تلونکي دي، مگر الله جل جلاله تل تر تله دی ۹۵
د توحید دعا ۱۲۲
د لغتونو ټولگه ۱۲۳

هر څوک چې دا رساله چاپ او یا هم بلې ژبې ته وژباړي، نو نوموړي ته به الله تعالی غوره بدله ورکړي او مور به تري مننه‌وی وسوو، همدارنګه هر مسلمان کولای شي چې زمور ټول کتابونه پدې شرط چاپ کړي چې د کاغذ کیفیت او د متن جوړښت ته پاملرنه وکړي.

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایی: (خیرکم من تعلّم القرآن و علّمه) ژباړه: په تاسې کې غوره هغه څوک دی چې قرآن کریم پخپله زده کړي او نورو ته یې هم وروښایی، همدارنګه بل ځای فرمایي: (خذوا العلم من افواه الرجال) ژباړه: علم د تکړه(علماوو) څخه ترلاسه کړئ.

او چا ته چې له نېکانو او ښو خلکو سره ناسته ولاړه برابره نه شي، نو لازمه ده چې د صالح او مخلص عالم له کتابونو څخه ګټه واخلي، لکه د امام رباني مجدد الف ثاني حنفي، سید عبدالحکیم الارواسي شافعي او احمد تیجاني مالکي او داسې نور...او د داسې علماوو له کتابونو څخه دین زدګړي او د خلکو ترمنځ د اهل سنت د کتابونو د نشر هڅه وکړي، او هغه څوک چې د علم او پر هغه د عمل او اخلاص څښتن نه وي، او دا دعوه کوي چې دی پر حقه عالم دی؛ په حقیقت کې دروغجن دی! او همدارنګه پدې پوه شه چې د اهل سنت علماء د اسلام د دین رښتیني ساتونکي دي، او دروغجن علماء د شیطان لښکر او ډله ده. (۱)

خبردار! په تحقیق سره چې د مسیحیت او یهودیت داعیان تل د خپلو **اربابانو** او کاهنانو د باطلو تورونو د خپرولو په هڅه کې دي، پداسې حال کې چې د استنابول د حقیقت نشراتي ټولنه د اسلام د دین خپرولو او لوړه ولو هڅه کوي، خو بل اړخ ته بې دینان د ټولو اسماني دینونو د له منځه وړلو په هڅه کې دي،

سریزه

د هغه رب باری تعالی په نامه چې نعمتونه یې تر اندازه او شمېر وتلی دی

ډېر مهربان، بخښونکی او سخاوتمند ذات دی چې بخښنه خوښوي

په تحقیق سره چې الله تعالی پر خپلو بندګانو ډېر مهربان دی او هر هغه څه چې دوی په دنیا او آخرت کې ورته اړتیا لري ورکوي، او دو ی ته د آخرت د نېکمرغۍ او خلاصون لاره ښایي، همدارنګه الله تعالی هغه چا ته چې خوښه یې شي لاره ښایي داسې کسانو ته هم چې د کفر او ګمراهۍ په تیارو کې وي او د خپلو نفسي غوښتنو پیروي کوي، یا له بدیو سره نږدې پاتې شوي وي او د ګمراه کوونکو کتابونو له لوستلو او د پردیو او دوکه ورکونکو له خبرو څخه اغېزمن شوي وي، نو که چېرې د الله تعالی خوښه شي له ابدي تباهۍ څخه یې ژغوري او نېغې لارې ته یې سموي.

نو څه دي د هغه تېري کوونکي، ناتوانه او تر حد اوښتي چا لپاره چې الله تعالی دا نعمتونه ورپه برخه کړي، بلکې الله جل جلاله هغه پر خپل کفر باندې چې ده خوښ کړي او الله جل جلاله یې ارداه کړې ده پرېږدي، خو که چېرې د الله جل جلاله خوښه شي نو هغه چا ته چې د عذاب وړ وي بخښنه کوي، او پخپل رحمت سره داسې کس جنت ته داخلوي دا ځکه چې الله جل جلاله د هر څه پیداکوونکی، ټاکونکی او ساتونکی د مخلوقاتو له ټولو وهمونو او ډار څخه دی، نو د داسې ذات په نامه چې شان یې لوړ دی خپل کتاب پیلوو.

ټوله ستاینه او صفت یوازې او یوازې خدای جل جلاله ته دی، درود د وي په حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې تر ده وروسته بل نبي نشته او د هغه پر پاک اهل، مېرمنو او اولادونو او ټولو ملګرو رضوان الله علیهم اجمعین او هغه تابعین چې دده صلی الله علیه وسلم په پیروی کې عادل او رښتیني وو .

د عقایدو او احکامو په اړوند په حقیقیت کې په زر ګونو کتابونه تصنیف او لیکل شوي او ډېرې یې ښلا ښلو ژیو ته ژباړل شوي او په ګڼو هېوادنو او ښارونو کې نشر شوي هم دي، خو هغوی چې په زړه کې یې مرض او تنګ نظري وي یا په بله مانا هغه روحانیون چې د انګریزي جاسوسانو د لوبو ښکار شوي، دوی تل هڅه کوي تر څو د اسلام د سپېڅلي دین ګټور او روښانه احکام چې اوامر او منهیات دي تحریف او داغداره کړي ترڅو مسلمانان له دې لارې وغولوي، خو الحمد لله په ډېره خوښۍ سره نن ورځ د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې ددې شاهد یو چې مهاجر مسلمان علماء د سالمې اسلامي عقیدې او د هغه له احکامو څخه د دفاع په موخه هڅه او هاند کوي، پداسې حال کې چې یوې کوچنۍ ناپوهې ډلې چې د اهل سنت له کتابونو سره یې بلدتیا هم نه لرله او د هغو له متن څخه یې مطلب نه شوای تراسه کولای، د قرآن کریم د آیتونو او مبارکو احادیثو د مرام او موخې مخالفې خبرې او لیکنې وکړې، خو خبردار چې داسې لیکنو او مقالو ته هېڅکله هم د سالمې اسلامي عقیدې لرونکي مسلمان اهمیت نه ورکوي او ژر ده چې د دوی ټولې غلطۍ او بې لارۍ له منځه لاړې شي او کوم اغېز یې پاتې نه شي پرته له دې چې دا هر څه د دوی پر ناپوهۍ او جهالت باندې دلالت وکړي.

د اسلام مبارک دین حکم کوي؛ چې هر هغه څوک چې ځان مسلمان ګڼي او په جماعت سره لمونځ ادا کوي، که وروسته له نوموړي شخص څخه د اسلامي سوچه عقیدې چې د اهل سنت علماؤ بیان کړې ده برخلاف کړنه وکړي، که هغه فعل، قول او لیکنه وي باید ډډه وکړي ولو چې دا شخص په دار کفر کې وي نو لازمه ده چې نوموړی داسې کړنې پرېږدي او ورڅخه توبه وکړي، نو که چېرې زما پلار هم وي خو چې د اسلام خلاف کړنې پرې نږدي او پخپل محدود عقل، فاسد فکر سره مناظره، مقابله او محاوره وکړي او دا څرګنده شي چې نوموړی له لارې اوښتی، مرتد او جاسوس د انګرېزانو دی نو هېڅکله هم ده ته د کفر له خطر او د ارتداد له تباهۍ څخه د ده لمونځ، حج، عبادتونه او نېک عملونه ګټه نه شي رسولای! همدارنګه مسلمان نه ګڼل کېږي تر څو چې پرې نږدي هغه څه چې نوموړی کفر ته نږدي(سوق) کوي او له هغه څخه توبه ونه کړي، همدارنګه په هر مسلمان لازمه ده چې په ارتداد کې له لوبدلو څخه ځان وساتي، او په ټوله معنی هغه چارې چې د کفر سبب کېږي، منافقان او د انګرېز جاسوسان چې ځانونه یې د اسلام په جامه کې نغښتي دي وپېژني او د دوی له زبان څخه ځان وساتي!

په تحقیق سره چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د دوه اویا باطلو ډلو ټپلو خبرداری راکړئ چې له قرآن کریم او مبارکو احادیثو څخه به په غلط او فاسد ډول معنی راباسي، چې د (البریقة او الحدیقة) په کتابونو کې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د حدیث شریف څخه اقتباس شوی دی چې فرمایي: (ستفترق امتي علی ثلاث و سبعین فرقة کلهم في النار الاّ واحدة) رواه البخاری و المسلم/ ژباړه: ژر ده چې زما امت په درې اویا ډلو ووېشل شي، او ټولې ډلې به اور کې دي پرته له یوې ډلې. چې بخاري او مسلم شریف په کافي اندازه دا موضوع شرحه کړېده، او د داسې زهرجنو او

فاسدو کتابونو، لیکنو او مناظرو له کتلو څخه چې د ګمراه ډلو ټپلو د استاذانو لخوا ترتیب کېږي، ډډه وشي تر څو د دوی په لومو او جال کې څوک ګیر نه شي، همدارنګه ددې لپاره چې د دین غلو ته په ټول پام متوجه وي او د دوی د دسیسو ښکار نه شي، سربېره پر دې غافل او ناپوه مسلمانان، کمونستان، ماسیون له یوې خوا او عیسوي مبلغین، په ګناهونو پټ انګرېز وهابیان او صهیونست یهودیان له بلې خوا په دې هڅه کې دي چې ساده مسلمانان په نویو او ناوړه وسیلو سره تېر باسي، او د اسلام او مسلمانانو پر ضد د پرمختللو وسایلو په مټ جګړه کوي ددې لپاره چې د اسلام دین له منځه یوسي، لکه د مصنوعي نادره جملو، زیانمنو فلمونو او هدفي تیاترونه چې په انخوریز او غړیز ډول خپرېږي او ددې موخې لپاره په میلیونونو پیسې مصرفوي، خو کډوالو مسلمانو علماوو رحمهم الله د اسلام د دښمنانو په وړاندې بشپړ او هر اړخیز ځوابونه لیکلي او وړاندې کړي دي، او د الله جل جلاله سپېڅلی دین او د خلاصون او ډاډ لاره یې په ګټو کتابونو کې بیان کړې ده.

چې مور له دې ډلې څخه د تکړه عالم مولانا ضیاءالدین خالد عثماني بغدادي (قدس سره) (اعتقادنامه) کتاب غوره کړ چې دا کتاب مخکې له فارسي ژبې څخه ترکي ژبې ته خدای بخښلي حاجي فیض الله افندي کماخي ژباړلی او د (فرائد الفوائد) نوم یې پرې اېښی چې په کال ۱۳۱۲ هـ چاپ شوی دی، او مور ته یې دا اساني په لاس راکړه چې وکولای شو ددې کتاب ځینې عبارتونه په ننۍ عامیانه ژبه سره بیان کړو او دا کتاب مو د (الایمان اواسلام) په نوم سره ونوماوه، چې په لومړي ځل دا کتاب په ۱۹٦٦ م کال کې چاپ شو.

او هغه وضاحتونه او شننې چې په دې کتاب کې ترسره شوي دي، ددې قوس[] په مینځ کې مو راوړي دي، تر څو یې له اصلي متن سره توپیر وشي، ځای لري چې له الله جل جلاله څخه مننه او شکریه وکړو دا چې مور ته یې د داسې ګټور او ارزښتناک کتاب د خپرولو توفیق راکړ، هېره د نه وي چې اصلي کتاب یې چې د (اعتقادنامه) په نوم او په فارسي ژبه دی د استنابول پوهنتون په کتابتون کې د ابن الأمین محمود کمال په پوهنځی پورې اړوند ف۲٦۳۹ شمېره خوندی دی.

د درالمختار کتاب مصنف رحمه الله له کافر سره د نکاح په څېرکې کې لیکي چې (بلغت المسلمة المنکوحة ولم تصف الاسلام بانت) ځکه چې دا مرتده ده نو لازمه ده چې د الله تعالی ټول صفتونه ددې په وړاندې بیان شي او بیا ترې پوښتنه و شي چې آیا دا صفتونه د الله تعالی منې؟ که چېرې یې وویل چې هو، نو ددې حکم د مسلمانې دی. همدارنګه علامه ابن عابدین ددې په اړه د درالمختار په شرح کې لیکي (نجلی مخکې له بلوغه د مور او پلار د دین د پیروی په اساس مسلمانه ګڼل کېږي، او کله چې بلوغ ته ورسېږي نو د مور او پلار د نه پیروی له امله مرتده ګڼل کېږي، ځکه چې دې ته د والدینو دین نه پاتې کېږي او مسلمانه نه ګڼل کېږي تر څو یې چې په الله جل جلاله، د هغه په پرښتو، کتابونو، رسولانو، د آخرت په ورځ او وروسته له مرګه په ژوندن او د خیر او شر په تقدیر باندې چې د الله جل جلاله له لورې دی ایمان نه وي راوړی، او که چېرې یې وویل چې « لا اله الاّ الله محمّد رسول الله» نو تر هغه وخته مسلمانه نه ګڼل کېږي تر څو چې د ایمان په حقیقت او صفت نه وي پوهه شوې، همدارنګه اړینه ده چې په زړه سره تصدیق او په ژبه د الله جل جلاله د اوامرو او منهیاتو اقرار وکړي.) نو له دې خبرې په ډاګه څرکندېږي چې کافر هغه وخت اسلام ته داخلېږي چې د توحید کلمه ووایي او د هغه په معنا اجمالي پوهه او باور ولري، نو پدې صورت

کې دا شخص د نورو مسلمانانو په څېر دی او دا کلمه(آمنت بالله و ملائکته.....) هر څومره چې ممکن وي تکرار کړي، او د هغه په معنا او غوښتنو ځان پوه کړي او د دین اړین ځیزونه هم زده کړي.

همدارنګه ماشوم بلوغ ته د رسېدو په وخت کې مرتد کېږي؛ که چېرې پر (شپږ ګونو شیانو، شرعي زده کړې چې د هر مسلمان لپاره اړینې دي) اقرار او ایمان و نه لري، او وروسته له ایمان راوړلو څخه د شرعي علم زده کړه او پوښتنه کول وربانديِ فرض کېږي، تر څو وپوهېږي چې فرایض، حرام، اودس، غسل، د لمانځه د ادا کولو څرنګوالی او د عورت پټوالی څه ډول دي، په همدې توګه د شرعي علم په استاذ او مسؤل باندې فرض ده چې نوموړی ته داسې کتابونه چې د حق دین زده کړه ترې حاصلېږي په ګوته کړي، او که چېرې نوموړی داسې څوک چې پوښتنه ترې وکړي یا د اړتیا وړ کتاب پیدا نه کړي، نو پر ده باندې فرض ده چې پلټنه او تحقیق وکړي، نو که چېرې ټنبلي وکړي او یا پلټنه ونه کړي نو په دې صورت کې هم کافر کېږي، خو د علم نشتوالی د ده لپاره تر هغه وخته عذر ګڼل کېږي ترڅو یې چې داسې څوک نه وي پیدا کړي چې پوښتنه ترې وکړي او یا یې هم د اړتیا وړ کتاب نه وي موندلی، او هغه چا ته چې په ټاکلی وخت کې فرایض نه ادا کوي، له حرامو او منع کړل شویو شیانو څخه ډډه نه کوي سزا ورکول کېږي. پدې کتاب کې د شپږو ګونو مؤمن به شیانو په اړه بشپړ او هر اړخیز معلومات نغښتي دي، او په هر مسلمان لازمه ده چې له دې معلوماتو څخه باخبره او خپلو اولادونو او کورنۍ ته هم ددې امورو د زده کړې لارې چارې برابرې کړي.

زموږ په دې کتاب کې د (مآلا) لفظ راغلی دی چې د قرآن کریم د آیتونو د ذکر کولو په وخت کې ترې ګټه اخلو او په دې معنی چې (هغه څه نقلوو او بیانوو چې د تفسیر علماوو روښانه کړي دي) دا ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په تحقیق سره د قرآنکریم د آیتونو معنی، مفهوم او موخه باندې پوه وو، او هغه یې خپلو اصحابو کرامو رضی الله عنهم ته هم ښودلی وو، او د تفسیر علماوو صحیح او قوي حدیثونه له ضعیفو او موضوعي حدیثونو څخه ېبل کړي دي، او هغه منافقین، زندیق او بې مذهبه کسان چې د کفر او انګرېز په چوپړ کې دي، د قرآن کریم هغه آیتونه چې د هغه په اړوند کوم حدیث شریف پیدا نه کړي نو د خپلې پوهې او درک سره سم او پرته له دې چې د تفسیر د اصولو علم په پام کې ونیسي یوازې د عربي ژبې پر زده کړه بسنه کوي او د هغه پر بنیاد قرآني آیتونه تفسیروي چې د دوی دې ډول اقوالو ته هېڅ اعتبار نشته لکه څرنګه چې په حدیث شریف کې راغلي دي (من فسّر القرآن برأیه فقد کفر) ژباړه: چا چې قرآنکریم په خپل شخصي فکر او رایه تفسیر کړ، په تحقیق سره چې کافر شو.

له الله جل جلاله څخه د اهل سنت علماوو ته د نېغې لارې، سمو نظرونو د پیروی هیله کوو او د ښویدلو کسانو له ښویدنې، د لار ورکو(ګمراهانو) له ګمراهۍ او د منحرفو بې مذهبه کسانو(چې ځانونه یې د عالمانو په جامه پوښلي دي، پداسې حال کې چې علماء له داسې خلکو بېزار دي) په باطلو کې له لوېدلو څخه د الله تعالی په رحمت سره ساتنه او حفاظت غواړو، درود د وي پر رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه په اهل، اصحابو او هر هغه چا ته چې د قیامت تر ورځې د حق بلنه ورکوي.

۱۴۲۲ هجري قمري ۱۳۸۰ هجري شمسي ۲۰۰۱ میلادي

د الحقیقة کتابتو

۱-پیل

مولانا خالد بغدادي(قدّس الله سرّه العزیز) د احمد فاروقي سرهندی رحمه الله تعالی د (المکتوبات) له دریم ټوک څخه د اوولسم مکتوب سره سم خپل کتاب د نېک پالنې او ښایست په موخه پیل کړ چې پدې مکتوب کې داسې راغلي دي: (ټول حمد او ثناء هغه الله جل جلاله ته ده چې پر مورِ یې پېروزینه کړې او د اسلام په دین سره یې لارښوونه راته وکړه، او مورِ یې د نبي اکرم محمد صلی الله علیه وسلم امت وګرځوو، نو مناسبه ده چې پدې پوه شي چې الله جل جلاله مطلق پیروز کوونکی ذات دی، د هر څه رامنځته کېدل د الله پاک له پېرزوینې څخه دي، او د هر څه دوام هم د لوی الله جل جلاله ورکړه او بخشش دی او ټول بشپړ صفتونه لکه، پراخ رحمت، ژوند، علم، قدرت، لیدل، اورېدل او خبرې کول دا ټول د لوی الله جل جلاله د وجود له برکته دي، همدا راز ټول نعمتونه او لورېنې چې له اندازې او حساب څخه بهر دي د هغه سپېځلي ذات له لوري دي، هغه رب چې د ټولو سختیو او کړاونو لیرې کوونکی او د هرې دعا قبولونکی دی او د هرې بدې بندونکی او روزي ورکونکی دی پداسې حال کې چې د بنده ګانو د ګناهونو په سبب او د خپلې بې پایانه نرمۍ له کبله پر خپلو بنده ګانو روزي نه بندوي، او د خپلې زیاتې بخښنې له امله د هغوی د ګناهونو د ترسره کولو پرده نه بربندوي او د دوی د عیبونو غندنه نه کوي دا ځکه چې الله جل جلاله نرمي کوونکی دی نو خپلو بنده ګانو ته په سزا ورکولو کې بېړه نه کوي، سخي ذات دی نو پر خپلو دوستانو او دښمنانو یې سخاوت یو شانته دی، او د همدې نعمتونو له ډلې یې تر ټولو لوی، عزتمن او غوره نعمت د اسلام طرف ته بلنه او اسلامي کور(دارالاسلام) ته هدایت او د محمد صلی الله علیه وسلم پیروی ته لارښوونه ده، دا ځکه چې اخروي ژوند او نعمتونه یې په دې څیزونو او د لوی الله جل جلاله په رضامندۍ پورې اړه لري، او په ټوله کې د الله جل جلاله نعمتونه، لورینې او نېکۍ له لمر او سپوږمۍ څخه روښانه او له پرون څخه ښکاره دي، او د ده جل جلاله نور نعمتونه د هغه په تقدیر او خوښه پورې اړه لري، او له بندګانو څخه د نېکۍ غوښتنه داسې ده لکه مخکې له پور څخه له پوروړې، پوروړې کېدل، یا له ناپوه او ناداره کس څخه سوال کول، چې عالم پدې باندې اقرار وکړي او احمق لکه هوښیار چې پدې اړه اعتراف وکړي چې پدې اړه شاعر وایي:

که چېرې زما د هر وېښته لاندې ژبه وای او په هره ژبه مو مننه کړې وای بیا به هم لږ وو

او په دې کې شک نشته چې سالم عقل د منعم(نعمت لوروونکي) رب تعالی په شکر ادا کولو، درناوي او لویۍ منلو د واجبوالي حکم کوي، نو په دې توګه د رښتیني نعمت لوروونکي الله جل جلاله څخه مننه کول د عقل په جبري غوښتنه سره واجب ګرځي، او د الله جل جلاله درناوی او لویي بیانول اړین دی ځکه چې هغه جل جلاله ډېر سپېځلی دی، او بنده ګان له دې امله چې د ناپاکۍ او ناتوانۍ په وروستني حد کې دي او دا چې ضمیر یې مناسب سمون نه لري نو له بشپړوالي څخه محروم دي، همدا راز د الله جل جلاله درناوی او لویي په هر څه او هر ډول ثابته ده، اګر چې ډېری بنده ګان چې په کومو چارو کې د الله جل جلاله نېکي او ښېګڼه بیانوي په حقیقت کې هغه څه د الله جل جلاله په وړاندیي سپکاوی وي، او یا ځینې څیزونه لویي او درناوی ګڼي پداسې حال کې چې هغه کمي او سپکاوی وي، نو هغه څه چې د الله جل جلاله د

ستاینې او درناوي لپاره مناسب نه وي نو هغه نه د شکر ادا کولو او نه هم د عبادت کولو لپاره وړ دي، نو د الله جل جلاله هغه ثنا چې د بندګانو لخوا کېږي ممکن هغه غندنه وي او ستاینه یې رټل وي، نو هر هغه ستاینه، درناوي او ثنا چې د الله تعالی په حق کې ویل کېږي باید د نبوي لارښوونې په چوکاټ کې وي چې دا زمور حق شریعت دی، او که چېرې دا درناوي باطني وي نو دا هم په سپېڅلي شریعت کې روښانه دي، او همدارنګه هر ډول ژبنۍ ستاینې، عملونه او د بدن د غړو کړنې واضح شوې دي چې د شریعت څښتن دا هر څه په تفصیل سره بیان او واضح کړي دي، نو د الله جل جلاله د شکر ادا کول یوازې هغه وخت شونې دي چې د زړه له تله، په ټینګه عقیده او په عملا د شریعت په چوکاټ کې ترسره شي او دا هر څه په شریعت پورې محدود شوي دي، او ټول هغه عبادتونه او درناوی چې د شریعت له چوکاټ پرته ترسره شي دا خو لا څه چې د باور وړ نه وي، بلکې ډېرې وخت د مخالفت پایله وي، او خیالي ښېګڼه په حقیقت کې بدي وي، نو له پورتنۍ وینا څخه په ډاګه کېږي چې له شریعت سره سم عمل کول عقلا هم واجب دی، خو پرته له پورتنیو(شرعي چوکاټ او نبوي لارښوونو) په نظر کې نیولو څخه د رښتیني رب تعالی شکر ادا کول ممکن نه وو.

شریعت دوې برخې لري چې یوه یې عقیدوي او بله یې عملي ده، چې عقیدوي یې د دین اصول او عملي یې د دین فروع دي.

همدارنګه اسلامي علوم دوه ډوله دي: دیني علوم او تخنیکي یا مسلکي علوم.

تخنیکي یا مسلکي علوم په خپل وار سره بیا په دوو برخو وېشل کېږي:

۱. فرض عقیدوي علوم؛ چې داعلوم (د دین د اصولو او عقیدوي علومو) په نوم هم یادېږي.

۲. بدني او د زړه عبادتونه چې دا عبادتونه د (دین د فروعو) او یا (اسلامي احکامو) په نامه یادېږي، چې همدې علومو ته د شریعت نوم کارول کېږي.

[نو پر هر شخص باندې فرض ده چې کلمه طیبه وویایي او معنا یې په عمل کې ثابته کړي، او د توحید کلمه(کلمه طیبه) دا ده (لا اله الاّ الله محمّد رسول الله) ددې کلمې ویل د ویونکي شخص پر ایمان دلالت کوي، او په دې سره یو څوک مسلمان او مؤمن ګڼل کېږي، او ددې لپاره چې یو څوک پر خپل ایمان تل پاتې شي نو اړینه ده چې نومورې له هغه کړنو څخ په کلکه توګه ډډه وکړي کوم چې د کفر سبب کېږي، او همدارنګه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم حدیثونه په دري ډوله دي: لومړی ډول یې هغه خبرې دي چې جبریل علیه السلام نبي علیه والسلام ته سره له معنا راوړې دي، او په تحقیق سره چې جبریل علیه السلام څلور ویشت زره وارې نبي علیه والسلام ته د اللهي اوامرو او منع کړل شویو خیزونو د رارسولو په موخه راغلی دی چې عقیدوي اوامرو ته (ایمان) او عملي اوامرو ته (فرض) ویل کېږي، او هغه اوامرو ته چې له هغه څخه ځان ساتل او ډډه کول واجب دي (حرام) ویل کېږي، او د اوامرو او نواهیو ټولګې ته (شریعت) ویل کېږي، او هغه څوک چې له یوه شرعي علم څخه منکر شي کافر بلل کېږي، لکه چې یو څوک داسې وویي چې لمونځ اللهي امر نه دی، او همدا راز هغه څه چې د الله جل جلاله لخوا د جبریل علیه وسلم په واسطه پر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوي دي او هغه یې خپلو ملګرو(اصحابو) رضی الله تعالی عنهم ته نقل کړي او دوی تدوین او لیکلي دي نو یو کتاب رامنځته شو چې (قرآن کریم) بلل کېږي، او

پر دې باندې د ټول صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع ده چې هر هغه څه چې په دې کتاب (قرآن کریم) کې لیکل شوي دي هغه د الله جل جلاله خبرې او کلام دی، او دوهم ډول د حدیثونو د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم هغه حدیثونه دي چې د جبریل علیه وسلم له وحی او واسطې پرته د الهام په ډول د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم له زړه څخه صادر او نشر شوي او د الله جل جلاله له لوري ورته الهام شوي وي، چې دې ډول حدیثونو ته (قدسي حدیث) وایي، او د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ټولو قولونو او حدیثونو ته (نبوي مبارک حدیثونه) وایي او په احادیثو کې ډېر کتابونه لیکل شوي چې مشهور یې د (بخاري شریف) او (مسلم شریف) دي.

او وروستنی هغه څه چې پر یوه مسلمان باندې له ایمان او پر هغه له عمل کولو وروسته فرض دي هغه له دنیوي ناپاکه غوښتنو څخه د زړه پاکول دي، او د زړه په یادولو سره زمور په فکر کې دوه ځیزونه تېرېږي، چې اوله موخه له زړه څخه هغه غوښنه عضله ده چې د سینې په کین اړخ کې ځای لري او ټول بدن ته وینه پمپ او رسوي، چې دا ډول زړه حیوانان هم لري، او دویمه موخه له زړه څخه هغه ډول زړه دی چې په سترګو نه لیدل کېږي او هغه څه چې په دیني کتابونو کې د (فؤادا) په نوم سره یادېږي موخه ترې همدا دویم ډول زړه (الفؤاد) دی چې همدا زړه د ایمان ځای دی او دا ډول زړه ایمان قبولوي او یا یې ردوي، نو پر دې بنسټ د مؤمن زړه پاک او ستره وي او هغه زړه ته چې د ایمان رڼا نه وي رسېدلې نو هغه ناوړه، ناپاک او مړاوی دی، نو اړینه ده چې هر ځوک د خپل زړه (فؤاد) په پاکوالي او تربیه کې پوره هڅه او پام وکړي او د عبادتونو په ترسه کولو په ځانګړې توګه د لمانځه ادا کولو او له بخښونکي الله جل جلاله څخه په بخښنه غوښتنه سره خپل زړه تربیه او پاک کړي، له بل پلوه منع کړل شوي ځیزونه(محرمات) زړه فاسدوي لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (من اکثر من الإستغفار جعل الله من کل هم فرجا و من کل ضیق مخرجا و رزقه من حیث لا یحتسب) ژباړه: څوک چې زیات استغفار وایي، نو الله جل جلاله به یې له هرې پرېشانۍ څخه خلاص او له هرې تنګسیا وژغوري او له داسې ځایه به روزي ورکړي چې هېڅ به یې په خوا او خاطر کې نه وي. او استغفار عبارت له دې قول څخه دی (أستغفرالله الذی لا اله الّا هو الحیّ القیّوم و اتوب الیه) ژباړه: له هغه الله جل جلاله څخه بخښنه غواړم چې پرته له ده بل د عبادت لایق نشته، او دی تل تر تله ژوندی دی او یوازې ده ته توبه وباسو.

د یو چا د دعا قبولېدو، له ګناهونو څخه د توبه اېستلو او د هغه په معنا باندې د پوهېدلو لپاره د هغه اسلام بسنه کوي، خو د ایمان له رڼا پرته په خالي زړه دعا د قبول وړ نه ده او که څوک دې ځله په پاک زړه دعا وکړي نو هغه دعا ګټوره ده او هغه دعا چې یوازې په ژبه ویل کېږي او د زړه پاملرنه او عاجزي پکې نه وي کومه ګټه نه لري.

دیني علوم هغه علوم دي چې د اهل سنت په کتابونو کې په لیکلي بڼه ځای پر ځای شوي دي، نو که چېرې څوک د محکمو آیتونو پر یوه آیت شریف باندې ایمان و نه لري او یا د اهل سنت د علماؤ په کتابونو کې د ایمان او شریعت د علمو په اړوند د راغلو حدیثونو له ډلې له یوه حدیث شریف څخه منکر شي نو کافر ګڼل کېږي، او که چېرې خپله بې ایماني پټه کړي منافق دی او که چېرې خپله بې ایماني پټه او خلکو ته ځان مسلمان څرګند کړي نو په حقیقت کې یې زندیقتوب وکړ او دې شخص ته (زندیق) ویل کېږي، او هر هغه څوک چې متشابهات آیتونه په غلطۍ سره

تأویل(تفسیر او تعبیر) کړي نو پدې سره نه کافر کېږي خو که چېرې له حق لارې څخه کوږ شي نو د اور لایق ګرځي او د دوزخ خوا ته شړل کېږي، چې دې ته د ورته کسانو هم دا برخلیک دی، او دا چې دا کسان په آیتونو د قران کریم ایمان لري نو په دوزخ کې تل تر تله نه پاتې کېږي بلکه د الله جل جلاله په مهربانۍ سره له دوزخ څخه ایستل کېږي او جنت ته داخلېږي چې دې ډلې خلکو ته (بدعتیان او لار ورکي) ویل کېږي، او د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم امت به په درې اویا ډلو ووېشل شي چې له هغه څخه به دوه اویا ډلې باطلې او لار ورکې وي چې دې دوه اویا ډلو، کافرانو او مرتدینو ته به يې عبادتونه د قیامت په ورځ هېڅ ګټه و نه رسوي.

همدا راز د (اهل سنت) یا (سني) نوم هغه چا ته اخیستل کېږي چې د سمې او سالمې عقیدې لرونکي وي، چې دا سونیان(د سمې او حق عقیدې لرونکي) د ځلورو حقه فقهي مذهبونو پیروان دي، او ځلور واړه مذهبونه اهل سنت ته منسوب دي، او دوی ټول ځانونه اهل سنت ګڼي او یو له بل سره مینه لري او څوک چې یو له دې ځلورو مذهبونو، یوه مذهب ته منسوب نه وي د اهل سنت له ډلې نه شمېرل کېږي، او په دلایلو ثابته ده چې هر څوک د اهل سنت له ډلې څخه نه وي نو خامخا به کافر او یا بدعتي ګرځي لکه څرنګه چې امام رباني په ځانګړې ډول په خپل شپږ اتیایم مکتوب چې امام طحاوي د (الذبائح) په فصل کې په (در المختار) باندې د حاشیې په اړوند په لومړي ټوک کې او همدارنګه د (البصائر لمنکری التوسل بأهل المقابر) کتابونو کې لیکلي دي چې دا دواړه کتابونه په عربي ژبه لیکل شوي او دویم یې په هند کې لیکل شوی او هملته په کال ۱۳۹۵ هـ [۱۹۷۵ م] چاپ شوی دی، چې وروسته بیا څو ځلې په استانبول کې چاپ شوی دی.

هر هغه عبادت کوونکی چې د اهل سنت د ځلورو مذهبونو له ډلې د یوه مذهب سره سم عبادت کوي نو که چېرې يې په عبادت کې ګناهونه او سهوې ترې وشي نو امید دی چې الله تعالی جل جلاله به ورته بخښنه وکړي او پخپل رحمت سره به يې جنت ته ننباسي پرته له دې چې د دوزخ سزا ورکړي او که چېرې يې خوښه شي نو د ګناهونو په پرتله سزا ورکوي او وروسته يې پخپله مهربانۍ سره جنت ته ننباسي، او څوک چې د دین د ښکاره حکمونو له ډلې له یوه حکم څخه انکار وکړي پداسې حال کې چې هغه له عامو خلکو اوربدلي اړین شرعي حکم هم وي نو منکر سړی دوزخي کېږي چې داسې کسانو ته (مرتد) ویل کېږي.

همدارنګه کافران دوه ډوله دي، کتابي او غیر کتابي کافران او دهر هغه څوک چې له مسلمان مور او پلار څخه زېږدلي وي او خپل کفر پټ وساتي او وروسته له اسلام څخه بهرون شي نو دې ډول شخص ته مرتد ویل کېږي، لکه چې ابن عابدین رحمه الله له مشرک سره د نکاح د حراموالي په اړوند لیکي چې(په تحقیق سره مرتدین، ملحدین، زندیقیان، د اور عبادت کوونکي، بت پالونکي او د زاړه یونان د فلسفې پیروان، منافقین، افراطي لار ورکې ډلې(برهمنان او بودایان)، باطنیون او فاحشان چې دا ټول بې کتابه کافران دي)، همدارنګه کمونستان او ازاد فکران د یهودو او عیسویانو څخه چې په دوو تحریف شوو کتابونو يې وروسته له توارت او انجیل ایمان راوړی دی، چې دا اهل کتاب د کفارو له ډلې دي، او که د دوی له منځه ځینې په دې فکر وي چې مخلوق د الوهیت صفتونه لري نو په حقیقت کې يې شرک وکړ او دې ډول خلکو ته (مشرکان) ویل کېږي، پداسې حال کې چې د الله جل جلاله ذاتي او ثبوتي صفتونو ته د (معبودیت صفات) وایي.

کافر هغه وخت د دوزخ له اور څخه ژغورل کېږي چې ایمان راوړي او د اسلام په مبارک دین کې داخل شي، هغه که اهل کتاب وي یا غیر اهل کتاب چې د اسلام په منلو سره تړي سوچه او له ټولو ګناهونو پاک مسلمان جوړېږي، نو پر دې نوی مسلمان باندې لازمه ده چې د اهل سنت د ځلورو مذهبونو څخه په یوه مذهب باندې عمل وکړي او د اهل سنت د علماوو رحمه الله علیهم کتابونه ولولي او له هغه څخه زده کړه وکړي او د هغه په پیروی او لارښونه خپلې کړنې او ویناوې برابرې کړي. لکه څرنګه چې د یو چا اسلام د نوموړی له ویناوو او ښکاره کړنو څخه چې پرته له زور(جبر) یې ترسره کوي او د مرګ په وخت کې د ژوند له وروستنۍ خاتمې څخه څرګندېږي، او د بنده که هغه نر وي یا ښځه لوی ګناهونه یې هغه وخت بخښل کېږي چې توبه وباسي او نېک عملونه ترسره کړي نو دا بنده داسې مثال لري لکه هېڅ ګناه یې چې نه وي کړې، او د توبې کولو څرنګوالی په ډېری باوړي(معتبرو) دیني کتابونو کې راغلی او بیان شوی دی.]

۲- ایمان او اسلام

مور به په دې کتاب (اعتقادنامه) کې د عقیدې په اړوند د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په هغه حدیث چې ایمان او اسلام بیانوي رڼا واچوو، همدا راز الله جل جلاله ته هیله لرو چې ددې حدیث شریف په برکت سره د مسلمانانو عقیده بشپړه شي، او پرې بریالیتوب او نېکبختۍ ته ورسېږي، لکه څرنګه چې هیله ده تر څو دا د مسکین او ګنهکار خالد (قدس سره) د ژغورنې لامل وګرځي، همدارنګه زما عقیده او باور پر هغه بې نیازه الله جل جلاله دی چې پر خپلو بنده ګانو مهربان او نرمي کوونکی دی، نو هیله ده چې پر خپل دې فقیر، زیاتی کوونکي او سخت زړې بنده چې د ځینو خبرو په اړوند یې ژپه ښویدلې وي بخښنه وکړي او ترې نیمګړي عبادتونه قبول او د رټل شوي شیطان له غولولواو غرور څخه یې وساتي او خوشحاله یې وګرځوي، او هغه جل جلاله ډېر مهربان او سخاوتمند رب دی.

مسلمان علماء وایي: پر هر مکلف، بالغ او هوښیار (عاقل) بنده که نر وي یا ښځه لازمه(اړینه) ده چې د الله جل جلاله ټول ذاتي او ثبوتي صفتونه په پوره معنا وپېژني او تصدیق یې کړي، چې دا پر دوی باندې له لومړنیو فرایضو څخه دي، او پر دې صفتونو باندې نه پوهېدل د هېڅا لپاره عذر نه ګڼل کېږي، بلکې په دې اړوند ناپوهي لویه ګناه ده، همدارنګه د خالد بن احمد البغدادي موخه د دې کتاب له لیکلو څخه دا نه ده چې پر نورو باندې خپله لاسبري، نومیالیتوب او لوړوالی وښایي، پرته له دې چې دا یو یادګار او تر شا یې یو خدمت پرابښي وي، او د دې خدمت په بدل کې الله جل جلاله عاجز او مسکین بنده (خالد) پخپله مهربانۍ او برکت کې راونغاړي او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د پاک روح په برکت، نیکي او مرسته ورسره وکړي.

[د الله تعالی جل جلاله ذاتي صفتونه شپږ دي، چې عبارت دي له: شتون (وجود) ، مخکې والی(قدیم) ، تل تر تله والی (بقاء)، یووالی(وحدانیت)، د پېښو خلاف والی او پر خپل ځان قیام. د وجود معنی دا چې الله جل جلاله بذاته موجود دی، مخکې والي(قدیم) په دې معنی چې الله جل جلاله لره هېڅ پیل نشته، د بقاء یا تل تر تله والي معنی دا چې الله جل جلاله له منځه تلل او پای نشته بلکې نه به له منځه لاړ شي او نه له منځه تلونکی دی، د یووالي(وحدانیت) معنی

دا چې الله جل جلاله لره شریک او ساری نشته، له پېښو سره د مخالفت معنی دا چې الله جل جلاله په هېڅ شي کې له مخلوق سره ورته والی نه لري، او د قیام بنفسه معنی دا چې الله جل جلاله پخپل ذات سره وجود لري او هېڅ شي ته د خپل وجود(شتون) د دوام لپاره اړتیا نه لري، چې دا شپږ ګوني صفتونه یوازې د الله جل جلاله لپاره ځانګړي دي او هېڅ یو مخلوق د دې صفتونو له ډلې د یوه صفت خاوند هم نه دی، او په هېڅ صورت کې دا صفتونه په مخلوقاتو پورې تړاو نه شي پیدا کولی، همدارنګه ځینو علماوو ویلي دي چې (د الله جل جلاله ذاتي صفتونه پنځه دي) چې په دې توګه د یووالي(وحدانیت) او له پېښو څخه سرغړونه یوه صفت ګڼل کېږي.]

له الله تعالی جل جلاله پرته نور هر څه ته عالم(کاینات) چې اوس ورته طبیعت وایي، ویل کېږي. څرنګه چې الله جل جلاله ټول موجودات له نشت څخه پیدا کړي، نو ټول کاینات د ممکناتو او پیدا کړل شویو له ډلې دي، پدې معنی چې له نشت څخه د هغوی د پیدا کولو شونتیا او پیدا کړل شوي ګرځول پداسې حال کې چې الله جل جلاله موجود وو او له ده جل جلاله سره هېڅ شی نه وو. همدارنګه په دې اړوند د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم حدیث هم مور ته دا حقیقت څرګندوي.

همداراز د کاینانو پر پیداکړل توب(حدوث) باندې دویم دلیل دا دی چې کاینات وروسته له ناسموالی او دوه ګونیتوب څخه بدلون مومي، او ټول ځیزونه بدلون مومي پداسې حال کې چې قدیم نه بدلېږي او هېڅکله به بدلون هم و نه کړي، نو لکه څرنګه چې روښانه ده د الله جل جلاله ذات او صفتونو ته هېڅکله هم ادلون بدلون نه راځي. [سره له دې چې ډېرې وخت دا ادلون بدلون په کاینانو او فزیکي اختراع ګانو کې د مادې په بڼه کې راځي، او همدارنګه د مادي ځیزونو په اصل او بنسټ کې د کیمیاوي تعاملانو په ترڅ کې بدلون راځي، او وینو چې یوه جسم پر بل جسم د هغه له منځه تلو څخه وروسته بدلېږي، لکه چې ښکاره خبره ده، چې وایي په اتمي تغیراتو او تعاملانو کې ماده له منځه ځي چې وروسته قوي انرژۍ ته بدلون کوي.] نو د کاینانو بدلون په دې ډول او د ځینو ترلاسه کېدل له ځینو نورو څخه ازلي امر نه دی، نو حتمي ده چې کاینات به پیل لري او له مادې څخه به منځ ته راغلي وي، هغه ماده چې الله جل جلاله له نشت(عدم) څخه پیدا کړې ده.

او وروستنی دلیل د کاینانو پر شونتیا او پیدایښت دا دي چې په تحقیق سره کاینات پیدا کړل شوي دي یعنې رامنځته کړل شوي داسې چې هېڅ موجود نه وو، او د هر پیدا کېدونکي ځیز پیدایښت وروسته له نشت څخه دی.

[د وجود او موجود معنی کېدل او پیدا کېدل دي، چې وجود په درې ډوله دی: لومړی یې واجب الوجود دی، چې شتون یې تل تر تله او همېشه حتمي دی او هغه لره پیل او پای نه وي چې دا واجب الوجود ذات یوازې او یوازې الله جل جلاله دی او بل څه داسې نشته.

دویم ډول یې ممتنع الوجود (شتون یې شونی نه وي) دی، هغه چې شتون یې هېڅکله او تر ابده پورې شوني نه وي لکه د الله تعالی جل جلاله سره شریک نیول پداسې حال کې چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او شریک او ساری نه لري.

او دریم ډول یې ممکن الوجود(شتون یې شونی وي) دی، یعنی داسې شتون او نه شتون یې شونتیا ولري لکه کاینات او مخلوقات، او د شتون(وجود) په مقابل کې د نشت(عدم) کلمه راځي

چې د نشت معنی انکار ده، او ټول مخلوقات او کاینات په نشت کې وواو د دوی لپاره هېڅ ذات او نښې نه وې.]

همدارنګه موجود(پیدا کړل شوی) په دوه ډوله دی: شونی(ممکن) او حتمي(واجب)، که چېرې یو موجود یوازې شونی وي، او واجب الوجود ذات نه وي پیدا کړی، نو هغه هېڅ شی نه دی[ځکه چې له نشت څخه د یوه شي پیدا کول بدلون ته اړتیا لري، نو ددې لپاره چې په ټول جسم کې بدلون راشي نو اړینه ده چې پدې جسم باندې یوه بهرنی قوه اغېز وکړي چې ددې قوې د سرچینې شتون مخکې د جسم له شتون څخه حتمی دی چې دا خبره د فزیکي معلوماتو پر بنسټ کوو.] نو پدې سبب د شوني موجود پخپل سر شوني کېدل(موجودېدل) ناشوني دي او په هستۍ کې یې ثابتېدل امکان نه لري، نو که چېرې په جسم باندې بهرنی قوه اغېز و نه کړي نو دا جسم په دوامداره نشت کې حساب دی او هېڅکله به رامنځته نه شي، نو هغه څه چې د خپل ځان د پیدا کولو او رامنځته کولو توان و نه لري نو په قطعي او حتمي توګه د نورو شونیو(ممکن) ځیزونو د رامنځته کولو توان هم نه لري. نو د شونیو(ممکن) ځیزونو جوړونکی او پیداکوونکی باید چې خپله واجب الوجود ذات وي، پر دې بنسټ د کایناتو شتون د دوی پر پیداکوونکي(خالق) او جوړونکي باندې ښکاره دلیل او ثبوت دی. نو ویلای شو چې همغه واجب الوجود ذات د ټولو شونیو(ممکناتو) او پېښو پیداکوونکی(خالق) دی. نو الله جل جلاله هغه ذات دی چې ممکن او حادث(رامنځته کړل شوی) نه دی، بلکې ابدي، همېشنی او قدیم ذات دی، چې دی جل جلاله پیل نه لري او واجب الوجود په دې معنی چې د ده جل جلاله شتون(وجود) د ده له سپېځلي ذات څخه دی نه له بل څخه نو هغه ذات دی چې وجود یې له خپله ذاته دی او بل چا نه دی پیدا کړی، نو که چېرې داسې نه وای نو بیا به د شونی(ممکن) او رامنځته کړل شوي له ډلې وای(العیاذ بالله) او اړینه وه چې د بل چا له لوري پیدا کړل شوی وای چې دا د عقلي دلایلو معکوسه نتیجه ده چې مور دلته بیان کړه، همدارنګه د (خدا) کلمه چې یوه فارسي کلمه ده، چې د (پر خپل ذات او ځان بسیا وجود) په معنی ده یعنې یو قدیم ذات، د زیاتو معلوماتو لپاره(ددې کتاب په پای کې ددې مسئلې اړوند بشپړ معلومات شته هیله ده چې هلته ورشئ).

مور د کایناتو په عاجزونکي نظام کې ډول ډول عالمونه او هستۍ وینو، چې د علم او ټکنالوژۍ پر مټ هر کال نوي ځیزونه رابرسېره کېږي نو حتمي ده چې د ژوند ددې نظم او نظامونو پیداکوونکی او جوړونکی ذات به (حی) د ژوند څښتن، (عالما) د علم او پوهې څښتن، (قادرا) د قدرت او ځواک څښتن، (مریدا) د ارادې څښتن، (سمیعا) هغه ذات چې د هر ویونکی وینا اوري، (بصیرا) هغه ذات چې هر څه وینې، (متکلما) هغه ذات چې د کلام څښتن دی، (خالقا) د هر څه پنځوونکی او رامنځته کوونکی ذات وی، ځکه چې مرګ، ناپوهي، پر یو څه باندې ناتواني، اړ ایستنه(اکراه)، کوټوالی - ګونګ والی او ړوندوالی ټول عذر او نیمګړتیا ګڼل کېږي چې ددې ډول عذرونو او نیمګړتیاوو شتون د ټولو عالمیانو د رب باری تعالی جل جلاله په صفتونو کې امکان نه لري، هغه رب چې کاینات یې په دې نظم او سمون سره پیدا کړي او له نړېدو او تباهۍ یې ژغورلي دي.

[لکه څرنګه چې الله جل جلاله ټول شیان له کوچنۍ ذرې څخه چې اتوم ورته وایي پیدا کړي دي، تر دې پورې چې ستوري په ټول لویوالی سره هم د اتوم له ذرو څخه جوړ شوي دي، او هېڅ

شی بې ځایه نه دي پیدا کړل شوي، او د فزیکي، کیمیاوي، فلکي او بیولوژیکي علمي څېړنو نویو کشفیاتو او د نظم او سمون بشپړوالي ته عقل حیران او ذهنونه په پردو کې نغښتي دي، تر دې پورې چې داروین غوندې کسانو هم و نه شو کولای چې ددې خبرې له ویلو ځان وساتي: هر کله چې د سترګې په جوړښت او د هغه په دقیق(کره) نظام کې فکر کوم، نړدې ده چې زما دماغ له ډېرې حیرانتیا او تعجب څخه وچوي، او ایا ددې ټولو کره ریاضیکي او هندسي حسابونو، قوانینو او مقرارتو نوښتګر او رامنځته کوونکي هغه د نیمګړو صفتونو لرونکې مسلکي ښوونځی دي چې دا علوم پکې تدریس کېږي].؟

او پر دې سربېره لکه څنګه چې وینو پورته د کمال صفتونه په مخلوقاتو کې شتون لري، او دا دکمال صفتونه الله جل جلاله پخپلو مخلوقاتو کې پیدا کړي دي نو که چېرې دا صفتونه الله جل جلاله ته ثابت نه شي نو څنګه کېدای شي چې دا صفتونه په خپلو مخلوقاتو کې پیدا کړي!؟ نو په دې صورت کې به مخلوقات له الله سبحانه و تعالی څخه لوړ وي(العیاذ بالله)، نو اړینه ده اعتراف وکړو چې ددې مخلوقاتو-کایناتو پیدا کوونکی د کمال په ټولو صفتونو سره ستایل شوی او متصف دی، او له ټولو نیمګړتیاوو څخه منزه او پاک دی ځکه هغه څوک چې په هغه کې نیمګړتیا وي نه شي کولای چې پیداکوونکی(خالق) او پنځوونکی شي!

که چېرې عقلي دلایل یوې خوا ته پرېږدو نو د قرآن کریم مبارک آیتونه او د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم مبارک حدیثونه په روښانه توګه د الله جل جلاله د کمال صفتونه مورِ ته بیان او په ډاګه کوي، چې اصلا په دې کې هېڅ ډول شک کول روا نه دی، ځکه په دې اړه شک کول د کفر سبب کېږي چې له کفر څخه په الله تعالی باندې پناه غواړو. همدا راز الله جل جلاله د کمال په ټول صفتونو سره ستایل شوی او په سپېڅلي ذات، صفتونو او افعالو(کړنو) کې یې هېڅ ډول نیمګړتیا، فساد او بدلون نشته، او د الله جل جلاله (ذاتي یا ثبوتي) صفت ته د (الوهیت صفت) یا (د یوازینې معبود) صفت ویل کېږي او هر څوک چې د الوهیت صفت په مخلوقاتو کې ومني نو له الله جل جلاله سره یې شریک ونیو او مشرک کېږي.

۳- د اسلام ارکان

اوس د حاضر، لیدونکي، بخشش ورکونکي، د ټولو نېکیو او ښېګڼو برکت ورکونکي او د ټولو کایناتو ساتونکي الله تعالی جل جلاله چې هېڅکله یې خوب نه وړي، په مرسته هڅه کوو چې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم مبارک حدیث بیان کړو، امیر المؤمنین عمر فاروق د خطاب زوی چې په ښتنولی، عدل او غیرت سره پېژندل شوی او د غوره اصحابو کرامو رضی الله عنهم له ډلې څخه دی وایي: (یوه ورځ مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې ناست وو) چې دا ورځ او ساعت له عزتمندو او غوره ورځو او ساعتونو څخه وه ځکه چې په دې ورځ او ساعت کې مونږ د جناب نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په مجلس سره مشرف وو، او مونږ د جناب نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د ښایست په لیدلو سره خوښی ترلاسه کوله، هغه ښایست چې د روح لپاره تغذیه، د نفس لپاره خوښي او خوند او د زړونو لپاره دوا وو، نو پر همدې ورځ د جبریل امین د لیدلو لوی نعمت پداسې حال کې چې د انسان په بڼه او وینا کې وو الله جل جلاله پر مونږ باندې پېرزو کړ، او مونږ ته یې په بشپړ وضاحت سره د هغه څه په اړه چې بنده ګانو د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم له مبارکې خولې څخه د اورېدلو او زده کولو اړتیا لرله، لارښونه او زده کړه راکړه او دا یوه ډېره لویه ورځ وه، نو عمر بن خطاب رضي الله عنه فرمایي: (بینما نحن عند رسول الله صلی الله علیه وسلم ذات یوم إذ طلع علینا رجل شدید بیاض الثیاب، شدید سواد الشعر لا یری علیه أثر السفر ولا یعرفه منا أحد حتی جلس إلی النبی صلی الله علیه وسلم فأسند رکبتیه إلی رکبتیه) ژباړه: (په داسې حال کې چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کې ناست وو، نو په دې وخت کې یو سړی راښکاره شو چې ډېرې سپینې جامې یې اغوستې وې، ډېر تور وېښته یې وو او پر ده باندې د سفر کومې نښې نښانې نه ښکاربدې او مونږ هېڅوا هم نه پېژانده، تر دې پورې چې نبي علیه وسلم ته مخامخ کښېناست او خپلې ګوندې یې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم له ګوندو سره ونښلوې) دا راغلی سړی د پرښتو له ډلې یوه پرښته وه چې هغه جبریل علیه وسلم وو او د انسان په بڼه راغلی وو، او دا چې د جبریل علیه وسلم کښېناستل د مجلس د ادب خلاف ښکاره شول پدې خاطر چې مونږ ته د یوه اړین دیني امر د زده کړې حالت راوښایي، او دا په ډاګه کړي چې د دیني چارو په زده کړه کې شرم کول سم نه دي لکه څرنګه چې استاذ ته هم مناسبه نه ده چې لوبي او غرور وکړي، او په دې کار سره جبریل علیه وسلم ټول صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین ته دا ورزده کړله چې په ټولو باندې لازمه ده له خپلو استاذانو څخه په بشپړ ډاډ او ارامی د دیني موضوعاتو پوښتنه وکړي او هم یې دا په ډاګه کړه چې د دین په زده کړه کې هېڅ شرم نشته، او همدارنګه د الله تعالی جل جلاله د حقونو په ادا کولو کې هېڅ شرم پکار نه دی. (ووضع کفیه علی فخذیه) ژباړه: او دغه مبارک ذات یعنی جبریل علیه وسلم خپل لاسونه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په مبارکو زنګونونو باندې کېښودل او ورته یې وویل (یا محمّد أخبرنی عن الإسلام) ژباړه: ای محمد صلی الله علیه وسلم ما له اسلام څخه خبر کړه؟

اسلام په لغت کې غاړې اېښودلو، پیروی او تسلیمېدلو ته وایي، نو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم مونږ ته د شریعت په ربنا کې د اسلام دکلمې بشپړه معنی بیان کړه: هغه دا چې د اسلام د پنځه ګونو ارکانو ټولګې ته اسلام ویل کېږي او د دې ارکانو نوم دی.

د اسلام لومړی رکن:

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: (الإسلام أن تشهد أن لا اله الاّ الله و أنّ محمداً رسول الله) ژباړه: اسلام دا دی چې ګواهي ورکړې په دې چې پرته له الله جل جلاله بل د عبادت وړ معبود نشته او په دې باور هم ولرې او ګواهي ورکړې چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله استازی(پیغمبر) دی. دا له پنځه ګونو ارکانو څخه د اسلام لومړنی رکن دی، او په هر عاقل، بالغ او هغه چا چې خبرې کولی شي لازمه ده اقرار او ګواهي ورکړي په دې چې په ځمکو او اسمانونو کې پرته له الله جل جلاله بل د عبادت وړ نشته، مګر یوازې یو خدای جل جلاله دی، هغه خدای چې واجب الوجوب ذات او لوی ځواکمن رب دی چې شریک او ساری نه لري، اړینه ده چې دا ټول څه په ژبه وویل شي او په زړه سره یې تصدیق او تایید وشي، او همدارنګه د ژبې اقرار او د زړه تصدیق زمور پر بادار او سردار محمد صلی الله علیه وسلم چې د ګلاب په شان د سپین او سور رنګ، روښانه مخ، تورو وروځو، تورو سترګو، ورین او پراخه تندي او ستر پیدایښت چې سیوری یې پر ځمکه نه لوېږي او د خوږو خبرو څښتن وو وشي.

محمد صلی الله علیه وسلم په مکه معظمه کې چې د حجاز په ځمکه کې پرته ده له بې بې آمنې چې د وهب لور وه په ۵۷۱ م زېږدیز کال کې زېږېدلی دی، د الله جل جلاله بنده، پیغمبر او هاشمي عرب دی چې پلار یې عبدالله د عبدالمطلب زوی او په (٦١١ م) کال کې د څلوېښتو کلنو په عمر سره په پیغمبرۍ باندې وګمارل شو، چې دې کال ته د بعثت کال وایي، او په مکه مکرمه کې تر دیارلسو کلونو د اسلام خوا ته د خلکو له بلنې او دعوت وروسته د الله جل جلاله په امر مدینې منورې ته هجرت وکړ، او له هغه ځایه یې ټولو خواوو ته د اسلام د خپرولو هڅه وکړه چې تر لسو کلونو وروسته په (٦٣٢ م) کال کې د جون میاشتې پر ۸ نېټه د دوشنبې په ورځ چې د ربیع الاول میاشتې له دولسمې نېټې سره سمون خوري په مدینه منوره کې وفات او د الله جل جلاله حضور ته په ابدي سفر لاړ.

[تاریخ لیکونکي وایي چې کله نبي اکرم صلی الله علیه وسلم له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړ نو د ٦٢٢ میلادي کال چې د صفر مبارکې میاشتې له ۲۷ نېټې سره برابره وه د پنجشنبې په ورځ ماښام مهال د ثور غره یوه غار ته ننوت او د دوشنبې په ورځ له هغه څخه راووت، او د سپټامبر پر شلمه نېټه چې د ربیع الاول له اتمې نېټې سره سمون لري مدینې منورې لوري ته د قباء په پاکه ځمکه خپل مبارک ګامونه واخیستل، چې همدا د دوشنبې مبارکه ورځ مسلمانانو د هجري لمریز کال د پیل ورځ وګرځوله.] (۱)

وروسته له هغې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د پنجشنبې په ورځ چې شپه او ورځ سره برابره شوې وه له قباء څخه مدینې منورې ته د جمعې مبارکې په ورځ حرکت وکړ او د همدې کال د محرم الحرام میاشتې پیل یې د هجري قمري نېټې پیل وګرځاوه چې د جولای میاشتې له ۲٦ نېټې سره سمون لري، د جمعې ورځ په دې معنا که چېرې لمریز کال له میلادي کال له پیل سره سمون ولري نو په واقعیت که به ٦٢٢ زېږدیز کال له نوي زېږدیز کال څخه لنډ وي، او که چېرې هر میلادي کال د لمریز هجري کال له پیل سره سمون ولري نو ٦٢١ کال به په واقعیت کې له هجري لمریز کال څخه اوږد وي.

د اسلام دویم رکن:

فرضو ته په کتو سره (او لمونځ وکړي) یعنې لمونځ ادا کول د اسلام دویم رکن دی چې هره ورځ پنځه ځله په خپل وخت کې ادا کړي، او د وخت له داخلېدلو مخکې او د هغو تقویمونو پر بنسټ چې د ناپوهو او بې مذهبه لخوا چمتو شوي دي لمونځ نه ادا کړي، بلکې دا تقویمونه ددې لامل کړي چې د ماسپښین سنت او د ماښام فرض په مکروه وخت کې ترسره شي، په داسې حال کې چې د وخت داخلېدل د اذان کوونکي په اذان سره پېژندل کېږي، او د کفارو، بدعتیانو (اذانونه) او هغه غږونو چې زنګ ته ورته وي، محمدي اذان نه پېژندل کېږي، پداسې حال کې چې لمونځ باید له ټولو فرضونو، واجبو او سنتو سره په بشپړ ډول او اخلاص یوازې او یوازې د الله جل جلاله لپاره مخکې له دې چې وخت یې تېر شي ادا شي، چې په قرآن کریم دې ډول عبادت ته (لمونځ) ویل کېږي، او لمونځ د خلکو د دعا، د پرښتو د استغفار او د الله جل جلاله د رحمت په معنی دی، او په شعریعت کې لمونځ لکه څرنګه چې د فقهې په کتابونو کې راغلي دی، عبارت دی له ځانګړو ارکانو او معلومو ذکرونو څخه چې په تکبیر تحریمه سره پیل کېږي، چې د نارینه‌و لپاره په تکبیر تحریمه کې تر غوږونو پورې د لاسونو پورته کول او تر نامه لاندې د لاسونو اېښودل دي، او په وروستنۍ ناسته کې ښې او کیڼ لوري ته په سلام ګرځولو سره لمونځ بشپړېږي.

د اسلام دریم رکن:

د اسلام له پنځه ګونو رکونو څخه دریم رکن د زکات ورکړه ده(و تؤتي الزکاة) یعنی زکات ورکړي، زکات په لغت کې پاکوالي، ودې او برکت ته وایي او په شرعي اصطلاح کې د مال له هغه ټاکلې برخې ېبلولو څخه عبارت دی چې نصاب ته رسېدلی وي او له اصلي اړتیاوو زیات او کال هم پرې تېر شوی وي او پرته له مهنت او زیانه یې هغه مسلمانانو ته چې په قرآن کریم کې یاد شوي دي ورکړي.

زکات د اتو ټولګیو خلکو له ډلې اوو ټولګیو څخه ورکول کېږي، چې دا اووه ټولګي د اهل سنت په څلورو مذهبونو کې په څلور ډوله دي:

۱ـ د سرو او سپینو زرو زکات

۲- د سوداګریزو توکو(مالونو) زکات

۳- د سم لرونکو حیواناتو زکات (هغه حیوانات چې د کال ډېرې وخت په څړځایونو کې څرول او غوښه یې خوړل کېږي)

۴- د کرنیزو نباتاتو او مېوو زکات، چې ټول مخلوقات ورته اړتیا لري چې دا زکات د عشر(د حاصل د لسمې برخې) په نامه سره یادېږي، عشر په دې معنی چې کله کرنیز نباتات او مېوې راټول کړل شي سمدستي یې د لسمې برخې ېبلول او اړمنو کسانو ته یې ورکول اړین دی، او د پورته درې ډوله مالونو زکات هغه وخت ورکول کېږي چې نصاب ته ورسېږي او کال هم پرې تېر شي.

د اسلام څلورم رکن:

د اسلام څلورم رکن عبارت له روژې څخه دی(و تصوم رمضان) ژباړه: او د رمضان میاشتې روژه ونیسې، یعنې د روژې مبارکې میاشت بشپړه روژه ونیول شي، روژه په لغت کې مطلق ځان بندولو ته چې د یو څیز له بل څیز څخه ساتنې ته ویل کېږي، او په شرعي اصطلاح کې روژه عبارت ده

له دې چې یو څوک له درېو ماتونکو څیزونو څخه د روژې په اوږدو کې ځان بند کړي، چې هغه ماتونکي خوړل، څښل او کوروالی کول(جماع) دي، همداراز د میاشتې په لیدلو سره روژه پیلېږي، نه د کلیزې(جنتری) د حساب او وختونو د وېش پر بنسټ.

د اسلام پنځم رکن:

پنځم او وروستنی رکن له ارکانو د اسلام څخه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم جبریل علیه وسلم ته بیان کړ هغه دا دی چې (وتحج البیت ان استطعت الیه سبیلا) ژباړه:او اسلام دې ته وایي چې ته حج د بیت الله شریفې وکړې که چېرې ته د لارې د لګښت توان ولرې.

او حج په ټول عمر کې یو وار په هر اصیل، عاقل، بالغ او جوړ مسلمان باندې فرض دی، خو چې دی وتوانېږي په توښه او نفقه د تللو مکې ته او په لګښت دې بهرته راتګ له مکې څخه او توانېږي په سورلۍ باندې، او مال دده به له اصلي اړتیاوو څخه زیات وي او د ده د اولادونو له نفقې څخه به هم دومره اندازه زیات وي چې د اولادونو یې تر هغه وخته چې دی بهرته له مکې څخه راګرځي بسنه وشي او بل دا چې لاره به هم په امن وي نو که یو څوک دغه یاد شوي شرطونه پوره کړي، نو پر ده لازمه ده چې له مکې څخه طواف وکړي او په عرفات باندې ودرېږي موخه دا چې حج به کوي.

جبریل علیه وسلم چې کله له نبي علیه وسلم څخه د اسلام په باره کې دغه تفصلي ځواب واورېد، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وویل(صدقت) یعنې رښتیا وایې اې د الله جل جلاله رسوله عمر رضي الله تعالی عنه وایي چې جبریل علیه وسلم هم سوال کاوه او هم به یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تصدیق کاوه، او سره له دې چې سوال کول له یوه چا څخه دا معنا چې پوښتونکی به دغه شی نه پوهیږي خو دلته د جبرییل علیه السلام تصدیق په دې دلالت کوي چې هغه ته دغه شیان ښکاره وو نو دغه پوښتنې د جبریل علیه السلام یوازې د تعلیم لپاره وو یعنې چې اصحاب کرام د اسلام او ایمان له ارکانو څخه خبر کړي.

او هغه ډېر غوره د دغه پنځه ګونو بناګانو د اسلام څخه کلمه د شهادت ده، او د هغه په معنی باندې ایمان دی وروسته تر کلمې لمونځ بیا روژه بیا حج او په وروستنۍ مرتبه کې زکات دی او علماوو د شهادت د کلمې په غوره والي باندې مطلقا اجماع کړې ده، او که د شهادت کلمه د څلورو نورو بناګانو په پرتله په پام کې ونیول شي نو بیا هم ډېرې علماء کرام کلمې ته لومړیتوب ورکوي .

تر هر څه لومړی په اسلام کې همدغه کلمه فرض شوې ده، او پنځه وخته لمونځ بیا د بعثت په دوولسم کال یو کال او څو میاشتې مخکې له هجرت څخه د معراج په شپه فرض شوی دی، او روژه د رمضان میاشتې د هجرت په دوهم کال د شعبان په میاشت کې فرض کړل شوې ده، او زکات هم په دوهم کال د هجرت د رمضان په میاشت کې فرض کړل شوی دی، او حج په نهم کال د هجرت باندې فرض کړل شوی دی او هغه څوک چې له یوه رکن د دغه پنځو ارکانو د اسلام څخه انکار وکړي یا ملنډې پرې ووهي، احترام یې و نه کړي او یا یې په حلالو شیانو باندې د حرامو او په حرامو شیانو د حلالو ګمان او عقیده یې پرې کړې وي نو دغه شخص کافر کیږي.

او هغه څوک چې انکار یا سپکاوی وکړي دداسې یوه شي څخه چې هغه شی په دین کې اړین

وي او هر څوک يې پېژني چې په اسلامي هېوادونو کې اوسيږي، نو دغه شخص هم کافر کيږي مثلاً د خنزير دغوښې خوړل يا د شرابو څښل يا د قمار لوبه کول يا له کورونو څخه د ښځو او نجونو وتل په داسې حال کې چې ځنګلي او پنډۍ ددوی لوڅې وي، يا سرونه ددوی لوڅ وي يا لوڅول د نارينوو د هغه اندامونو چې هغه ته کتل حرام دي چې عبارت دی له نامه تر ګونډو پورې د بدن برخه، په نارينوو کې نو دغه ټول شيان حرام دي نو که څوک د دغه شيانو له حراموالي څخه انکار وکړي نو کافر کيږي، معنا دا چې دغه ټول شيان الله جل جلاله حرام ګرځولي دي او د څلورو حقو مذهبونو هغه علماء چې دوی خلکو ته اوامر او نواهي بيانوي دوی د هغو اندامونو اندازه چې پټول يې اړين دي ښودلي دي او کتل او ښکاره کول يې يو بل ته حرام دي، او فرض کړل شوی دی په هر مسلمان نر او ښځې پټول د خپلو عورتونو بناء په هغه قانون چې دوی ته يې مذهب ښودلی وي او دنورو خلکو عورتونو ته کتل هم حرام دي.

په(کيمياءالسعادة)نومي کتاب کې راغلي دي چې(لکه څرنګه چې له کورونو څخه د ښځو وتل په داسې حال کې چې دوی ځانونه ښايسته کړي وي سرونه، لاسونه او پنډۍ يې لوڅې وي حرام دي، همدارنګه د لنډو او نازکو جامو اغوستل چې د بدن غړي يې تری ښکاره شي او يا هم وربښميني او په عطرو سره بويول شوې وي حرامې دي.

او هغه پلار، مور، مېړه او ورور چې خپلې لور، مېرمنې او خور ته د داسې جامو اغوستلو چې حرامې وي اجازه ورکړي او په دې چاره راضي وي، نو دوی هم ورسره پدې ګناه کې شريک او عذاب به ورکول کېږي، معنا دا چې دوی ټول به په دوزخ کې وسوځول شي که د الله جل جلاله ورته خوښه شوه او که چېرې دوی بيا له الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړي نو الله جل جلاله به دوی ته بخښنه وکړي.

الله جل جلاله ښه رجوع کوونکي په رحمت سره دی په خپلو بنده ګانو او توبه ايستونکي خوښوي، او د هجرت په دريم کال هغه ايت را نازل شو په کوم کې چې د ښځو د حجاب حکم بيان شوی دی.

او د هر مسلمان لپاره مناسبه ده چې د تش په نامه علماوو په خبرو ونه غوليږي، کوم چې دکفارو غلامان دي او دوی داسې يو فاسد ګمان کوي چې په اسلام کې د حجاب حکم نشته لکه څرنګه چې د حجاب د ايت له نازېلېدلو څخه مخکې حجاب نه وو، او دوی داسې يوه باطله دعوه کوي چې د حجاب حکم دفقهې علماوو له ځانه جوړ کړی دی.

نو بناءً پر هر مسلمان واجبه ده چې ټولې کړنې به يې د اسلامي شريعت له احکامو سره برابرې وي او که چيرې يو مسلمان ورور د شريعت په احکامو خبر نه وي نو بيا پر ده لازمه ده چې له ريښتينو علماوو څخه پوښتنه وکړي او يا ددوی له کتابونو څخه د اسلام په احکامو ځان خبر کړي .

او که چېرې د يو چا کړنې د اسلامي شريعت له احکامو سره برابرې نه وي بلکې ورسره ټکر وي برابره خبر ده که دغه کړنې يې د ګناهونو له ډلې څخه وي او يا دکفري کړنو (داسې اقوالو او افعالو څخه وي چې دهغه په ويلو او کولو سره يو انسان د اسلام څخه وځي) له ډلې څخه وي نو پر دغه شخص لازمه ده چې له الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړي او په خپلو کړنو باندې پښېماني څرګنده کړي، الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته د ګناهونو بخښنه کوي چې کله په اخلاص سره

الله جل جلاله ته توبه وباسي او هغه څوک چې دخپلو بدو کړنو څخه توبه نه وباسي نو دوی ته به دخپلو کړنو جزا په دنیا او اخرت کې ورکړل شي، او دوی ته به عذاب ورکړل شي که د الله جل جلاله ورته خوښه شوه، او د دغه جزا او عذاب یادونه زمونږ د دغه کتاب په ډېرو ځایونو کې راغلې ده.

او د انسان هغه اندامونه چې د هغه پټول او نورو ته یې ښکاره کول روا نه دي، همدې اندامونو ته عورت وایي او د دغې اندامونو لوڅول او یا دبل چا دغې اندامونو ته کتل حرام دي.

او هغه څوک چې له دغه حکم چې پټول د عورت دی انکار وکړي نو کافر کیږي، همدارنګه هغه څوک چې دداسې اندامونو له پټولو څخه انکار وکړي چې د هغه اندامونو په عورتوالي باندې دځلورو مذهبونو اجماع راغلې وي کافر کیږي، که یو څوک داسې وایي چې د یو چا عورت ته کتل روا دي خو دی دغه خبره له دې وجې کوي چې د الله جل جلاله هغه عذاب چې دی ورسره مخامخ کیږي سپک ګڼي، نو دغه شخص کافر کیږي.

همدارنګه عورت دې ته وایي چې ښځینه خپل هغه ځایونه چې عورت دي لوڅ نکړي یا خپل اوازونه لوړ نکړي او یا هم په لوړ آواز د نامحرمو خلکو په شتون کې قرائت ونکړي. همدارنګه څوک چې وایي چې « د بدن هغه برخې چې د ګوندو او د ورانه د بند په مینځ کې دي او د حنبلیانو په نزد عورت نه دي» کافر کیږي ځکه چې دبدن دغه برخې په څلورو واړه مذهبونو کې عورت دي.

او که یو څوک دعوه کوي چې زه مسلمان یم نو پر ده باندې وا جب دي چې په ښه طریقه د ایمان او اسلام شرطونه، فرض امور او هغه حرام امرونه چې د هغه په حرام والي د څلورو واړو مذهبونو اجماع راغلې دي زده کړي، او لازمه ده چې دی غمه وخوري د دغه فرائضو او محرماتو او که یو څوک د شریعت په احکامو عالم نه وي نو دغه ناپوهي یې عذر نه ګڼل کیږي، او د ده مثال داسې دی لکه یو څوک چې دشریعت پر احکامو عالم وي خو اسلام یې نه وي قبول کړی.

او د اصیلې او ازادې ښځې ټول بدن عورت دی مګر مخ او لاسونه یې تر مړوندونو پورې عورت نه دي، که یو څوک د بدن داسې یو اندام لوڅ کړي چې د هغه په عورتوالي اجماع نه وي شوې او دی په لوڅولو د دغه اندام باندې باک هم نه راوړي نو دغه شخص اګر که کافر کیږي نه خو د یوې لویې ګناه ترسره کوونکی ګرځي همدارنګه د نارینه د بدن هغه برخې لوڅول چې د ګوندې او د ورانه تر منځ دي عورت بلل کیږي.

په هر مسلمان لازم دي چې هغه شیان زده کړي چې نه یې وي زده او خپل عورت پټ کړي او الله جل جلاله ته د شرعي احکامو د زده کړې په وخت کې توبه وباسي.

دروغ ویل چغلي کول دیو چا غیبت کول په یو چا پسې په دروغو یو څه ترڼ غلا کول له یو چا سره چل کول خیانت کول د یوه زړه آزرده کول یو څوک ګمراه کول د یو چا له اجازې پرته د هغه مال استعمالول، د مزدور دمزدوری نه ورکول دحکومت قوانین نه عملي کول د حکومت په ضد را پورته کېدل او یا د جزیې نه ورکول دا ټول ګناهونه دي او کوونکی یې دعذاب لایق دی، حتی په کفري دولتونو کې هم دغه کارونه بد او ښکاره دي.

هغه څوک چې علم نه لري په هغه علومو باندې چې هغه غیر ضروري او غیر مشهور دي نو په هغه سره نه کافر کیږي، او عوام یې په زده کولو قادر نه دي خو لکن دومره خبره ده چې دغه شخص

چې په دغه علومو علم نه لري فاسق او ګنهګار بلل کېږي.

۴- د ایمان بنسټونه

دهغه سوالونه په لړۍ کې چې جبریل علیه وسلم له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه کول یو دا هم و چې (فاخبرني عن الایمان) ژباړه:او ما ته خبر راکړه اې د الله جل جلاله رسوله له ایمان څخه.

معنا دا چې کله جبریل علیه وسلم له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د اسلام د ماهیت او حقیقت پوښتنه وکړه او له هغه صلی الله علیه وسلم څخه یې پوره ځواب تر لاسه کړ نو په دغه لړۍ کې یې له نبي علیه وسلم څخه د دې غوښتنه وکړه چې ده ته د ایمان حقیقت او ماهیت بیان کړي، ایمان په لغت کې دې ته وایي چې ته داسې یو شخص وپېژنې چې هغه پوره ریښتینی او د ښو خبرو کوونکی وي او بیا یې تصدیق وکړې.

او په شرعي اصطلاح کې ایمان دې ته وایي چې په ژبه اقرار وکړې دا چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله رسول او د هغه جل جلاله د احکامو نشرونکی دی، او په زړه کې یې تصدیق وکړې، او بل په ټولو هغه امورو باندې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله له لوري راوړي دي اجمالا په اجمالي امورو او تفصیلا په تفصیلي امور باندې اقرار او تصدیق کول دي، همدا راز د شهادت د کلمې ویل د توان په اندازه یعنې د شهادت په کلمه تلفظ کول هغه وخت لازم دي چې شخص په تلفظ او ویلو باندې توان ولري، نو که یو مسلمان ورور مجبور کړل شي دکفر د کلمې په ویلو باندې نو په دغه صورت کې په ده باندې تلفظ د کلمې د شهادت نه دی لازم بلکې ده ته د کفر د کلمې ویل جایز دي خو په دې شرط چې په زړه کې به یې ایمان محکم وي.

د یوه مؤمن ایمان هغه وخت قوی ګڼل کېږي چې د باطني قوې او زړه په یقین سره د الله جل جلاله د ذات او صفاتو لویي وپېژني، همدارنګه قوي ایمان عبارت دی له دې چې د الله جل جلاله خوښه، رضا او د دیدار کولو لپاره پوره هڅه وشي، او د الله جل جلاله له قهر او غضب څخه ځان وساتل شي، او بل دا چې د دغه مؤمن عقیده به په لویۍ د الله جل جلاله او په لویۍ د صفاتو د الله جل جلاله باندې دومره مضبوطه او محکمه وي لکه څرنګه چې د هر چا عقیده په دې محکمه ده چې اور سوځوونکی دی او یا مار په سبب د خپلو زهرو وژونکی دی، پداسې حال کې چې هر څوک له دوی دواړو (اور او مار) څخه ځان ساتي، همدا ډول قوي ایمان دې ته وایي چې دغه ایمان به د مؤمن په زړه کې داسې کلک ځای نیولی وي لکه د مرمرو په ډبره کې نقش او نقاشی چې ځای نیولی وي.

په تحقیق سره ایمان او اسلام په یوه معنی سره دي او کومه عقیده چې د شهادت د کلمې په معنی کې ده هغه په دواړو(ایمان او اسلام) کې یو شانته ده.

او که چېرې د ایمان او اسلام په مبنځ کې توپیر د عموم او خصوص په لحاظ په نظر کې ونیول شي یعنې یو له دوی دواړو(ایمان او اسلام) څخه عام او بل خاص شي او په لغوي معنا کې یې توپیر ته اعتبار ورکړل شي، نه اصطلاحي معنا ته ځکه چې په اصطلاحي معنا کې ایمان او اسلام دواړه سره شریک دي، نو په دې وخت کې آیا ایمان کلي دی که جزئي؟ که فرض یې کړه کلي

شي نو بيا له څومره جزئونو څخه جوړ دی او آيا نېک اعمال او عبادات د ايمان اجزا دی او که نه؟ آيا (إن شاءالله) ويل د هغه چا لپاره سم دي چې وايي زه مؤمن يم او که نه؟ آيا ايمان کموالی او ډېروالی(زيادت) مني که نه؟ آيا ايمان مخلوق دی؟ آيا ايمان د انسان په اراده سره او که په زور ايمان په مومنانو باندې منل شوی دی؟ که چيرې ايمان په زور او اکره سره په مؤمنانو منل شوي وي، نو بيا ولې انسانانو ته په ايمان راوړلو سره امر شوی دی نو دا داسې پوښتنې دي چې په دغه کتاب کې يې مور د ټولو پوښتنو په ځوابولو باندې نه توانېږو، ځکه دا يو لنډ او کوچنی کتاب دی نو له همدې امله مور هرې پوښتنې ته ښل، ښل ځواب نه ورکوو، بلکې دا بسنه کوي چې ووايو د معتزله او اشعريه دوه مذهبونه په دې عقيده دي چې الله جل جلاله په داسې يوه کار باندې امر نه کوي چې هغه ناشونی او محال وي، او معتزله دا هم وايي چې الله جل جلاله په داسې کار باندې هم امر نه کوي چې هغه ممکن وي خو بنده يې له کولو څخه عاجز وي، همدارنګه د اشعريه مذهب د الله جل جلاله امر ته په داسې کار باندې چې ممکن وي خو بنده يې له کولو څخه عاجز وي جواز ورکوي خو لېکن الله جل جلاله په داسې کار باندې امر نه دی کړی چې انسان يې له ترسره کولو عاجز وي لکه په هوا کې د انسان الوتل او داسې نور.

الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته د داسې نېکو عملونو او عبادتونو امر نه دی کړی چې بنده ګان په هغه باندې قادر نه وي نو له همدې امله د قدرت او وس په اندازه کار کول دي، نو د هغه مؤمن ايمان تل تر تله او ټينګ پاتې کيږي چې د لېونتوب او خوب په حالت کې وي، او يا هم ناخبره وي پداسې حال کې چې نومورې په داسې حالتونو کې تصديق کوونکی نه دي.

مور په دغه حديث شريف کې د ايمان لغوي معنا تر بحث لاندې نه نيسو ځکه لغوي معنا د ايمان خو همدا تصديق دی، هېڅ داسې يو عام عرب نشته چې د ايمان په معنا د عالم نه وي نو صحابه (رضی الله عنهم)به څنګه علم نه لري په معنا د ايمان باندې په داسې حال کې چې جبريل عليه وسلم د دې اراده لرله چې اصحابو کرامو ته ايمان وروښايي، نو له همدې امله وايو چې د جبرييل عليه وسلم اراده د تعليم وه، نو ځکه يې د ايمان د اصطلاحي معنا پوښتنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وکړه او هغه صلی الله عليه وسلم هم په ځواب کې وويل چې ايمان په اصطلاح کې د شپږو معلومو شيانو تصديق کول دي، چې هغه شپږ شيان عبارت دي له: په الله جل جلاله، په پرښتو، په آسماني کتابونو، په رسولانو، په ورځ د قيامت او په اندازه د خير او شر له طرفه د الله جل جلاله باندې ايمان لرل.

په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه شپږ شيان جبريل امين ته بيان کړل چې لومړی له هغه شپږو شيانو څخه د الله جل جلاله په وجود او وحدانيت باندې ايمان لرل دي.

د ايمان لومړی رکن:

لومړی رکن له ارکانو د ايمان څخه نبي کريم صلی الله عليه وسلم جبريل عليه وسلم ته په ځواب کې داسې بيان کړ چې (أن تؤمن بالله) ژباړه:او ايمان دې ته وايي چې تر هر څه لومړی ته په الله جل جلاله ايمان ولرې، ايمان لکه چې مخکې تېر شو په ژبه اقرار او په زړه سره تصديق کولو ته په هغه شپږو، شيانو باندې وروسته له دې چې سړی رسېدلی وي دغه شپږو شيانو ته يا په داسې

توګه چې دغه شیان ښکاره شوي وي ورته د باطني قواوو په ادراک یا په عقلي دلایلو او یا هم په تقلید کولو د یوه غوره کړل شوي او محکم قول سره.

لومړی د هغه شپږو شیانو څخه چې په هغه باندې اقرار او تصدیق لازم دي هغه په دې خبره چې الله جل جلاله واجب الوجود ذات دی، نو په هغه باندې ریښتینی تصدیق او ښکاره ایمان راوړل دي، یعنې عدم (نشتوالی) یې ممتنع او وجود یې ضروري دی او همدغه الله جل جلاله دی چې حقیقي معبود دی او پرته له ده څخه بل معبود برحق او خالق نشته او دی جل جلاله پیدا کوونکی د موجوداتو دی په دنیا او آخرت کې پرته له مادي، زمانې او مثل څخه یعنې دغه موجوداتو ته نه ماده نه مثال او نه زمانه وه او دی جل جلاله جوړوونکی د مادې او ذرې(دومره کوچني جسم چې هغه وزن نه لري) دی او جوړوونکی د مرکباتو او جزئیاتو دی، او دی جل جلاله د جسمونو د اندامونو، کلکې او نرمې ځمکې، د ژوند او مرګ او د ټولو نویو شیانو او کړنو او د هر ډول قدرتونو، ځواکونو، حرکتونو، قانونونو، ارواح ګانو او ټولو پرښتو پیدا کوونکی دی.

او دی جل جلاله د عدم(نشت) له کندې څخه شتون ته د حیواناتو، نباتاتو او جامداتو را ایستوونکی دی، نو چې هر وخت او آن یې اراده شي یو شي پیدا کوي، نو لکه څرنګه چې الله تعالی د دوی په پیدا کولو قادر دی همدارنګه د دوی په ډبرولو د زیږیدنې له لارې هم قادر دی، لکه څرنګه یې چې عالم له عدم څخه را ایستلی او په قیامت کې یې هلاک کوي، الله جل جلاله پیدا کوونکی او څښتن د هر شي او حکم کوونکی په هر شي باندې دی، نشته الله جل جلاله ته آمر بلکې دی خپله امر کوونکی دی په هر شي باندې دغه څه چې وویل شول همدغه حقیقي ایمان دی، همدارنګه د کمال صفتونه ټول الله جل جلاله ته ثابت دي، نشته په ذات او صفاتو د الله جل جلاله کې هېڅ ډول نیمګړتیا او عذر او هر څه ته چې یې خوښه شي هغه کوي، او الله جل جلاله یو شی نه کوي د دې لپاره چې د ده سپېڅلي ذات ته ګټه یا د ده سپېڅلي ذات ته تغیر ورولي او یا هغه جل جلاله ته جزا پرې ورکړل شي، ځکه الله جل جلاله له هر شي څخه بې پروا او هېڅ شي ته اړ او محتاج نه دی. پداسې حال کې چې د الله جل جلاله په هر کار کې پوره حکمت، بشپړې ګټې، باریکی او نېکی د مخلوقاتو لپاره نغښتې دي.

الله جل جلاله دې ته اړ نه دي چې خپلو بنده ګانو ته د دوی د عبادتونو په عوض کې نېکه جزا ورکړي، او همدارنګه اړ نه دی چې د دوی د ګناهونو په عوض کې ورته سزا ورکړي، که چېرې الله جل جلاله ټول ګنهګاران داخل کړي جنت ته نو دا کار دې ده جل جلالهل جلاله له فضل او کرم سره مناسب دی او همدارنګه که الله جل جلاله ټول عبادت کوونکي او نېک بنده ګان دوزخ ته داخل کړي نو دا کار دې ده جل جلالهل جلاله له عدل سره سم لایق دی، خو لکېن الله جل جلاله اراده کړې او خبر یې ورکړی په دې باندې چې عبادت کوونکي مسلمانان جنت ته داخلیږي او د جنت په تل پاتې نعمتونو باندې منعم ګرځول کیږي، او هغه له حق لارې څخه اوښتي کافران به دوزخ ته داخلیږي او همېشه به په دغه دوزخ کې وي، او الله جل جلاله خپلې وعدې څخه مخالفت نه کوي، که چېرې ټول انسانان په الله جل جلاله باندې ایمان راوړي او د هغه جل جلاله پیروي وکړي د دې لپاره چې الله جل جلاله ته یوه ګټه ورسوي نو هېڅکله به الله جل جلاله ته په یوه شي سره ګټه و نه رسوي او که چېرې ټول عالم الله جل جلاله ته نسبت د دروغو وکړي او په هغه باندې

کافر شي له هغه څخه انکار وکړي او دوښمني ورسره وکړي او راټول شي د دې لپاره چې هغه جل جلاله ته زیان ورسوي نو هېڅکله به هم هغه جل جلاله ته زیان و نه رسوي، که چیرې یو بنده اراده وکړي چې دغه شی به کوي او الله جل جلاله هم د دغه شي اراده کړې وي نو الله جل جلاله به دغه کس ته دغه شی پیدا کړي او که الله جل جلاله د هغه شي د پیدا کولو اراده و نه کړي او پیدا یې نه کړي نو هېڅ شی به په پیداکولو د دغه شي کې هم حرکت و نه شي کړی او که د الله جل جلاله اراده نه وي نو هېڅ څوک به کافر نه شي او نه به ګناه وکړي، کفر او ګناه د الله جل جلاله په اراده سره دي خو د بنده په کفر او ګناهونو باندې یې راضي نه دی، بلکې پرې خپه او په قهر کیږي او الله جل جلاله په ډېره ښه توګه د هغه شي کوونکی دی چې ده جل جلالهل جلاله یې اراده کړې وي، هېڅ څوک دا حق نه لري چې له الله جل جلاله څخه د یوه شي په هکله پوښتنه وکړي او ووایي چې دغه ولې الله جل جلاله داسې او داسې کړی او یا که دغه کار الله جل جلاله داسې کړی وی نو ډېر ښه به وی او همداراز هېڅوک د یوه شي د سبب او لامل د پوښتنې حق نه لري، ځکه په آیت شریف کې راغلي(لایسئل عما یفعل وهم یسئلون)ژباړه:او له الله جل جلاله څخه څه چې کوي د هېڅ شي په اړه پوښتنه نه کیږي او له دوی (بنده ګانو) څخه د هغه شي چې دوی یې کوي پوښتنه کېږي.

او که د الله جل جلاله خوښه شي نو هغه لوی ګناهونه به خپلو بنده ګانو ته و بخښي که توبه یې هم نه وي تړې ایستلې پرته له شرک څخه چې پرته له توبې اېستلو نه بخښل کېږي، خو که خوښه یې شي خپلو بنده ګانو ته به د وړو ګناهونو له امله عذاب ورکړي، ځکه الله جل جلاله فرمایي(إن الله لا یغفر أن یشرک به ویغفر ما دون ذلک لمن یشاء»سورة النساء ٤٨) او الله جل جلاله خبر ورکړی چې کافرانو ته د تل لپاره دردوونکی عذاب دی.

مبتدعین(هغه څوک چې په دین کې نوي شیان پیدا کوي)او اهل د شبهاتو (شکونو) چې د مسلمانانو له دلې څخه دي، دوی عبادت کوونکي هم دي خو دوی ګمراهان دي او کاږه شوي دي له لارې د اهل سنت والجماعت څخه نو دوی چې کله مړه شي دوزخ ته داخلیږي خو همېشه به په دوزخ کې نه وي که چېرې د اسلام په حالت کې مړه شوي وو.

د الله جل جلاله لیدل په دنیا کې روا او کېدونکي دي خو په دنیا کې الله جل جلاله چا نه دی لیدلی او په ورځ د قیامت به الله جل جلاله د لویې او قهر په حالت کې پر کافرانو او مسلمانو ګنهکارانو باندې را څرګند شي، او په پاکو او نېکو مسلمانانو به د مهربانۍ او نرمۍ په صفت سره راڅرګند شي.

همدارنګه مسلمانان، پرښتې او مسلمانې ښځې به په جنت کې الله جل جلاله وویني په صفت د مهربانۍ او نرمۍ سره او کفار به له دغه لوي نعمت څخه بې برخې پاتې شي او هغه حدیث شریف چې په هغه کې د دې خبرې بیان شوی چې پېریان د الله جل جلاله له دیدن څخه محروم شوي قوي حدیث دی او زیات علماء وایې چې هغه ریښتیني مسلمانان به د الله جل جلاله دیدن کوي سهار او بیګاه او هغه مسلمانان چې درجې یې لږ ټیټې وي هغوی به په یوه جمعه کې د الله جل جلاله دیدن کوي او مسلمانې ښځې به په یوه کال کې څو وارې الله جل جلاله وینې لکه په دنیا کې د عیدونو ورځې، او دغه ټولو مؤمنانو ته به الله جل جلاله د جلال په صفت سره ځان ښکاره

کړي او دوی ټول به د الله جل جلاله په دیدار باندې ویاړ کوي.

شیخ عبد الحق الدهلوي په خپل کتاب (تکمیل الایمان)کې چې په فارسي ژبه لیکل شوی دی یو حدیث شریف نقل کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي (إنکم سترون ربکم کما ترون القمر لیلة البدر یوم القیامة) ژباړه :ژر ده چې تاسو به د قیامت په ورځ خپل رب داسې وویني لکه د څوارلسم سپوږمی، او الله جل جلاله په آخرت کې راڅرګندېږي خو مور یې په کیفیت علم نه لرو لکه په دنیا کې چې یې په کیفیت علم نه لرو ابوالحسن اشعري امام بیهقي امام سیوطي او نورو لویو علماوو ویلي دي چې پرښتې په جنت کې د الله جل جلاله دیدن او دیدار کوي او امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله او نورو علماوو ویلي دي چې پېریانان د ثواب کارونه نه کوي او دوی جنت ته نه داخلیږي مګر هغه پېریان چې مسلمانان دي دوی به له دوزخ څخه خلاصون ومومي او ښځې به د الله جل جلاله ښایست په کال کې د دنیا د عیدونود په شان څو واړې وینې او هغه پوره او نېک مؤمنان به الله جل جلاله سهار او بیګاه وینې او نور مسلمانان به په هره جمعه کې یو وار د الله جل جلاله دیدن کوي او هر چې رایه او د مصنف رحمه الله نظر دا دی چې مسلمانې ښځې، پرښتې او پېریان دا ټول به د الله جل جلاله دیدن کوي او د صالحو او عابدو ښځو له نورو ښځو څخه ایستل یا استثنا کول یوه مناسبه خبره ده یعنې د بعضو صالحو ښځو لکه خدیجه رضی الله عنها فاطمه رضي الله عنها عایشه رضي الله عنها او نورې مبارکې بیبیانې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او یا نورې ښې ښځې لکه مریم علیها وسلم، آسیه بي‌بي او داسې نورې د دغه ښځو د دیدار حالت او مرتبه به دعادي ښځو له مرتبې څخه مغایره او لوړه وي چې همدغې خبرې ته امام سیوطي رحمه الله هم اشاره کړې ده.

د الله جل جلاله د لیدلو عقیده لرل واجب دي خو د دیدار په کیفیت کې یې فکر کول مناسب او روا نه دی ځکه د الله جل جلاله د افعالو ادراک په عقل باندې نه کیږي او د الله جل جلاله افعال د دنیا له افعالو سره ورته نه دي او نه په فزیکي او کیمیاوي علومو سره پېژندل کیږي او الله جل جلاله پاک دی له شپږ واړو ارخونو(جهتونو) څخه او دی جل جلاله نه جسم، نه جوهر، نه عرض، نه مرکب، نه طرفونو احاطه پرې کړې، نه شمېرل کېږي، نه اندازه کیږي، نه حسابیږي اوړنه په ده جل جلالهل جلاله کې کوم بدلون او تغییر راځي نه ځای نیوونکی دی په یوه ځای کې او نه په ده جل جلالهل جلاله باندې وخت تېریږي او نشته الله جل جلاله ته اول او وروستی له ښی اړخ، چپ اړخ، د مخ له اړخه، د شا له اړخه، د لوړ اړخه او د لاندې اړخه نو له همدې امله انسان په خپل فکر علم اوعقل سره د الله جل جلاله د افعالو ادراک نشي کولای، او همدارنګه د الله جل جلاله د دیدار د کیفیت ادراک هم نه شي کولای، هغه کلمې لکه د الید، الرجل، الجهة ،المکان، او بعضې نورې هغه کلمې چې په قرآن شریف او یا احادیثو کې راغلې دي او نسبت یې الله جل جلاله ته نه صحیح کیږي نو دغه کلمې په هغه معنا سره نه دي کومه معنا چې مور په عرف کې ترې اخلو، او یا یې پېژنو او کوم آیتونه چې په دغه کلمو مشتمل وي متشابهات نومېږي، اوپه همدغه متشابهاتو ایمان لرل واجب دي او پر مور لا زمه ده چې په دغه کلمو کې د څنګه او ولې له پوښتنو څخه پټه خوله شو بلکې په هغه څه چې د الله جل جلاله له دغه کلمو څخه مراد او موخه وي ایمان او عقیده ولرو، او حق یې وګنو او یا په دغه کلمو کې اجمالي او یا تفصیلي تأویل کیږي لکه اشعریه

چې داسې وایي یعنې د دغه کلمو معنا داسې معنا ته اړول کیږي چې له شان د الله جل جلاله سره مناسبه وي مثلاً کلمه د «الید »ده معنا یې په قدرت سره کیږي همدارنګه په پاتې کلمو کې هم داسې تأویل کیږي.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د معراج په شپه الله جل جلاله ولید، لېکن دغه لیدل د ده صلی الله علیه وسلم له هغه لیدلو سره چې په دنیا کې په سترګو کیږي ورته نه دي او که یو څوک داسې دعوه وکړي چې ده الله جل جلاله ولید په دنیا کې نو دغه شخص زندیق ګرځي، او که صوفي علماء الله جل جلاله ووینې نو دغه د دوی لیدل له لیدلو سره په دنیا او آخرت کې سره ورته نه دي، ځکه دوی ته حضور حاصلیږي نه لیدل حتی که چېرې یو ولي الله پیدا شي او دعوه وکړي چې ما الله جل جلاله ولید نو په ده باندې ګمان کیږي چې دغه لیدل د ده په حالت د بې هوشۍ او حضور کې راغلي دي او یا دغه لیدل د ده اړول کیږي داسې کلمو ته چې د هغه څخه فهم وشي.

پوښتنه: مخکې مور دا خبره وکړه چې د الله تعالی جل جلاله لیدل په دنیا کې په سترګو سره ممکن دي نو بیا ولې هغه چاته زندیق وویل شي چې هغه دعوه د لیدلو د الله جل جلاله کړې وي؟ او حال دا چې دغه لیدل جایز دي نو دا څنګه ممکنه ده چې لیدل د هم جایز شي او هغه چاته چې د لیدلو دعوه یې کړې وي زندیق وویل شي؟

ځواب:یو مطلق جواز دی هغه دې ته وایي چې د یو شي وجود او عدم دواړه ممکن وي او بل په دنیا کې د الله جل جلاله دلیدلو جواز دی نو د اشعري په مذهب سره چې اشعري لیدل د الله جل جلاله په دنیا کې ممکن بولي خو کیفیت یې مجهول بولي جواز د لیدلو د الله جل جلاله لیرې دی له نېږدې والي څخه یعنې نفس لیدل خو شته او ممکن دي خو آسانه او قریب نه دي، ځکه په دنیا کې نه دي واقع شوي او همدارنګه دغه لیدل لیرې دي له دې څخه چې مخالفت یې دې وشي ځکه خو ممکن دي او لیرې دي له احکامو او قوانینو د فیزیک څخه یعنې اشعري دغه لیدل په سبب د دغه قوانینو او آلاتو سره نه بولي بلکې دی یې کیفیت مجهول بولي ځکه الله جل جلاله په دې قادر دی چې په یوه انسان کې داسې دلیدلو قوه پیدا کړي چې له عادت څخه خلاف وي مثلاً الله جل جلاله قادر دی چې یوه غوماشه چې په اندلس کې وي هغه راونده ته ورووینې چې هغه په چین کې وي همدارنګه الله جل جلاله قادر دی چې یوه انسان ته چې دی په ځمکه کې وي هغه شی ورووینې چې هغه په سپوږمۍ کې موجود وي او دومره لوی قدرت بیا خاص دی تر الله جل جلاله پورې، نو که یو څوک په دنیا کې د الله جل جلاله د لیدلو دعوه وکړي سره له علمه په کیفیت د دغه لیدلو نو دغه دعوه دده له قرانې اقوالو او د علماوو د اجماع څخه مخالفه ده نو مدعي د دغه دعوې ملحد او کافر ګڼل کیږي.

او یا دا پوښتنه داسې ځوابوو چې جواز د لیدلو د الله جل جلاله په دنیا کې په دې معنا سره نه دی چې دغه لیدل به په وسایلو او قوانینو د فیزیک سره راغلي وي بلکې مراد نفس لیدل دي بې له علمه څخه په کیفیت باندې یې ځکه که څوک دعوه د لیدلو د الله جل جلاله وکړي په دنیا کې لکه لیدل د نورو شیانو نو دغه مدعي کافر کیږي. نو مطلوب د دې ځواب دا دی چې لیدل د الله جل جلاله دوه قسمه دي یو لیدل یې پر څرنګوالي له علمه پرته او بل لیدل په سبب د آلاتو سره نو که د الله جل جلاله لیدلو مدعي دعوه جایز بلل کیږي په اعتبار د اولې معنا سره بلل

کیږي، او د الله جل جلاله د لیدلو مدعي ته په اعتبار د دوهمې معنا سره زندیق ویل کیږي، له دغه ځواب وروسته څخه حضرت مولانا خالد رحمت الله علیه دې ته اشاره کوي چې دوهم ځواب ښه موافق دی.

دملحد او زندیق تر مینځ توپیر: هر ملحد او زندیق داسې دعوه کوي چې زه مسلمان یم، خو ملحد په دغه دعوه کې کلک وي او عقیده یې هم داسې وي چې زه مسلمان او په نبغه لاره یم. او زندیق دغه دعوه کوي خو عقیده یې داسې نه وي چې زه مسلمان یم بلکې د عناد له امله د اسلام دښمن ګرځېدلی وي او شکل او څهره یې د مسلمانانو جوړ کړی وي د دې لپاره چې د مسلمانانو له مینځ څخه د اسلام پاک دین تخریب او د مسلمانانو سره چل او فریب وکړي.

په الله جل جلاله باندې شپه، ورځ او وخت نه تېرېږي نو له همدې امله په الله جل جلاله کې هېڅ قسم تغیر او تبدیل نه راځي نو روا نه ده چې داسې وویل شي: الله جل جلاله په مخکې زمانه کې داسې او داسې وا او وروسته به داسې او داسې شي ځکه الله جل جلاله چې دی نه یې د یوه شي سره حلول(یو ځای کېدل) راځي او نه له یوه شي سره جمع کیږي نه ورته ضد، نه ورته هم مثل، نه ورته مشابه، نه ورته بل مثال، نه ورته شریک، نه ورته مرسته کوونکی، نه ورته ساتوونکی، نه ورته پلار مور لور زوی او ښځه شته، په هر وخت له وختونو او په هره شېبه کې الله جل جلاله موجود دی او الله جل جلاله په هر شي احاطه کوونکی دی او هر چا ته د غاړې له رګونو څخه ورنژدې دی، خو لېکن دده جل جلالهل جلاله احاطه پر هر شي، نېږدې والی یې مور ته او یا یې شتون له مور سره په هغه کیفیت نه لکه مور یې چې فهم کوو، او الله جل جلاله نېږدې والی نه معلومیږي مور ته په علم د علماوو سره او نه په پوهه د اهل فنونو او نه په کشف د اولیاوو سره او د بشر عقل احاطه نه شي کولی دده جل جلالهل جلاله په ذات باندې، نو الله جل جلاله یو دی په ذات او صفاتو کې او هېڅ ډول تغیر او بدلون یې په ذات او صفاتو کې نشته دی.

د الله جل جلاله نومونه توقیفي دي یعنې کوم چې شریعت مور ته راپېژندلي مور ته روا ده چې الله جل جلاله په هغه نومونو سره یاد کړو او کوم چې شریعت نه دي بیان کړي نو د الله جل جلاله په هغه نومونو یادول مور ته روا نه دي مثلاً داسې ویل کېږي چې الله جل جلاله علیم دی، خو داسې نه ویل کیږي چې الله جل جلاله فقیه دی ځکه چې فقیه په معنا د پوهېدلو سره دی، نو ځکه په علم فقه باندې شریعت الله جل جلاله ته فقیه نه دی ویلی، همدارنګه روا نه ده چې الله جل جلاله ته فقط د (تکري)چې ترکي لغت دی وویل شي په عوض دلفظ د الله کې له دې امله چې د تکري کلمه په معنا د معبود سره ده ځکه داسې ویل کېږي (اله الهنود البقر) لکه څرنګه چې داسې ویل کېږي (لااله الا الله) نو مثلاً کلمې God,Gott,او Dieu په معنا د معبود سره راځي خو په معنا د (الله) سره نه استعمالېږي.

د الله جل جلاله نومونو ته حد او اندازه نشته خو مشهوره دا ده چې ده جل جلاله ته ۱۰۰۱نومونه دي یعنې الله جل جلاله د نامحدوده نومونو څخه مونږ ته ۱۰۰۱ نومونه راښودلي دي چې له دغه نومونو څخه دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم په شریعت کې ۹۹نومونه ذکر شوي دي، او دغه نومونو ته اسماء الحسنی ویل کېږي.

د الله جل جلاله ذاتي صفتونه شپږ دي، لکه چې مور ذکر کړل، (ماتیریدیه)وایي چې د الله

جل جلاله ثبوتي صفتونه اته دي، (اشعريه)وايي چې اووه دي خو په هر حال د الله جل جلاله دغه صفتونه ازلي او قديم دي لکه ذات دده جل جلاله چې ازلي او قديم دی او ابدي دي يعنې پای نه لري او پاک او خالي دي له عيبونو څخه، د الله جل جلاله دغه صفتونه داسې نه دي لکه د بنده گانو صفتونه او دغه صفتونه په عقل، گمان او قياس سره نه پېژندل کېږي، دنيوي صفتونو ته پېژندل کېږي او الله جل جلاله خپلو بنده گانو ته يو نمونه له دغه صفتونو څخه ورکړې ده، چې په دغو صفتونو کې د فکر کولو په سبب د الله جل جلاله نور صفتونه هم انسان ته معلومېږي که چېرې فکر پکې وشي . او بنده گانو ته روا نه ده چې فکر وکړي په الله جل جلاله کې ځکه دوی په دغه مسئله کې خپلې موخې ته نشي رسېدلای .

د الله جل جلاله دغه اته ثبوتي صفتونه نه د الله جل جلاله عين ذات دي او نه يې غير له ذات څخه دي، چې دغه اته ثبوتي صفتونه په لاندې ډول دي:

۱-حيات (ژوند)۲-علم(پوهه)۳-سمع(اوربدل)۴-بصمر(ليدل)۵-قدرت(توان)٦-کلام(خبرې کول)۷اراده(ديوه شي قصد کول)۸-تکوين(نوی شی پيدا کول او د اشعريوو په نزد تکوين او قدرت يو دي او مشيت په معنا د ارادې سره دی).

د الله جل جلاله د دغه صفتونو څخه هر يو صفت يې بسيط يعنې غير مرکب دی او په هېڅ حالت کې تغير او تبديل نه پکې راځي خو لېکن دغه صفتونه د مخلوقاتو سره د پيوست والي په سبب ډېر دي، خو دغه ډېروالی د دغه صفتونو بسيط والي ته ضرر نه رسوي ځکه چې په بنده گانو د دې صفتونو شتون په هغه کيفيت سره ندی په کوم کيفيت چې په الله جل جلاله کې موجود دي مثلاً علم د بنده گانو په اسبابو او آلاتو سره دی خو علم د الله جل جلاله بغير له اسبابو او آلاتو دی همدارنگه نور صفتونه هم داسې دي. الله جل جلاله ډېر مخلوقات پيدا کړي او حفاظت يې هم کوي خو له دې سره سره دی جل جلاله صمد ذات دی، يعنې ټول مخلوق ده جل جلاله ته محتاج دی خدای ج هېڅا ته محتاج نه دی.

د ايمان دويم رکن:

د ايمان له شپږو اصولو څخه دوهم اصل چې رسول الله صلی الله عليه وسلم جبريل عليه وسلم ته بيان کړ هغه دا دی چې(وملائکته) يعنې بل دا چې ايمان ولرې د الله جل جلاله په پرښتو باندې.

پرښتني نازک نوراني جسمونه دي او ډېرې نازکې دي له گاز يا غاز څخه حيا ناکې او عقل لرونکې دي هيڅ وخت د الله جل جلاله څخه سرغړونه نه کوي لکه انسانان يې چې کوي او نه کومه گناه کوي.

پرښتې د الله جل جلاله داسې يو مخلوق دی چې په گلالیو مختلفو شکلونو سره ځانونه جوړوي لکه غازات چې په ښو شکلونو سره جوړېږي، چې کله مايع وي ځکه ځينې وخت غاز مايع او کله بيا جامد وي.

پرښتې د عزتمنو او ښو خلکو روحونه نه دي لکه مسيحيان چې داسې عقيده لري، پرښتې له مادې پرته کوم طاقت او قدرت نه دی لکه د ځينو مخکينيو فلسفوو چې دا عقيده ده خو ټول

یې د پرښتو په نامه یادوي، او «ملک» هغه را لېږل شوي مخبر ته وایي چې د الله جل جلاله له لوري خبرونه راوړي او یا د قوت په معنا دي . ځکه پرښتو ته هم الله جل جلاله ستر قوت ورکړی.

الله جل جلاله له ټولو مخلوقاتو څخه مخکې پرښتې پیدا کړې دي نو له همدې امله په پرښتو باندې ایمان مخکې له آسماني کتابونو څخه په ایمان راوړلو ذکر شوې دي، او په کتابونو ایمان مخکې ذکر شو له ایمان په رسولانو باندې او په قرآن کریم کې هم د هغه شیانو ذکر چې په هغه باندې ایمان راوړل واجب دي په دغه ترتیب شوی کوم چې په دغه حدیث شریف کې راغلي دي.

په پرښتو باندې باید داسې ایمان ولرل شي چې پرښتې د الله جل جلاله مخلوق دی او له الله جل جلاله سره په هېڅ شي کې شریکې نه دي لکه د مشرکانو چې دغه عقیده ده چې دوی پرښتې له الله جل جلاله سره شریکې ګرځوي، زمونږ عقیده دا ده چې پرښتې د الله جل جلاله لورانې نه دي(نعوذ بالله) بلکې دا عقیده د مشرکانو ده.

الله جل جلاله له ټولو پرښتو سره محبت کوي ځکه دوی د الله جل جلاله ځخه سرغړونه نه کوي ځنګه چې الله جل جلاله په قرآن کریم کې وایي(لا یعصون الله ما أمرهم و یفعلون ما یؤمرون. التحریم ٦)ژباړه: او سر غړونه نه کوي دغه پرښتې د هغه څه ځخه چې الله جل جلاله په هغه باندې امر ورته کړی وي او دوی هغه څه کوي چې دوی ته یې امر کیږي.

بله دا چې پرښتې نه نارینه دي نه ښځینه، نه یو له بل سره نکاح کوي او نه یو له بل ځخه پیدا کیږي، دوی د روحونو درلودونکي دي او د عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه په یوه روایت کې داسې ذکر شوي چې ځینې پرښتې اولاد هم لري، او د شیطانانو پلار ابلیس(علیه اللعنة) او د پېریانانو پلار دا هم له دغه ډلې پرښتو ځخه دي خو دغه روایت ته تفصیلي ځواب په لویو کتابونه کې ورکړل شوی دی.

هر کله چې الله جل جلاله پرښتې پدې خبره خبرې کړي چې دی جل جلاله په ځمکه کې انسانان پیدا کوي نو پرښتو وویل(قالوا اتجعل فیها من یفسد فیها ویسفك الدماء /البقرة ٣٠) ژباړه:اې الله جل جلاله آیا ته په ځمکه کې هغه ځوک پیدا کوې چې هغه به په ځمکه کې فساد کوي او وینې به تویوي.

دغه پوښتنه د پرښتو له الله جل جلاله ځخه د دوی معصومیت او پاکوالي ته ضرر نه رسوي بلکې دوی پاکې دي له هرقسم ګناه او سرغړونې ځخه او دغه پوښتنه د دوی ذلت بلل کیږي او ذلت د خلاف والي په معنا سره دی او ګناه نه ده.

د الله جل جلاله په مخلوق کې ډېر شمېر واله مخلوق همدغه پرښتې دي او د دوی په تعداد او شمېر باندې یو الله جل جلاله عالم دی، په آسمان کې هېڅ داسې ځای نشته مګر هلته یوه پرښته شته او د الله جل جلاله عبادت کوي، او په آسمان کې هر ځای په پرښتو سره ډک کړل شوی دی ځینې د دوی رکوع کوونکي ځینې یې سجده کوونکي دي، پرښتې په ځمکه او اسمانونو کې بېلا بېل کارونه ترسره کوي، که نباتات، ستوري، ژوندي موجودات او که جمادات دي دوی ته په هغه کې کار دی، او دوی ته د باران په هر ځاځکي او په هره پاڼه له پاڼو د ونو کې کار دی، همداراز پرښتې په کوچنیو جزئیاتو او د ذراتو په حرکوتونو کې کار کوي او د هر شي په انتظام کې دپرښتوو انتظام

شته او په هر ځای کې هغه شی کوي چې دوی ته یې امر شوی وي، دغه پرښتې د الله جل جلاله او بنده ګانو ترمنځ واسطه دي، ځینې پرښتې پر ځینو نورو باندې په درجه او مقام کې لوړې دي، ځینې د دوی امر کوونکې دي ځینو نورو ته، او ځینو ته امر شوی چې د الله جل جلاله رسولانو ته وحیې ورسوي، هغه رسولان چې د خلکو د لارښوونې لپاره رالېږل شوي دي او ځینې د دوی د انسانانو زړونو ته د ښه فکر په بڼه راځي چې دېته الهام وایي، ځینې د دوی په انسانانو او باقي مخلوقاتو علم نه لري او دوی د الله جل جلاله د ښایست پر وړاندې هېڅ کړې دي، او هر یوه پرښته په یوه تاکلي ځای کې مقرره ده او دا قدرت نه لري چې هغه ځای پرېږدي.

ځینو پرښتو ته دوه، ځینو ته څلور وزرونه او ځینو ته زیات وزرونه ورکړل شوي دي، ځینې داسې فکر کوي چې د پرښتو له جنس څخه ځینې داسې وزرونه لري لکه د حیوان او یا الوتکې، پداسې حال کې چې دغه پرښتې ځانګړي وزرونه لري او هر انسان چې یو شی یې لیدلي نه وي او یا یې نه پېژني نو په هغه شي چې لیدلي او پېژني یې دغه شی ورڅیاس کوي، خو په دغه قیاس کې کله انسان تېرایستل او غولېږي خو مور ایمان لرو چې پرښتې وزرونه لري خو مور یې په کیفیت نه پوهېږو. او هغه ښځې چې په ورځپاڼو، فلمونو او عبادت ځایونو کې پداسې شکل لیدل کېږي چې وزرونه لري او ویل کېږي چې دا پرښتې دي نو دغه خبرې هیڅ اصل او بنسټ نه لري بلکې دا ډېر غټ دروغ دي او مسلمانان هېڅکله دغه ډول صورتونه نه جوړوي او روا نه ده چې د هغه چا تصدیق وشي چې دغه ډول صورتونه جوړوي، همدرانګه مسلمان باید د دین د دښمنانو په داسې دوکه و نه غولېږي.

د جنت پرښتې په جنت کې موجودې دي، چې د جنت د لوېې پرښتې نوم (رضوان) دی، او د دوزخ پرښتې د (زبانیون) په نامه سره یادېږي، او تل هغه دندې ته چمتو وي چې دوی ته یې امر شوی دی، خو دوی ته دوزخ اور زیان نه رسوي لکه ماهي ته چې د بحر اوبه زیان نه رسوي، د دوزخ لوېې پرښتې ۱۹ دانې دي او د لوېې پرښتې نوم یې (مالک)دی.

هر انسان څلور پرښتې لري چې دوې د ورځې ورته راځي او دوې بیا د شپې ورته راځي او د ده د ورځې او شپې نېک او بد اعمال لیکي او دغه پرښتو ته(کرام الکاتبین) یا (حفظه) پرښتې وایي او داسې هم ویل شوي چې (حفظه) پرښتې ځانته دي او (کرام الکاتبین) ځانته دي او دغه دوې پرښتې یا په شپه کې یا په ورځ کې یوه د انسان په ښۍ اوړه ناسته وي او د انسان نېک اعمال لیکي او بله دانسان په کینې اوړه ناسته وي او د انسان بد عملونه لیکي، نو هغه پرښته چې د انسان په ښۍ اوړه وي هغه امر کوونکې ده په هغه پرښته باندې چې هغه د انسان په کینې اوړه وي او همدارنګه په قبر کې کافرانو او منافقینو ته دعذاب پرښتې مقرر شوې دي، او مسلمانانو ته د سوال کولو پرښتې دي چې هغوی ته (نکیر او منکر) وایي کومې پرښتې چې د مسلمانانو نېکۍ او بدۍ لیکي هغه ته (المبشر البشیر) هم وایي.

په تحقیق سره ځینې پرښتې له ځینو نورو څخه غوره دي، چې تر ټولو غوره او الله جل جلاله ته نږدې پرښتې څلور دي، چې په ترتیب سره په لاندې ډول دي ۱-جبرائیل علیه السلام ۲-اسرافیل علیه السلام ۳-میکائیل علیه السلام ۴-عزرائیل علیه السلام

چې د جبرائیل علیه السلام دنده رسولانو ته د وحیې راوړل دي او د رسولانو خبرول دي په هغه

شیانو باندې چې په هغه باندې الله جل جلاله امر کړی وي او یا یې له هغه څخه منعه کړې وي، د اسرافیل علیه السلام دنده په شپېلۍ کې دوه وارې پوکی کول دي چې په اول پوکي سره به هر ژوندي شی مړ شي غیر د الله جل جلاله څخه ځکه په الله جل جلاله باندې خو مرګ نه راځي او په دوهم پوکي سره به ټول مړه شوي مخلوقات بیا راژوندي شي، د میکائیل علیه السلام دنده د اقتصادي وضعې برابرول دي لکه ارزاني، قېمتي، د حاصلاتو کموالی، ډېروالی او ښه والی، د ژوند خوشحالي او د بادونو بارانونو انتظام.او د عزرائیل علیه السلام دنده له ژوندیو موجوداتو څخه د روح اخیستل دي.

له دغه څلورو غوره پرښتو څخه وروسته، پرښتې د غوره والي په اعتبار څلور ډوله دي: اول (حملة العرش) هغه پرښتې دي چې دوی په ځانونو باندې عرش بار کړی دی د دغه پرښتو شمېر څلور دی خو په ورځ د قیامت به یې شمېر اتو ته ورسیږي.

دوهم: (مقربون) دغه پرښتې د الله جل جلاله په حضور کې دي.

دریم: (الکربیون) دغه پرښتې د عذاب دي.

څلورم: (الروحانیون) دغه پرښتې د رحمت دي، دغه ټولې هغه خاصې پرښتې دي او دوی له عامو انسانانو څخه غوره دي پرته له انبیاوو کرامو او نېک او صالحو مؤمنانو څخه، همدارنګه له عوامو پرښتوو څخه غوره دي یعنې له هغه پرښتوو څخه چې د هغوی مرتبې په نسبت سره نورو پرښتو ته ټیټې وي او هغه عوامې پرښتې چې رتبې یې ټیټې دي له هغو ګنهګارو مسلمانانو څخه غوره دي، او کافر انسانان له ټول مخلوق څخه رزیل، ټیټ او بېکاره دي.

کله چې لومړی شپېلۍ پو کړل شي نو ټولې پرښتې به مړې شي پرته له څلورو لویو پرښتو او د عرش له پرښتو څخه خو کله چې نورې ټولې پرښتې مړې شي بیا به د عرش پرښتې مړې شي او وروسته له دې به هغه څلور لویې پرښتې هم مړې شي خو بیا مخکې له دې چې دوهمه شپېلۍ پو کړل شي دغه څلور لویې پرښتې او د عرش پرښتې به راژوندی کړل شي او بیا به د دوهمې شپېلۍ په پو کولو سره نورې ټولې پرښتې راژوندی کړل شي معنا دا چې لکه پیدایښت د پرښتو چې تر ټولو مخلوقاتو مخکې و نو د دوی مړه کېدل به تر ټولو مخلوقاتو وروسته وي

د ایمان دریم رکن:

اصل له اصولو د ایمان څخه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم جبریل علیه وسلم ته بیان کړ هغه دا دی چې (وکتبه) ژباړه:او بل ایمان دې ته وایي چې په کتابونو د الله جل جلاله ایمان ولرې الله جل جلاله کتابونه را نازل کړي دي، چې ځینې دغه کتابونه د پرښتو د ویلو له لارې پر رسولانو نازل شوي، او ځینې کتابونه په لوحو او تختو باندې په لیکلي ډول نازل شوي دي، او ځینې کتابونو رسولانو له واسطې پرته اورېدلي دي، په هر حال دغه ټول کتابونه چې الله جل جلاله رانازل کړي دي د الله جل جلاله خبرې او قدیم دي، مخلوق او حادث نه دي او دغه آسماني کتابونه پرښتو او رسولانو له ځانه نه دي جوړ کړي.

د الله جل جلاله خبرې دمخلوق له خبرو سره ورته نه دي، او نه هم له هغو خبرو سره ورته دي چې مور پرې غږېږو، لیکو او یا یې به ذهن کې تېروو، همدارنګه د الله جل جلاله کلام صوت او له

حروفو څخه مرکب نه دی،

او مورِ په دې قادر نه یو چې د الله جل جلاله د ذات او صفاتو کیفیت معلوم کړو، خو کله چې د الله جل جلاله چې کلام چې همدا آسماني کتابونو دي انسانان یې وایي، لیکي او یا یې یادوي نو په دغه حالت کې دا کلام حادث دی، نو پر دې بنسټ ویلای شو چې د الله جل جلاله کلام دوه جهته لري: لومړی دا چې کله مورِ د الله جل جلاله کلام وایو نو حادث او مخلوق دی.

دویم له دې جهته چې د الله جل جلاله کلام دی نو پدې اعتبار سره د الله جل جلاله کلام قدیم دی.

ټول هغه کتابونه چې د الله تعالی له لوري رانازل شوي دي حق او صحیح دي داسې نشي ویل کېدلای چې دغه کتابونه دروغ او غلط دي .

که چېرې داسې یوه خبره کیږي چې الله جل جلاله هغه بنده ته چې د عذاب ورکولو وعده یې کړې وي بخښنه کوي، نو دا خبره په داسې شرایطو پورې تړاو لري چې مورِ وربانديِ علم او پوهه نه لرو، یا دا خبره د الله جل جلاله په اراده پورې اړه لري یعنې که د الله جل جلاله اراده وشي د عذاب پر ځای بنده ته مغفرت کوي، او یا دا خبر په دې معنا سره ده چې الله جل جلاله هغه چا ته چې د عذاب لایق وي عفوه او بخښنه کوي، او که الله جل جلاله د یوه بنده د عذاب ورکولو اخبار کړی وي نو دغه اخبار له همدغه عذاب څخه نه دی چې که چېرې الله جل جلاله دغه بنده ته بیا عفوه وکړي نو هغه مخکینی اخبار یې چې د ده جل جلاله کلام دی کذب او دروغ وبلل شي، او یا دا خبره په دې معنا چې الله جل جلاله له خپلې ژمنې څخه مخالفت نه کوي خو ده جل جلاله ته دا اختیار شته چې د وعید او عذاب له ژمنې څخه مخالفت وکړي مطلب دا چې د کومو نعمتونو وعده یې له خپلو بنده ګانو سره کړې ده له هغې وعدې څخه مخالفت نه کوي خو لېکن الله جل جلاله ته دا اختیار شته چې کومه وعده یې په عذاب سره کړې وي د هغه وعدې څخه رجوع وکړي او خپل بنده ته له عذاب څخه ورتېر شي او بخښنه ورته وکړي او په دغه خبره باندې عقل عرف او قرآني آیتونه هم حکم او دلالت کوي.

واجب ده چې د قرآن کریم د ایتونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو تفسیر د دوی د ظاهري معنا پر بنسټ که چېرې کومه مانع نه وه او یا تأویل ته اړتیا نه وه، وشي.

دا روا نه ده چې د آیتونو او احادیثو تفسیر بغیر د ظاهري معنا ترسره او تاویل پکې وشي.(آیتونه او احادیث د قریشو په لهجه نازل او ویل شوي دي، نو کومې ظاهري معناګانې چې د قریشو په ژبه ۱۴۰۰ کاله مخکې ورکړل شوې دي په همغه معناګانو سره یې باید تفسیر وشي، نو د ایت شریف یا حدیث پداسې معنا سره چې د وخت په تېرېدلو سره یې تغییر خوړلی وي معنا کول یې روا نه دي) هغه آیتونه چې متشابهات ورته ویل کیږي هغه داسې پټې معناګانې لري چې پرته له الله جل جلاله څخه بل څوک علم پرې نه لري، او هغه محکم خلک په علم کې چې دیني علماء دي دوی هم په اندازه د خپل علم له دغه آیتونو څخه فهم کوي خو داسې علماء ډېرکم دي، له دغه لویو علماوو پرته نور علماء یا عوام په دې آیتونو هېڅ علم نه لري.

نو له همدې وجې په متشابهاتو داسې ایمان واجب دی چې دغه متشابهات هم د الله جل

جلاله کلام دی د الله جل جلاله چې څه ترېنه مراد وي هغه حق دي، نور يې مورِ په کيفيت علم نه لرو او اړينه نه ده چې پر معناوو يې بحث وشي، د اشعريه ډلې علماوو ويلي دي چې په متشابهاتو کې اجمالي يا تفصلي تأويل روا دی او تأويل دې ته وايي چې د يوې کلمې له معناوو څخه هغه غير مشهوره معنا مراد کړل شي، مثلاً دغه ايت(يد الله فوق ايديهم:الفتح ۱۰) کلام د الله جل جلاله دی او مورِ بايد داسې ايمان ولرو چې د الله تعالی څه شی مراد دي هغه حق دي، غوره دا ده چې وويل شي يو الله جل جلاله پرې عالم دی بل څوک علم نه پرې لري او يا داسې وايو چې د الله تعالی علم داسې نه دی لکه زمورِ علم همدارنګه د ده اراده زمورِ له ارادې سره مشابه نه ده نو همدارنګه «يد» د الله جل جلاله بلا کيف لاس زمورِ له لاسونو سره مشابه نه دی.

دغه پاک آسماني کتابونه چې الله جل جلاله رانازل کړي دي په دې کې ځينې داسې آيتونه دي چې يوازې قرائت او تلفظ يې منسوخ وي حکم يې نوي منسوخ شوی او ځينې داسې آيتونه دي چې قرآئت او حکم يې دواړه منسوخ شوي وي، ځينې داسې آيتونه هم شته چې يوازې حکم يې منسوخ شوی وي او قرائت يې پاتې وي.

قرآن کريم د ټولو آسماني کتابونو د احکامو نسخه کوونکی او لغوه کوونکی دی، هېڅکله به ان تر قيامته پورې په قرآن کريم کې يوه خطا يا کوچنی نقصان او زيادت پيدا نشي ، په قرآن کريم کې د وروستنيو او مخکينيو خلکو علم راټول شوی دی له همدې امله له ټولو آسماني کتابونو څخه غوره دی، قرآن کريم د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم يوه لويه معجزه ده لکه په آيت شريف کې چې راځي(قل لئن اجتمعت الانس والجن على أن يأتوا بمثل هذا القرآن لا يأتون بمثله ولو كان بعضهم لبعض ظهيرا»إسراء ۸۸)ژباړه:ووايه اې محمده کفارو ته چې که چېرې انسانان او پېريان د دې لپاره چې دوی رواړي په مثل د دغه قرآن باندې نو دوی به را نشي وړلی په مثل د دغه قرآن اګر که ځينې د دوی ځينو نورو سره مرستندوی هم شي.

د عربو فصېح او بليغ شاعران او ادبآء را غونډ شوي دي او ډېر کوشش يې کړی دی چې د قرآن کريم په شان کلام جوړ کړي، خو ټول له دې عاجز او ناتوانه ګرځېدلي چې درې لنډ داسې آيتونه رواړي لکه د قرآن کريم.

دوی قدرت د غلبې په قرآن باندې نه لري نو دوی حيران پاتې او تسليم شوي دي ځکه د قرآن کريم بلاغت دانسان له توان څخه لوړ دی، او انسانان دا توان نه لري چې د قرآن کريم سره ورته کلام جوړ کړي او قرآن کريم د مخلوق له خبرو سره چې وزن او قا فيه نه لري مشابه نه دی، او نه د هغه فصېحو عربو له خبرو سره مشابه دی چې هغه وزن او قافيه لري سره له دې چې قرآن کريم اهل حجاز يا د حجاز د خلکو په ژبه رانازل شوی دی په داسې حال کې چې حجاز په فصاحت کې نسبت نورو فصيحو عربو ته د په وروستي مقام کې دی.

آسماني کتابونه

کوم آسماني کتابونه چې مورِ يې پېژنو يو سل او څلور دي چې له دې ډلې سلو ته په عرف کې صحيفې او څلورو نورو ته کتابونه وايي.

د دغه سل صحيفو له ډلې لس صحيفې په(آدم عليه السلام) نازېلې شوې، پنځوس په

(شیت=شیث علیه السلام) نازېلې شوې، دېرش صحیفې په(ادریس علیه السلام) نازېلې شوې او لس صحیفې په (ابراهیم علیه السلام) نازېلې شوې دي. او ځلور کتابونه؛ لومړی تورات دی چې په موسی علیه السلام نازل شوی، دویم زبور دی چې په داوود علیه السلام نازل شوی، دریم انجیل دی چې په عیسی علیه السلام نازل شوی او ځلورم قرآن کریم دی چې پر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندې نازل شوی دی.

که یو انسان د دې اراده وکړي چې له یوه شي ځخه منعه یا سوال یا اخبار وکړي او یا په یوه شي باندې امر وکړي نو اول به دی دغه امور په ذهن کې راټولوي او برابروي او هغه امور چې په ذهن کې یې راټول کړي هغې ته کلام نفسي وایي، او دغه معناوو ته عربي ترکي او فارسي نه ویل کیږي نو بیا په دغه معناوو باندې په مختلفو ژبو سره تلفظ کول د دې سبب نه ګرځي چې دغه معناوې دې مختلفې شي او کوم الفاظ چې دغه معناوې افاده کوي هغه ته کلام لفظي وایي او دا ممکنه ده چې کلام لفظي دې په مختلفو ژبو سره وي.

له دغه بحث ځخه دا ځرګنده شوه چې نفسي کلام د الله جل جلاله د نورو صفتونو په مثل سره دی، مثلاً علم، اراده، بصر او نور هغه صفتونه چې د کلام په ځښتن کې پیدا کېږي، هر یو ځانته بسیط او ثابت صفتونه دي. لفظي کلام د نفسي کلام له بیانولو او د هغه حروفونو له ټولګې ځخه چې له خولې خارجېږي او د غوږ نیووونکو تر غوږنو پورې رسېږي عبارت دی.

دکلام صفت د الله جل جلاله یو ثابت او بسیط صفت دی چې نه حرف او نه غږ دی نه تغییر پکې راځي او نه ټوټه ټوټه ګرځي په شتون د کلام که هغه امر، نهي یا اخبار وي له یوه شي ځخه یا په مختلفو ژبو سره راغلی وي لکه عربي فارسي عبراني ترکي او سرياني. دغه نفسي کلام چې د الله جل جلاله صفت دی د مختلفو ژبو په بڼه نه جوړېږي او نه لیکل کیږي همداراز دا کلام ذهن، غوږ، ژبې او نه کومې آلې ته له آلو او وسائلو ځخه محتاج نه دی، بلکې داسې یو شی دی چې د دغه ټولو شیانو او موجوداتو ځخه بېل او مغایر دی او دا ممکنه ده چې په دغه کلام باندې په هره ژبه چې تلفظ مراد وي تلفظ وشي .مثلاً که په عربي ژبه ویل شوی وي نو قرآن دی که په عبراني ژبه ویل شوی وي نو تورات دی که په سرياني ژبه ویل شوی وي نو انجیل دی او په[(شرح مقاصد) کې داسې ویل شوي چې که په یوناني ژبه ویل شوی وي نو انجیل دی اوکه په سرياني ژبه ویل شوی وي نو زبور دی]

الهي کلام له مختلفو موضوعاتو ځخه ځخه اخبار کوي لکه کیسې، امثال یا احکام یعنې که چېرې په الهي کلام کې اخبار له مخکینیو پېښو ځخه شوی و نو اخبار دی که نه و شوی نو انشاء ده او اخبار که له داسې شي ځخه شوی وي چې کول یې مطلوب وي نو امر دی او که اخبار له داسې شي ځخه شوی و چې نه کول یې مطلوب وي نو دا نهیې(منع) ده خو لېکن د الله جل جلاله په کلام کې تغیر او زیادت نه راځي.

ټول هغه رانازل کړل شوي کتابونه او صحیفې یوه ورقه له صفت د کلام د الله ځخه ده، او دغه د کلام صفت د نفسي کلام له ډلې ځخه دی نو هر کله چې دغه کلام په عربي ژبه سره ویل شوی وي نو قرآن بلل کیږي او دغه قرآن کریم په حروفو سره لیکل شوی، په ژبو سره ویل شوی، په سینو کې ساتل شوی دی، په غوږونو باندې اوربدل شوی او د نظم په بڼه نازل کړل شوی دی، چې

وحي ته يې کلام لفظي او قرآن وايي او دا هم روا ده چې الهي کلام يا صفت الهي ورته وويل شي ځکه دغه وحيې چې قرآن دی دا تعبير کوي له نفسي کلام څخه، کله چې کلام يو ډول دي نو جز جز کېدل يې نسبت اشخاصو ته دی او اجزاوو د دغه وحيې ته هم قرآن وايي لکه دغه ټول کلام يا وحيې ته چې قرآن وايي.

د اهل سنت والجماعت علماوو په دې اتفاق کړی چې نفسي کلام قديم دی حادث نه دی او په دې اجماع نه ده راغلې چې لفظي کلام قديم دی يا حادث دی خو ځينو هغه علماوو چې دوی په حدوث د لفظي کلام قول کړی داسې ويلي دي چې دا واجبه نه ده چې مور داسې ووايو چې کلام لفظي حادث دی ځکه که داسې وويل شي چې لفظي کلام حادث دی نو له دې څخه د سړي ذهن ته دا خبره راځي چې نفسي کلام به حادث وي او دغه قول دعلماوو له غوره اقوالو دی ځکه د انسان په ذهن کې په بېړه سره هغه شی ځای نيسي چې ده ته ورورانديږ او وويل شي. کوم علماء چې الله جل جلاله لوړې مرتبې ورکړې که دوی د قرآن کريم پر حدوث باندې قول کوي نو مراد د دوی له حدوث د قرآن کريم څخه حدوث د هغه غږ او کلمو دی چې زمور له خولو څخه خارجيږي او وايو يې، د اهل سنت والجماعت علماوو اجماع کړې چې لفظي او نفسي کلام دواړه د الله جل جلاله کلام دي اگر که ځينو علماوو دغه خبره چې لفظي او نفسي کلام د الله جل جلاله کلام دی مجاز بللی دی، که داسې خبره کيږي چې لفظي کلام د الله جل جلاله کلام دی نو د دې معنا دا ده چې د لفظي کلام پيدا کوونکی الله جل جلاله دی.

پوښتنه:له مخکښې بحث څخه خو دا خبره معلومه شوه چې ازلي کلام د الله جل جلاله نه اورېدل کېږي اوس که يو څوک د دې پر خلاف دعوه کوي نو داسې دعوه کوي چې غږ يا هغه ويل شوې کلمې د دغه کلام خو اورېدل شوې دي يا غږ د ويونکي او دغه ازلي کلام د دې دواړو فهم شوی دی نو انبياء او نور انسانان په دغه دوو لارو سره ازلي کلام اوري او که داسې نه وي نو بيا سبب د نومولو د موسی عليه السلام په (کليم الله) سره څه شی دی؟

ځواب: موسی عليه السلام ازلي کلام د الله جل جلاله اورېدلی دی بغير له حرف او صوت څخه اورېدلی يې دی پرته له علمه په کيفيت او صفت د هغې لکه چې د الله جل جلاله ليدل په جنت کې ثابت دي پرته له علم څخه په کيفيت د هغه جل جلاله او د موسی عليه السلام په څېر هېڅا هم د الله جل جلاله ازلي کلام نه دی اورېدلی، يا دا چې موسی عليه السلام د الله جل جلاله ازلي کلام اورېدلی د غږ په واسطه سره خو موسی عليه السلام دغه اورېدل يوازې په غوږ سره نه دي کړي بلکې په ټولو ذراتو او د بدن په اندامونو سره يې اورېدلی او له ټولو طرفونو څخه يې اورېدلی يا يې له طرفه د يوې ونې اورېدلی دی.

که مور داسې خبر کوله چې د الله جل جلاله ازلي کلام نه صوت دی او نو اورېدل کېږي نو زمور مراد له صوت او اورېدلو څخه هغه صوت او اورېدل وو چې د هوا په ښورېدلو يا حرکت کولو سره راغلي وي، دغه درې طريقې کومې چې پورته يادې شوې نو په دغه طريقو باندې د الله جل جلاله د کلام اورېدل ممکن او شوني دي نو موسی عليه السلام ته کليم الله ويل کېږي ځکه موسی عليه السلام د الله جل جلاله ازلي کلام په دغه دريو طريقو سره اورېدلی لکه چې زمور گران پيغمبر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د معراج په شپه د الله جل جلاله ازلي کلام

په دغه دریو طریقو سره اوربدلی دی او یا یې د وحیې په وخت کې له جبرائیل علیه السلام څخه اوربدلی دی.

د ایمان څلورم رکن

له هغه شپږو اصلی ارکانو څخه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم جبریل علیه وسلم ته بیان کړ هغه دا دی چې (ورسوله) یعنې بل دا چې ته د الله جل جلاله په رسولانو باندې ایمان راوړې.

رسولان د دې لپاره را لېږل شوي دي چې خلکو ته نېغه او داسې لاره وښایي چې په هغې لاره باندې تګ کول د الله جل جلاله د رضا سبب ګرځي.

(رسل)په لغت کې جمعه د رسول ده چې د رالېږل شوي او تبلیغ کوونکي په معنا سره دی، رسول په شرعي اصطلاح کې هغه انسان ته وایي چې په پیدایښت، اخلاقو، علم، عقل او زیرکۍ د هغه وخت تر ټولو پوره او غوره وي،کوم بد حالت یا صفت هم و نه لري او ده ته (عصمت)یعنې پاکوالی له وړو او لویو ګناهونو څخه هم مخکې تر نبوت او هم وروسته تر نبوت شتون ولري.

[د مسلمانانو له مېنځه ځینې هغه ناشکره خلک چې دوی د اسلام د خرابولو هیله لري، داسې وایي چې حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم به له نبوت څخه مخکې بتانو ته په صدقه او قربانۍ سره ځان نږدې کاوه، چې د دې خبرې لپاره د شیعه ګانو کتابونه رامخکې کوي، پداسې حال کې چې د دوی د دغه ناوړه او بېکاره دعوې کذب او بطلان له هغه صفتونو څخه څرګندېږي کوم چې موږ پورته یاد کړل]

بل دا چې دغه رسول به له عیبونو څخه هم پاک وي لکه ړوندوالی، کوڼوالی، ګونګوالی او داسې نور، او ده به د خپل بعثت تبلیغ تر هغه وخته پورې کړی وي چې د ده رسالت به تیت شوی وي.

په دې باندې ایمان واجب دی چې هر نبي په ۷ صفتونو سره متصف دی:

۱-امانتداري ۲-رېښتینولي۳- دشرعي احکامو تبلیغ ۴-عدالت ۵- له هر ډول ګناهونو څخه پاکوالی ٦-فطانة یعنې پوره عقل ۷-امن په دې چې له نبوت څخه نه لرې کیږي.

کوم شخص چې د الله تعالی له لوري د شرعي احکامو د تبلیغ لپاره رالېږل شوی وي که نوی کتاب ورسره وي نو دېته رسول وایي او که نوی کتاب نه وي ورسره دېته بیا نبي وایي، خو د الله جل جلاله د دین د احکامو په تبلیغ او د خلکو په رابلنه کې نبي او رسول دواړه یو برابر دي، په رسولانو ایمان د رسالت په دعوه کې د دوی تصدیق کول دي، یعنې چې ټول رسولان په حقه رالېږل شوې دي نو که یو څوک د یوه رسول رسالت و نه مني داسې دی لکه د ټولو رسالت یې چې نه وي منلی.

نبوت په ډېرو کړاونو تېرولو، لوړو، سختو کارونو په ترسره کولو او ډېر عبادت سره نه حاصلیږي، بلکې نبوت یو چا ته د الله جل جلاله په فضل، احسان او اختیار سره حاصلیږي. رسولان د خلکو د دنیا او آخرت د نېک بختۍ او د احوالو او افعالو د منظموالی په موخه رالېږل شوي دي، تر څو دوی ته ګټه، راحت او آرامي ورسوي او دوي له زیانمنو چارو او آفتونو څخه وژغوري.

د رسولانو په واسطه شریعت رالېږل شوی دی، رسولان او نبیان د شرعي احکامو د رسولو او تبلیغ لپاره یو شانته دي، پرته له دې چې له چا وېره ولري، یا د دښمنانو ډېروالی په پام کې ونیسي او یا هم د دوی ریښخند او مسخره کولو ته پام واړوي، همدارنګه الله جل جلاله د خپلو پیغمبرانو تأیید او مرسته په معجزو سره کړې ده.

ددې لپاره چې الله جل جلاله ثابته کړي چې دوی د پیغمبرۍ په دعوه کې ریښتیني دي، هېڅوک دا توان نه لري چې د دغه معجزو په مقابل کې خبرې وکړي .

کوم کسان چې د خپل رسول تصدیق وکړي دوی د دغه رسول امت بلل کیږي او د قیامت په ورځ به دغه رسول ته د خپلو امتیانو د شفاعت اجازه ورکړل شي، هغوی چې ډېر ګناهونه یې کړي وي الله جل جلاله به د دغه رسول شفاعت د دوی په حق کې قبلوي.

همدارنګه الله جل جلاله د قیامت په ورځ نېکو بنده ګانو، اولیاوو کرامو او علماوو ته د ګنهکارو امتیانو په حق کې د شفاعت اجازه ورکوي او د دوی شفاعت به هم الله جل جلاله قبلوي.

رسولان او ولیان په قبرونو کې ژوندي دي په داسې ژوند سره چې مړ نه پرې پوهېږو او د دوی پاک او مبارک بدنونه نه فنا کیږي، یعنې نه خاورې کېږي لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث شریف کې فرمایي(الانبیاء احیاء في قبورهم یصلون) ژباړه:نبیان په قبرونو کې ژوندي دي او لمونځونه کوي.

[هغه وهابیان چې اوسمهال په سعودي عربستان کې ځای پر ځای دي، دوی له دغه حدیثونو څخه انکار کوي او دوی هغه مسلمانان کافر ګڼي کوم چې د دغه حدیثونو تصدیق کوي، نو دغه وهابیان اګر چې د متشابهو نصونو د غلط تأویل له امله کافر نه دي خو لېکن د بدعت کوونکو په ډله کې داخل دي.

وهابیت په اول ځل محمد بن عبد الوهاب له خوا د ده د غولېدلو له امله را پیدا او جوړ شو، چې پدې کار کې یې انګرېز جاسوس چې همفر نومېده مرسته وکړه او دغه جاسوس ده ته د ابن تیمییه(۱) افکار چې ګمراه او ګمراه کوونکی وو ورپه ګوته او تلقین کړل، تر دې چې دغه وهابیت د محمد عبده(۲) المصري د کتابونو پر مټ ترکانو او نورو طرفونو ته تیت شو.

په تحقیق د اهل سنت والجماعت ډېرو علماوو خبر ورکړی چې دغه وهابیان پنځم مذهب نه دی، بلکې دوی یو ټولګي دی چې دوی د دین د ړنګولو لپاره راټول شوي دي. د (السعادة الابدیة) او (القیامة والآخرة) په کتابونو کې دغه ځایونه په تفصیل سره یاد شوي دي، له الله جل جلاله څخه غواړم چې هغه نوي متعلمین د وهابیت له شر څخه وساتي، له هغه وهابیت څخه چې د خلکو په زړونو کې شر اچوي او هغه وهابیت چې د انګرېز له فکرونو څخه دی، او دا دعا کوم چې الله جل جلاله دغو متعلمینو ته هدایت د اهل سنت والجماعت د نېغې لارې وکړي هغه لاره چې په حدیثونو کې یې ستاینه شوې ده]

د انبیاوو علیهم السلام سترګې ویدې کیږي خو زړونه یې نه ویده کیږي او ټول انبیاء او رسولان علیهم السلام د نبوت د دندې په ادا کولو او د نبوت د ښېګڼو په رسولو کې سره برابر دي.

هر نبي او رسول علیهما السلام په دغه اوو ذکر شویو صفتونو سره صفت کړل شوي وي او

هېڅکله له نبوت څخه نه لرې کيږي، او اولياء کرام ممکن چې له ولايت څخه لرې کړل شي يا خلاصون پيدا کړي، او ولايت له دوي څخه واخيستل شي، رسالت تر انسانانو پورې ځانګړی شوی دی او له ملايکو او پيريانو څخه هېڅ رسول او نبي نشته چې انسانانو ته دې رالېږل شوی وي ځکه دوی د نبوت درجو ته نشي رسېدلای.

رسولان او انبياوو عليهم السلام درجې لري چې د ځينو درجې پر ځينو نورو لوړې دي، مثلاً حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم تر ټولو رسولانو غوره او د لوړې درجې خاوند دی، له دې امله چې د هغه صلی الله عليه وسلم د امت شمېر زيات دی، او هغه ښارونه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته رالېږل شوی پراخه دي او احکام او اصول د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر پراخه سيمو پورې رسېدلي دي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم ډېرې معجزې ځرګندې شوې او دوام يې کړی او بل دا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د غوره والي او احسان ځښتن دی، نو دا ټول سببونه د حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم په غوره والي باندې دلالت کوي.

اولو العزم رسولان په نورو رسولانو او رسولان پر نبيانو باندې غوره دي. يقيني شمېر د رسولانو او انبياوو عليهم السلام چا ته نه معلوميږي مګر مشهوره خبره دا ده چې دوی له يو لک او ځلور ويشت زرو څخه زيات دي له دغه جملې څخه ۳۱۳ يا ۳۱۵ رسولان دي، چې د رسولانو له ډلې شپږ رسولان نسبت نورو رسولانو ته ډېر غوره دي، چې دوی ته اولوالعزم وايي او دغه شپږ رسولان په لاندې ډول دي:

آدم عليه السلام، نوح عليه السلام، ابراهيم عليه السلام، موسی عليه السلام، عيسی عليه السلام او حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم.

د دغه رسولانو او نبيانو له جملې څخه ۳۳ يې مشهور دي چې نمونه يې په لاندې ډول دي:

آدم، ادريس، شيت ياشيث، نوح، هود، صالح، ابراهيم، لوط، اسماعيل، اسحاق، يعقوب، يوسف، ايوب، شعيب، موسی، هارون، خضر، يوشع بن نون، الياس، اليسع، ذوالکفل، شمعون، اشموئيل، يونس بن متی، داود، سليمان، لقمان، زکريا، يحيی، عزير، عيسی ابن مريم، ذوالقرنين،او خاتم الانبياء حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم«عليهم افضل الصلوات والتسليمات»

د دغه ۳۳ رسولانو او نبيانو له جملې څخه ۲۸ يې په قرآن کريم کې ذکر شوي او پاتې پنځه کسان چې شيث، خضر، يوشع، شمعون او اشموعيل عليهم السلام دي په قرآن کريم کې نه دي ذکر شوي.

د ذوالقرنين، لقمان، عزير او خضر عليهم السلام په نبوت کې اختلاف دی ځينې علماء دوی ته نبوت ثابت بولي او ځينې يې نه بولي او د (المکتوبات المعصومية)کتاب په دويم ټوک او شپږم دېرشم مکتوب کې د خضر عليه السلام د نبوت خبر قوي بلل شوی دی او د همدغه کتاب په يو سل او دوه اتيايم مکتوب کې ذکر شوي دي چې د خضر عليه السلام راڅرګندېدل د انسان په شکل سره او يا د دده له لوري د ځينو کارونو ترسره کول دده پر ژوند دلالت نه کوي.

الله جل جلاله د خضر عليه السلام روح او همدارنګه د ځينو نورو انبياوو او اولياوو روحونو

ته اجازه ورکړې چې ښکاره د انسان په شکل سره وګرځي، نو د انسان په شکل سره د دوی راڅرګندېدېدل په دې سره دلالت نه کوي چې دوی ژوندي دي.

د ذوالکفل علیه السلام دوهم نوم هرقل دی او ځینو علماوو ذوالکفل علیه السلام ته الیاس ادریس او یا زکریا وایي (علیهم السلام)

ابراهیم علیه السلام خلیل الله دی یعنې د الله جل جلاله دوست دی، ځکه د ده په زړه کې داسې یو ځای او برخه نه وه چې د الله جل جلاله له محبت څخه خالي وي، بلکې ټول زړه یې د الله جل جلاله له محبت څخه ډک و، موسی علیه السلام کلیم الله و ځکه الله جل جلاله له ده سره خبرې کړې وې، عیسی علیه السلام د الله جل جلاله کلمه ده ځکه دی د الله جل جلاله په کلمه سره پیدا شوی وو، ده ته الله جل جلاله ویلي وو چې موجود شه نو دی موجود شوی وو په داسې حال کې چې ده پلار هم نه درلود، او همدارنګه عیسی علیه السلام به خلکو ته د الله جل جلاله په کلمو سره پند ورکاوه چې له حکمته ډکې کلمې وې.

او حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم حبیب الله وو، ځکه دی د ټولو مخلوقاتو د پیدایښت او وجود سبب وو، او دی صلی الله علیه وسلم غوره او بهتره د ټول بشر وو، ډېر داسې ځیزونه شته چې هغه دېته اشاره کوي چې هغه صلی الله علیه وسلم حبیب الله دی او شان او مرتبه د ده په ټولو مخلوقاتو کې لوړه ده نو له همدې کبله دا نه ده روا چې د هغه صلی الله علیه وسلم په حق کې داسې وویل شي چې دی مغلوب او عاجز کړل شوی دی.

حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم به د قیامت په ورځ تر ټولو مخکې له قبر څخه راپورته کیږي او د حشر میدان ته به ځي، او لومړی به جنت ته هم داخلیږي. او بشري توان د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د معجزو له شمېرلو څخه عاجز دی، لېکن په دغه کتاب کې مورږ د ده صلی الله علیه وسلم په یوه معجزه باندې بسنه کوو، او خپل دغه کتاب مو پرې ښایسته او مبارک ګرځوو چې هغه معجزه د معراج د شپې معجزه ده او په لاندې ډول ده.

له معجزو د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم څخه یوه دا ده چې یوه شپه رسول الله مبارک له خوب څخه رابیدار کړل شو او د ده مبارک بدن له مکې شریفې څخه مسجد اقصی ته چې په بیت المقدس کې موقېعت لري بوتلل شو، او له مسجد اقصی څخه بیا آسمانونو ته وخېژول شو او له اووم آسمان څخه بیا تر هغه ځایه بوتلل شو تر کومه ځایه چې الله جل جلاله غوښتل، نو په معراج باندې دغه ډول ایمان لرل اړین دي.

[یوه لار ورکې ډله چې اسماعیلیه نومېږي، دې ته منسوب خلک چې د دین دښمنان دي دوی داسې دعوه کوي او لیکي چې معراج په روح د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره راغلی دی په بدن سره نه دی راغلی او د دوی موخه له دغه دعوې څخه د مسلمانانو ځوانانو بې لارې کول دي، نو په مسلمانانو خصوصاً په ځوانانو لازمه ده چې لدغه کتابونو او باطلو فکرونو څخه ځان وساتي] .

دغه د معراج کیسه په ډېرو محکمو کتابونو کې په اوږده تفصیل سره راغلې ده لکه الشفاء او داسې نور.

د معراج په سفر کې جبریل علیه السلام د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له مسجد

اقصی څخه آن تر سدرة المنتهی پورې، چې سدرة المنتهی په شپږم او اووم آسمان کې یوه ونه ده چې له دغه ونې څخه هېڅوک له مشهورو او لوړو خلکو څخه نشي تېرېدی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په سدرة المنتهی کې جبریل علیه السلام پخپل اصلي صورت ولید چې شپږ سوه وزرونه یې وو او جبراییل علیه السلام په سدرة المنتهی کې پاتې شو، او رسول الله صلی الله علیه وسلم له مکې شریفې څخه مسجد اقصی ته په داسې حال کې بوتلل شو چې آن تر اووم آسمان پورې په براق سپور وو، براق د جنت له سپرلیو څخه ده چې سپین رنګ لري او له خره څخه لږ غټ او له کچر څخه کوچینی دی او د دنیا له سپرلیو څخه نه دی، نه ارینه لري او نه ښځینه او په تګ کې ډېر تېز دی تر دې چې یو قدم به یې دومره فاصله وهله تر کومه ځایه چې د سترګو نظر رسېږي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماخستن یا د سهار لمونځ په مسجد اقصی کې په جماعت سره په داسې حال کې وکړ چې د انبیاوو او رسولانو امامت یې کاوه، او د انبیاوو او رسولانو«علیهم السلام»روحونه په انساني شکلونو سره حاضر وو، له دغه جماعت وروسته بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم له مسجد اقصی څخه پورته وخېژول شو د اووم آسمان طرف ته په یوه زینه باندې چې د دغه زینې کیفیت معلوم نه دی او نوم د دغه زینې معراج دی او د معراج په سفر کې ملایکو د لارې په ښي او کین اړخ کې صفونه جوړ کړي وو او په حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم باندې یې سلامونه او درودونه ویل، محبت یې ورسره کاوه او د ده صلی الله علیه وسلم ستاینه یې کوله او په هر آسمان باندې به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تېرېدو نو جبراییل علیه السلام به د ده د راتګ خبر د دغه آسمان اهل ته ویلو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په راتګ به یې زېرې ورکاوه او حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په هر آسمان کې له یوه نبي یا رسول سره ملاقات کول او یو پر بل به یې درود او سلام ویلو.

نبي علیه السلام په سدرة المنتهی کې عجیب او غریب شیان ولیدل؛ د جنت نعمتونه او دې دوزخ اورونه یې ولیدل، خو د جنت نعمتونو ته یې ډېر نظر و نه کړ ځکه د ده صلی الله علیه وسلم ډېر شوق د الله جل جلاله د جمال او ښایست لیدلو ته وو، وروسته له سدرة المنتهی څخه یوازې دی د الله جل جلاله حضور او انواراتو ته ورغی تر دې چې هغه صلی الله علیه وسلم د پرښتو د قلمونو غږونه واورېدل او دی صلی الله علیه وسلم له اویا زره پردو څخه تېر شو چې د هرو دوو پردو په مېنځ کې د پنځو سوو کلونو د سفر په اندازه فاصله وه او بیا دی صلی الله علیه وسلم له کرسۍ څخه تېر شو، په داسې حال کې چې دی صلی الله علیه وسلم برسېره پر فرش د کرسي باندې و چې د دغه فرش نوم (رفرف) دی او په روښنایی کې له لمر څخه ډېر روښانه دی تر دې چې دی صلی الله علیه وسلم عرش عظیم ته ورسېد او نبي علیه السلام په سهار کې بې له زمان مکان او مادي عالمونو څخه ور داخل شو او بیا داسې یوه ځای ته ورسېد چې هلته یې داالله جل جلاله خبرې واورېدې، د الله تعالی جل جلاله جمال یې پرته له څرنګوالی، صفت، وخت او ځای څخه ولید لکه څرنګه چې مؤمنان به یې په آخرت کې ووینې، او له هغه لوی او مبارک ذات سره یې پرته له حروفو او غږ څخه خبرې وکړې، او د هغه مبارک ذات ثناء، پاکي او لوېي یې بیانوله او د هغه رب تعالی په ملاقات او سخا باندې مشرف شو چې بل هېڅوک نه دي مشرف شوي، هلته وو چې پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم او امت باندې یې پنځوس وخته لمونځ فرض کړل شو، خو د موسی علیه السلام په لارښوونه پنځه وخته ته په تدریج سره راکم شو، پداسې حال کې چې تر دې

مخکې دوه وخته لمونځ ادا کېدلو چې سهار او مازدیګر یا ماخستن به وو، تر دې اوږده سفر او د الله جل جلاله په ملاقات باندې تر مشرف کېدلو، ویاړ او نېکیو ترلاسه کولو او د نااشنا او حیرانوونکو ځیزونو تر لیدلو وروسته نبي اکرم صلی الله علیه وسلم خپل د خوب ځای ته راوګرځېد پداسې حال کې چې ځای تر اوسه پورې ګرم وو.

د معراج کیسه ځینې په قرآني آیتونو او ځینې نوره په مبارکو احادیثو ثابته ده، سره له دې چې په دې باندې تفصیلي ایمان راوړل واجب نه دي، خو باخبر د دې کیسې د ځینو برخو انکار کوونکي د اهل سنت او جماعت له دایرې ځخه وځي، ځکه چې د دې کیسې اړوند ټولې خبرې د اهل سنت او جماعت علماوو یادې کړې او ویلې دي، نو هر هغه څوک چې د قرآن کریم له آیتونو او یا هم له مبارکو احادیثو ځخه انکار وکړي هغه کافر کېږي.

دلته د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ځینې هغه ځانګړنې او خویونه بیانوو چې پر دې باندې دلالت کوي چې محمد صلی الله علیه وسلم په ټولو پیغمبرانو کې غوره او بهترین پیغمبر دی.

ژر ده چې ټول انبیاء کرام علیهم اجمعین به د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم تر بیرغ لاندې د قیامت په ورځ راټول شي، او په تحقیق سره الله جل جلاله ټولو انبیاء علیهم السلام ته امر کړي چې پر محمد صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړي، تر دې پورې که چېرې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم بعثت ته ورسېدل نو د هغه سره د دین په بلنه کې مرسته وکړي، همدارنګه یې خپلو امتیانو ته پر دې امر وصیت کړې چې د الله جل جلاله پر پاک دوست محمد صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړي او د بلنې په چارو کې ورسره مرسته وکړي.

محمد صلی الله علیه وسلم وروستنی او د انبیاوو اخرینی پیغمبر دی، چې وروسته تر ده بل نبي او پیغمبر نشته، او د ده مبارک روح تر ټولو روحونو مخکې پیدا شوی او لومړی هغه کس دی چې په نبوت سره نازول شوی دی، او د ده په زیږېدلو سره نبوت بشپړ او ختم شو، همداراز هرکله چې عیسی علیه السلام له اسمان ځخه په اخر زمان د مهدی علیه السلام په وخت کې چې قیامت رانږدې شي د شام پر ځمکه رابښکته شي نو د نبی اکرم محمد صلی الله علیه وسلم د شریعت سره سم به حکم کوي او د هغه شریعت ته به خلک وربولي او دی به هم د محمد صلی الله علیه وسلم د امت له ډلې وي.

[قادیانیان چې د (قادیانیة) لار ورکې او باطلې ډلې؛ هغه ډله چې د هند په لویه وچه کې د انګرېزي ښکېلاک پر مهال په کال ۱۲۹٦ هـ کې چې ۱۸۸۰ م کال سره سمون خوري رامنځته شوه، دې ډلې ته منسوب خلک دي، دا ډله زمونږ په سردار عیسی علیه السلام باندې دروغ تړي او داسې خبرې پسې تړي چې په عیسی علیه السلام پورې هېڅ تړاو نه لري او د هغه له شان سره نه ښایي، همدارنګه دا ډله د (احمدیة) په نامه هم یادېږي، دوی چې د اسلام دعوه هم کوي پداسې حال کې چې دوی دین له د ننه(داخل) ځخه نړوي او خرابوي.

په تحقیق سره د (تبلیغي جماعت) په نوم کومه ډله چې د هند په ځمکه راڅرګنده شوه په حقیقت کې یوه بدعتي او لار ورکې ډله ده، چې له اسلام ځخه اوښتي او زندیق خلک دي او ددې ډلې بنسټګر محمد الیاس د مولوي اسماعیل زوی دی چې په ۱۳۴۵ هـ کال کې چې له ۱۹۲٦ م کال سره سمون خوري دا حرکت او ډله یې رامنځته کړه.

ځینې ګمراه او بدعت کوونکې ډلې لکه(الجماعة التبليغية) چې د هند په ځمکه يې ظهور کړی او د دغه ډلې پيروان زندیقان او له اسلام څخه ګرځېدلي دي، چې بنسټګر يې محمد الياس ابن المولوي اسماعيل دی چې په (۱۳۴۵-هـ) کال کې چې له (۱۹۲٦-م)کال سره سمون لري .دا ډله رامنځته کړه، هغه محمد چې داسې يې ويلي دي (خلک د ګمراهۍ په افت سره وازمويل شول او ما ته په خوب کې د دوی د ژغورلو امر وشو) د دغې باطلې ډلې بنسټګر(محمد الياس ابن المولوي اسماعيل) په دې ګمان دی چې ده خپل ټول علوم د خپلو استاذانو هر يو لکه نظير حسين رشيد احمد الکنکوهي او خليل احمد السهنپوري له تصنيفونو څخه اخيستي دي، او دغه ګمراه تبليغيانو د رواجونو په اصلاح او ديندارۍ ډېر ټينګار کړی، دوی په جماعت د لمانځه ادا کولو اهميت بيان کړی دی، په داسې حال کې چې هېڅ عبادت او لمونځ د بدعت کوونکو، ګمراهانو، استقامت نه لروونکو او د اهل سنت او جماعت پيروي نه کوونکو نه قبلېږي، همداشان پر دغه ګمراهانو باندې واجب ده چې دوی د اهل سنت او جماعت د غوره علماوو له تصنيفونو څخه د علوم تر لاسه کړي، تر څو دوی له هغه ګمراهۍ او بدعتونو څخه چې له سپېځلي شريعت سره ټکر لري، نجات وموميِ او دوی د صالحو مسلمانانو په ډله کې داخل شي، او هغه څوک چې له متاشبهو ايتونو څخه فاسدې معناګانې راوباسي اهل بدعت او ښويدونکي بلل کېږي، او هغوی چې په خپله رايه او فکر سره په ايتونو کې فاسد تأويل کوي د مسلمانانو ډېر بد دښمنان دي چې دوی ته زندیقيان ويل کېږي. چې دغه زندیقان همېشه دا هڅه کوي ترڅو اسلام او مسلمانان فاسد او بې لارې کړي، او د مسلمانانو ډېر سخت دښمنان هغه کسان دي چې دوی د زندیقانو په رامنځته کولو او مشهورولو کې کوښښونه کوي او همدارنګه هغه کسان چې د دوی(زندیقانو) د شکونو او انحرافاتو په تيتولو کې د نړۍ هر لوري ته په زرګونو او ميليونونو پيسې مصرف کړې دي، د تبليغ ټولګی دی چې د فتنه اچونکو او ناپوه خلکو يوه وړه ډله ده، پداسې حال کې چې دوی د انګرېز پر ځمکه پراته دي خو ځانونه اهل سنت او جماعت ګڼي، دروغ وايي او مسلمانان تېر باسي.

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ويلي دي(داسې خلک به پيدا شي چې په دوی کې به ايمان نه وي مګر دوی به لمنځونه کوي) او دغه خلک به د دوزخ هغه ژورو کندو ته داخلېږي، له دوی څخه ځينې داسې خلک دي چې پټکي يې پر سر کړي او د دوی د پټکيو مثال داسې دی لکه د اذان د مناړو پر سر د مرغانو ځالې، دوی په نا حق او باطل باندې ځانونه ښايسته کړي او دغه ډله خلک د قران کريم ايتونه تلاوت کوي او بيا غلط او فاسد تأويلونه پکې کوي ددې لپاره چې مسلمانان پرې وغولوي ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي«الله جل جلاله ستاسو مالونو او شکلونو ته نه ګوري، بلکې ستاسو زړونو او نيتونو ته ګوري).

حقيقت کتابتون د دغه جاهلانو او نا پوهانو په خبرو کې دروغ ثابت او په ډاګه کړي دي، نو دغه جاهلان وايي (د حقيقت کتابتون په نشراتو او کتابونو کې دروغ او باطل قولونه دي، نو اې خلکو تاسې د دغه کتابتون کتابونه مه لولئ) خو دوی دا خبره ځکه کوي چې دوی له دې څخه عاجز دي چې د حقيقت کتابتون د کتابونو د متن په زبان يوه خبره يا ځواب ورکړي.

په تحقيق سره د دغه جاهلانو، کينه کوونکو، زندیقيانو او د دين او مسلمانانو د دښمنانو يوه لويه نښه دا ده چې دوی وايي(د اهل سنت او جماعت د غوره او لويو علماوو کتابونه مه لولئ، بله

نښه يې دا ده چې دوی خلک له هغه حق کتابونو څخه ډاروي چې په حق دین يې احاطه کړې وي او دغه کتابونه فاسد بولي او زمونږ په کتاب (المعلومات النافعة)کې هغه زیانمن شیان راغلي چې دوی(تبلیغیانو) په اسلام پسې له ځانه ترلې، همدارنګه په دغه کتاب کې دوی ته د اهل سنت او جماعت د علماوو ځوابونه ذکر شوي دي.

محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د ټولو نبیانو او رسولانو هغه ډېر غوره رسول دی، او دی صلی الله علیه وسلم د ټولو عالمیانو(مخلوقاتو) لپاره رحمت دی، چې ټول اتلس زره قومونه د ده صلی الله علیه وسلم د رحمت له چینې څښل کوي او حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د پیغمبر په توګه را لېږل شوی، نه یوازې د انسانانو لپاره بلکې د پېریانو لپاره هم، لکه چې ډېر علماء داسي وایي چې محمد صلی الله علیه وسلم د پرښتو، نباتاتو، حیواناتو بلکې د ټولو مادو لپاره رسول دی، سره له دې چې مخکښې نبیان او رسولان به یوازې د یو معلوم ښار او قوم لپاره وو نو حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د ټولو عالمیانو لپاره رحمت دی او دی صلی الله علیه وسلم د لومړنیو او وروستنیو مړو او ژوندیو لپاره نبي دی، بله دا چې الله جل جلاله نور انبیاء علیهم السلام پخپلو نومونو سره یاد کړي دي، خو حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم يې پخپل دې قول سره (یایها الرسول) او(یایها النبي) عزتمن او مشرف ګرځولی دی، په تحقیق سره الله جل جلاله حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم عزتمن ګرځولی او ده صلی الله علیه وسلم ته يې معجزې ورکړې دي لکه مخکې پیغمبرانو ته يې چې ورکړې دي خو نسبت مخکینیو پیغمبرانو ته يې له محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم سره ډېر احسان کړی په هغه ډېرو معجزو سره چې هغه يې نورو نبیانو ته نه وې ورکړې، مثلا د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د ګوتې د اشارې په واسطه د سپوږمۍ دوه ټوټې کېدل، دده صلی الله علیه وسلم په مبارک لاس کې د شګو تسبیح او ثناء ویل او د ونو لخوا پر ده صلی الله علیه وسلم باندې سلام اچول پداسې ډول چې (السلام علیک یا رسول الله)، د حنانه د ستنې(وچ لرګي) په لوړ غږ ژړا له دې کبله چې هغه صلی الله علیه وسلم له دغه ستنې بېل شو، د ده صلی الله علیه وسلم د مبارکو ګوتو له مېځ څخه او بله معجزه د ده صلی الله علیه وسلم دا ده چې هغه صلی الله علیه وسلم ته به په ورځ د قیامت مقام محمود او شفاعت کبری ورکړل شي، همدارنګه حوض کوثر او نور ځایونه لکه وسیله فضیله دا به ټول ورکړل شي او ځینې معجزې يې دا دي چې هغه صلی الله علیه وسلم به مخکې له دې چې جنت ته داخل شي د الله جل جلاله په دیدار به مشرف شي، او هغه صلی الله علیه وسلم ته پر نورو پیغمبرانو باندې د نېکو او لویو اخلاقو، علم، حوصلې، صبر، شکر، تقوا، پاکوالي، عدل ځوانمردی، حیا، غیرت، عاجزی، پوهې، ادب، سخا، نېک کار کولو او مهربانۍ له کبله غوره والی ورکړل شوی دی، همدارنګه دی صلی الله علیه وسلم په نورو زیاتو ښېګڼو او خویونو سره غوره کړل شوی دی.

او دی صلی الله علیه وسلم ډېر ښایسته، غوره او تر ټولو لوی پیغمبر دی، هغه معجزې چې هغه صلی الله علیه وسلم ته ور کړل شوې دي تر شمېر وتلې دي، چې پرته له الله جل جلاله څخه بل څوک علم پرې نه لري.

د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم شریعت دټولو نورو شریعتونو فسخه کوونکی او د احکامو باطلوونکی دی، او د ده صلی الله علیه وسلم شریعت په مطلق ډول له ټولو شریعتونو

څخه غوره او ښکلی دی، همداشان د ده صلی الله علیه وسلم امت له ټولو امتونو او د امت اولیاء کرام یې د نورو امتونو له اولیاوو څخه غوره دي.

ابو بکر صدیق رضي الله تعالی عنه هغه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځای ناستی (خلیفه) ټاکل شوی، چې دی پر ټولو اولیاوو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امت لوړ دی، او وروسته له رسولانو څخه تر ټولو خلکو غوره دی، ځکه دی رضي الله تعالی عنه لومړی هغه څوک دی چې د خلافت شرف او عزت ورته رسېدلی دی او د بوتانو عبادت یې هم نه دی کړی حتی د اسلام له ظهور څخه مخکې یې هم د الله جل جلاله په فضل او مهربانۍ سره د بوتانو عبادت نه دی کړی، او د کفر او ګمراهۍ له عیبونو څخه خوندي دی [نو دلته موږ د هغو خلکو په ناپوهۍ پوهېږو چې وایي یا لیکي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له نبوت څخه مخکې د بوتانو عبادت کړی دی] دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه امتي او ځای ناستي له اسلام څخه مخکې د بوتانو عبادت نه دی کړی، نو هغه صلی الله علیه وسلم خو په هېڅ ډول نه دی کړی.

وروسته له ابو بکر صدیق رضي الله تعالی عنه څخه غوره د خلکو فاروق اعظم (هغه لوی فرق کوونکی په مېنځ د حق او باطل کې) عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه دی، هغه عمر چې الله جل جلاله د خپل حبیب حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د ملګرۍ لپاره غوره کړی او د هغه صلی الله علیه وسلم دوهم خلیفه یې ګرځولی دی.

وروسته له عمر رضي الله تعالی عنه څخه غوره د خلکو عثمان بن عفان رضی الله عنه دی چې دی رضي الله تعالی عنه دریم خلیفه د خلفاوو راشدینو، خزانه د نېکیو او سرچینه د حیا او ایمان دی.

وروسته له عثمان بن عفان رضی الله عنه څخه په ټولو خلکو کې غوره، څلورم خلیفه د عجیبه نعمتونو څښتن او د الله جل جلاله زمری حضرت علي کرم الله وجهه دی.

وروسته له علي رضي الله تعالی عنه څخه د ده رضي الله تعالی عنه زوی حسن بن علي[۱] رضي الله تعالی عنه خلیفه شو چې پر ده باندې د خلافت لړی تر دېرشو کلونو وروسته پای ته ورسېده، لکه چې په حدیث شریف کې راغلي دي(**الخلافة بعدي ثلاثون سنة ثم تكون ملكا عضوضا**) ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي له ما څخه وروسته به دېرش کاله خلافت وي او له هغه وروسته به د ظلمونو پادشاهي وي.

وروسته له حسن بن علي رضي الله تعالی عنه څخه په ټولو خلکو کې غوره حسین بن علي رضي الله تعالی عنه دی، او دی رضي الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سترګو یخوالی وو، د دغه یادو شوو صحابه کرامو د غوره والي او د رتبې د لوړوالي لاملونه په نورو صحابه کرامو باندې عبارت دي له خپلو وطنونو څخه د دوی هجرت د اسلام د لوړوالي لپاره، په اسلام راوړلو

[۱] (۸) حسن بن علي رضي الله تعالی عنه په ۹۲ هـ ق کال چې د ۹٦٦م کال سره سمون لري، په داسي حال کې چې ده ته زهر ورکړل شوي وو په مدینه منوره کې وفات شو، په هغه چا باندې چې په مدینه منوره کې اوسېږي غوره سلامونه او درودونه وي.

کې مخکې والی، د رسول الله صلی الله پیروي او په سنتو باندې ټینګښت، د دین د نشرولو په لار کې کوښښ او د کفر پر وړاندې په مېړانه او غیرت سره مخکې کېدل چې دا ټول شیان د دوی د غوره والي او د اجر د ډېروالي سبب دی.

حضرت علي رضي الله تعالی عنه اګر که له نورو خلکو مخکې اسلام قبول او داخل شوی دی، خو لېکن د ده رضي الله تعالی عنه اسلام راوړل دکفارو د ښویښدنې او د نورور خلکو لپاره د پند سبب نه دی ګرځېدلی، ځکه علي رضي الله تعالی عنه د اسلام راوړلو په وخت کې کوچني و او د مال خاوند هم نه وو، او د نبوت په کور کې يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خدمت کاوه، خو لږ وروسته د درېیو نورو خلیفه ګانو په اسلام راوړلو سره اسلام قوي وګرځېد، دا ممکنه ده وویل شي چې علي او د ده اولادونه رضي الله تعالی عنهم له ابو بکر او عمر رضي الله تعالی عنهما څخه غوره دي، په دې سبب چې دوی(علي او اولادونه يې) د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه نږدې خپلوان او د ده صلی الله علیه وسلم له نسب څخه دي، خو دغه خپلوي د دې سبب نه ګرځي چې دوی دې په هر ډګر کې په دغه لویو صحابه کرامو باندې غوره او درجې يې دې پرې لوړې شي، او نه دغه خپلوي د دې سبب ګرځي چې دوی د په هر شي کې پر ټولو خلکو غوره شي، د دې داسې مثال دی لکه موسی علیه السلام ته چې خضر علیه السلام د ځینو شیانو ښودنه وکړه.[که چېرې غوره والی په خپلوی سره وای نو حضرت عباس رضي الله تعالی عنه به له علي بن ابي طالب رضي الله تعالی عنه څخه ډېر غوره وای، پداسې حال کې چې د ابو طالب او ابو لهب درجې ټیټې دي او دوی دواړه د یوه عادي مؤمن مرتبې ته نشي رسېدلای، سره له دې چې دوی دواړه په نسب کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ډېر نږدې دي].

فاطمة الزهراء رضي الله عنها له خدیجة الکبری او عایشې صدیقې رضي الله تعال عنهما څخه غوره ده، ځکه فاطمه رضي الله تعالی عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وینې او غوښې څخه ده په حدیث شریف کې راغلي دي(**فاطمة سیدة اهل الجنة الا مریم**) ژباړه: فاطمه رضي الله تعالی عنها سرداره د اهل جنت ده پرته له مریم علیها السلام څخه. خو لېکن له یوه کلي او یوې سیمې څخه د یو چا غوره والی په دې دلالت نه کوي چې دغه کلی او سیمه دې په ټولو نورو کلیو غوره او بهتره وي، بلکې کېدای شي چې په یوه بل کلي کې هم غوره او بهتره خلک پیدا شي، د فاطمې خدیجې او عایشې رضي الله تعالی عنهن په اړه علماوو مختلف قولونه لري، چې کومه یوه د دوی په پخپل مېنځ پر بله ډېره غوره ده، له احادیثو څخه دا خبره معلومېږي چې ډېرې غوره بهتره او لوړې ښځې بغیر له دغو دریو یادو شوو ښځو څخه یوه هم مریم علیها السلام او بله د فرعون ښځه بي بي اسیه یا ایسه دي، په حدیث شریف کې راغلي چې(فاطمة سیدة اهل الجنة الا مریم بنت عمران) ژباړه: فاطمه رضي الله عنها د جنت د اهل سرداره ده، نه مریم علیها السلام اګر چې د عمران لور ده. همدارنګه په بل حدیث شریف کې راغلي دي چې (الحسین و الحسن سیدا شباب اهل الجنة) ژباړه: حسین او حسن رضي الله تعالی عنهما به په جنت کې د ځوانانو سرداران وي، معنا ددې دواړو حدیثونو دا ده چې یاد کسان له یوې ناحیې د غوره والي ځښتنان دي.

له یادو شوو صحابه کرامو چې راشدین خلیفه ګان او ځینې نور صحابه دي . تر دې وروسته غوره او بهتره کسان هغه پاتې نور صحابه کرام دي چې له ډلې د (العشرة المبشرة علی الجنة) یعنې

له ډلې د هغه لسو صحابه کرامو څخه دي چې دوی ته په دنیا کې په جنت باندې زېرى ورکړل شوى وو، او له دغه لسو صحابه کرامو څخه وروسته بیا هغه صحابه کرام غوره دي کوم چې د بدر غزا ته حاضر شوي وو چې شمېر یې درى سوه او دیارلس کسان و او د بدر له صحابه کرامو څخه وروسته بیا هغه صحابه کرام غوره دي کوم چې د احد غزا ته حاضر شوي وو چې شمېر یې اووه سوه کسان وو، او د احد له صحابه کرامو څخه وروسته بیا هغه صحابه کرام غوره دي کوم چې بیعت الرضوان ته حاضر شوي وو یعنې هغه صحابه کرام چې د رسول الله صلى الله علیه وسلم سره یې تر یوې ونې لاندې په پیروى او غوږ نیولو بیعت وکړ، دوی له هغه نورو صحابه کرامو څخه وروسته د غوره والي ځښتنان دي.

پر موږ لازمه ده چې د ټولو صحابه کرامو، هغه صحابه کرام چې دوی د الله جل جلاله په لاره کې په خپلو ځانونو او مالونو سره جهاد کړى نومونه په احترام سره واخلو او موږ ته روا نه ده چې د کمې دنیوي ګټې په خاطر په صحابه کرامو پسې داسې خبرې وکړو چې ددوی له لوړو رتبو سره مناسبې نه وي او نه دا روا ده چې موږ دوی په داسې ګمراهۍ او فسق سره یاد کړو چې د دوی له شان سره مناسب نه وي.

څوک چې د رسول الله صلى الله علیه وسلم سره مینه کوي، نو پر هغه واجب دي چې د رسول الله صلى الله علیه وسلم له ټولو اصحابو کرامو سره مینه او محبت وکړي، ځکه په حدیث شریف کې راغلي دي (**فمن أحبهم فبحبي أحبهم ومن أبغضهم فببغضي أبغضهم و من آذاهم فقد آذاني ومن آذاني فقد آذي الله ومن آذي الله يوشك أن يؤخذه**) ژباړه: رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایلي څوک چې له دوی(اصحابو کرامو)سره محبت کوي نو په دې سبب یې کوي چې له ما سره محبت کوي او څوک چې له دوی(اصحابو کرامو)سره کینه او دښمني کوي نو په دې سبب یې کوي چې له ما سره کینه او دښمني لري نو چا چې دوی(اصحاب کرام) ازار کړل نو په تحقیق سره زه یې ازار کړم، او چا چې زه ازار کړم په تحقیق سره ده الله جل جلاله ازار او خپه کړ او چا چې الله جل جلاله ازار او خپه کړ نو د دې شک کېږي چې الله جل جلاله به دغه شخص په خپل عذاب سره ونیسي. په بل حدیث شریف کې راغلي دي(**إذا اراد الله برجل من أمتي خيرا ألقى الله حب أصحابي في قلبه**) ژباړه:کله چې الله جل جلاله زما له امت څخه یوه شخص ته د خیر اراده وکړي، نو زما د اصحابو محبت د دغه شخص په زړه کې ور اچوي. نو له همدې امله د اصحابو کرامو په حق کې غیر مناسبې خبرې کول روا نه دي، نو د هغه جنګونو بد تفسیرول چې د اصحابو کرامو په مېنځ کې پېښ شوي دي، او یا داسې ویل چې دغه جنګونه د ریاست او نفساني خواهشاتو په وجه وو او یا په دوی(اصحابو کرامو) باندې بد ګمان کول دا ټول د منافقت له نښو څخه دي، او د یوه انسان د هلاکت سبب ګرځي ځکه صحابه کرامو خپل زړونه له بغض، کینې، د مرتبې او دنیا له مینې څخه پاک کړي دي، او دوی په تقوا سره په دنیا کې توښه برابره کړې ده او دوی له خپلو ځانونو څخه حرص او کینه لرې کړې ده، دا ټوله د دې پایله ده چې دوی د رسول الله صلى الله علیه وسلم سره تل مجلسونه کړي او د ده صلى الله علیه وسلم خبرو ته یې غوږ نیولی، همدارنګه دوی له بدو اخلاقو څخه ځانونه لرې کړي دي، نو څنګه به داسې نه وي؟ بلکې که چېرې زموږ د زمانې یو شخص د رسول الله صلى الله علیه وسلم د امت د اولیاوو څخه د یوه ولي سره یو

څو کمې شپې کښېنې نو خپل اخلاق به د دغه ولي د نېکو اخلاقو سره برابر کړي او د دغه ولي په ښایسته اخلاقو سره به ځان سمبال وګرځوي، او د دغه ولي په اشاره سره به ځان له ټولو عیبونو پاک کړي، چې دغه شخص به ددغه ولي د امیدونو په سبب دنیا پربږدي، نو کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوه امتي حال داسې دی، نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه کرامو به څه حال وي؟ او څنګه به دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خبرو څخه نه اغېزمن کېدل! بلکې صحابه کرام حتمي اغېزمن کېدل، هغه مبارک صحابه کرام چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې تر خپلو ځانونو بلکې تر هر شي زیات محبت کاوه او خپل ځانونه او مالونه یې د ده صلی الله علیه وسلم په لاره کې فدا کړي وو، او د ده صلی الله علیه وسلم لپاره یې خپل ښارونه پرې اښي وو او د ده صلی الله علیه وسلم له مجلس څخه د ګټې اخیستنې عاشقان وو، همدارنګه دوی دا ډېره خوښوله چې د ده صلی الله علیه وسلم مبارکو خبرو ته غوږ ونیسي هغه مبارکې خبرې چې د هر روح لپاره غذا او د هر نفس لپاره شفاء دي، نو وروسته له دغو ټولو خبرو څنګه د صحابه کرامو په حق کې داسې فکر کول روا دي چې دوی په خپل مېنځ کې یوازې د دې لپاره جنګونه کړي دي چې هغه بې ارزښته فاني دنیا حاصله کړي، او دوی خپل ځانونه له بدو اخلاقو څخه نه دي پاک کړي، نه هېڅکله هم د دوی په حق کې یو له دغه باطلو فکرونو څخه روا نه دی، بلکې دوی(اصحاب کرام)خامخا په ټولو خلکو کې ډېر پاک، ښایسته او د لویو درجو خاوندان دي.

ایا موږ ته دا روا ده چې اصحاب کرام له خپلو ځانونو سره ورته او پرتله کړو؟ په داسې حال کې چې زموږ فکرونه فاسد او باطل دي، او یا دا روا ده چې موږ د دوی په حق کې داسې ووایو چې د دوی خپل منځي مقابلې او جنګونه له امله وو چې نفسي او دنیوي غوښتنې ترلاسه کړي، نه هېڅکله دا ډول فکرونه د اصحابو کرامو په حق کې نه دي روا، ایا هغه څوک چې له صحابه کرامو سره دښمني کوي، دا فکر نه کوي چې د ده دغه دښمني له صحابه کرامو سره عین له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دښمني ده او د دوی بدي بیانول داسې ده لکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم بدي بیانوي، نو له همدې وجې د دین امامانو ویلي دي(**ما آمن من لم یوقر اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم**) ژباړه : هغه څوک مؤمن نه دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو کرامو عزت یې نه وي کړی.

هېڅکله د (جمل) او (صفین) جنګونه د اصحابو کرامو د بدۍ سبب نه دي، په دغه جنګونو کې داسې دیني اسباب وو چې د هغې له امله د علي رضي الله تعالی عنه مخالفینو ته له شر او عذاب څخه نجات ور په برخه شو، بلکې دوی ته د دې اسبابو له وجې ثواب هم ورکول کېږي ځکه په حدیث شریف کې راغلي دي (**إن أصبت فلك عشر حسنات و إن أخطأت فلك حسنة واحدة**) ژباړه:که چېرې ته(مجتهد)حق ته ورسېدې په خپل اجتهاد کې، نو تا ته لس نېکۍ دي او که ته په خپل اجتهاد کې خطا شوې او حق ته ونه رسېدې نو بیا هم یوه نیکي تا ته شته دي.کوم جنګونه چې د لویو اصحابو کرامو په مېنځ کې پېښ شوي دي هغه د کینې او دښمنۍ له وجې نه وو بلکې دغه جنګونه د دوی د اجتهاد پایله وه، یا په بله معنا دا جنګونه د اجتهادي اختلاف له امله رامنځته شول، نو د پورته حدیث شریف په رڼا کې دوی که په اجتهاد کې حق ته رسېدلي وي هم اجرونه ورکول کېږي او که خطا شوي وي هم ثواب ورکول کېږي، د دوی اراده یوازې دا وه چې

د روښانه شریعت امر په ځای او عملي شي، او هر صحابي مجتهد وو لکه څرنګه چې د (الحديقة)[۲] نومي کتاب په دوه سوه او اته نويم مخ کې د دې حديث شريف په ادامه کې راځي چې عمرو بن العاص مجتهد وو.

په هر مجتهد باندې فرض ده، چې په هغه علومو باندې عمل وکړي چې ده پخپل اجتهاد سره ترلاسه کړي دي، او که چېرې د دغه مجتهد اجتهاد د يوه بل مجتهد له اجتهاد سره مخالف وګرځي او هغه بل مجتهد له دغه اول مجتهد څخه په اجتهاد کې لوړ او ښه عالم وي، نو بيا هم په دغه اول مجتهد باندې واجب دي چې په خپل اجتهاد سره عمل وکړي او د هغه بل مجتهد پيروي به نه کوي، مثلاً امام ابو يوسف او امام محمد(رحمهما الله) چې د امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله له شاګردانو څخه دي او همدارنګه امام ابو ثور او امام اسماعيل المزني (رحمهما الله) چې د امام شافعي رحمه الله له شاګردانو څخه دي دغه ټولو شاګردانو له خپلو استاذانو (امام اعظم ابوحنيفه او امام شافعي رحمهما الله) څخه په ډېرو ځايونو او مسايلو کې اختلاف کړی او د ځينو شيانو په حلال والي يې فتوا ورکړې ده، پداسې حال کې چې د دوی استاذانو د دغه شي په حرم والي فتوا ورکړې ده، يا يې د حرموالي فتوا په هغه شي ورکړې وي، چې د دوی استاذانو د هغه په حلالوالي فتوا ورکړې وي، نو له همدې کبله چې هر مجتهد به په خپل اجتهاد باندې عمل کوي داسې څوک نشته چې د دغه شاګردانو بدي بيان کړي او يا داسې ووايي چې د دغه شاګردانو اختلاف له خپلو استاذانو سره ګناه ده، دا خبره ځکه څوک نشي کولای چې دغه شاګردان پخپله هم مجتهدين وو لکه استاذان يې چې مجتهدين وو.

هو دا خبره جوته ده چې علي رضي الله تعالى عنه له معاويه او عمرو بن العاص رضي الله تعالى عنهما څخه ښه عالم او لوړ مقام درلود، او ا د علي رضي الله تعالى عنه جتهاد د دوي دواړو له اجتهاد څخه قوي او حق ته نږدې وو، خو لېکن له دې امله چې صحابه کرام مجتهدين وو او د مجتهدينو له ډلې څخه معاويه او عمرو بن العاص رضي الله تعالى عنهما هم وو، نو دوی دواړو ته د علي رضي الله تعالى عنه پيروي کول په اجتهاد کې روا نه ده، لکه مخکې مو وويل چې هر مجتهد به په خپل اجتهاد سره عمل کوي نو په دوی دواړو لازمه ده چې په خپلو اجتهادونو عمل وکړي.

پوښتنه: د صفين او جمل په دوو پېښو کې د مهاجرينو او انصارو له ډلې څخه ډېر لوی لوی اصحاب کرام له علي رضي الله تعالى عنه سره وو او د ده رضي الله تعالى عنه پيروي يې کړې وه، او دوی دا ښودله چې په علي رضي الله تعالى عنه پسې اقتدا کول واجب او ضروري ده سره له دې چې دغه اصحاب کرام مجتهدين وو، نو د دوی له دغه اقتدا څخه دا معلومېږي چې په علي رضي الله تعالى عنه پسې اقتدا کول واجب دي، تر دې چې د مجتهدينو اقتدا هم په ده رضي الله تعالى عنه پسې ضروري او لازمي ده نو ايا د مجتهدينو اقتدا په علي رضي الله تعالى عنه پسې ضروري ده ولو که چېرې د دوی اجتهاد د علي رضي الله تعالى عنه له اجتهاد سره مخالف هم وي؟

ځواب: هغه صحابه کرام چې د علي رضي الله تعالى عنه په څنګ کې ولاړ وو، او د ده رضي الله تعالى عنه ملګري يې کوله د دوی دا اقتدا په دې اساس نه وه چې دوی د علي رضي الله

[۲] د (الحديقة الندية)نومي کتاب ليکونکی، عبد الغني النابلسي چې په {۳۴۱۱هـ} چې له {۱۳۷۱م} کال سره سمون لري په شام کې وفات شوی دی.(

تعالی عنه په اجتهاد پسې اقتدا کړې وه، بلکې د علي رضي الله تعالی عنه په صف کې له دې امله ولاړ وو چې د دوی اجتهاد د علي رضي الله تعالی عنه له اجتهاد سره یو شانته وو، نو پر دې بنسټ د دوی د خپلو اجتهادونو له مخې چې د علي رضي الله عنه اجتهاد یې سم ګڼلو، پر دغه صحابه کرامو د علي رضي الله تعالی عنه اقتدا واجبه وه، او بل اړخ ته د ځینو صحابه کرامو اجتهاد د علي رضي الله تعالی عنه له اجتهاد سره مخالف ګرځېدلي وو، نو پر دوی لازمه وه چې د داسې یو لوی امام او خلیفه په مقابل کې ودرېږي.

نو په دې وخت کې د صحابه کرامو اجتهاد په دریېو برخو وېشل کېږي، چې ځینو صحابه کرامو داسې اجتهاد کړی وو چې علي رضي الله تعالی عنه په حق دی او په دوي باندې د علي رضي الله تعالی عنه اقتدا واجبه وه.

ځینو نورو صحابه کرامو داسې اجتهاد کړی وو چې د علي رضي الله تعالی عنه مخالفین په حق دي، نو په دوی دا لازمه وه چې د علی علي رضي الله تعالی عنه په مقابل طرف کې ودرېږي او د ده رضي الله تعالی عنه په ضد جنګ وکړي. او دریم ډول هغه صحابه کرام وو چې داسې اجتهاد یې کړی وو چې حق دا دی چې د هېڅ اړخ پلویتوب ونشي، نه د علي رضي الله تعالی عنه پلویتوب وشي او نه د معاویه رضي الله تعالی عنه، نو په دوی دا لازمه وه چې په یوه اړخ کې هم ګډون ونه کړي.

خو له دې خبرې چاره نشته چې داسې وویل شي، دغه درې ډوله اجتهاد او صحابه کرام په حق دي او دوی ته په دغه اجتهاد سره اجر او ثواب ورکول کېږي.

پوښتنه: له مخکښې عبارت څخه خو داسې ښکاري چې د علي رضي الله تعالی عنه پر وړاندې هغه جنګ کوونکي هم په حق دي سره له دې چې د اهل سنت او جماعت علماء علي رضي الله تعالی عنه په حق ګڼي، او د علي رضي الله تعالی عنه مخالفین په خطا بولي، خو مخالفینو ته له دغه خطا څخه عفوه شوې یا په همدغه خطا باندې دوی ته ثواب ورکړل شوی ځکه مخالفین خو هم مجتهدین وو او مجتهد ته په خطا باندې هم یوه نېکي شته نو په دې اړه څه نظر دی؟

ځواب: امام شافعي عمر بن عبدالعزیز او نورو لویو امامانو ویلي دي چې یوه شخص ته دا روا نه ده چې د یوه صحابي په حق کې داسې ووایي چې دغه صحابي خطا شوی دی، ځکه دا خپله لویه خطا ده چې په حق د لویانو کې داسې وویل شي چې دوی خطا شوي دي او نه ټیټ رتبه خلکو ته دا روا ده چې په حق د لوړ رتبه خلکو کې داسې ووایي چې دغه کار یې صحیح کړی او دا یې غلط کړی، ولو که ددوی کار مور په حیرانتیا کې واچوي یا نه.

پر مور باندې لازمه ده چې د دوی په حق کې له هر ډول خبرو څخه ځان وساتو او داسې ونه وایو چې دوی پر حق او هغوی پر ناحقه دي، لکه څرنګه چې الله جل جلاله زمور لاسونه د دوی(رضي الله تعالی عنهم) په وینو باندې نه دي سره کړي نو باید خپلې ژبې هم د دوی په حق له هر ډول خبرو څخه وساتو، که چېرې د اهل سنت او جماعت لوی علماء تر بشپړ تحقیق، دلایلو او پلټنې داسې وایي چې حضرت علي رضي الله تعالی عنه پر حقه وو، نو د دوی مراد له دغه خبرې څخه دا دی چې که چېرې علي رضي الله تعالی عنه په دې توانېدلی وای چې له دوی(مقابل لوري) سره خبرې وکړي نو دی رضي الله تعالی عنه به په دې قادر شوی وای چې خپل مقابل لوری صحابه

کرام په اجتهاد کې د خپل ځان پیرو وګرځوي او قناعت ورکړي، لکه څرنګه چې زبیر بن عوام رضي الله تعالی عنه د جمل په پېښه کې له جنګ څخه ډډه وکړه او جنګ یې ونه کړ ځکه ده چې کله فکر وکړ نو حق یې دا وګڼه چې په نه جنګ کولو کې ګټه ده، او د ده دغه کار د اجتهاد له کبله وو.

همدارنګه واجب ده چې د اهل سنت او جماعت د هغو علماوو خبرې خلکو ته وروښودل شي کومې چې دوی د صحابه کرامو خطا ته جواز ورکړی دی، او که د دغه علماوو له کلام څخه په سمه توګه پوهېدنه ونشي نو مور ته دا روا نه ده داسې ووایو چې علي رضي الله تعالی عنه او ملګري یې پر حق او عایشه رضی الله عنها او هغه صحابه کرام چې له هغې سره وو پر ناحقه او باطل وو.

کوم جنګونه چې د اصحابو کرامو (رضوان الله علیهم اجمعین) په مېنځ کې پېښ شوي دي دا له دې کبله وو چې دوی په اجتهاد کې یو له بل سره اختلاف درلود، او اجتهاد د شریعت د احکام څخه یو فرعي حکم دی، لکه څرنګه چې د دین ټول اصول، مشهور مسایل او د عقایدو په احکامو کې د اصحابو کرامو تر مېنځ هېڅ اختلاف نه دی راغلی، خو په اوسني وخت کې ځینې داسې خلک شته چې د لوبو اصحابو کرامو په حق کې یې ژبې اوږدې کړې او د دوی په حق کې بدې او نامناسبې خبرې کوي، لکه ځینې خلک چې په معاویه او عمرو بن العاص رضي الله تعالی عنهما پسې ډول، ډول خبرې کوي او دغه ناپوه خلک په دې هم نه پوهېږي چې صحابه کرامو ته زیان رسول او د دوی سپکاوی داسې دی لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته زیان رسول او سپکاوی کول.

امام مالک بن انس په (الشفاء) نومي کتاب کې ویلي دي(من سب أحدا من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ابابكر او عمر او عثمان او معاوية او عمرو بن العاص رضي الله عنهم فإن قال كانوا على ضلال و كفر قتل و إن شتمهم بغير هذا من مشاتمة الناس نكل نكلا شديدا) ژباړه:که د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اصحابو له ډلې یوه صحابي ته چا بد رد وویل، که هغه ابو بکر، عمر، عثمان، معاویه[۳] او یا عمرو بن العاص[٤] وي، نو که چېرې دغه شخص صحابه کرامو ته د کفر او ګمراهۍ نسبت کړی وو، نو دغه شخص دې ووژل شي او که یې یوازې ښکنځل کړي وو لکه خلک یې چې په خپلو مېنځونو کې یو بل ته کوي نو دغه شخص ته دې سخت عذاب ورکړل شي.

الله جل جلاله زموږ زړونه د خپل حبیب حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم او د سپېڅلو په لاره برابرو اصحابو کرامو په محبت او دوستۍ سره ژوندي ګرځولي، نو نېک او پرهېزګاره خلک د دوی رضي الله تعالی عنهم سره محبت او دوستي کوي او بد بخته او منافقان بیا له دغه محبت څخه بې برخې او محروم دي.

کوم کسان چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اصحابو کرامو سره محبت، د دوی احترام او د دوی د تګلارو پیروي کوي نو دغه کسان اهل سنت او جماعت بلل کېږي.

هغه کسان چې وایي موږ له ځینو صحابه کرامو سره محبت کوو، او ځینې نور بد بولو او اکثرو صحابه کرامو ته دوی بد نسبتونه کوي نو د همدې کبله له ځینو سره محبت کوي او له ځینو سره

---

[۳] معاویه ابن ابي سفیان په {۲۰ه} چې له {٦٨٠م} کال سره سمون لري په شام کې وفات شوی دی.

[٤] عمرو بن العاص په {۴۳ه}کال کې چې د{٦٦٣ م} کال سره سمون لري په مصر کې وفات شوی دی.

يې نه کوي، دوی د يوه صحابي لاره هم نه ده ځارلې، چې دغه کسان د روافضو او شيعه ګانو په نامه يادېږي. چې په ايران، هند او عراق کې په لويه کچه شتون لري، او دوی خپل ځانونه العلويين بولي او حال دا چې علوي په حقيقت کې هغه ځوک دی چې له علي رضي الله تعالی عنه سره محبت کوي، او ځوک چې له علي رضي الله تعالی عنه سره محبت کوي د هغه رضي الله تعالی عنه د طريقو او تګلارو پيروي هم کوي، نو د علي رضي الله تعالی عنه طريقه خو دا وه چې له ټولو اصحابو کرامو سره يې محبت کولو او د عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه مشاور و او له عمر بن الخطاب رضي الله تعالی عنه سره به يې په اړيونو چارو کې مرسته او همکاري کوله، نو دغه شيعه ګان که رښتيا هم علويان وای نو دوی به هم د علي رضي الله تعالی عنه پيروي کړې وای، او له ټولو اصحابو کرامو سره به يې محبت کړی وای، بله دا چې علي رضي الله تعالی عنه خپله لور ام کلثوم بنت فاطمة الزهراء هم عمر بن الخطاب رضي الله تعالی ته په نکاح ورکړې وه، او پخپله يوه خطبه کې يې د معاويه رضي الله تعالی عنه په حق کې ويلي وو(په تحقيق سره زمور هغه مسلمانان وروڼه چې له مور ځخه يې بغاوت کړی دی دوی نه کافران او نه فاسقان دي، ځکه له دوی سره داسې يو تأويل شته چې له دوی ځخه کفر او فسق منعه کوي) او بل دا چې علي رضي الله تعالی عنه د طلحه رضي الله تعالی عنه له مخ ځخه خاورې پاکې کړې، هغه وخت چې دی د علي رضي الله تعالی عنه پر خلاف په جنګ کې شهيد شو، او پر هغه باندې علي رضي الله تعالی عنه د جنازې لمونځ هم وکړ او الله جل جلاله هم په خپل کلام کې فرمايي(**إنما المؤمنون إخوة**) ژباړه:په تحقيق سره مؤمنان يو د بل وروڼه دي. همدا راز په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي(**رحماء بينهم**) ژباړه:دغه مؤمنان دا صفت لري چې په خپل مېنځ کې يو پر بل رحم کوونکي دي.

په دغه مبارک آيت کې دا خبره ځرګنده شوه چې صحابه کرام يو له بل سره محبت کوي، نو اوس که يو ځوک له صحابه کرامو سره کينه او دښمني کوي نو دی د قران کريم له ايت ځخه انکار کوي، الله جل جلاله دې د اهل سنت او جماعت له علماوو ځخه راضي شي او دوی ته دې الله جل جلاله نېکه بدله ورکړي چې دوی د صحابه کرامو د شان لوړوالی بيان کړی او مور ته يې پر دې امر کړی چې له ټولو اصحابو کرامو سره محبت وکړو او په دغه امر سره يې مسلمانان له هلاکت او بربادۍ ځخه ژغورلي دي.

کوم کسان چې له علي او اولادونو سره او له هغو لويو صحابه کرامو سره دښمني کوي چې د اهل سنت او جماعت د سترګو تور او نور دي، نو دغه کسان (خوارج) بلل کېږي او په اوس وخت کې(اليزيدية) په نامه سره يادېږي، او(اليزيدية) په اخيره اندازه ګمراه ډله ده چې د دوی له عقيدې سره د مسلمانانو هېڅ تعلق او تړاو نشته.

کوم کسان چې له صحابه کرامو سره د محبت دعوه کوي خو د صحابه کرامو پيروي نه کوي بلکې خپلو فاسدو فکرونو ته يې اعتبار ورکړی او د صحابه کرامو لاره يې نه ده ځارلې، دغه کسان(وهابيان) بلل کيږي.

د بې مذهبه احمد بن التيمية په کتاب کې د دوی فاسد فکرونه او د انګرېزانو د جاسوس (هېمفر) دروغ راټول شوي او وهابيت پکې ځرګند شوی دی، چې دغه وهابيان هغه حقيقي علماء او د تصوف امامان او هغه علماء چې د علي رضي الله تعالی عنه رېښتيني پيروان دي، دوی يې نه

پېژني او نه محبت ور سره کوي بلکې دغه علماوو ته د بدۍ نسبت کوي، او وهابيان پرته له خپلو ځانونو په نورو خلکو باندې د مسلمانانو ګمان نه کوي بلکې نورو خلکو ته د کفر نسبت کوي او د نورو خلکو مالونه ځانونو ته حلال او روا ګڼي، او نور خلک د (اباحيون) په کنيه سره مکنى ګرځوي او دوی (وهابيان)له قراني ايتونو او نبوي احاديثو څخه هغه باطلې او مخالفې معناوې را وباسي کومې چې د دوی خوښې شي او دوی داسې ګمان کوي چې اسلام به همداسې وي لکه دوی چې کومې باطلې معناوې را وباسي او دوی له لويو شرعي دلائلو او نبوي احاديثو څخه منکر دي .

د اهل سنت او جماعت علماوو او د ځلورو مذهبونو لويو امامانو په خپلو ډېرو کتابونو کې په دلائلو سره دا ثابته کړې ده چې وهابيان منحرف ګرځېدلي او دا يې ثابته کړې ده چې دوی له اسلام څخه وتلي دي، که څوک غواړي چې د وهابيانو په اړه معلومات ترلاسه کړي نو په ترکي ژبه کې دې زمور لاندنيو کتابونو ته رجوع وکړي(قيامت و اخرت_النصيحة للوهابي) او (السعادة الابدية)او(المعلومات النافعة _المصلحون في الدين).او په عربي ژبه کې دې زمور لاندنيو کتابونو ته رجوع وکړي (المنحة الوهبية في الرد على الوهابية)او (التوسل بالنبي والصالحين) او(سبيل النجاة) او په فارسي ژبه کې دې لاندې کتاب ته رجوع وکړي.(سيف الابرار) دغه ټول او نور قېمتي کتابونه د(المكتبة الحقيقة)لخوا په استانبول کې چاپ شوي او په دغه کتابونو کې په وهابيانو باندې ردونه راټول شوي او د دغه يادو شوو کتابونو نمونه زمور د ځينو کتابونو په اخر کې ليکل شوي دي.

د (ابن عابدين)[٥] په دريم جلد د بغاتو په باب کې او په (نعمة اسلام) نومي کتاب کې چې په ترکي ژبه سره دی په باب د نکاح کې په ډاګه سره د وهابيانو ګمراهي او زندیقوالی ذکر شوی دی او د ايوب صبري باشا[٦] رحمه الله چې د وخت د پادشاه عبدالحميد خان له نژدې کسانو څخه و د هغه په کتاب (مرآة الحرمين) او د همدغه مصنف د يو بل کتاب(تاريخ الوهابية)په اووم جز کې له (تاريخ جودت باشا) څخه په ترکي ژبه سره په وضاحت سره دا خبره ذکر شوېده چې وهابيان له اسلام څخه وتلي دي خيانت يې کړی او مسلمانانو او اسلام ته يې زيات زيانونه رسولي دي، او همداراز د شيخ يوسف النبهاني رحمة الله عليه په کتاب(شواهد حق)کې چې په مصر کې په عربي ژبه سره چاپ شوی دی په وهابيانو او ابن تيميه باندې زيات ردونه شوي دي. الحقيقت کتابخانې له ذکر شوي کتاب څخه پنځوس رسالې په نامه د (علماء المسلمين و جهلة الوهابيين) سره په ١٩٧٢م کال کې نشر کړي دي.

محمد عبده المصري يو له هغو کسانو څخه وو چې خلک يې وهابيت ته رابلل، هغه وهابيت چې د جزيرة العرب په يوه څنډه کې د يوه خونړي انقلاب په ترڅ کې رامنځته شو هغه انقلاب چې په ١٢٠٥ هـ ق کال کې چې له ١٧٩١م کال سره سمون لري واقع شوی وو، او ده د خپلو کتابونو په واسطه وهابيت ډېرو ځايونو او اطرافو ته تيت کړ او محمد عبده د مصر په قاهره کې د جميعت ماسونية (بې دينۍ کمېټې) رئيس او د جمال الدين افغاني[٧] له سختو علاقه‌مندانو څخه و.

---

[٥] علامه شامي محمد امين ابن عابدين په ٢٥٢١هـ ق کال کې چې له (٦٣٨١ م)کال سره سمون لري په شام کې وفات شوی دی.

[٦] ايوب صبری پاشا په ٨٠٣١ ق کال کې چې له (٠٩٨١ م)کال سره سمون لري په شام کې وفات شوی دی.

[٧] جمال الدين افغاني په ٤١٣١ هـ ق کال کې چې له[٧٩٨١ م]کال سره سمون لري وفات شوی دی.

د محمد عبده المصري کتابونه په ترکي ژبه د [جمیعة الاتحاد والترقي] په وخت ترجمه شوي، دا هغه جمیعت دی چې د عثماني خلافت په ضد را پورته شوی وو.

د محمد عبده کتابونه ځوانانو ته په دې پلمه چې دا د یوه اسلامي او پوره عالم کتابونه دي وړاندې شوي دي.

د (العلماءالمسلمین) تر نامه لاندې هغو د اسلام دښمنانو چې همېشه په کمینونو کې ناست وو او د اهل سنت او جماعت د تخریبولو او ړنګولو اراده یې لرله له فرصت څخه استفاده وکړه او په ډېرو لوړو اوازو او زرینو ستاینو سره یې د فتنې اور ته لمن ووهله او محمد عبده یې تر اسمان پورې ورساوه، یعنې مشهور یې کړ او د اهل سنت او جماعت د علماوو په حق کې یې خپلې ژبې اوږدې کړې او دغه علماء یې جاهلان وبلل او د دغه علماوو نمونه یې له بېخه ورک او خراب کړل، خو لېکن د دې ټولو سره سره زموږ نیکونو، پلرونو او همدارنګه زموږ د هغو نېکو او پاکو شهیدانو زامن چې خپلې وینې یې د الله جل جلاله د کلمې د لوړولو لپاره توېې کړې وې، او زموږ د هغو شهیدانو زامن چې خپل مبارک روحونه یې د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم سره د محبت کولو په لاره کې فدا او قرباني کړل د دوی(دښمنانو) په اعلانونو سره ونه غولېدل، هغه اعلانونه چې د هغې له وجې ډېر مدرسین علماء ګمراهان شول او له حقې لارې څخه واوښتل بلکې زموږ دغه غیرتي پلرونه او د شهیدانو زامن د دغه تش په نامه مسلمانانو خبرو ته هېڅ غوږ نه دی نیولی او نه له دوی سره څه علاقه لري.

الله جل جلاله زموږ د پاکو شهیدانو اولادونه له دغه ګرم او لوی عیب څخه وژغورل او همدارنګه اوس وخت ځینې نور کتابونه ځوانانو ته وړاندې کېږي لکه د (مودودي)[۸] سید قطب[۹]،حمید الله او تبلیغ الجماعت کتابونه چې وروسته له ژباړلو، شرمنده او بې ځایه ستاینو او ډېرو اعلانونو څخه په صحیفو او مجلو کې نشر شوي او ځوانانو ته وړاندې شوي دي، او په دغه ژباړل شوو کتابونو کې موږ داسې ګمراه فکرونه او عقاید وینو چې د اسلامي علماوو له رایو سره مخالف دي او په متل کې راغلي دي (اوبه ویده کېږي خو دښمن نه ویده کېږي) له الله جل جلاله څخه غواړو چې مسلمانان د غفلت له خوب څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عزت په سبب راویښ کړي، او دوی د دښمنانو د دروغو او افتراګانو له رښتیا بللو څخه وساتي آمین.

موږ یواځې په دعا سره پرته له کومې وسیلې ځانونه نه غولوو، ځکه له وسیلې پرته دعا داسې ده لکه دالله جل جلاله څخه دې معجزې غوښتنه او په اسلام کې عمل له دعا او د سبب حاصلول له دعا څخه مخکې وي. لومړی سبب له کفر څخه د ځان ساتلو زده کول، او بل چاته یې ور زده کول دي او په هر مسلمان ورور او مسلمانه خور باندې تر هر څه لومړی د اهل سنتو د عقیدې او د هغو اوامرو ، منکراتو، حلالو او حرامو زده کول فرض دي کوم چې په شریعت کې ذکر شوي دي.

کوم کسان چې د اهل سنت او جماعت عقیده او نور اړین فقهي مسائل پخپله نه زده کوي او

---

[۸] مودودي د(الجماعة الاسلامیة) بنسټ اېښودونکی په [۹۹۳۱.هـ ق] کال کې چې له [۹۷۹۱.م] کال سره سمون لري وفات شوی.

[۹] سید قطب المصري په[٦٨٣١.هـ ق] کال کې چې له [٦٦٩١.م]کال سره سمونه لري په قاهره کې وفات شوی دی.

نه یې خپلو اولادونو ته ور زده کوي، نو دغه کسان په کفر کې د لوېدلو او له اسلام څخه د لرې کېدو په خطر کې دي، او د دوی دعا تر هغه وخته نه قبلېږي تر څو دوی په کفر کې له غورځېدلو څخه ژغورنه پیدا کړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې څه فرمایلي چې دې مخکینۍ خبرې معنا پکې نغښتې ده او هغه دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي(هر ځای چې علم پیدا شي هلته اسلام پیدا کېږي، او چېرې چې علم نه وي هلته اسلام نه وي) لکه څرنګه چې ژوند ته د دوام ورکولو لپاره خوراک او ځښاک اړین دی، همدارنګه لازمه ده چې هر مسلمان دیني مسائل زده کړي تر څو خپل دین وساتي او د کفارو د خبرو له رېښتیا بللو او په کفر کې له غورځېدلو څخه ځان وژغوري.

زمور پلرونه او نیکونه به همېشه سره راټولېدل او د فقهې د کتابونو مطالعه به یې کوله، د دغه کتابونو مسائلو ته به یې غور نیولو، نو له همدې کبله دوی خپل دین او عقیده ساتلې او د اسلام له راحت او خوشحالۍ څخه یې خوند اخیستی دی او په دې توانېدلي چې د نېکبختۍ نور(اسلام) په کامله او صحیح طریقه تر مور پورې را ورسوي.

پر مور دا لازمه ده چې د فقهې هغه کتابونه چې د اهل سنت او جماعت علماوو چمتو او لیکلي، زده او ولولو تر څو مور په خپل اسلام ثابت پاتې شو او خپل اولادونه د کفارو له ورځذبولو څخه په داخل او خارج کې وساتو، او هر هغه مور او پلار چې د یوه مسلمان او صالح اولاد اراده لري نو په دوی لازمه ده چې خپل اولاد د قران کریم یوه استاذ ته ولېږي او مخکې له دې چې وخت او موقع زمور له لاسونو وځي پر مور لازمه ده چې خپله علم حاصل کړو او همداراز خپلو اولادونو او خپلو هغو دوستانو ته چې زمور خبرو ته غور نیسي او اعتماد پرې کوي یو څه ور زده کړو، ځکه دوی ته یو څه ور زده کول وروسته له دې چې دوی مدرسو ته داخل شي، دا په اخیرنۍ اندازه سخت کار دی او دېر وخت داسې وي چې وروسته له یو غم څخه افسوس کول هېڅ ګټه نه لري، د دین د دښمنانو او زندیقانو کتابونه، تلویزیون، راډیو او فلمونه مور له حقې لارې څخه نشي اړولی او نه مو باید واړوي لکه چې دې ته ورته خبره ابن عابدین په حاشیه د (رد المحتار علی الدر المختار)کې کړې دي او وایي چې (زندیق هغه چا ته وایي چې په یوه دین هم نه وي او دی دا قصد لري چې مسلمانان د اسلام له دین څخه واړوي په سبب د کمک کولو سره لکه چې یو مسلمان یې له بل سره کوي، او یا په بیانولو د داسې شیانو سره چې د کفر سبب ګرځي په دې پلمه چې ګواکې دغه شیان اسلامي دي).

پوښتنه: یو له هغو کسانو څخه چې د وهابیانو ژبارل شوي کتابونه یې لوستي وي داسې وایي چې پر مور لازمه ده چې د قران کریم تفسیرونه وګورو او له هغه څخه خپل دیني امور او قران کریم زده کړو ځکه د دغه امورو پرېښودل د دین د علماوو لپاره یو لوی خطر او غلط فکر دی. ځکه په قران کریم کې داسې خطاب نه دی راغلي (اې مسلمانانو علماوو) بلکې داسې راغلي دي(اې خلکو) یا داسې خطاب راغلی(اې هغه کسانو چې تاسو ایمان راوړی) یا نور دې ته ورته خطابونه ، نو له همدې وجې په هر مسلمان او مسلمانې دا لازمه ده چې پخپله قران کریم ووایي او زده یې کړي او بل چا ته انتظار ونه کړي. دغه جاهل دا غواړي چې هر څوک باید د قران کریم تفسیر او احادیث ووایي بې له دې چې د اهل سنت او جماعت د علماوو کتابونه ولولي هغه کتابونه چې په علم

توحید علم فقه او نورو علومو کې لیکل شوي دي او هغه کتاب چې مخ مخ ګرځول شوی په ۱۵۷ صفحو سره چې یوه ډیني وطن پرسته ریاست په[۱۳۹٤ .هـ] مطابق[۱۹۷٤ .م] کال کې د(الوحدة فی الاسلام والمذاهب الفقهیة)تر عنوان لاندې نشر کړی دی او دغه کتاب رشید الرضا[۱۰] په قاهره کې د(محاورات مصلح و مقلد) تر عنوان لاندې نشر کړ د دغه کتاب ویوونکي په دغه کتاب کې په کامله توګه حیران پاتې کېدل په ډېرو ځایونو کې خو خصوصاً په شپږمه مقاله ددغه کتاب کې ځکه په دغه مقاله کې مصنف داسې وایي، دغه مقلدینو علماوو د مجتهدینو مرتبه له نبیانو سره مطابقه ګرځولې دي بلکې دوی دهغه مجتهد خبرو ته ترجیح ورکړې چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو متابعت نه دی کړی نو له همدې وجې دغو مقلدینو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو اتباع نه ده کړې او دوی وایي دا ممکنه ده چې دغه حدیث دې نسخه وي او یا دې زمور امام ته بل حدیث شریف معلوم وي.

دغه مقلدین د داسې چا په خبرو عمل کوي چې ممکنه ده هغه په خپله خبر کې خطا وي، یا دې په دغه حکم باندې علم ونه لري او دوی(مقلدینو) د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیثونه په رښتیا دي هغه حدیثونه چې له خطا څخه پاک او صفا دي، نو له همدې امله دوی نوي شیان له قران کریم څخه را ایستلي او دغه مقلدین داسې دعوه کوي چې له قران کریم څخه یوازې مجتهد امام فهم کولای شي، او دا رنګه خبرې د دوی د فقهاوو او د مقلدینو له یهودو او نصاراوو څخه دوی ته نقل شوې دي سره له دې چې د قران کریم او احادیثو زده کول د فقهاوو د کتابونو له زده کولو څخه ډېر اسانه دي او هغه کسان چې په عربي ژبه نه پوهېږي او د عربي ژبې طریقې محکمې ګرځوي دوی له قران کریم او احادیثو څخه ډېر په اسانۍ سره فهم کوي. هغه څوک دي چې د الله جل جلاله له قدرت څخه منکر شي په وضاحت ورکولو د دین سره، یعنې چې دی داسې وایي چې الله جل جلاله خپل دین ته وضاحت نه دی ورکړی او هغه څوک دی چې منکر شي له قدرت د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په پوهېدلو د مراد د الله جل جلاله او په رسولو د مراد د الله جل جلاله بل چا ته، خو هېڅوک داسې نشته چې له دغه دوو شیانو څخه د منکر شي نو معنی دا چې الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسلام د دین نه وضاحت او بیان کړی نو هر څوک کولی شي چې په اسانۍ سره پرې پوه شي.

همداراز داسې دعوه کول چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وضاحت د امت لپاره کفایت نه کوي دا معنا ورکوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل تبلیغ په پوره او سمه توګه نه دی ترسره کړی.

که چېرې له انسانانو څخه لوی لوی کسان د قران کریم او سنتو په فهم کولو باندې قادر نه وای نو الله تعالی به ټول خلک په هغه احکامو نه وای مکلف کړي چې په قران کریم او سنتو کې ذکر شوي دي، او په هر انسان باندې دا واجب دي چې د هغو شیانو دلایل وپېژني په کومو چې عقیده لري او په تحقیق سره الله جل جلاله د تقلید کولو بدي بیان کړې او دا یې واضح ګرځولې چې د خپلو پلرونو او نیکونو تقلید او د دوی په پلونو، پلونه اېښودل نه دي روا ځکه مور ډېر داسې ایتونه وینو چې په دې دلالت کوي چې تقلید دالله جل جلاله په نزد هېڅکله قبول نه دی.

---

[۱۰] رشید الرضا د محمد عبده شاګرد په{۴۵۳۱ هـ} چې له {۵۳۹۱ م}کال سره سمون لري وفات شوی دی.

له دلایلو څخه د دین د فروعاتو فهمول نسبت د دین د اصولو ته ډېر اسانه دي. کله چې انسان په یوه سخت کار باندې چې هغه د دین د اصولو زده کول دي، نو ولې په اسانه کار باندې چې هغه د دین فروع زده کول مکلف ونه ګرځي؟ ولو چې د ځینو احکامو را ایستل له نادرو او کمو پېښو څخه سخت دي خو لېکن د دغو احکامو نه پېژندل او عمل نه پرې کول عذر بلل کېږي.

په تحقیق سره فقهاوو له ځانه یو شمېر مسئلې اختراع کړې او دغو مسائلو ته یې نوي احکام جوړ کړي او دوی دا قصد کړی چې دلیل قایمول په خپله رایه یعنې قیاس خفي او جلي سره وکړي او دوی په دغه دلائلو سره د هغه عباداتو میدان ته رادانګلي دي چې د هغو معرفت او پېژندنه په عقل سره ممکنه نه ده، او دوی د همدغه استدلال په وجه دین پراخه ګرځولی او دین ته یې زیات شمېر ښاخونه پیدا کړي او مسلمانان یې په هغه څه سره مکلف کړي دي چې د مسلمانانو له قدرت څخه وتلي وي. زه له قیاس څخه انکار نه کوم لېکن دا وایم چې قیاس ته په عباداتو کې ځای نشته، ځکه ایمان او عبادات د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې پوره شوي دي او هېڅوک دا صلاحیت نه لري چې د یوه شي نسبت ورته وکړي او مجتهدینو امامانو خلک له تقلید څخه منعه کړي دي او تقلید یې حرام بللی).دغه پورتنی د دوو قوسونو په مینځ کې هغه عبارت دی چې ما بیان کړ له هغه کتاب څخه کوم چې د یوه وطن پرسته دیني ریاست له لوري نشر شوی دی، د وهابیانو دا رنګه کتابونه په پوره منعا له تقلید او د څلورو مذهبونو د امامانو له پیروی او د هغوی په لاره له تګ څخه منع کوي نو ستاسو رایه په دې هکله څه ده؟

ځواب: که چېرې موږ په باریک ډول د بې مذهبو کتابونه ولولو نو موږ به ډېر ژر دې پایلې ته ورسېږو چې دوی د دې اراده لري چې مسلمانان په خپلو باطلو فکرونو او عیب ناکو رایو سره ګمراه او وغولوي، وروسته له هغه چې دوی خپلو دغه رایو او فکرونو ته د ضعیفو او سپکو منطقي ځنځیرونو رنګ ورکړی او دغه فکرونه یې په هغو کلمو سره ښایسته کړي دي چې په سرو زرو سره لړل شوې وي، نو کوم کسان چې جاهلان دي د دوی د دغه فاسدو فکرونو تصدیق کوي ځکه دغه جاهلان داسې ګمان کوي چې د دوی خبرې خو ښې له منطقو او عقل سره برابرې دي نو باید پیروي یې وشي نو ځکه یې دوی هم پیروي کوي، او کوم کسان چې علماء او د سالم عقل څښتنان دي دغه کسان هېڅکله هم د دوی په کمین کې نه لوېږي او نه د دوی ښکار کیږي.

په تحقیق سره زموږ مسلمانو علماوو په دغه څوارلسو پېړیو کې په زرهاوو کتابونه ددې لپاره لیکلي، تر څو ځوانان د هغو وهابیانو خطرونو ته متوجه کړي کوم چې خلک د همېشنی تباهی طرف ته بیایي.

په تحقیق سره موږ له ګټورو او ارزښتمنو کتابونو څخه هغه مسائل را ټول او ژباړلي دي چې د یو مسلمان په ژوند کې مثبت اغېز راولي، او دغه ګټور معلومات موږ په لنډ ډول په خپلو کتابونو هر یو لکه (عداوة رجل الدین للدین) یا لکه (النصیحة للوهابي) یا لکه (المجددون في الدین) کې راوړي، او ما په ژباړلو د یو قسم د (حجة الله علی العالمین في معجزات سید المرسلین) نومي کتاب کې ګټه ولیده هغه کتاب چې د یوسف النبهاني[۱۱] رحمة الله علیه له تصنیفونو څخه دی او له ۷۷۱ مخ څخه مې وژباړه ترڅو رد وګرځي په مخکښې سوال باندې .

[۱۱] یوسف النبهاني په (۱۳۵۰ هـ) کال کې چې له (۱۴۳۲ م)کال سره سمون لري په بېروت کې وفات شوی دی.

پایله دا چې کله د امت امامان په دې باندې قادر نه وو چې له قران کریم څخه ټول احکام را وباسي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یې شرح او بیان وکړ خو دغه بیان د رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په حقیقت کې د الله جل جلاله بیان دی ځکه الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایي (**و ما ینطق عن الهوی ان هو الا وحي یوحی ۳-۴**) ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپله ځانه خبرې نه کوي، او نه دی دغه قران کریم مګر یوه وحیې ده چې الله جل جلاله یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وحیې کوي.

نو لکه څرنګه چې د قران کریم شرح او بیان کول په هغه طریقه چې په احادیثو کې راغلې د بل چا کار نه دی او یوازې رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې توانېږي، نو همدارنګه د قران کریم او احادیثو په شرحه کولو او له هغه څخه د شرعي احکامو په را ایستلو یوازې د امت هغه نېکان او هغه محکم علماء توانېږي، نو له همدې کبله چې د احکامو را ایستل یوازې د محکمو او لویو علماوو کار دی الله جل جلاله مجتهدین امامان د دې کار لپاره چمتو کړي دي نو دغو مجتهدینو د خپلو مذهبونو سره سم د قران کریم او سنتو معنا او بیان کړی په هغه وجه چې الله جل جلاله دوی ته پرې قدرت ورکړی، او دغه احکام یې په اندازه د خپل توان سره سم بیان کړي او را ایستلي دي، وروسته له هغه چې دوی ته الله جل جلاله احاطه په ټولو هغو اسبابو او شرطونو ورکړې وه چې د احکامو د را ایستلو لپاره اړین دي، لکه نقلي او عقلي علوم، د پوهېدلو قوه، د ذهن تېزوالی، د عقل زیاتوالی او داسې نور شیان، خو د دغه ټولو شیانو اصل تقوا ده، هغه تقوا چې په هغه سره دوی یو له بل څخه جدا ګرځېدلي او بل د دغه شیانو اصل هغه الهي نور وو چې الله جل جلاله د دوی په زړونو کې ور اچولی او تر دوی پورې یې ځانګړی کړی وو، ځکه الله جل جلاله په ازل کې په دې باندې عالم و چې دوی به د محمدي امت لپاره د رېښتیني او سپېڅلي شریعت په هغه شرعي احکامو کې چې له قران کریم او احادیثو څخه یې را ایستلي دي امامان او لار ښوونکي وي او همدارنګه به دوی دا دنده په غاړه لري چې اسلامي امت ته به په هغه احکامو سره چې په اجماع یا قیاس سره ثابت دي لارښوونه کوي.

په تحقیق سره له هر یوه امام څخه دا روایت راغلی دی چې هر یو د دوی له خپلې رایې او فکر څخه بېزاره دي، او هر یوه د دوی داسې ویلي دي (چې کله یو صحیح حدیث شریف وي نو همدا زما مذهب دی، او کوم چې زما رایه او فکر دي هغه پرېږدئ خو د دوی موخه دا ده چې ای مسلمانانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحیحو احادیثو باندې عمل وکړئ او زموږ خبرې په پوره پرېښودلو سره پرېږدئ بې له دې چې زموږ د خبرې عزت وشي دا ځکه چې دوی خو یو هم شارع نه دی، بلکې شارع خو یوازې رسول الله صلی الله علیه وسلم دی په هغه شیانو سره چې دی صلی الله علیه وسلم یې له الله جل جلاله له طرفه راوړي چې یا قران او یا احادیث دي، نو که چېرې له دغه مجتهدینو څخه د یوه امام خبره د رسول الله صلی الله علیه وسلم له یوه صحیح او ثابت حدیث شریف سره په ټکر کې راشي نو دلته باید په حدیث شریف سره عمل وشي او د دغه امام خبره او رایه پرېښودل شي. ځکه کله چې حدیث شریف صحیح وي نو دا د دې نښه ده چې د دغه امام د خبرې سند ضعیف دی اګر که دغه امام ته هغه وخت چې دی دغه خبره کوي د خپلې خبرې سند قوي معلومېږي، خو دا له دې امله چې دغه امام به په هغه وخت کې په دغه صحیح

حدیث شریف باندې خبرداری نه لري، او هر یوه امام له دغه ځلورو امامانو څخه په دې خبره سره چې (که چېرې حدیث شریف صحیح راغلی و نو همدا زما مذهب دی) خپل هغه ملګري مخاطب ګرځوم چې اجتهاد کوونکي ځیرک امامان او د معقول او منقول یوځای کوونکي وو، همدا راز یې په دغه خبره سره هغه څوک مخاطب ګرځوم چې له دغه امامانو څخه وروسته او تکړه په مذهب ولاړ او پوره عالمان دي، بلکې دغو ټولو امامانو او مجتهدینو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له احادیثو څخه په کلکه حفاظت او ساتنه کړې ده، په داسې حال کې چې دوی د مذهبونو په دلایلو باندې خبر وو، او دغه علماء په نقلي او عقلي علومو او په اصولو او فروعو دواړو کې د بحر پشان علم درلود، دوی د مذهبونو مجتهدین او فتوا ورکوونکي وو، دوی د دې وړ وو چې د راجح او غیر راجح تر مېنځ توپیر وکړي او د خپل امام راجح قول د دغه امام له قواعدو سره سم بنا پر شرعي دلایلو چې کتاب الله، سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم، اجماع او قیاس دي معلوم کړي، نو دغه یاد علماء هغه کسان دي چې خپل امام یې په دې قول سره مخاطب ګرځولي چې (که چېرې صحیح حدیث شریف وي نو دا زما مذهب دی او پر هغه باندې عمل وکړئ او زما خبره پرېږدئ) ځکه دغه علماء په مابین د هغه حدیث شریف کې چې دده امام نقل کړی وي او د هغه وروستني حدیث شریف کې کوم چې صحیح حدیث دی د دې دواړو حدیثونو په مېنځ کې موافقه راولي او دا معلوموي چې کوم یو د دغه دوو حدیثونو څخه د سند له مخې صحیح او کوم یو د روایانو له مخې ښه ثابت دی، او کوم یو مخکې او کوم یو وروسته دی تر څو هغه وروستنی ناسخ د مخکېنې وګرځي، او یا د دې ته ورته نور هغه کارونه چې په هغه چا یې پېژندل لازم دي چې د دوو یا ډېرو اقوالو تر مېنځ غوره والی کوي، چې یو له دې کارونو دا هم دی، دغه د دلایلو ترجیح کوونکی به د احکامو اوصاف پېژني، یا دغه علماء یو راجح حکم داسې معلوموي چې مثلا امام په یوه حکم باندې دلیل قیاس ګرځولي وي دا ځکه چې ده داسې یو حدیث شریف نه وي پیدا کړی چې دی په هغه باندې استدلال وکړي، او د دغه امام اصحاب بیا داسې یو حدیث پیدا کړی وي چې په دغه حکم یې دلیل وګرځوي نو دوی دغه حکم په دغه حدیث شریف سره ثابت کړي په خلاف د هغه څه سره چې هغه د ده امام ثابت کړی وي، خو په دغه مسأله کې سره له اختلافه دغه اصحاب باید د خپل امام له قواعدو څخه خارج نشي او مخالفت یې ونه کړي، نو په دې مذکور بحث سره دا خبره معلومه شوه چې د مذهبونو د ځینو داسې قولونو غوره کول پداسې حال کې چې له اصل مذهب سره په تکر کې هم وي له حکمت څخه خالي نه دي، او دا هم معلومه شوه چې د متاخرینو(وروستنیو) علماوو کتابونو ته د مخکینیو فقهاوو پر کتابونو باندې ترجیح ورکول له حکمت څخه خالي نه دي، او د وروستنیو فقهاوو کتابونو ته د ترجیح ورکولو سبب یوازې دا کېدای شي چې پر متقدمینو(مخکېنیو) فقهاوو د وروستنیو فقهاوو دلیل ته ترجیح ورکړل شي دا ځکه چې وروستني فقهاء په ځینو داسې دلایلو او د احکامو په صحت خبر وي، په کومو چې متقدمین یا مخکېني فقهاء خبر نه وي ځکه متأخر د زمانې په نویو پېښو او احکامو باندې خبر وي نو له دې امله ترجیح حاصلیږي مګر په یوه شرط هغه دا چې کله لازم شرایط موجود شي.

نو یو راجح حکم دې ته وایي چې د الله جل جلاله او هغه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له حکم سره موافق وي وروسته له دې چې یوه مطلق مجتهد بیا د مذهب مجتهد او فتوا له دې وجې چې د ده د اجتهاد شرایط ډېر وي او خپل ټول توان یې د دغه حکم په پېژندلو کې مصرف کړی وي .

نو دا خبره جوته شوه کوم کسان چې د ځلورو مذهبونو په هغه امامانو پسې چې د هغوی په تقلید کولو سره د امت اتفاق راغلی تقلید وکړي، په حقیقت کې دغه مقلدین د الله جل جلاله او د هغه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پیروي کوونکي دي، او دغه امام کوم چې دوی د هغه تقلید کوي هغه مسائل له قران کریم او احادیثو څخه زده کړي چې د هغې په پوهېدلو سره دغه مقلدین نه دي توانېدلي نو ځکه دوی په دغه مسائلو کې د دغه امام تقلید کړی دی، لکه چې الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایي (فا سئلوا اهل الذکر إن کنتم لا تعلمون النحل .٤٣) ژباړه:اې مشرکینو تاسو له علماوو څخه پوښتنه وکړئ په دې اړه چې آیا مخکینې رسولان هم انسانان وو لکه محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم چې انسان دی او که پرښتې وو، خو بلکې ټول انسانان وو.

له دغه مبارک ایت شریف څخه دا معلومېږي چې ټول انسانان له قران کریم او احادیثو څخه په صحیح ډول فهم نشي کولای، او دغه ایت هغو کسانو ته چې په سمه توګه له قران کریم او احادیثو څخه فهم نشي کولای دا امر کړي چې دوی له اهل علم څخه پوښتنه وکړي، او د قران کریم او احادیثو د بحث په شاوخوا کې ونه ګرځي که چېرې ټول خلک په کامله توګه د قران کریم او احادیثو په معنا پوهېدلای، نو ولې به دوه اویا ګمراه ډلې پیدا کېدلای؟ او باید د هرې ګمراه ډلې مشر او بنسټګر د بحر پشان عالم وای، خو لېکن یوه ډله هم له دوی څخه د قران کریم او احادیثو معنا په صحیح او کامله توګه نه ده کړې، او په خپل دغه باطل فهم سره دوی له سمې لارې څخه ګمراه شوي او دوی یوازې د داسې لارو چارو په لټه کې دي چې دهغې په واسطه د مسلمانانو علماء په هلاکت او خطر کې واچوي، همداشان وهابیان ددې لپاره راپورته شوي چې له نصوصو څخه غلطې معناګانې راوباسي، تر دې چې دوی داسې درجې ته رسېدلي دي چې د اهل سنت والجماعت په لار روانو مسلمانانو ته د کفر نسبتونه کوي، او د اهل سنت او جماعت په حق کې داسې وایي چې دوی مشرکان دي او د (کشف الشبهات) په نامه کتاب چې په پټه توګه ترکیې ته داخل کړل شوی او په ترکي ژبه ژباړل شوی د دې کتاب مصنف چې محمد بن عبد الوهاب[١٢] دی داسې وایي چې د هغو مسلمانانو وژل چې عقیده یې د اهل سنت او جماعت سره یوشانته وي، په غنیمت سره یې مالونه اخیستل روا دي، له دې وروسته علامه یوسف النبهاني داسې وایي(چې کله تا دغه یاد شوی بحث وپېژانده نو پر دې پوه شه چې هغه شی چې الله جل جلاله تر هغه پورې محمدي شریعت ځانګړی کړی دی عبارت دی له امامانو اجتهاد، د مذاهبو تدوین او جوړول او د امت را ټولېدل دي په دغه مذهبونو باندې، چې دا ټول د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر نبوت باندې یوه لویه نښه ده، لکه څرنګه چې الله جل جلاله په عقایدو کې د امت لپاره امامان پیدا کړي تر څو دغه عقاید له ګمراهانو، زندیقانو، ملحدینو او همدارنګه د شیطانانو له ټولو ملګرو او هغه شیانو څخه چې د الله جل جلاله له شان سره مناسب نه وي وساتي) همدارنګه یوسف النبهاني وایي (لکه څرنګه چې په مخکینیو حکومتونو، ادیانو او کتابونو کې ملحدینو او د شیطان ملګرو داسې شیان ور داخل کړي دي چې د الله جل جلاله له شان سره مناسب نه دي او په دغه مخکینیو کتابونو کې چې کوم بدلون او نسخه یا لاس وهنه، زیاتوالی او کموالی شوی هغه پټ نه دی، او دغه ټول کارونه یوازې د اغراضو او نفساني خواهشاتو په خاطر شوي دي، تر دې چې دغه کتابونه له خپل اصلي حالت څخه

[١٢] محمد بن عبد الوهاب د وهابیت بنسټ اېښودونکی په (١١٠٦.هـ ق) کال کې چې له (١٩٧١ م) کال سره سمون لري وفات شوی دی.

کوم چې د رسولانو په وخت کې يې درلود تغير شوي دي.

نو ټولې ستاينې هغه الله جل جلاله ته دي، چې د ټول عالم پالونکی دی او درود دې وي زمورږ پر سردار محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم، او درود دې وي په کورنۍ او ملګرو د ده صلی الله علیه وسلم باندې او درود دې وي په مجتهدینو او هغو کسانو باندې چې په حقه يې د دغه مجتهدینو متابعت کړی دی.

پوه شه چې اجتهاد له سلونو کلونو راهيسي د مذهبونو د هغو علماوو په اتفاق سره چې دوی ته د ستونزو په وخت کې غږ کيږي، او دوی د دې امت سرداران او د دين ساتوونکي دي، بند او لړۍ يې قطعه شوې ده، او له دې پرته هېڅ مسلمان ته بله لاره نه ده پاتې مگر دا چې دی به خامخا د ځلورو مذهبونو څخه د يوه مذهب پيروي کوي، له دې امله چې هر مسلمان له قران کريم او احاديثو څخه د دين فهم نشي کولای او له اجتهاد څخه عاجز او ناتوانه دی. نو په تحقيق سره دغه مسلمان د قران کريم او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د سنتو اتباع وکړه په داسې حال کې چې دی په فهم کولو د قران کريم او سنتو کې مقلد د يوه امام له امامانو د ځلورو مذهبونو څخه دی، او که د يوه مذهب په امام پسې د دغه مذهب نورو امامانو او هغه علماوو اقتدا وکړه چې دوی د خپل امام په خبره باندې خبر شوي دي، يوه ډله وروسته له بلې ډلې څخه او د ده خبر يې له قران کريم او احاديثو سره سمه پيدا کړې وي نو په تحقيق سره دغه علماوو د قران کريم او سنتو د رسول الله صلی الله علیه وسلم پيروي کړې ده) همدارنګه يوسف النبهاني وايي(په اوس وخت کې څوک د اجتهاد دعوه نه کوي، مگر هغه څوک يې کوي چې په عقل او دين کې يې نيمګړتيا وي، مگر په طريقه د ولايت سره يې کولی شي لکه چې دغه خبره لوی شيخ محي الدين رحمه الله هم کړې ده، امام مناوي رحمه الله د خپلې لويې شرحې په اول کې چې په جامع الصغير باندې يې کړې ده، په يوه اوړه عبارت کې داسې ويلي (چې علامه شهاب ابن الحجر الهيتمي[١٣] رحمه الله داسې ويلي دي چې کله جلال الدين السيوطي[١٤] رحمه الله د اجتهاد دعوه وکړه د ده د زمانې خلک د ده په مقابل کې راپورته شول او دی يې له يوې لنډې څخه په غېشو ووېشت او ده ته يې يو سوال ورولېږه چې په هغه کې داسې مسائل وو چې د علماوو له خوا مطلق پرېښودل شوي وو، يعنې راجح او غير راجح يې نه وو معلوم نو د هغه وخت خلکو له ده څخه وغوښتل چې که چېرې ده ته د اجتهاد څه برخه وي نو د دغه مسائلو راجح او غير راجح بايد معلوم وګرځوي، او د مجتهدينو د قواعدو مطابق بايد استدلال وکړي نو ده دغه سوال ور رد کړ او داسې عذر يې بيان کړ چې دی داسې بوختياوې لري چې پدې مسايلو کې فکر کولو ته يې نه پرېږدي، او په دې توګه يې ځان له دغه سوال څخه خلاص کړ او ځواب يې ورنکړ، نو ته فکر وکړه چې د اجتهاد د ټيټې رتبې يعنې فتوا دعوه دومره سخته ده، نو د مطلق اجتهاد رتبه به څومره لوړه او دعوه به يې څومره سخته وي او د دغه اجتهاد مدعي به څومره په حيرانتيا او د فکر په فساد کې وي، دا داسې مثال لري لکه په يوه ړانده متن چې

---

[١٣] حمد بن الحجر الهيتمي الشافعي په [٩٧٤. هـ ق] کال کې چې له[١٥٦٦. م] کال سره سمون لري په مکه مکرمه کې وفات شوی.

[١٤] جلال الدين السيوطي په [١١٩.هـ ق] کال کې چې له [٥٠٥١. م] کال سره سمون لري، په قاهره کې وفات شوی.

سپور وي او په يوه ړانده اوښ باندې يې سفر کړی وي، يعنې له سمې لارې څخه اوښتی وي، يوسف النبهاني رحمه الله وايي څوک چې د مطلق اجتهاد د رتبې تصور وکړي نو دی له الله جل جلاله څخه شرمېږي، دا خو لا څه کوې چې د دغه اجتهاد نسبت دې د اوس زمانې يوه شخص ته وکړي).

همدارنګه يوسف النبهاني رحمه الله وايي (لوی عالم حجة الاسلام امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب احياء العلوم کې دمناظرې د تقسيم په بحث کې په دې خبره ټينګار کړی چې د ده په زمانه کې مجتهد نشته، او داسې يې ويلي دي کوم شخص چې د خپل وخت حاکم او قاضي وي او ده ته د اجتهاد رتبه نه وي نو دغه شخص به د خپل مذهب مطابق فتوا ورکوي، بيا که چېرې په دغه مذهب کې ده ته ضعف ښکاره شو بيا به هم دغه مذهب نه پرېږدي، او په وسيط کتاب کې راغلي چې کوم شروط چې د قاضي په اجتهاد کې معتبر دي په اوس وخت کې هغه شروط نشته او متعذر دي، تر دې ځايه د الشرح الكبير عبارت چې د مناوي[١٥] رحمه الله له کتاب څخه دی په لنډ ډول ياد شو، خو که څوک غواړي چې په دې اړه پراخه بحث او مطالعه وکړي نو هغوی دې نوموړی کتاب او يا لاندينيو کتابونو ته مراجعه وکړي لکه د ابن قاسم[١٦]حاشيه چې د السبکي رحمه الله په کتاب جمع الجوامع باندې ليکل شوې، يا فتاوای ابن الحجر، يا فتاوی د الشيخ محمد بن سليمان الكردي[١٧] او يا دې له دې پرته نور کتابونه د اصولو او فقهې مطالعه کړي نو دغه مطالعه کوونکی به ډېر علماء داسې پيدا کړي چې په انقطاع د اجتهاد مذهبي باندې باورمند وي، اجتهاد مطلق خو لا څه کوې يعنې هغه خو حتما منقطع دی.

وروسته له دې چې له ډېرو امامانو څخه دا خبره نقل شوې ده چې له اوږدې مودې راهيسې اجتهاد قطع شوی او د دغه امامانو له ډلې دوو امامانو هر يو لکه امام رافعي او امام نووي رحمهما الله داسې ويلي؛ چې په دې خبره د خلکو اجماع راغلې چې اوس اجتهاد نشته، نو وروسته له دې علامه کردي رحمه الله چې مخکې مو د هغه يادونه وکړه، داسې وايي: د هغه چا حکم چې د اجتهاد رتبې ته نه وي رسېدلی دا دی چې که چېرې دغه شخص يو صحيح حديث شريف وويني او مخالفت يې و نه کړي نو دی به د دغه حديث شريف پلټنه له داسې يوه مجتهد څخه کوي کوم چې ده په هغه پسې اقتدا کړې ده، نو په دغه حديث شريف کې به هم په همدغه مجتهد پسې اقتدا کوي او د هغه تقليد به کوي لکه څرنګه چې په دې خبره باندې لوی محقق امام او د خلکو لارښود امام نووي رحمه الله په خپل کتاب الروضة کې خبر ورکړی او څرګنده کړې يې ده، دا ځکه چې له قران کريم او احاديثو څخه د احکامو را ايستل يوازې د هغه چا کار دی چې د اجتهاد رتبې ته رسېدلی وي، لکه څرنګه چې ډېری علماوو پر دې باندې ټينګار کړی دی .

د دغه کتاب لوستونکيه! چې کله دې په پورته يادو شوو خبرو علم پيدا کړ، نو پوه شه چې د

---

[١٥] عبد الرؤوف المناوي په {١٠٣١ هـ} کال کې چې له{١٦٢٠ م} کال سره سمون لري په قاهره کې وفات شوی دی.

[١٦] احمد ابن قاسم الشافعي په {٩٩٤ هـ} کال کې چې له{١٥٨٦ م} کال سره سمون لري په مصر کې وفات شوی **دی.**

[١٧] محمد ابن سليمان الشافعي په {٩١١ ٤ هـ} کال کې چې له{٠٨٧١ م} کال سره سمون لري په مدينه منوره کې وفات شوی دی د دغه ښار پر اوسېدونکو دې درودونه او سلامونه وي.

طالبانو لخوا ځینې بیهوده او عبث دعوې چې ګویا دوی د مطلق اجتهاد رتبې ته رسېدلي دي او دوی د دې اهل ګرځېدلي چې د شریعت احکام پخپله له قران کریم او احادیثو څخه راوباسي او دوی دا دعوه کوي چې مونږ د یو چا تقلید ته اړ نه یو، او د خلکو په رایو عمل نه کوو تر دې چې دوی خپل هغه مذهبونه پرېښي دي کوم چې دوی د هغه پیرو وو او په هغه باندې دوی عمل کولو او پخپلو رنځورو او نیمګړو عقلونو سره یې په دغه مذهبونو باندې اعتراضونه او ردونه کول او یا دې ته ورته نور د بې علمه خلکو عبارتونه دا ټول له شیطاني وسوسو او نفساني دعوا ګانو څخه دي. او دا هغه دعوا ګانې وې چې د دوی د کم علمۍ، کم عقلۍ او د خپلو نفسونو د راضي کولو له امله وې، بله دا چې دوی په هغه عیبونو علم نه درلود کوم چې د دوی دعوا ګانو درلودې، خو د دوی موخه له دغه حماقت او بې حیایۍ څخه د خلکو پر وړاندې د خپلو درجو لوړول وو، خو دوی دغه موخې ته ونه رسېدل بلکې د خلکو پر وړاندې رزیل او د الله جل جلاله دښمنان معرفي شول او خلکو په دوی باندې مسخرې او ملنډې وهلې.

په تحقیق سره مونږ ځینې د علم طالبان ولیدل چې عوام خلک یې دې ته رابلل تر څو له قران کریم او صحیح بخاري څخه شرعي احکام را وباسي، نو تاسې خپله دغه لوی جهل او ښکاره ګمراهۍ ته وګورئ.

نو اې زما لوستونکیه وروره! د داسي بي علمه خلکو له مجلس څخه ځان وساته، او د خپل مذهب پیروي پر ځان لازمه وګرځوه، او ته له ځلورو امامانو څخه د یوه امام تقلید وکړه کوم چې ستا خوښ وي، خو داسې نه چې ته د ځینو رخصتونو پیروي وکړې، او یا په احکامو کې داسې ترتیب وکړې چې له هغې څخه یو داسې حالت رامنځته شي چې پر هغه باندې یوه امام هم قول نه وي کړی ځکه داسې یو کار منع دی.

د تلفیق معنا دا ده چې ته د رخصت پیروي وکړې او له هر مذهب څخه هغه اسانه احکام خوښ او راونیسي او ستا عمل له ځلورګونو مذهبونو څخه له هېڅ یوه مذهب سره سم او موافق نه وي.

د یوه کار د ترسره کولو په وخت کې دا اړینه ده چې د ځلورو مذهبونو څخه د یوه مذهب تقلید وکړل شي، د دې لپاره چې په دغه کار باندې ثواب ترلاسه شي، او که یو څوک غواړي چې د ده کار له پاتې دریو نورو مذهبونو سره هم برابر شي نو د امکان تر حده روا ده چې دی په ضروري مسایلو عمل وکړي، چې دې ته بیا تقوا وایي او په دې کې لوی اجر دی او که چېرې ته د دې اهل وې چې نبوي احادیث ووایې، نو پر تا باندې یې ویل د دې لپاره لازم دي چې د هغه پر متن د خپل مذهب دلایل وپېژنې او ته د ترغیب او ترهیب په احادیثو باندې عمل وکړې او د دې لپاره چې ته د اسلام د دین لویوالی، فرعي مسائل او عقاید یې وپېژنې او همدارنګه د الله جل جلاله کمالات، نمونه او صفتونه وپېژنې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت او د ژوند احوال د ده بهترې او د ده معجزې وپېژنې، د دې لپاره دا احادیث ولولې چې ته د دنیا او اخرت احوال، له مرګه وروسته د ژوندون، له قبرونو څخه نشر، دوزخ، جنت، د پرښتو، پېریانو، مخکښیو امتونو احوال، د انبیاوو غوره والی او د دوی د کتابونو غوره والی او همداراز د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم غوره والی پر نورو پیغمبرانو او د ده صلی الله علیه وسلم د کتاب غوره والی پر نورو کتابونو او د ده صلی الله علیه وسلم د کورنۍ او ملګرو مناقب او احوال، د قیامت نښې نښانې او نور دیني او دنیاوي علوم وپېژنې ځکه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیثو علم د مخکښیو او وروستنیو را ټول او بیان کړی دی.

نو کله چې ته دغه پورته بحث وپېژنې ته د هغه چا په پوره جهل علم پیدا کوې چې هغه داسې وایي چې (که چېرې مور له احادیثو څخه احکام را ونه باسو نو بیا په دغه احادیثو کې څه ګټه ده) خو بلکې د دوی دا خبره باطله ده ځکه په احادیثو کې دومره ګټې دي چې له حساب څخه وتلې دي، دغه احادیث د اسلام د دین هغه لویه برخه ده او هغه احادیث دي چې د عباداتو لکه لمونځ روژې حج زکات او یا د معاملاتو په اړوند راغلي دي، چې د دغه احادیثو شمېر د ځینو په خبره پنځه سوه دی، او که د ټولو تکراري حدیثونو نسبت دغه عباداتو او معاملاتو ته هم وکړو شمېر یې له درېیو زرو احادیثو څخه نه اوړي خو په هر صورت په دغه قسم احادیثو کې که چېرې تا داسې یو صحیح حدیث ولید چې ستا له مذهب سره مخالف و نو ته په دغه حدیث کې باید د هغه امام پیروي وکړې چې دغه حدیث یې خپل مذهب ګرځولی، او ته تر هغه وخته پورې یو حدیث صحیح نشې پیدا کولی تر څو چې یو له امامانو څخه دغه حدیث صحیح ونه ګڼي، او دا چې یو حدیث شریف ستا له مذهب او امام سره مخالف ګرځېدلی وي دا له دې وجې چې ممکنه ده چې ستا امام په دغه حدیث شریف خبر پیدا کړی وي، خو لېکن د ده سره یو بل داسې حدیث شریف وي چې له دغه اولني حدیث شریف څخه ډېر صحیح وي او یا اولنی حدیث مخکې صادر وي او دغه دوهم حدیث شریف په وروسته وخت کې صادر شوی وي، نو دغه وروستني حدیث مخکښنی حدیث نسخه کړی وي، او یا ستا امام د ځینو نورو لاملونو له امله په دغه حدیث شریف عمل پرېښی وي، او یا هغه نورې وجهې چې مجتهدین پرې علم لري، که چېرې ته دا اراده لرې چې په دغه صحیح حدیث شریف عمل وکړې نو دا سې خبره ده، خو پر تا د داسې یوه امام تقلید لازم دی چې دغه حدیث یې صحیح بللی او معمول یې ګرځولی وي، ځکه دغه امام چې په دغه حدیث شریف عمل کړی ځکه یو مانع یې نه ده پیدا کړې سره له دې چې دی د احکامو په هغه دلایلو خبر دی چې ته نه یې پرې خبر، او که چېرې تا د خپل مذهب په حکم عمل وکړ نو پر تا هېڅ تکلیف او ملامتي نشته ځکه پرته له دې بله لاره نشته چې ستا امام به په دغه حکم باندې یو دلیل راوړی وي، اګر که ته په هغه دلیل باندې علم نه لرې ځکه مجتهدین امامان له قران کریم او احادیثو څخه د یوه وېښته پشان قید هم نه راوباسي، تر څو چې یو دلیل له قران کریم او احادیثو څخه قایم نه کړي، بلکې دوی له دې هم ډېر متقیان او پرهېزګاران دي او په تحقیق سره دوی په خپلو مذاهبو سره د قران کریم او سنتو وضاحت کړی او خلکو ته یې د دې دواړو معنا ګانې او احکام څرګنده کړي دي، همدا شان دغه احکام یې د دوی(خلکو) فهمونو ته نږدې کړي او دغه احکام یې په ساتنه سره ساتلي او خوندي کړي، چې که د الله جل جلاله مرسته له دوی سره نه وای نو دا کار د بشر له توان وتلی وو، نو له همدې وجې د دوی مذهبونه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پر نبوت او دین باندې د صحت دلایل ګرځېدلي دي.

د څلورو مذهبونو د امامانو اختلاف د دین په اصولو او عقایدو کې نه دی، هغه عقاید چې په هغه کې اختلاف منکر او ممنوع دی. همدارنګه د دوی اختلاف په هغه لویو شرعي مسائلو کې نه دی چې بالضرورة له شرع څخه معلوم وي او یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم متواتر احادیث پکې راغلي وي، بلکې د دوی اختلاف په ځینو فروعي مسائلو کې دی سره له دې چې هر یوه خپل

قوي دلایل راوړي دي، او د دوی دغه اختلاف د امت لپاره رحمت دی، نو په هر یوه پسې دې چې خوښه شوه اقتدا پسې وکړه پرته له کوم تکلیف څخه لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي(اختلاف امتي رحمة) ژباړه: زما د امت اختلاف د دوی لپاره رحمت دی، دغه حدیث بیهقي او نورو کتابونو را نقل کړی لکه چې په جامع الصغیر کې هم داسې وایي.

المناوي د خپل کتاب په شرح کبیر کې وایي: د امامانو اختلاف په ځینو فروعي مسائلو کې پر خلکو باندې یوه پراخي ده، ځکه خلکو ته د دغه اختلاف په سبب دین پراخه ګرځېدلی او داسې شوی لکه هر مذهب چې ځانته یو شریعت وي او نبي علیه السلام د ټولو لپاره رالېږل شوی وي، او دغه اختلاف له دې امله دی چې په خلکو باندې د دین امور سخت نه شي او خلک په هغه څه باندې مکلف نه شي چې پرې لاسبری نه وي، نو دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه اسانه شریعت او دین کې یوه پراخي ده، نو دغه اختلاف یو لوی نعمت او یوه بشپړه ښېګڼه ده او همدغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم امت تر دغې ښېګڼې پورې ځانګړی شوی دی، لکه څرنګه چې د دغه اختلاف وعده رسول الله صلی الله علیه وسلم کړې وه او په هماغه ډول رامنځته هم شو، چې دا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د معجزو له ډلې یوه معجزه ګڼل کېږی، او په عقایدو کې اجتهاد کول یوه لویه ګمراهي ده، لکه مخکې مو چې وویل نو حق هغه دی چې په هغه باندې اهل سنت او جماعت متفق وي، او کوم اختلاف چې په حدیث کې راغلی مراد له هغه څخه اختلاف په احکامو کې دی.

همدارنګه علامه یوسف النبهاني وایي(پر مور لازمه ده چې دا عقیده ولرو چې د څلورو واړو مذهبونو امامان پر حقه او مستقیمه لاره دي، او په فروعي مسائلو کې له دوی څخه که کوم یو په اجتهاد کې حق ته رسېدلی وي نو ده ته دوه اجرونه دي، یو د اجتهاد او بل حق ته د رسېدلو، او که کوم یو بیا حق ته ونه رسیږي نو بیا هم ده ته یو اجر شته دی. خو څوک چې مجتهد نه وي پر ده لازمه ده چې د یوه معین مذهب او مجتهد تقلید وکړي او کومه خبره چې په حدیث شریف کې راغله چې د علماوو اختلاف رحمت دی دا پر دې معنا چې له یوه مذهب څخه بل مذهب ته انتقال روا دی، او د صحابه کرامو او تابعینو تقلید زمور په مذهب کې روا نه دی، او د امام شافعي رحمه الله په مذهب کې روا دی لکه څرنګه چې دا خبره امام الحرمین [۱۸] هم کړې ده چې څوک د خپل مذهب اطاعت نه کوي، نو ده ته دا روا نه ده چې د دغه څلورو مذهبونو څخه پرته په قضا او فتوا ورکولو د بل چا تقلید وکړي، ځکه د څلورو امامانو مذاهب تیت او پراخه ګرځېدلي دي تر دې پورې چې د دغه مذهبونو تقلید د مطلق او تخصیص د علم یې څرګند شوی، برعکس د نورو مذهبونو ځکه د نورو امامانو او مذهبونو پیروان تیت او پاشان ګرځېدلي او مذهبونه یې پرېښي دي.

امام رازي[۱۹] رحمه الله را نقل کړي دي چې د محققینو علماوو په دې اجماع راغلې ده چې عوام به د لویو اصحابو کرامو تقلید نه کوي، هو دا تقلید علماوو ته د یوه کار د ترسره کولو لپاره روا

---

[۱۸] د حرمینو امام عبدالملک شافعي په {۴۷۸ هـ ق} کال کې چې له {۱۰۸۵ م} کال سره سمون لري، په نیشاپور کې وفات شوی دی.

[۱۹] امام فخر الدین محمد رازي په {٦٠٦ هـ ق} کال کې چې له {۹۰۲۱م} کال سره سمون لري، په هرات کې وفات شوی دی.

دی، خو که چېرې دغه عالم چې د اصحابو کرامو تقلید کوي په دې علم درلود چې د اصحابو کرامو قول یا فعل د هغه چا له قول سره برابر دی چې د هغه تقلید کېږي یعنې له مجتهدینو سره خو په دې شرط چې دغه عالم او فقیه به د رخصت پیروي نه وي کړې، یعنې داسې نه چې ده هغه اسانه مسائل له هر مذهب څخه د ځان لپاره غوره کړي وي، په داسې ډول چې بیا هغه د تکلیف رتبه د ده له غاړې لرې شي او که دغه عالم عمل په رخصت باندې کړی وي نو بیا ده ته دغه تقلید نه دی روا تر دې ځایه د المناوي کلام ورسېد.

که ته غواړې چې د مجتهدینو په ځانګړې توګه د دغه ځلورو امامانو او مذهبونو په غوره والي باندې ځان خبر کړې او په دې باندې علم پیدا کړې چې دغه ځلور مذهبونه له قران کریم، حدیث، اجماع او قیاس څخه خارج نه دي او دوی له خپلو رایو څخه ببزاري اعلان کړي ده او په دغه ټولو شیانو کې که پوره او اوږد بحث غواړې نو ته د امام شعراني رحمه الله کتابونو ته مراجعه وکړه په تحقیق سره ده په خپلو کتابونو کې دغه مسائلو ته پوره پاملرنه کړې ده، په ځانګړې ډول د ده په کتابونو کې (المیزان الکبری) او (المیزان الخضریه) د پام وړ دي، تر دې ځایه د (حجة العالمین) کتاب عبارت خلاص شو او په دغه یادو شوو عبارتونه کې د ژباړن لخوا کوم زیاتوالی نه دی شوی، او دا عبارتونه ټول په اصلي عربي سره دي او دلته ژباړن باید یوازې د قوسونو لحاظ وکړي ترڅو ویونکی د ژباړن او کتاب د عبارتونو ترمېنځ توپیر وکړای شي.

دغه یاد شوی کتاب یعنې(حجة الله علی العالمین) حقیقت کتابتون چې په استانبول کې ده په(۱۳۹۴ هـ) کال کې چې له (۱۹۷۴ م) کال سره سمون لري چاپ کړی دی.

دا دعوه غلطه ده چې په قران کریم کې د علماوو په اړه اقوال نشته، ځکه زیات ایتونه د علماوو او علم په مدحه او ستاینه کې راغلي دي، شیخ عبدالغني النابلسي په خپل کتاب (الحدیقة) کې داسې وایي چې (الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایي(فاسئلوا) یعنې اې هغو کسانو چې تاسو په ظاهري او باطني شرعي احکامو باندې مکلف یئ تاسو پوښتنه وکړئ، او بیا الله جل جلاله فرمایي (اهل الذکر) یعنې له هغو کسانو څخه پوښتنه وکړئ چې دوی د علم خاوندان وي، ابن جمیل د تفسیر رازي په مختصر کې وایي چې په دې ایت کې له پورته یادونې څخه موخه علم دی، نو معنا دا چې تاسو پوښتنه وکړئ له هغه چا څخه چې هغه علم او تحقیق لري، او ورپسې الله جل جلاله فرمایي (إن کنتم لا تعلمون) یعنې پوښتنه وکړئ که چېرې تاسو علم نه درلود، بیضاوي وایي د دې ایت په دغه جز کې دلیل دی په دې باندې چې په هغه شیانو کې چې عوام نه پرې پوهېږي علماوو ته رجوع کول واجب دي، همدا راز په نورو ځایونو کې هم الله جل جلاله فرمایي (**هو الذي انزل علیك الکتاب منه آیات محکمات هن أم الکتاب و اخر متشابهات فا ما الذین في قلوبهم زیغ فیتبعون ما تشابه منه ابتغاء الفتنة وابتغاء تأویله و ما یعلم تأویله إلا الله والرسخون فی العلم یقولون امنا به کل من عند ربنا وما یذکر إلا اولو الالباب.**آل عمران ۷) ژباړه: هماغه خدای جل جلاله دی چې دغه کتاب یې پر تا نازل کړی دی، پدې کتاب کې دوه ډوله ایتونه دي: لومړي یې محکمات چې د دې کتاب اصلي بنسټ دی، او بل متشابهات دي، د کومو کسانو په زړونو کې چې کوږوالی دی هغوی د فتنې را پورته کولو لپاره تل په دغه متشابهاتو پسې ګرځي او دغه ایتونو ته د معنا برابرولو هڅه کوي، پداسې حال کې چې دهغو په حقیقي

معنا له الله جل جلاله پرته بل هېڅوک نه پوهېږي، خو د دې پر خلاف کوم کسان چې عالمان دي دوی وایي مور پر دغه ټولو متشابهاتو ایمان لرو او دا ټول د الله جل جلاله له لوري دي، او رښتیا خبره دا ده چې له یو شي څخه سم درس یوازې د پوهې خاوندان اخلي.او (شهد الله أن لا اله الا هو و الملئكة و اولو العلم قائما بالقسط.آل عمران ۱۸)ژباړه: الله جل جلاله په خپله د دې خبرې شاهدي ویلې ده چې له هغه پرته بل هېڅ خدای نشته؛ پرښتې او ټول اهل علم هم په رښتینې او عادلانه توګه پر دې شاهدان دي چې له الله جل جلاله پرته بل ځواکمن او باحکمته خدای نشته. همداشان (قال الذين اوتوا العلم ويلكم ثواب الله خير لمن آمن وعمل صالحاً .القصص ۸۰)

ژباړه:خو کوم کسان چې د علم خاوندان وو، هغوی ووېل ستاسې په حال باندې خواشینې او افسوز دی د الله جل جلاله ثواب د هغه چا لپاره ډېر غوره دی چې ایمان راوړي او نېک عمل وکړي؛ او دا یوازې د زغم خاوندانو ته ورکول کیږي.

همدارنګه دا ایت شریف (**و قال الذين اوتوا العلم والايمان لقد لبثتم في كتاب الله الى يوم البعث.**الروم ٥٦) ژباړه: خو کوم کسان چې له علم او ایمان څخه برخمن ګرځول شوي دي، هغوی به ووایي چې د خدای جل جلاله په لیکنه کې خو تاسو د حشر تر ورځې (تر مودو مودو) پورې ځنډېدلي یې اوس دا هماغه د حشر ورځ ده خو تاسو نه پوهېدئ. یا دا ایت (**و إن الذين اوتوا العلم من قبله اذا يتلى عليهم يخرون للأذقان سجدا.و يقولون سبحان ربنا إن كان وعد ربنا لمفعولا .** الاسراء ۱۰۷ او۱۰۸) ژباړه: کومو کسانو ته چې له دې څخه مخکې علم ورکول شوی دی هغوی ته چې کله دا اورول کېږي نو هغوی پرمخې پر سجده لوېږي؛ او په لوړ غږ وایي: زمور پروردګار پاک دی او د هغه وعده پوره کېدونکې ده. یا دا ایت (**العلم الذين اوتو العلم انه الحق من ربك فيؤمنوا به .**الحج:۵۴)ژباړه:او له عهلم څخه برخه لرونکي خلک پوهېږي چې دا(قران) ستا د رب له لوري حق دی او ایمان وربانديې راوړي. یا دا ایت (**بل هو آيات بينات في صدورالذين اوتوا العلم** .العنکبوت:٤٩) ژباړه: په اصل کښې دا روښانه نښانې دهغو خلکو په زړونو کې دي چې علم ورکړل شوی دی، او پرته د ظالمانو، زمور له ایتونه څخه نور څوک نه منکرېږي. یا دا ایت (**و يري الذين اوتوا العلم الذي انزل إليك من ربك هو الحق ويهدي الي صراط العزيز الحميد.** سبا:٦) ژباړه: اې پیغمبره صلی الله علیه وسلم پوهان ښه پوهېږي، څه چې ستا د رب لخوا پر تا نازل کړای شوي دي هغه (قران) په ټوله معنا حق دی، او د برلاسي او ستایل شوي خدای لاره ښایي. یا دا ایت (**والذين اوتوا العلم درجات** .المجادله:۱۱) ژباړه:او کومو کسانو ته چې علم ورکړل شوی، الله به هغوی ته لوړي درجې په برخه کړي.او تاسي چې څه کوئ، الله پرې ښه خبر دی. یا دا ایت (**انما يخشى الله من عباده العلماء**.فاطر:۲۸) ژباړه: حقیقت دا دی چې د الله د بنده‌ګانو څخه یوازې عالمان له هغه څخه وېرېږي او بېشکه الله جل جلاله برلاسی او بښونکی دی . یا دا ایت(ان اکرمکم عند الله اتقاکم .الحجرات: ۱۳) ژباړه: په حقیقت کې د الله پر وړاندې ستاسې څخه تر ټولو عزتمند هغه څوک دی چې په تاسې کې تر ټولو پرهېزګار وي، په باوري ډول الله جل جلاله په هر څه پوهېدونکی او باخبره دی.

همداراز د علم او علماوو دفضیلت په اړه ډېر احادیث راغلي چې دې هغه له ډلې یو څو احادیث چې په ۳٦٥ مخ کې راغلي دلته راوړو، چې په لاندې ډول دي.

په حدیث شریف کې راغلي دي (په تحقیق سره الله جل جلاله، پرښتې یې، د ځمکې او اسمانونو ټول اهل، تر دې چې مېړیان په خپلو غارونو او ماهیان په دریابونو کې په هغه چا درودونه وایي چې نورو خلکو ته د خیر ښوونه کوي. الحدیث) همدارنګه په بل حدیث شریف کې راځي (یشفع یوم القیمة الانبیاء ثم العلماء ثم الشهداء) ژباړه.د قیامت په ورځ به اول انبیاء بیا علماء اوبیا شهیدان د ګناهګارانو شفاعت کوي.

همدارنګه په حدیث شریف کې راځي (یایها الناس إنما العلم بالتعلم تعلموا العلم فإن تعلمه لله خشیة و طلبه عبادة و مذاکراته تسبیح والبحث عنه جهاد و تعلیمه لمن لا یعلمه صدقة وبذله لاهله قربة.الحدیث) ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي؛ اې خلکو علم په دې سره حاصلېږي چې له بل چا ځخه یې زده کړې، نو تاسو ځانونه ته علم حاصل کړئ، ځکه د علم حاصلول د الله د رضا لپاره له الله جل جلاله ځخه وېره لرل دي، او د علم ترلاسه کول عبادت، تکرارول یې تسبیح او بحث کول یې جهاد دی، او یوه ناپوه او بې علمه چا ته یې ورښوول صدقه ده.

د طاهر بخاري په کتاب خلاصة الفتوی کې داسې راغلي دي چې له أبو بکر ځخه چې له حنفي فقهاوو ځخه پوښتنه وشوه چې هغه طالبان چې د فقهې علم حاصلوي پدې نیت سره چې پر هغه له بشپړ اخلاص سره عمل وکړي، ایا دوی ته د قران کریم تلاوت کول غوره دي او که د فقهې علم مطالعه کول؟

نو ابوبکر په ځواب کې ورته وویل؛ چې له ابي مطیع بلخي رحمه الله ځخه داسې حکایت شوی چې ده به ویل زموږ د احنافو په کتابونو کې چې د فقهې د علم کتابونه دي، تأمل او غور کول پرته له دې چې د بل چا د درس ویلو ته غوږ ونیسي نو دغه نظر او تأمل کول په دغه کتابونو کې طالبانو ته ډېر غوره او بهتره دي له یوې پوره شپې عبادت کولو ځخه، او دلته بلخي صاحب داسې نه دي ویلي چې د فقهې علم مطالعه کول غوره دي له تلاوت د قران کریم ځخه دا یې ځکه نه دي ویلي چې د قران کریم بې ادبي ونشي او که د احترام لحاظ نه وي نو له لمانځه ځخه بهرون د د قران کریم تلاوت کول مستحب دي، او د فقهې د علم کتابونه کتل او مطالعه کول خو په ځینو وختونو کې د مسایلو د زده کولو لپاره فرض وي، کله چې یوې داسې مسألې ته اړتیا وي چې په هغه مسأله باندې عمل کول فرض وي .

او له امام ابو بکر محمد بن الفضل البخاري [۲۰] رحمه الله ځخه د فقیه په اړه پوښتنه وشوه، یعنې د هغه چا په باره کې پوښتنه ترې وشوه چې ټوله شپه او ورځ د فقهې علم د کتابونو په مطالعه کولو او شرعي احکامو په زده کولو او نورو خلکو ته یې په ورښولو بوخت وي، چې ایا دغه فقیه ته دا غوره ده چې دغه مطالعه او د شرعي احکامو زده کول پریږدي او پر ځای یې د تسبیح لمونځ وکړي او که ده ته همدغه مطالعه او تعلیم د شرعي احکامو غوره دی؟

بخاري رحمه الله د دغه پوښتونکي په ځواب کې وویل؛ چې د تسبیح لمونځ د عوامو عبادت دی، ځکه عوام خلک په دې نه توانېږي چې د فقهې کتابونو مطالعه وکړي او یا نورو خلکو ته شرعي احکام ور وښایي او په دې کې شک نشته چې دغه تعلیم د شرعي احکامو غوره دی له تسبیح لمانځه ځخه، ځکه د دغه تعلیم ګټه عامه او پراخه ده، او د لمانځه ګټه خو یوازې لمونځ کوونکي ته

[۲۰] طاهر بن احمد بخاري په {۲۴۵ ه ق} کال کې چې له {۷۴۱۱ م} کال سره سمون لري، وفات شوی دی.

وي، نو دلته هغه شخص چې له امام بخاري رحمه الله څخه يې پوښتنه کړې وه د يوه فقيه نوم يې ياد کړ او ويې ويل چې اې بخاري صاحب دغه فقيه د تسبيح لمونځ کوي نو امام بخاري رحمه الله ورته وويل دغه فقيه زه په عوامو کې شمېرم ځکه ده هغه ګټه چې ټولو ته رسېږي او هغه تعليم دی پرېښودلی دی، او ځان يې په کمه او لنډه ګټه کې چې لمونځ دی بوخت کړی دی، او دا کار د عوامو دی نو دی زه له عوامو څخه بولم، تر دې ځايه د خلاصة الفتوى کوم نقل چې و هغه خلاص شو).

د (الطريقة المحمدية)کتاب په شرحه (الحديقة الندية) کې يو حديث شريف راغلی، او په هغه کې داسې وايي (ما عبد الله افضل بشئ من فقه فی الدين) ژباړه: د الله جل جلاله يو بنده په هېڅ شي سره دومره غوره نه ګرځي لکه چې په دين کې پوه ترلاسه کړي يعنې فقيه شي.

او يا علم ته ځکه غوره والی ورکول کېږي چې د علم ګټه عامه ده، چې ګټه يې هم طالب ته که چېرې پخپل علم عمل وکړي اوهم نورو ته رسېږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي (من تعلم بابا من العلم ليعلم الناس أعطي ثواب سبعين صديقا) ژباړه: چا چې د علم يو باب(څپرکی) د دې لپاره زده کړ چې نورو خلکو ته يې وروښايي، نو ده ته به د اويا ريښتنو د اجر په اندازه، اجر ورکړل شي .

د علم د ترلاسه کولو لپاره دوې سرچينې دي، چې يو استاذ او بل کتاب دی. او کوم کسان چې وايي مورږ استاذانو او کتابونو ته اړتيا نه لرو دوی د وخت دجالان او زنديقان دي، او دوی يوازې مسلمانان پخپل دغه دوکه سره د هلاکت کندې ته ورټېل وهي.

ټول هغه احکام چې په کتابونو کې ذکر شوي دي له قران کريم او احاديثو څخه را اخيستل شوي دي لکه چې العلامه عبد الغني النابلسي په الحديقة کې داسې وايي: په تحقيق سره رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله له لوري د قراني احکامو د تعليم او تبليغ لپاره رالېږل شوی وو، او اصحابو کرامو دغه احکام له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه زده کړي وو او له صحابه کرامو څخه بالواسطه دغه احکام تر علماوو پورې رارسېدلي او زده کړي دي، او نور مسلمانان يې بيا له علماوو او د دوی له کتابونو څخه زده کوي، چې په نبوي احاديثو کې راغلي دي(العلم خزائن و مفاتيحها السؤال) ژباړه: علم پټې خزانې دي او د دغه خزانو لپاره کلی سوال او پوښتنه کول دي. (العلم خزائن و مفتاحها السؤال فاسئلوا يرحمكم الله فإنه يوجر فيه اربعة السائل والمعلم والمستمع والمحب لهم) ژباړه: علم خزانې دي او د دغه خزانو لپاره کلی بيا سوال او پوښتنه ده، نو اې خلکو تاسې په علم کې سوال او پوښتنه وکړئ ځکه په دغه سوال سره څلورو کسانو ته اجر ورکول کېږي؛ لومړی پوښتونکی، دويم استاذ، دريم اوربدونکي او څلورم هغه چا ته چې له دغه دريو سره مينه او محبت کوي.

(تعلموا العلم و علموه الناس) ژباړه: تاسو علم حاصل کړئ او نورو خلکو ته يې ورسوئ.(لكل شيء معدن و معدن التقوى قلوب العارفين) ژباړه: هر شي لره خزانه وي او د تقوا خزانه د عارفانو زړونه دي.(تعليم العلم كفارة للكبائر وتعليم القران زيادة في الدين) ژباړه: د علم زده‌کړه د لويو ګناهونو کفاره ده، او د قران کريم زده کول د دين زياتوالی دی.

همدارنګه امام رباني رحمه الله د خپل المکتوبات کتاب په ۱۹۳ مخ کې وايې (پر دې باندې

پوه شه چې لومړني اړين امور چې په مکلفينو باندې لازم او واجب دي هغه دادي چې دوی خپلې عقيدې د اهل سنت جماعت له رايو سره موافقې وګرځوي، ځکه اخروي نجات په دې کې دی چې د دوی د رايو پيروي وشي، او کوم کسان چې د دوی د طريقو پيروي کوي د (سني) په نامه يادېږي، او همدوی (اهل سنت او جماعت) او د دوی پيروي کوونکي دي چې له اور ځخه به خلاصون وموميِ، ځکه دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صحابه کرامو په لارو باندې تګ کړی دی او د دوی پيروي يې کړې ده.

نو له قران کريم او احاديثو ځخه په را ايستل شوو معنا ګانو کې هغه معناګانې باوري دي چې د اهل سنت او جماعت علماوو را ايستلې وي، ځکه هر بدعت کار او لار ورکی سړی چې خپله عقيده له قران کريم ځخه په خپل باطل ګمان سره راوباسي، نو هره معنا او د هر چا معنا چې له قران کريم ځخه يې را ايستلې وي د اعتبار وړ نه ده، بلکې معتبره هغه معنا ده چې د اهل سنت او جماعت علماوو له قران کريم او احاديثو ځخه فهم کړې وي.

د لوی عالم التوربشتي کتاب چې په نامه د (المعتمد فی المعتقد) دی د عقيدې د جوړولو او صحيح کولو لپاره ډېر ګټور او ښه کتاب دی خو لېکن په دغه کتاب کې دلايل ډېر او اوږد شوی دی نو فهم ورځخه يو څه سخت دی، او حقيقت کتابخانې دغه کتاب په خپله اصلي ژبه چې فارسي ده په {۱۴۱۰ ه} کال کې چې له {۱۹۸۹ م} کال سره سمون لري چاپ کړی، او د دغه کتاب ليکوال فضل الله بن الحسن التوربشتي يو حنفي فقيه و چې په{ ٦٦١ ه} کال کې چې له{١٢٦٣ م} کال سره سمون خوري وفات شوی دی.

زما(ليکونکي) هم دا فکر وو چې په دغه وخت کې په عقايدو کې يو کتاب وليکم چې د اهل سنت او جماعت عقايد پکې راغونډ شوي وي، او په اسانه توګه ترې پوهه او فهم وشي، نو که دغه کار چمتو او برابر شو نو موږ به تر ليکلو وروسته هغه د خلکو خدمت ته وړاندې کړو .

د عقيدې له جوړولو وروسته اړينه ده چې د حلالو، حرامو، فرضو، واجبو، سنتو، مستحباتو، مکروهاتو او غير له دې د نورو هغو شيانو علم چې د فقهي علم يې ضامن دی ترلاسه شي، او د دغه علم (فقهې) له غوښتنو سره سم عمل کول هم اړين دي، نو دا مناسبه ده چې ځينو طالبانو ته په دې امر وشي چې د فقهې ځينې فارسي کتابونه هم ووايي لکه (مجموعة الخاني) يا (عمدة الاسلام)[۲۱]

که چېرې په يوه اعتقادي مسأله کې خداي مه کړه يوه تېروتنه يا نيمګړتيا راشي نو دلته له اخروي نجات ځخه محروم والی راځي، بر خلاف د فرعي مسايلو ځکه په فرعي مسائلو کې که يو څوک تېروتنه وکړي يا غلط شي د دې اميد شته چې ده ته د دې له توبې پرته هم عفوه وشي، نو که په فروعي مسائلو کې کومه خطا وشي اخر نجات پيدا کېږي، نو تر ټولو اړينه دا ده چې هر مسلمان خپله عقيده برابره او صحيح کړي .

حضرت خواجه احرار(قدس سره) فرمايي که چېرې موږ ته ټول احوال او وجداني کيفيات راکړل

[۲۱] عمدة الاسلام کتاب د حقيقت کتابتون په خپله اصلي ژبه سره چې فارسي دی په {۰۱۴۱} کال کې چاپ کړی، او د نومورې کتاب ليکوال عبدالعزيز الدهلوي دی چې په {۱۴۷ ه} کال کې چې له {۰۴۳۱ م} کال سره سمون لري، وفات شوی دی.

شي خو زمورِ حقیقت د اهل سنت او جماعت په عقایدو باندې ښایسته نه وي نو مورِ دا عقیده لرو چې دغه ټول احوال او کیفیات نه دي مګر د الله جل جلاله له لوري ګمراهي ده، خو که چېرې په مورِ کې نیمګړتیاوې وي خو حقیقت مو په عقایدو د اهل سنت او جماعت باندې ښایسته وي نو بیا مورِ ته څه پروا نشته، الله جل جلاله د مورِ او تاسو ټولو ته په سبب د عزت د ګران رسول حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم سره په هغه مستقیمه او روښانه لار د اهل سنت او جماعت باندې ثبات او دوام راکړي.

په تحقیق سره د لاهور له دروېشانو یو تن د شیخ جیو پر وړاندې چې د نخاس په لرغوني مسجد کې د جمعې د لمانځه لپاره حاضر وو، وروسته له هغه چې شیخ ورته پاملرنه وکړه، د خلکو په مېنځ کې وویل چې نواب شیخ جیو خپل کور ته نږدې یوه جامع مسجد جوړ کړی چې د الله جل جلاله شکر ادا کوو او الله جل جلاله د ده ته نور توفیق هم ورکړي، او داسې ښه خبرونه د نور هم واورو چې د بې پایانه خوښۍ لامل کېږي. اې سردارہ! په دې وخت کې اسلام ډېر غریب شوی، نو د اسلام د پیاوړتیا لپاره په دې وخت کې د یوې روپۍ لګول له زرګونو دینارونو او درهمونو سره برابره ده، نو دا څه لویه نېکبختي ده چې یو څوک د دین په نشرولو او د ملت په پیاوړي کولو سره مشرف شي، پداسې حال کې چې دا کار په مینه او ښېګڼه په هر وخت او هر څوک ترسره کړي، خو پدې وخت کې چې د اسلام د غربت شپې او ورځې دي نو باید چې ستاسې پشان د همت، غیرت او د نبوت د خاندان غړي دا کار ترسره کړي، ځکه دا دولت به ستاسې له لوړې طایفې څخه نشرېږي او دا په تاسې کې ذاتي شتون لري، او په نورو خلکو کې عارضي شتون لري، او د نبوي وراثت حقیقت دا دی چې دا لوی امر ترلاسه کړل شي، لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي(انکم فی زمان من ترک عشر ما أمر به هلک ثم یأتي زمان من عمل بعشر ما أمر به نجا) ژباړه: تاسې په داسې یوه وخت کې ژوند کوئ که چېرې یو له تاسې لس هغه ځیزونه چې امر مې درته کړی دی پرېږدئ نو هلاک کېږئ، خو وروسته به داسې یو وخت راشي چې که یو څوک په هغه لسو ځیزونو چې ما یې امر کړی دی، عمل وکړي نو ژغورنه به ومومي. [دا حدیث د مشکاة المصابیح په لومړي ټوک او ۱۷۹ شمېره حدیث کې د الفتن په څېرکي کې راغلی دی] او دا هغه وخت او دا هغه قوم دی؛

راځئ اې اتلانو داسې وخت راغلی چې د غنیمتونو هېڅ دفاع کوونکي نشته

او همدارنګه یې د کوبند د لعین کافر او د هغه د ملګرو وژل په دې وخت کې غوره ګڼلي دي، چې دا کار د رټل شوو هندوانو لوبه ماتې وي، ولو که د دې کافر وژل په هر نیت او موخه ترسره شوي وای، ځکه د کافرانو ذلت د هغه وخت د مسلمانانو غوښتنه او نظر وو، چې همدا شان دې فقیر دروېش د دې کافر تر وژل کېدو د مخه خوب لیدلی وو چې د وخت پاچا د مشرکینو د مشر سر پرې کوي، چې په حقیقت کې د مشرکانو مشر او سرلاری همدا کافر وو الله جل جلاله د دوی خوار او سپک کړي، همدارنګه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم پخپلو ځینو دعاګانو کې مشرکان پداسې عبارتونو سره یاد کړي دي(اللهم شتت شملهم و فرق جمعهم و خرب بنیانهم و خذ هم أخذ عزیز مقتدر) ژباړه: اې الله د دوی ټولی سره وپاشې، او یووالی یې له منځه یوسې او د دوی ېښخ او بنسټ ونړوې او دوی په ټینګ نیولو سره ونیسه. پداسې حال کې چې د اسلام او مسلمانانو عزت او

لوړتیا د کافرانو په ذلت او خواری کې ده، پر همدې توګه له کفارو څخه د جزیې اخیستل د دوی د ذلت او سپکاوي لپاره ده، همدارنګه د مسلمانانو د ذلت او خواري په اندازه کافرانو ته عزت په برخه کېږي، نو په دې اړه اړین خبرداري ته اړتیا ده، او په تحقیق سره چې ډېرې خلکو د اسلام عزت او د کفر د ذلت مسئلې ته شا کړې ده او خپل دین یې په بدیو سره لکه تیت او پرک ګرد او غبار داسې ګرځولی دی، چې الله جل جلاله داسې فرمایي(یا ایها النبي جاهد الکفار والمنافقین واغلظ علیهم / التحریم: ۹) ژباړه: ای رسوله! له کافرانو او منافقینو سره جهاد او سخت چلند وکړه. نو له کفارو سره جهاد او سخت چلند کول د دین له اړتیاوو څخه دي، او د کفري رسم او رواجونو پاتې کېدل چې په تېره پېړۍ کې یې شتون درلود د مسلمانانو پر زړنو باندې ژوره اغېزه او دروندوالی کوي، او د وخت پاچا په دې وخت کې نشي کولای چې کفري ملت ته پاملرنه وکړي، نو په دې وخت کې پر هغو مسلمانانو باندې چې وړتیا لري لازمه ده د دې شریرو کسانو د رسم او رواج خلاف خپل پاچا اعلان کړي، او د دوی د شر د له منځه وړلو او مخنیوي لپاره اجتهاد وکړي، ځکه چې د دوی د بدو رواجونو پاتې کېدل پر دې دلالت کوي چې پاچا د هغه پر بد والي باندې علم نه لري، په ټوله کې کله چې یوه موقع برابره شي نو اړینه ده چې ځینې مسلمان عالمان خبر کړل شي تر څو د کفارو ناوړه او بد رسمونه او رواجونه بیان کړي، ځکه د عالم لپاره حتمي نه ده چې د شرعي احکامو د بیانولو لپاره له نوموړي څخه د عادت خلاف(خارق العاده) کرنې او کرامتونه څرګند شي، او یا دا چې د تصرف او توان نه لرلو عذر وړاندې کړي، پداسې حال کې چې د قیامت په ورځ د شرعي احکامو له بیانولو څخه د ډډې کولو خبر نه اوربدل کېږي، او په تحقیق سره انبیاء کرامو علیهم السلام چې تر ټولو مخلوقات غوره دي، د شرعي احکامو تبلیغ ترسره کړی، نو کله به چې یو چا له دوی څخه د معجزې او نښو نښانو غوښتنه وکړه نو دوی به ورته په ځواب کې ویل چې نښې نښانې او معجزې له الله جل جلاله سره دي(و ما علینا الا البلاغ المبین/ یس: ۱۷) ژباړه: پر موږ باندې له څرګند پیغام رسولو پرته نور څه مسؤلیت نشته. ممکن الله جل جلاله په دې وخت کې داسې یو امر او څه رامنځته کړي چې په ترڅ کې یې د ټولو ټولیو حقیقت په ډاګه شي، په هر حال؛ د شرعي مسایلو پر حقیقت باندې پوهېدل اړین دي، ځکه چې له شرعي مسایلو څخه په بې خبرۍ که لوېدل او داسې څه رامنځته کېدل د علماوو او د پاچا د نږدې کسانو پر ذمه دي، نو که چېرې ځینې خلک په دې لاره کې له کړاو سره مخ شي نو پر دوی باندې لازمي ده چې د اخروي سعادت د ترلاسه کولو لپاره ځانونه چمتو کړي، ایا نه وینې چې انبیاء علیهم السلام په دې لاره کې څه ډول کړاوونه وګالل او څه ډول مهنتونه یې وزغمل، تر دې پورې چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم وایي(هېڅ نبي ته داسې کړاو او زیان نه دی رسېدلی لکه ما ته چې رسېدلی).

شعر: عمر مې تېر شو خو زما خبرې او حقیقت پای ته ونه رسېد

شپه اخر ته ورسېده نو پر دې باندې بسنه او قناعت وکړه

دا جملې مې د علامه محمد مراد القازاني [۲۲] (الدرر المکنونات) کتاب څخه را نقل او ووېلې، نوموړی هغه څوک دی چې د (المکتوبات) کتاب یې له فارسي ژبې څخه عربي ته په دې نامه سره ژباړلی دی.

[۲۲] محمد مراد قازاني په ۱۳۵۲ هـ ق کال کې چې له [۱۹۳۳ م] کال سره سمون لري وفات شوی.

په هر مسلمان لازمه ده چې تر هر څه لومړی د اهل سنت عقیده زده کړي، او وروسته یې هغه کسانو ته چې د ده خبرو ته غوږ نیسي ور زده کړي، او غوره دا ده چې هغه کتابونه او رسالې چې په هغه کې د اهل سنت او جماعت د عالمانو قولونه او خبرې راغونډې شوې وي، خپلو ملګرو، خپلوانو او ځوانانو ته ولېږل شي او په لوستلو کې یې پوره هڅه وشي، او دا ډول کتابونه نشر او خپاره شي تر څو د اسلام د دښمنانو حقیقت او اصلي څېره راڅرګنده شي.

په حقیقت کې مورِ او د ځمکې پر مخ ټولو مسلمانانو د څلور لویو امامانو څخه د محمدي سپېڅلي شریعت غوره لاره زده کړې ده، هغه لاره چې کوږوالی نه لري او باطل پر هغه باندې غلبه نشي کولای. د یادو څلورو لویو امامانو له ډلې لومړی؛ امام اعظم ابو حنیفه نعمان د ثابت زوی دی، چې دی د اسلام یو تر ټولو لوی امام او د اهل سنت او جماعت پیرو دی، او د ژوندانه هر اړخیز معلومات یې د(السعادة الابدیة او طریق اهل السنة) په کتابونو کې په تفصیل سره شتون لري. نومورې امام په ۸۰ هـ ق کال کې چې له [٦٩٩ م] کال سره سمون لري په کوفه کې زېږېدلی او په ۱۵۰ هـ ق کال کې چې له [٧٦٧ م] کال سره سمون لري په بغداد کې وفات شوی.

دویم؛ امام مالک د انس زوی چې یو لوی او متبحر عالم دی په ۹۵ هـ ق کال کې چې له [۷۱۴ م] کال سره سمون لري په مدینه منوره کې زېږېدلی او په ۱۷۹ هـ ق کال کې چې له [۷۹۵ م] کال سره سمون لري همالته وفات شوی دی. دریم؛ امام محمد ابن ادریس شافعي چې د سني علماوو د سترګو یخوالی دی، په ۱۵۰ هـ ق کال کې چې له [٧٦٧ م] کال سره سمون لري د فلسطین په غزه ښار کې زېږېدلی او په ۲۰۴ هـ ق کال کې چې له [۸۲۰ م] کال سره سمون لري په مصر کې وفات شوی. او څلورم؛ امام احمد د حنبل زوی چې په ١٦٤ هـ ق کال کې چې له [۷۸۱ م] کال سره سمون لري په بغداد کې زېږېدلی، او همالته په ۲۴۱ هـ ق کال کې چې له [۸۵۵ م] کال سره سمون لري وفات شوی، او دی د اسلام د دین له ستنو څخه وو.

هر څوک چې په دې وخت کې په یو له څلورو امامانو پسې اقتدا ونکړي هغه په خطر او له نېغې لارې څخه کږېدونکی دی، له یادو امامانو مخکې نورو لویو علماوو هم شتون درلود، چې مذهبونه یې لرل خو دا چې خپل مذهبونه یې مدون(کتبي) نه کړل، د وخت په تېرېدو سره یې مذهبونه هېر او له منځه لاړل، د بېلګې په توګه له هغې ډلې اووه هغه فقیهان چې په مدینه منوره کې وو او عمر بن عبدالعزیز، سفیان بن عیینه [۲۳] ، اسحاق بن راهویه، داود طائي، عامر بن شراحیل شعبي، لیث بن سعد، اعمش، محمد بن جریر طبري، سفیان ثوري [۲۴] او عبدالرحمن اوزاعي د یادونې وړ دي.

همداشان ټول صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین پر حق او د لارښوونې مشالونه وو، او د دوی هر یو د ټولې نړۍ د لارښوونې لپاره بسنه کوله، او دوی ټول مجتهدین وو چې له هره یوه څخه یوه مذهب ترلاسه کېده، چې تر ډېره بریده د دوی د مذهبونو تر منځ ګډ ټکي او ورته والي شتون درلود، خو دا چې د دوی مذهبونه نه دی راغونډ شوي نو د هغوی د مذهبونو څخه تقلید کول مورِ ته اسانه او شوني کار نه دی، پداسې حال کې چې د څلورو ګونو امامانو شاګردانو د خپلو

[۲۳] سفیان بن عیینه په ۸۹۱ هـ ق کال کې چې له [۳۱۸ م] کال سره سمون لري په مکه مکرمه کې وفات شوی.

[۲۴] سفیان ثوري په ١٦١ هـ ق کال کې چې له [۸۷۷ م] کال سره سمون لري په بصره کې وفات شوی.

امامانو مذهبونه راټول، شرحه او په کتابونو کې يې د دوی عقيدوي او فقهي مسايل وليکل، نو پر دې بنسټ په هر مسلمان نارينه او ښځينه لازمه ده چې يو له دې ځلورګونو مذهبونو څخه غوره او تقليد يې وکړي او د ژوندانه ټولې چارې، عبادتونه او کړنلارې د هغه د غوښتونو سره سم ترسره او پلي کړي، نو ځوک چې د دې حق مذهبونو له ډلې د يوه مذهب د تقليد اراده ونه لري، هغه اهل سنت نه ګڼل کېږي، د لا زيات وضاحت لپاره نهم مخ ته مراجعه وکړئ.

د دې ځلورو لويو امامانو د شاګردانو له ډلې يې دوه تنه په ديني او عقيدوي علومو کې لوړو پوړيو ته رسېدلي دي، نو له همدې کبله يې دوه مذهبونه په عقيده کې رامنځته کړل چې دا دوه صحيح مذهبونه له قران کريم، نبوي سنتو او سالم ايمان سره سم اړخ لګوي، يوازې همدا دوه مذهبونه دي چې په سمه بڼه ديني علوم د ژغورل شوي ډلې(اهل سنت او جماعت) ځپروي او تر نورو يې رسوي، چې د لومړي مذهب بنسټګر حسن علي اشعري دی چې په ٢٦٦ هـ ق کال کې چې له [٨٨٠ م] کال سره سمون لري په بصره کې زېږېدلی او په ٣٣٠ هـ ق کال کې چې له [٩٤١ م] کال سره سمون لري په بغداد کې وفات شوی دی، د دويم مذهب بنسټګر ابو منصور محمد ماتريدی دی چې په ٣٣٣ هـ ق کال کې چې له [٩٤٤ م] کال سره سمون لري په سمرقند کې وفات شوی، نو په هر مسلمان نارينه او ښځينه باندې لازمه ده چې په عقيدوي مسايلو کې د پورته دوو يادو شوو امامانو تقليد او پيروي وکړي.

د الله جل جلاله وليان په حق لاره دي او له شريعت څخه د يوه وېښته په اندازه نه کږېږي. [په هره زمانه کې دجالان او دروغجن د ولي، مرشد او عالم په جامه کې ځانونه راڅرګندوي د دې لپاره چې مال، دولت او مقام ترلاسه کړي، نو دين د دنيوي بې ارزښته شيانو د ترلاسه کولو لپاره د وسيلې په توګه کاروي، نو همدارنګه په دې زمانه او ورځو کې هم په هر صنعت، کسب او مرتبه کې داسې بې شرمه او بد کسان پيدا کېږي چې له دوی سره په څنګ د ټولو نورو کسانو چې په حقيقت کې په رښتينولی سره خپل کار کوي نبايد د دې کوچنۍ ډلې له املې تورن کړل شي، ځکه دا کوچنۍ ډله خپلې ګټې نورو ته په زيان اړولو کې لټوي، نو پر دې بنسټ د نورو خلکو تورنول د دوی پخاطر ناپوهي او ناسم کار دی. او له بلې اړخه دا کار د دين له دښمنانو او مفسدينو سره مرسته کول دي، نو له دې کبله روا نه ده چې د مسلمانو عالمانو، صوفيانو او کاملو مرشدانو چې د تاريخ به اوږدو کې يې لوی خدمتونه ترسره او ثبت کړي دي، د دې ناپوه کسانو، په نوم عالمانو او د باطلې طريقو د پيروانو له املې يې په حق کې ژبه اوږده کړل شي. خو هغه کسان چې د دوی په حق کې خپلې ژبې اوږدوي ناسم او ناحقه کار کوي].

د وليانو کرامو لپاره کرامتونه ثابت، پر حقه او سم دي. لکه څرنګه چې امام يافعي [٢٥] وايي (د غوث ثقلين عبدالقادر جيلاني [٢٦] کرامتونه هر لوری ته خپاره شوي چې خوله په خوله له يو او بل څخه پداسې توګه نقل شوي چې له هغه څخه انکار کول شونی نه دی، او بله دا چې هېڅ شک او شبهه پکې د متواتر نقل او خپرېدو له املې ځای نه لري، نو دا د کرامتونو د ثبوت لپاره يو قوي سند ګڼل کېږي).

---

[٢٥] عبدالله يافعي په ٨٦٧ هـ ق کال کې چې له [٧٦٣١ م] کال سره سمون لري، په مکه مکرمه کې وفات شوی.

[٢٦] عبدالقادر جيلاني په ١٦٥ هـ ق کال کې چې له [١٦١١ م] کال سره سمون لري، په بغداد کې وفات شوی.

همداشان د هغه سړي کافر کښل چې لمونځ په داسې حال کې کوي چې تلفظ يې نه ليدل کېږي روا نه دی، او که داسې عمل ترسره کوي چې د کفر لامل کېږي خو دا معلومه نه وي چې ايا د کفر په حالت کې مړ شوی، نو پداسې چا باندې د لعنت ويل هم روا نه دي، او همدارنګه ولو که يو ځوک کافر هم وي نو لعنت وربانديې ويل روا نه دي، ځکه غوره دا ده چې لعنت ونه ويل شي.

د ايمان پنځم رکن

د ايمان له شپږګونو بنسټونو څخه پنځم بنسټ (واليوم الآخر) يعني د اخرت په ورځ ايمان درلودل دي، چې د انسان له مړينې سره سم د هغه اخرت پيل کېږي او د قيامت تر وروستي شېبې پورې ادامه پيدا کوي، د اخرت ورځې ته په دې سبب دا نوم ورکړل شوی چې تر قيامت وروسته بيا شپه نه راځي دا ځکه چې تر دنيا وروسته داسې ورځ راتلونکې ده چې هغه نه شپه ده او نه ورځ لکه څرنګه يې چې مورِ پېژنو بلکې له هغې ورځې څخه موخه ټاکلی وخت او پېر دی چې په حديث شريف کې ورته اشاره شوې ده. هېڅوک نه پوهېږي چې څه وخت قيامت کېږي او چېرته به وي؟ خو رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د قيامت د نړۍ کېدلو او قايمېدلو ډېرې نښې نښانې مورِ ته بيان کړې دي، چې له هغې ډلې د امام مهدي راڅرګندېدل، له اسمان څخه د شام پر ځمکه د عيسی عليه السلام راښکته کېدل، د دجال راتګ او څرګندېدل، د ځمکې په ګوټ ګوټ کې د ياجوج او ماجوج د فتنې خورېدل، د لوديځ لخوا د لمر راختل، د سختو او نړوونکو زلزلو کېدل، د دينې علومو هېرول او ورته شا ګرځول، د فساد، فسق او بې حيايۍ خورېدل، د داسې کسانو لاس ته ځواک او واک رسېدل چې ايمان، اخلاق او شرم به نه لري، د الله جل جلاله د اوامر او نواهيو د فرمان منلو بندول، د نړۍ په هر ګوټ کې له محرماتو ښځو سره زنا، د يمن له ځمکې څخه د اور راوتل، د اسمانونو او غرونو ماتېدل او ټوټه کېدل، د لمر او سپوږمۍ تندر نيول او د سمندرونو د اوبو يو له بل سره ګډېدل او بيا يې وچېدل.

د ګناهونو ترسره کوونکي مسلمان ته فاسق ويل کېږي، او ژر ده چې فاسقانو او کافرانو ته په قبرونو کې عذاب ورکړل شي، او په دې خبرو له ايمان راوړلو پرته چاره نشته، چې مړي وروسته له هغې چې په قبرونو کې کېښودل شي په داسې ژوند سره راژوندي کېږي چې مورِ انسانان يې په څرنګوالي نه پوهېږو، دا داسې ژوند دی چې يا به تل تر تله نېکبختي او خوښي او يا به بدبختي، عذاب او تباهي وي. لکه څرنګه چې په مبارکو احاديثو کې مورِ ته په غوڅ ډول په دې اړه بيان شوی دی، داسې چې په قبر کې انسان ته دوې ملايکې د ناپېژنده انسان په بڼه په ډېر ډارونکي شکل راځي او له مړي څخه پوښتنې کوي، ځينې علماء وايي چې په قبر کې به د ځينو عقيدوي چارو په اړوند پوښتنې کېږي، او ځينې نور علماء وايي چې د ټولو عقيدوي چارو په اړوند پوښتنه کېږي، [نو پر مورِ باندې لازمه ده چې خپلو اولادونو ته د قبر د پوښتنو ځوابونه ورزده کړو: (ستا رب څوک دی؟ دين د څه دی؟ پيغمبر د ځوک دی؟ د چا پر ملت يې؟ ته څوک يې؟ ستا د کتاب نوم څه دی؟ ستا قبله کومه ده؟ او د عمل او ايمان مذهب د څه دی؟) او همدارنګه په (تذکرة قرطبي)[۲۷] کتاب کې راځي ځوک چې د اهل سنت او جماعت له ډلې بهرون وي نو ددې پوښتنو سم ځواب نشي ورکولای، او هر ځوک چې ددې پوښتنو سم ځواب ورکړي نو د ده لپاره به قبر پراخ شي او خپل

[۲۷] محمد القرطبي المالکي د دې کتاب ليکونکی چې په کال ٦٧١ هـ ق[١٢٧٢ م] کې وفات شوی دی.

ځای به په جنت کې سهار او بېګا ویني او له ده سره به پرښتې نېک چلند کوي او ده ته به ښه زېری ورکوي، خو برعکس هغه ځوک چې ددې پوښتنو سم ځواب ورنکړي، نو پرښتې به يې د اور په اوسپنيز پلک(مارتول) ووهي پداسې توګه چې پرته له انسانانو او جنياتو نور ټول مخلوقات به يې چيغې واوري، او پر ده باندې به قبر دومره راتنګ شي چې ځينې هډوکي به يې په ځينو نورو کې ننوځي، او ده ته به په قبر کې له دوزخ څخه يوه دريڅه پرانيستل شي چې سهار او بېګا به په دوزخ کې خپل ځای ويني او په دې سره به د قيامت تر ورځې پورې عذاب ورکول کېږي.

همداراز له مرګ څخه وروسته پر بيا را ژوندي کېدلو ايمان راوړل لازمي ده، او انسان ته به يې غوښې او هډوکي وروسته له هغې چې پر ايرو او ګاز بدل شوي وو بېرته راوګرځي او داسې به شي لکه څرنګه يې چې په دنيا کې پر بدن غوښې او هډوکي وو، او روح به بېرته بدنونو ته راوګرځي او له خپلو قبرونو څخه به راپاڅېږي، نو پر همدې بنسټ دې ورځې ته (د قيامت ورځ) ويل کېږي.

[نباتات له هوا څخه کاربن ډای اکسايد او له خاورې څخه اوبه او مالګې جذبوي، يعنې نباتات خپل د ژېتيا وړ مواد له هوا او خاورې څخه ترلاسه کوي، چې د دې مواد له ترکيب څخه عضوي جسمونه رامنځته کېږي چې له هغې څخه بيا زموږ د بدن د غړو بنسټيز مواد رامنځته کېږي، چې نن ورځ علمي تجربو او کيمياوي تعاملونو دا خبره په ثبوت رسولې ده، لکه څرنګه چې کيمياوي تعامل له يوې ثانيې څخه په کمه موده کې د يوې کيمياوي مادې پر مټ چې (کتلست) نومېږي ترسره کېږي، همداراز الله جل جلاله په قبر کې عضوي جسمونه او ژوندي موجودات د سترګو په رپ کې له اوبو او د کاربن ډای اکسايد د غاز له اوکسيديشن څخه له خاورينو او د هوا له موادو څخه راټولوي او پيدا کوي، او په تحقيق سره چې موږ ته دا رښتينی خبر رارسېدلی، ژر ده چې موږ به له قبرونو څخه هم پداسې توګه را پورته شو لکه څرنګه چې موږ په دې نړۍ کې فني او تخنيکي علوم ګورو او تجربه کوو يې].

د قيامت په ورځ به ټول ژوندي مخلوقات د محشر پر ميدان راټول کړل شي، او هر چا ته به يې د عملنامه په الوتونکې توګه راشي. چې ددې ټولو چارو ترسره کوونکی د لوی قدرت څښتن الله جل جلاله دی چې ځمکې، اسمانونه، ډرې او ستوري يې پيدا کړي دي، لکه څرنګه چې ددې پېښو له پېښېدو څخه رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته خبر راکړی او د هغه صلی الله عليه وسلم خبرې له شک پرته رښتينې او حق دي، نو د نېک عمله خلکو عملنامې به له ښي اړخ(ښي لاس کې) ورکړل شي، او د بد عمله (فاسقانو) او ګنهکارانو عملنامې به د شا لخوا او په کين لاس کې ورکړل شي، چې په دې عملنامو کې به ټول کوچنۍ، غټې، ښکاره او پټې عملونه ليکلي وي، او دوی ته به هغه پرښتې(کرام الکاتبين) چې د اعمالو د ليکلو دنده يې پر غاړه وه او دوی به مخکې نه وي ليدلې پدې ورځ پداسې حال کې چې د بدن غړي به په خبرو راولي څرګندې شي، او الله جل جلاله پر هر څه عالم او خبر ذات دی. ژر ده چې له يو چا څخه به د ټولو ځيزونو پوښتنه او ورسره حساب وشي، او هېڅ پټ راز به د محشر په ورځ که چېرې يې الله جلاجلاله د څرګندولو اراده کړې وي پټ پاتې نه شي. همدارنګه به الله جل جلاله پرښتو ته ووايي چې تاسې په اسمانونو او ځمکو کې څه وکړل؟ او پيغمبرانو عليهم السلام ته به وفرمايي چې تاسې د الله جل جلاله دين او احکام څرنګه بنده ګانو ته ورسول؟ بيا به له ټولو انسانانو څخه وپوښتي چې تاسې په څه ډول د رسولانو عليهم

السلام پیروي وکړه او د دوی لخوا په دروړاندې شوو شریعتونو مو ځنګه عمل وکړ؟ او خپلو منځونو کې مو یو د بل حقوق ځنګه ادا او پر ځای کړل؟ نو الله جل جلاله به مؤمنانو، نېک عمله او د غوره اخلاقو لرونکو کسانو ته نېکي او اجر ورکړي، او هغوی چې بد اخلاقه او د بد عملونو څښتن وو نو الله جل جلاله به یې په دردناک عذاب سره د محشر په ورځ سزا ورکړي، همدارنګه به الله جلاله ځینو کسانو ته چې کوچني ګناهونه یې ترسره کړي وي پخپل عدالت سره د ګناهونو سره سم عذاب ورکړي، او ځینو ته یې که خوښه شي بخښنه به ورته وکړي. که چېرې د الله جل جلاله خوښه شي نو مؤمنو بنده ګانو ته به له شرک پرته ټول کوچني او غټ ګناهونه پخپل رحمت او نیکۍ سره وبخښي او که یې خوښه شي نو د کوچنۍ ګناه له امله به هم عذاب ورکړي، لکه څرنګه چې الله تعالی په قران کریم کې داسې فرمایلي دي: (ان الله لا یغفر ان یشرک به و یغفر ما دون ذلک لمن یشآء و من یشرک بالله فقد افترى اثما عظیما * النساء: ۴۸) ژباړه: بېشکه الله جل جلاله هغه چا ته چې له الله جل جلاله سره شریک ونیسي بخښنه نه کوي او هغه ګناه چې له شرک څخه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي بخښي یې، او څوک چې له الله جل جلاله سره شریک ونیسي، نو یقینا هغه ډېره لوېه ګناه جوړه او ترسره کړه.

کفار په دوه ډوله دي کتابي او غیر کتابي، هغوی چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پیغمبري او ټولو انسانانو ته یې را استول نه مني او د هغه له لوري چې دوی ته د الله جل جلاله کوم امرونه او منع کړل شوي ځیزونه وړاندې شوي وي خوښ نه کړي، پداسې حال کې که چېرې له یوه امر یا نهی څخه هم انکار وکړي نو د دوی ځای به تل تر تله دوزخ وي.

د قیامت په ورځ به د عملونو او کړنو د وزن لپاره تله(میزان) کېښودل شي، چې د لویو علماو په اند دا تله دوې پلې، یو بازو او یوه ژبه لري، که چېرې یې په یوه پله کې ځمکه او اسمان کېښودل شي بیا به هم دا پله ډکه نه شي، د نیکیو پله به په ځلېدونکي او رڼا بڼه د عرش ښي اړخ د جنت لوري ته او د بدیو پله به په تیاره بڼه د عرش کېنې اړخ د دوزخ لوري ته وي، او د خلکو عملونه، خبرې، فکرونه او لیده کاته چې په دنیا کې یې ترسره کړي وي په هغه کې وزن کړل شي، پداسې توګه چې نیکیو ته به ښکلې او ځلېدونکې بڼه(شکل) او بدیو ته به تیاره او بده بڼه(شکل) ورکړل شي، دا تله د دنیا د تلې په څېر نه ده بلکې برعکس درنده پله به پورته خوا ته ځي او سپکه پله به لاندې خوا ته ځي.

خو ځینې لوی علماء پدې اند دي چې هلته به ډېرې تلې وي، او ځینې نور وایي چې شریعت د تلو د شمېر او څرنګوالي په اړه څه نه دي ویلي یوازې د شتون خبره یې کړې ده، نو پر دې بنسټ په دې موضوع کې چوپتیا غوره کول واجب دي.

همدارنګه (صراط) یا پل صراط حق او ثابت دی، چې د الله جل جلاله په امر د دوزخ له پاسه یو اوږد پل دی، چې الله جل جلاله به ټولو ته د هغه پر ډډه(مېنځنۍ برخه) د تېرېدلو امر وکړي او په دې ورځ به ټول انبیاء کرام او پیغمران علیهم السلام د دې کلمې (یا ربّ سلم) یعنې اې خدایه مور وژغوره، په ویلو سره وژغوري، او جنتیان به په دې پل سره په اسانۍ سره تېر او جنت ته به داخل شي، چې ځینې د دوی به لکه بریښنا، ځینې لکه باد او ځینې لکه تېز اس داسې پر پل صراط باندې تېر شي، دا پل تر وېښته نازک او تر توره تېره دی، چې په دې دنیا کې یې بېلګه په شریعت

باندې د عمل کولو په څېر ده، لکه څرنګه چې په شریعت باندې بشپړ عمل کول داسې دی لکه په صراط باندې تېرېدل، نو هغه کسان چې له نفس سره د مقابلې په لاره کې کړاونه ګالي نو هغوی به د صراط پر پل په بشپړ اطمینان او راحت سره هلته تېر شي، او هغه څوک چې په شریعت باندې بشپړ عمل نه کوي بلکې د نفسي غوښتنو پر بنسټ ژوند کوي نو د صراط پر پل باندې د تېرېدو په وخت کې به له ډېرو ستونزو او سختیو سره مخامخ شي، نو پر همدې بنسټ الله جل جلاله سمه او نېغه لاره په (صراط مستقیم) سره نومولې ده، چې ددې نوم ورته والی مور ته دا په ډاګه کوي چې په شریعت باندې منګولې خښول او د هغه له غوښتنو سره سم تګ او عمل کول داسې مثال لري لکه د پل صراط پر ډډه تېرېدل، چې د دوزخیانو پښې به د صراط پر پل ښویېږي او لاندې به دوزخ ته لوېږي.

په ځانګړې توګه رسول اکرم مصطفی صلی الله علیه وسلم ته (حوض کوثر) ورکړل شوی دی، چې پلن والی یې د یوې میاشتې مزل په اندازه، اوبه یې تر شیدو سپینې، بوی یې تر مشکو غوره او لوښي یې تر ستورو ډېر دی، چې څوک د دې حوض اوبه وڅښي نو هغه به هېڅکله تږی نشي اګر که په دوزخ کې هم وي.

همدارنګه شفاعت حق دی، چې نبیان، پیغمبران، ولیان، نېک عمله بنده ګان، پرښتې او هر هغه څوک چې الله جل جلاله د شفاعت کولو اجازه ورکړې وي ددې لپاره چې د هغه مؤمنانو د لوبو او کوچنیو ګناهونو شفاعت وکړي چې مخکې له توبې کولو ځخه مړه شوي وي او د دوی شفاعت قبولېږی، [لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي (شفاعتي لأهل الکبائر من أمّتي) ژباړه: زما شفاعت د هغه امتیانو لپاره دی چې لوی ګناهونه یې ترسره کړي وي.]

د قیامت په ورځ شفاعت په پنځه ډوله دی:

لومړی د هغه ګنهکارانو لپاره شفاعت چې له اوږده ځنډ وروسته د محشر پر ځمکه ناري وهي او غواړي چې له دوی سره ژر تر ژره حساب وشي نو د دې لپاره به د دوی شفاعت وشي.

دویم د دې لپاره شفاعت چې له دوی سره ژر حساب او اسانه پوښتنې ترې وشي.

دریم د دې لپاره شفاعت چې هغه مؤمن ګنهکار بنده ګان چې په پل صراط باندې تېرېږي په دوزخ کې ونه لوېږي او د دوزخ له اور ځخه وژغورل شي.

څلورم د دې لپاره شفاعت تر څو هغه ډېر ګنهکار مؤمن بنده ګان چې په دوزخ کې دي له دوزخ ځخه راوایستل شي.

پنځم ډول شفاعت به په جنت کې وي هغه جنت چې هلته د نعمتونو پای او شمېر نشته او هر څوک چې یو ځل وردا خل شي نو هغه تل تر تله نېکمرغه شو، مګر دومره خبره ده چې په جنت کې اته درجې دي، چې هره درجه به د جنتي د ایمان او عمل په پرتله وي نو د دې لپاره چې د جنتیانو درجې لوړې شي د دوی شفاعت کېږي.

جنت او دوزخ اوس هم شتون لري چې د دواړو لپاره ثبوت هم شتون لري، چې جنت له اووم اسمان برسېره دی او دوزخ د ټولو شیانو لاندې دی، جنتونه اته او دوزخونه اووه دي، جنت له ځمکې او لمر دواړو څخه پراخه دی خو دوزخ یوازې له لمر څخه لوی دی.

د ایمان شپږم رکن

د ایمان له شپږګونو بنسټونو څخه شپږم بنسټ یا رکن دا دی چې(په تقدیر او دا چې خیر او شر د الله جل جلاله له لوري دي ایمان ولرې) دا ځکه چې د انسانانو ټول د خیر او شر، ګټې او زیان، کار او تاوان د الله جل جلاله په تقدیر او اراده پورې اړه لري، او (قدر) د اندازې، ډېروالي، حکم او امر په معنا سره دی او همدارنګه د ډېروالي او لویوالي په معنا سره هم دی، او د یوه شي د رامنځته کولو لپاره د الله جل جلاله ارادې او خوښې ته (قدرا) ویل کېږي، او (قضاء) هغه څه ته ویل کېږي چې په تقدیر سره یې د رامنځته کېدلو اراده شوې وي.

قضاء او قدر هغه کلمې دي چې یو د بل پر ځای استعمالېږي، نو پر دې بنسټ د قضاء معنا دا ده چې: په تحقیق سره چې ټول مخلوقات له ازله تر ابده پورې د الله جل جلاله په خوښه او ازلي(تل تر تله) اراده سره دي، چې له قضاء سره سم د دې مخلوقاتو پیدا کولو او خلقت ته پرته له کوم کموالي او ډېروالي قدر ویل کېږي، ځکه چې الله جل جلاله په ازل کې (چې د هغه لپاره پیل نشته) عالم وو، چې د الله جل جلاله دې علم ته قضاء ویل کېږي، چې فیلسوفان یې د (تل تر تله یا ازلي پاملرنې) په نامه سره یادوي، ټول کاییناتو د همدې قضاء په پایله کې پیدا شوي دي، چې د دې علم سره سم د ځیزونو او کاییناتو رامنځته کېدلو ته قدر ویل کېږي، نو په قدر باندې د ایمان لرلو له املې واجب ده چې تر هر څه لومړی پر هغه باندې علم او ایمان حاصل شي، ځکه الله جل جلاله چې د کوم شي چې په ازل کې شتون ولري د پیدا کولو اراده وکړي نو د هغه شي رامنځته کېدل پرته له کموالي او ډېروالي ځرنګه یې چې الله جل جلاله اراده کړې وي حتمي او لازمي ګرځي، د هغه شي رامنځته کېدل ناشوني دي کوم چې الله جل جلاله یې د نه رامنځته کېدلو اراده کړې وي، او د هغه شي نه رامنځته کېدل ناشوني دي چې الله جل جلاله یې د رامنځته کېدلو یا شتون اراده کړې وي.

ټول ځاروي، بوټي او کاییننات چې روح نه لري[یعنې جامدات، مایعات، غازونه، ستوري، مرکبونه، عناصر، ذرې، الکترونونه او الکترو مقناطیسي موجودات، لنډه دا چې د ټولو موجوداتو حرکتونه، فزیکي تغییرات، کیمیاوي او هستوي تعاملونه، د بربښنایي قوې لېږد او فزیولوژیک لاملونه د ژوندیو موجوداتو] او د ټولو موجوداتو رامنځته کېدل او نه رامنځته کېدل، د بنده ګانو د عملونو ښه والی او بد والی او په هغه باندې په دنیا او اخرت کې د دوی مجازات کول او نور ټول شیان له ازل ځخه د الله جل جلاله په علم کې وو، او الله جل جلاله پدې ټولو شیانو باندې له ازله عالم دی، همداراز الله جل جلاله ټول هغه څه چې پیدا به شي او یا به وروسته پیدا نه شي د هغوی ټولې ځانګړتیاوې، حرکتونه او رامنځته کېدل د الله جل جلاله د ازلي علم سره سم ترسره کېږي.

د بنده ګانو د ټولو نېکو او بدو کړنو پیدا کوونکی او د هغوی لخوا د اسلام منل او انکار کول د هغه جل جلاله په اراده سره دي، او د دې مخلوقاتو ټول اختیاري او غیر اختیاري عملونه هغه خدای جل جلاله چې یو دی پیدا کړي دي، همدارنګه ټول مخلوقات او هغه سببونه چې په هغه سره شیان رامنځته کېږي پیدا او رامنځته کړي، او د هر شي لپاره یې یو سبب ګرځولی دی.

د بېلګې په ډول؛ اور سوځونکی دی پداسې حال کې چې سوځونکی په حقیقت کې الله جل جلاله دی او اور له سوځولو سره هېڅ تړاو نه لري، لېکن د الله جل جلاله سنت او عادت دا دی چې

تر هغه وخته یو شی نه سوځېږي تر څو چې اور نه وي پرې لګېدلی.

[اور پرته له دې چې د سوځولو لپاره یوازې ټاکلې اندازه تودخې چمتو کړي نور هېڅ نه کوي، او نه هم اور عبارت له دې څخه دی چې د کاربن او هایدروجن ترمنځ (چې د عضوي جسمونو په جوړښت کې شتون لري) له اوکسیجن سره یې تړاو یا رابطه رامنځته کړي، او نه دا چې د الکترونونو د لېږد رالېږد لامل وګرځي کوم چې مور یې په سترګو نه وینو، خو مور یې داسې انګیرو چې دا د اور د سوځولو پایله ده، ځکه د اور سونکی، رامنځته کوونکی او د تودخې لېږدونکی په حقیقت کې اور، اوکسیجن، تودخه او الکترونیکي تغییرات نه، بلکې سوځونکی یوازې او یوازې هغه الله جل جلاله دی چې د هر څه د سوځولو لپاره یې لاملونه پیدا کړي دي، پداسې حال کې چې ناپوه او جاهل کس داسې فکر کوي چې د هر څه سوځېدل د اور له امله دی. لکه څرنګه چې د ابتدایه ښوونځي څخه فارغ زده کوونکي ته دا کومه د حیرانتیا وړ خبره نه ده چې اور سوځونکی دی بلکې وایي چې هوا سوځونکي ده، د منځنۍ ښوونځي څخه فارغ زده کوونکی بیا دا خبره چې (هوا سوځونکي ده) د حیرانتیا وړ نه ده او وایي چې سوځونکی په حقیقت کې هغه اوکسیجن دی چې د هوا په ترکیب کې شتون لري، او د لېسې څخه فارغ زده کوونکی بیا وایي چې سوځېدل یوازې په اوکسیجن پوره اړه نه لري بلکې هر هغه څه چې الکترون جذبوي سوځونکي دي، خو د پوهنتون محصل پدې اعتبار سره ګڼي چې د مادې د انرژۍ ځواک په پایله اور منځته راځي، څرنګه چې وینو هر څومره چې پوهې کچه لوړېږي په هماغه اندازه د مسئلې حقیقت او ماهیت ته نږدې کېږو او ډېرې داسې لاملونه په ګوته کېږي چې هغه د سوځولو لامل ګڼو، خو دا چې په حقیقت کې انبیاء او رسولان علیهم السلام د علم او هنر په اوج(لوړه درجه) کې ځای لري او پر حقیقتونو بشپړه پوهه لري، چې مسلمانو عالمانو هم د دې پیغمبرانو لاره ځارلې او د دوی له اثارو یې علم ترلاسه کړی دی پدې پوهېږي کوم چې نن ورځ په صنعت(تولید) کې پېژندل کېږي، چې په حقیقت کې دې ته ورته شیان له دې څخه عاجز، ناتوانه او پس پاتې دي چې سوځېدل رامنځته کړي، او دا شیان یوازې د سوځولو لپاره وسیله دي او په حقیقت کې د سوځولو رښتینی پیدا کوونکی، جوړونکی او رامنځته کوونکی یوازې او یوازې الله جل جلاله دی او نور ټول شیان پرته له دې چې الله جل جلاله د سوځولو لپاره یوه وسیله ګرځولې نور څه نه دي] او سوځونکی یوازې الله جل جلاله دی که چېرې وغواړي نو له اور پرته په بل څه هم سوځول کوي، بلکې د الله جل جلاله سنت پر دې سره جاري دی چې اور به سوځول کوي، خو که چېرې د یوه شي د نه سوځېدلو اراده وکړي هغه شی که په اور کې هم وي نه سوځېږي، لکه څرنګه چې الله جل جلاله ابراهیم علیه السلام په اور کې له سوځېدلو څخه وساته او له هغه(ابراهیم خلیل الله) سره د دېرې مینې له امله یې خپل سنت(عادت) ته بدلون ورکړ[لکه څرنګه چې الله جل جلاله داسې مواد هم پیدا کړي چې د اور د سوځېدو مخه نیسي او د اور په مقابل کې خنډ کېږي چې کیمیا پوهان دا مواد پېژني].

که چېرې الله تعالی غوښتی وای نو هر څه به یې پرته له سبب پیدا کړي وای، داسې چې سوځېدل به پرته له اوره، مړښت به پرته له ډوډۍ او الوتل به پرته له وزرونو کېدلای، همداراز له لیرې واټن څخه به پرته له راډیو اورېدل کېدلای شوای، بلکې دا د الله جل جلاله پر خپلو بنده ګانو لویه مهربانۍ او لورېنه ده چې د هر څه لپاره یې یو لامل او سبب پیدا کړی دی، همدارنګه یې د ټاکلو

شیانو لپاره ټاکلي لاملونه پیدا کړي دي، او الله جل جلاله خپل افعال په لاملونو(سببونو) کې پټ کړي دي، همدا راز یې قدرت تر اسبابو لاندې پټ کړی دی، نو که څوک غواړي چې الله تعالی یو څه پیدا کړي نو اسباب به په کار اچوي تر څو هغه شي ته ورسېږي [که څوک غواړي چې څراغ بل کړي نو باید چې له ګوګړو څخه ګټه واخلي، یا که څوک غواړي چې له زیتون څخه غوړي ترلاسه کړي نو باید چې نښتېزونکې(اېستونکې) الې څخه ګټه واخلي، څوک چې سر درد وي نو اسپرین ګولۍ خوري او هر هغه څوک چې غواړي جنت ته داخل او د بې پایانه نعمتونو څخه برخمن شي نو اړ دی چې په محمدي شریعت باندې منګولې ټینګې کړي، څوک چې د ځان په لوري مرمۍ فیر کړي نو په هغه سره مړ کېږي، څوک چې زهر وڅښي مړ کېږي، څوک چې خولې وي او اوبه وڅښي نو ناروغ کېږي، څوک چې ګناهونه ترسره کړي او یا کافر شي نو دوزخ ته غورځول کېږي، لنډه دا څوک چې په کوم سبب باندې عمل کوي د هغه مرام او موخې ته د هماغه سبب په وسیله رسېږي، څوک چې اسلامي کتابونه لولي له هغه څخه اسلام زده کوي او له هغه سره یې مینه پیدا کېږي او بلاخره یو غوره مسلمان ترې جوړېږي، خو که څوک د کفارو او ملحدینو په مېنځ کې ژوند اختیار کړي او د دوی خبرې واوري نو له دین څخه ناخبره کېږي او ډېرى ناپوه کسان کفر غوره کوي، او انسان د موټر په وسیله هر هغه ښار ته چې اراده یې کړې وي رسېږي].

که چېرې الله تعالی افعال په اسبابو سره نه وای پیدا کړي نو هېڅوا به بل چا ته اړتیا نه لرلای، او هر چا به خپلې ټولې اړتیاوې له الله جل جلاله څخه غوښتلای او هېڅ ډول اسباب به یې نه کارول. نو پدې صورت کې به د انسانانو ترمنځ هېڅ ډول تړون او رابطه نه وای پاتې شوې، لکه د امر او مامور، کارګر او کارفرما ،زده کوونکي او استاذ تر منځ چې کوم تړون شتون لري او داسې نور ورته شیان، نو پدې توګه به د دنیا او اخرت نظم ګډوډ شوی وای او د ښه او بد، ګنهکار او فرمانبردار او ښېګڼې او بدۍ تر منځ به توپیر نه وای پاتې شوی.

که چېرې الله تعالی وغواړي چې خپل عادت بل ډول ته واړوي داسې چې ټول شیان پدې بنسټ پیدا کړي د بېلګې په توګه؛ که وغواړي چې کافران، د نفس او شهوت پیروان، ظالمان او دوکه ورکوونکي جنت ته داخل کړي نو دوی به یې وردا خل کړي وای، او برعکس یې مؤمنان، عبادت کوونکي او نېکي کوونکي بنده ګان دوزخ ته داخل کړي، خو د قران کریم په مبارکو ایتونو او د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په مبارکو حدیثونو کې موږ ته بیان شوې ده چې الله تعالی ددې برعکس اراده لري.

الله جل جلاله د انسان ټول اختیاري او غیر اختیاري حرکتونه او افعال پیدا کړي دي، همدارنګه یې په بنده ګانو کې اراده پیدا کړې ده ددې لپاره چې د هغه په وسیله اختیاري حرکتونه او کړنې رامنځته کړي، چې د دوی دا اراده یې د کړنو د ترسره کولو لپاره یو سبب او لامل ګرځولی دی، نو کله چې یو بنده اراده د یوه کار د ترسره کولو اراده وکړي او الله تعالی ورته د دې کار د ترسره کولو اراده کړې وي نو هغه کار او شی ورته پیدا کوي او که چېرې بنده د هغه کار اراده ونه کړي او الله تعالی یې هم اراده نه وي کړې نو هغه کار او شی نه پیدا کوي. او یوازې د بنده په اراده سره یو شی نه پیدا کېږي تر هغه وخته چې الله جل جلاله یې د پیدا کولو اراده نه وي کړې، همدا شان الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته اختیاري افعال پیدا کړي دي، او له اور سره د شیانو د تماس په حالت کې یې په هغوی کې د سوځولو قوه پیدا کړې، پداسې حال کې چې له اور سره د نه لګېدلو په صورت

کې يې د سوځېدو قوه پکې نه ده پيدا کړې، الله جل جلاله پرې کول پيدا کړي دي، خو هغه وخت يو شی پرې کېږي چې په چاړه او تېره شي ووهل شي، پداسې حال کې چې چاړه غوڅونکې نه ده بلکې الله جل جلاله غوڅونکی دی او چاړه يې د غوڅولو لپاره يوه وسيله او سبب ګرځولې ده، د دې مثالونو معنا دا شوه چې په حقيقت کې الله جل جلاله د بنده ګانو لپاره اختياري حرکتونه او کړنې د دوی د ارادې او اختيار په سبب پيدا کړي دي، خو ځينې طبيعي حرکتونه د بنده ګانو په اختيار او اراده پورې اړه نه لري بلکې هغه يوازې د الله جل جلاله په اراده سره دي او په ځانګړو سببونو يې پيدا او رامنځته کړي دي، او دی جل جلاله د لمر، اتومونو، ځاځکو، نسجونو، ميکروبونو او بکتريوو او ټولو جزياتو او کلياتو او د دې شيانو د ځانګړنو او حرکتونو يوازينی پيدا کوونکی دی.

له الله جل جلاله پرته بل پيدا کوونکی او خالق نشته، د غير ژوندیو شيانو او انسانانو او ارادي حيواناتو د حرکت تر منځ توپير دا دی چې کله انسان د يوه کار ترسره کول وغواړي او د الله تعالی هم د دې کار ترسره کول ورته خوښ او اراده وي نو الله تعالی ورته هغه شی او کار پيدا کوي او پدې کار او فعل سره هغه ته توان او توفيق ورکوي، پداسې حال کې چې انسان له پخپل سر او له خپله ځانه هېڅ کار نه شي ترسره کولای، او له ده سره هېڅ ډول معلومات نشته چې څرنګه حرکت او کار ترسره کړي [د انسان حرکتونه له ډېرو کيمياوي او فزيکي تعاملونو او پېښو وروسته رامنځته کېږي] د هغو غير ژوندیو موجوداتو په حرکتونو کې چې روح نه لري هېڅ ډول اختيار شتون نه لري، د بېلګې په توګه؛ د اور په وسيله د يوه شي سوځېدل د اور په اراده نه دي[الله تعالی د بنده ګانو لپاره هغه څه پيدا او خوښوي چې ګټه ورته رسوي، هغوی چې له ارادې او خوښې سربېره الله جل جلاله ورسره مينه لري او رحم ورباندې کوي، او دوی ته بد کارونه او کړنې چې زيان يې پکې وي او دوی يې اراده کړې وي نه پيدا کوي، او له ټولو بنده ګانو څخه غوره او ګټمن کارونه صادرېږي، او که چېرې نېک کارونه ترې پاتې شي نو ورباندې خپه کېږي، نو که چېرې بنده ګان پدې پوهيدلای چې کوم کارونه او کړنې چې د تاوان او زيان له امله يې الله جل جلاله نه پيدا کوي نو دوی به د هغه کارونو او کړنو په نه پيدا کېدلو نه خپه کېدلای بلکې په هغه به خوشحاله کېدلای او د الله جل جلاله شکر به يې ادا کولو، خو لېکن الله جل جلاله په ازل کې دا فيصله او اراده کړې وه چې بنده ګانو ته به هغه څه پيدا کوي کوم چې دوی يې خوښوي او اراده يې ورته کړې وي، همدارنګه د الله جل جلاله اراده پرې لاسبرې وه، خو که چېرې په ازل کې دا نه وی(چې د بنده د خوښې او ارادې سره سم ورته الله جل جلاله شی پيدا کړي) نو الله جل جلاله به زمور ارادي کارونه په زور(زمور له خوښې پرته) پيدا کولای، پداسې حال کې چې الله جل جلاله زمور ارادي کارونه هغه وخت پيدا(خلق) کوي چې کله يې مور نيت او اراده وکړو، چې دا د الله جل جلاله د ازلي ارادې او خوښې څخه وو، نو د الله تعالی اراده او خوښه پلې کېدونکې او ترسره کېدونکې ده].

د بنده ګانو ارادي کړنې له دوو ځيزونو څخه رامنځته کېږي: لومړی د بنده په اراده او قدرت سره، چې له دې امله يې د بنده ګانو کړنې(فعلونه) په (کسبي يا ترلاسه کوونکو کړنو) سره نومولي دي او کسب(ترلاسه کول) د انسان يو صفت دی، دويم د الله جل جلاله په اراده سره. پدې توګه ټول اوامر، نواهی(منع کړل شوي) اجر او عذاب په انسان کې د کسب(ترسره کولو) د صفت له امله دي، لکه څرنګه چې الله جل جلاله د صافات سورت په شپږ اتيايم ايت کې فرمايي: (والله خلقكم و ما تعملون) ژباړه: الله جل جلاله تاسې او هر هغه څه چې تاسې ترسره کوئ پيدا کړي دي. له

دې مبارک ایت شریف څخه څرګندېږي چې په تحقیق سره د بنده ګانو په کړنو کې یوازې د دوی (جزئي اراده) یعنې د کَسب صفت شتون لري، او له دې څخه په ډاګه د زور او جبر نشتوالی ثابتېږي چې پر دې بنسټ یې فعل د (انسان فعل) نومولی دی، د بېلګې په توګه چې وایو علي وهل وکړل او علي مات کړل، چې له دې مثال څخه په قضاء او قدر باندې د هر څه رامنځته کېدل جوتېږي.

تر هر څه لومړی اړینه ده چې د یوه کار د ترسره کولو لپاره بنده اراده وکړي او هغه رامنځته کړي، چې دا اراده یو کسبي(ترسره کوونکی) عمل نومول کېږي، لکه څرنګه چې خدای بخښلی الآمدي داسې وایي: کسب یا د کار ترسره کول د افعالو د رامنځته کېدلو لامل او پر هغوی کې اغېز کوي، او دا خبره یې چې دا کسب د انسان په اختیاري افعالو(کړنو) باندې اغېز نه کوي، لومړی خبرې ته زیان نه اړوي ځکه چې د مخلوق فعل او هغه فعل چې یوه بنده یې د ترسره کولو اراده کړې وي یو شی دي ترمنځ یې توپیر نشته، پدې معنا چې بنده هر څه چې وغواړي نشي ترسره کولای او کېدای شي هغه شی پېښ شي چې انسان یې اراده نه لري. او په بنده ګي سره دا حتمي نه ده هر څه چې بنده غواړي پېښ او ترسره شي، او څه چې نه غواړي ترسره نه شي، بلکې دا ډول غوښتنې د ربوبیت دعوه ده، په تحقیق سره الله جل جلاله پر بنده ګانو باندې د دوی د اړتیاوو سره سم او د اوامرو او منع کړل شویو شیانو څخه د پیروی تر اندازې پورې قدرت او توان ورکړی دی، د بېلګې په ډول؛ یوه سړي د روغتیا او مال څښتن دی، په ټول ژوند کې یې یو ځل حج کوي، په هر کال کې وروسته د میاشتې له لیدلو څخه یو ځل د رمضان روژه نیسي، په څلور ویشتو ساعتونو یا شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ کوي، د پیسو او اسعارو د نصاب خاوند له خپل مال څخه هغه وخت زکات ورکوي چې په مال باندې یې هجري کال تېر شوی وي او اندازه یې په هرو څلوېښتو روپیو کې یوه روپۍ ده، چې مسلمانانو فقیرانو ته یې ورکوي او دا زکات په سرو او سپینوزرو سره دی.

له دې څخه دا پایله راوځي چې انسان نسبت ده ته د یوه اختیاري فعل(کار) د کولو او نه کولو ترمنځ خوښمن او ازاد دی، چې دا د الله جل جلاله پر لوی‌والي او جلال باندې لوی دلیل دی، خو ناپوه او احمق خلک چې د اهل سنت علماوو خبرې د قضاء او قدر پر علومو د ناپوهۍ له امله نه مني او د بنده ګانو په اختیار او وړتیا باندې شک کوي، او فکر کوي چې انسان اړ ابستل شوی (مجبور کړای شوی) او په خپلو ارادې کارونو کې ناتوانه(عاجز) دی او پدې سره د اهل سنت خوا ته خپلې ژبې اوږدوي او دا دعوه کوي چې بنده ګان په ځینو ځایونو او چارو کې اختیار نه لري، چې د دوی دا خبره غلطه او باطله ده او زمور پورتني دلایل پر دې دلالت کوي چې انسان اختیار او اراده لري او دا دلایل پر دوی باندې حجت او دلیل دی.

(القدرة) یا قدرت د یوه کار او فعل په ترسره کولو او نه کولو سره د یو چا د توانایی په معنا دی، خو د یوه کار یا فعل د ترسره کولو یا نه کولو خوښې لرلو ته (اراده) ویل کېږي، او د یوه شي منلو او نه ردولو ته (رضا) یا منل ویل کېږي، همدارز (خلق) یا پیدا کول د ارادې او قدرت له یوځای کېدلو څخه پدې شرط چې د یوه شي په پیدا کولو کې ګډ اغېز ولري عبارت دی او که چېرې پرته له ګډ اغېز څخه دا دواړه (اراده او قدرت) سره یوځای شي نو دې ته بیا (کسب) یا ترسره کول او یا هم لاسته راوړل ویل کېږي، خو که چېرې پکې اغېز لرل او نه لرل نه وي شرط شوي نو هغه ته (اختیار) ویل کېږي، خو دا اړینه نه ده چې هر د اختیار څښتن د خالق(پیدا کوونکی) وي، همدارنګه هرې رضا او خوښې ته دا

اړینه او لازمه نه ده چې هماغه موخه تري لاسه ته راشي، خو د اختیار او کسب یو ځای شتون امکان لري لکه څرنګه چې د اختیار او خلق یو ځای شتون هم ممکن دی، نو له دې امله الله جل جلاله ته خالق او مختار ذات وایي او بنده ته کاسب(ترلاسه کوونکی) او مختار(اراده لرونکی) وایي.

الله جل جلاله د بنده ګانو نېکۍ او بدۍ وروسته له هغه چې دوی یې اراده وکړي پیدا کوي، خو د بنده ګانو پر نېکو کارونو خوشحاله او پر ګناهونو یې خپه کېږي، او هر څه د الله جل جلاله په اراده سره رامنځته او پیدا کېږي. لکه څرنګه چې الله جل جلاله د المائدې سورت په یو سل او دویم ایت کې داسې فرمایي: (لا اله الاّ هو خالق کل شيء) ژباړه: پرته له الله جل جلاله څخه بل برحق معبود نشته او دی جل جلاله د هر څه پیدا کوونکی دی.

دا معتزله ډله د ارادې او رضا تر منځ د توپیر نه کولو له امله په حیرانتیا کې لوېدلي ده، او وایي چې انسان د هر هغه څه پیدا کوونکی دی څه چې غواړي او پدې توګه له قضاء او قدر څخه انکار کوي. همداراز د جبریه ډله هم په بشپړ ډول لار ورکې ده، او د اختیار په شتون پرته له پیدا کولو(خلق) څخه نه پوهېږي، او انسان له کاڼي او لرګي سره ورته ګڼي او داسې ګمان کوي چې انسان اختیار نه لري، او وایي چې انسان په حقیقت کې ګنهکار نه دی ځکه چې د انسان ټول نېکۍ او بدۍ د الله جل جلاله په اراده او خوښه دي، او د دوی لپاره یې هغه پیدا کړې دي، العیاذ بالله. نو که چېرې انسان اراده او اختیار نه لرلای او الله جل جلاله انسان په نېکیو او بدیو باندې اړ ایستلای لکه څرنګه چې جبریه ډله وایي، نو د هغو کسانو ترمنځ چې له غره څخه پداسې حال کې چې لاسونه او پښې یې تړل شوي وي غورځول کېږي او هغه کسان چې پخپلو پښو روان او په ازاد ډول کین او ښي لوري ته ګوري څه توپیر به شتون لرلای؟ بلکه حقیقت د دې برعکس دی، ځکه هغه کسان چې له غره څخه پداسې حال کې راغورځول کېږي چې لاسونه او پښې یې تړل شوي وي، نو دا کار پر دوی باندې په زور او جبر سره د دوی له ارادې پرته ترسره کېږي، خو هغه کسان چې په لوړه او ژوره ځمکه پخپله اراده سره روان او پر دوی باندې هېڅ جبر نه وي، نو هر هغه څوک چې د دې دوو ډلو کسانو ترمنځ توپیر نشي کولای دا د دوی نیمګړتیا او لنډ نظري ده، او همدوی دي چې قراني ایتونه نه مني. او د دوی دا موقف داسې تعبیرېږي چې په حقیقت کې د الله جل جلاله اوامرو او نواهیو(منع کولو) ته اړتیا نشته، او دوی دا ګمان کوي چې انسان هر هغه څه ته چې اراده وکړي پیدا کوي یې، لکه چې معتزله ډله(چې قدریه هم بلل کېږي) هم پر همدې فکر ده، پداسې حال کې چې د الله جل جلاله له دې قول څخه انکار کوي، چې فرمایي: (والله خالق کل شيء) ژباړه: الله جل جلاله د هر څه پیدا کوونکی دی. چې له دې قراني ایت شریف څخه د خلکو انکار کول د دوی د شرک لامل کېږي او له الله جل جلاله سره په خلقت کې شریک نیسي.

همدارنګه شیعیه ډله هم د معتزله پشان پدې باور ده چې انسان هر کار او څه ته چې اراده وکړي پیدا کوي یې، او دوی د دې خبرې د ثبوت لپاره د هغه خره مثال وړاندې کوي چې د وهلو سره، سره له اوبو څخه نه تېرېږي، پداسې حال کې چې دوی دا فکر نه کوي چې که انسان د یوه کار د ترسره کولو اراده وکړي او الله جلاله د هغه برعکس اراده کړې وي، نو دا دوې ارادې نشي سره یوځای کېدلای، نو که چېرې د الله جل جلاله اراده ترسره شي، پدې حالت کې د شیعیه نظر غلط ثابتېږي، پدې معنا چې د انسان په توان کې دا نشته هر هغه څه چې اراده یې کړې وي پیدا

او ترسره کړي، خو که چېرې هر هغه څه چې انسان يې غواړي ترسره شي لکه شيعيه ګان چې وايي، نو العياذبالله پدې صورت کې به الله جل جلاله له دې څخه ناتوانه، نيمګړی او هېرجن وای. پداسې حال کې چې هر څه د الله جل جلاله په اراده سره رامنځته کېږي، او دی جل جلاله د ټول شيانو خالق، جوړونکی او رامنځته کوونکی دی، نو د دې خبرې او ليکنې کول چې انسان دا شی پيدا کړل، دا شی مې پيدا او دوی دا شی پيدا کړل ډېر بېځايه دي، چې دا او دې ته ورته خبرې کول په حقيقت کې د الله جل جلاله په وړاندې لويه ګستاخي، بې ادبي او د کفر لامل کېږي[لکه څرنګه چې مخکې مو وويل د انسان لپاره ټول اختياري حرکتونه د فزيکي، کيمياوي او فزيولوژي پېښو په ترڅ کې ان تر دې چې د دوی له درک کولو او ارادې پرته رامنځته او حاصلېږي، نو هغه عادل او با انصافه عالم چې پدې پېښه بشپړ علم او پوهه لري، پدې خبره چې دا شی ما پيدا کړي شرمېږي، او هم پدې خبره شرمېږي چې ووايي دا کار ما کړی(پيدا کړی) دی، خو د دې برعکس ناپوه، بې ادبه او بې عقل انسان پدې نه شرمېږي او هر څه چې هر ځای يې زړه وغواړي وايي. الله جل جلاله د په دنيا کې پر ټولو انسانانو رحم وکړي، او دوی ته د هغه څه پيدا او ولېږي چې دوی ورته اړتيا لري، او دوی ته د هغه چارې چې د ژوند کولو لپاره اړينې دي په ښکاره ډول بيان کړي تر څو په دنيا کې ارام او امن ژوند وکړي، او په اخرت کې تل پاتې نېکمرغي ترلاسه کړي، او پخپل رحمت سره د هغه چا ته چې نفسونو يې تېر ايستلي، بدکاره، د فاسدو کتابونو پيروان او په کفر او ګمراهۍ که لوېدلي دي که يې ورته خوښه شي نېغې لارې ته برابر او لارښوونه وکړي، بلکې الله جل جلاله ظالمانو، سرکښانو او هغو کسانو ته چې تباهۍ يې خوښه کړې او پکې لوېدلي وي، نېغې لارې ته لارښوونه کول نه خوښوي.

پر همدې ځای د (اعتقادنامې) کتاب ژباړه پای ته ورسېده، چې ددې کتاب ليکوال قدرمن مولانا ضياءالدين خالد بغدادي عثماني رحمه الله په ۱۱۹۲ هـ ق کال کې چې له [۱۷۷۸ م] سره سمون لري، د بغداد په شمالي ښار شهر زور په قره داغ کلي کې زيږېدلی او په ۱۲۴۲هـ ق کال کې چې له [۱۸۲٦ م] سره سمون لري په شام کې وفات شوی دی. نوموړی د عثمان بن عفان رضی الله عنه له نسب څخه دی، او له همدې امله يې په (العثماني) سره نومول شوی دی، او ده رحمه الله خپل ورور مولانا محمود صاحب ته د امام نووي د احاديثو د (الاربعين) کتاب درس ورکاوه، نو کله چې دويم حديث شريف(د جبريل حديث) ته درس راورسېد نو مولانا محمود صاحب له خپل استاذ بغدادي صاحب څخه د دې حديث شننه او بشپړ بيان وغوښت، نو مولانا خالد بغدادي رحمه الله د خپل ورور دا هيله ورپوره کړه او دی يې خوشحاله کړ.

د دې حديث شريف شرحه په فارسي ژبه شوې چې کتاب يې د (اعتقادنامه) په نامه سره نومول شوی دی، نو کله چې دا شرحه ترکي ژبې ته وژباړل شوه د (ايمان او اسلام) نوم ورباندې کېښودل شو، الله جل جلاله د زمور ځوانانو ته دا توفيق او توان ورکړي چې د توحيد سالمه او سمه عقيده کومه چې د اهل سنت او جماعت علماوو مور ته بيان او رارسولې ده، له دې ښکلي کتاب څخه ترلاسه او زده کړي.

د دې کتاب ژباړونکی قدرمن (حاجي فيض الله افندي) د کماخ ښار اوسېدونکی چې له ډېرو کلونو راهيسې په (سوکه) کې په درس ورکولو سره بوخت وو او په ۱۳۲۳ هـ ق کال کې چې [۱۹۰۵ م] سره سمون لري وفات شوی دی.

د امام شرف الدین احمد بن یحیی المنیري له لیکونو څخه غوره کړل شوې برخې

د هند د مسلمانانو لوی عالم مولانا شرف الدین احمد بن یحیی منیري د خپل (المکتوبات) کتاب په اتلسم لیک کې چې په فارسي ژبه دی داسې وایي: ډېر کسان په شک او خیال سره لار ورکي کېږي، او ځینې له دې فاسقانو او باطلو فکرونو لرونکو څخه وایي چې (په حقیقت کې الله جل جلاله زموږ عبادتونو ته هېڅ اړتیا نه لري او نه هم ده جل جلاله ته کومه ګټه رسوي، اګر چې د خلکو اطاعات او ګناهونو د الله جل جلاله د لویۍ او لوړ شان پر وړاندې یو برابر دي، پداسې حال کې چې عابدان پرته له دې چې خپل ځانونه په سختۍ او عذاب کې اچوي، بل څه نه ترسره کوي) چې د دوی دا انګیرنه او ګمان په بشپړه توګه غلط دی، ځکه دوی دا خبره له دې املې کوي چې په شریعت باندې علم نه لري، او داسې فکر کوي چې د الله جل جلاله پیروي کول ده جل جلاله ته ګټه رسوي، نو له همدې املې دوی ته په پیروی(اطاعت) سره امر شوی دی، چې دا دواړه فکرونه غلط دي، او د دوی ګمان د هغه څه پر شتون چې اصلا ممکن نه دي، همداراز اطاعت او عبادت پرته له خپل ځښتن(ترسره کوونکي) څخه یې بل چا ته ګټه نه رسوي، لکه څرنګه چې الله جل جلاله په دې اړه د الفاطر سورت په اتلسم ایت شریف کې دا خبره په ډاګه فرمایلې ده، نو د هغه چا بېلګه چې په دې ډول غلط ګمان سره ګمان کوي هغه ناروغ ته ورته ده چې ډاکټر د پرهېز سپارښتنه ورته وکړي، خو دی پرهېز نه کوي بلکې وایي چې که چېرې د ډاکټر په سپارښتنه عمل ونه کړم نو ډاکټر ته له دې املې هېڅ زیان نه رسېږي، نو د ډاکټر سپارښتنې او سمې خبرې نه مني ځکه چې ډاکټر ته هېڅ زیان نه رسېږي، پداسې حال کې چې د ډاکټر له دې سپارښتنې سرغړونه کول ناروغ ته زیان رسوي، دا ځکه چې ډاکټر پدې موخه ناروغ ته د پرهېز سپارښتنه وکړه تر څو روغ رمټ شي، نه د دې لپاره چې د ده(ډاکټر) پدې سپارښتنه کې کومه ګټه نغښتې ده! نو که چېرې د ډاکټر سپارښتنه چې پرهېز کول دي په پام کې ونیسي، نو له رنځورتیا څخه به روغ شي او د نه پاملرنې په ترڅ کې به مړ شي او ډاکټر ته به له دې څخه هېڅ زیان شتون و نه لري.

ځینې د فاسدو فکرونو لرونکي کسان اصلا بنده ګي نه کوي او له حرام کړل شوو کارونو څخه ډډه نه کوي، یعنې په ټوله کې په اسلامي شریعت باندې منګولې نه خښوي او وایي(الله جل جلاله پر بنده ګانو نرمي کوونکی، مهربان او بخښونکی دی او هېڅا ته سزا نه ورکوي) هو لومړی خبره یې سمه ده خو دوهمه خبره یې سمه نه ده، ځکه شیطان په دې خبره کې دوکه کړي او ګناهونو ته یې ورټېل وهلي دي، پداسې حال کې چې هوښیار د شیطان په وسوسه باندې نه دوکه کېږي، ځکه سره له دې چې الله جل جلاله بخښونکی ذات دی خو سخت سزا ورکوونکی هم دی، لکه څرنګه چې په دنیا کې مور وینو چې الله جل جلاله په ډېرو کسانو باندې فقر(نېستي) راوستلې او ژوند یې وربانده تنګ کړی، او ډېر نور بنده ګان د ده جل جلاله په غوسه او عذاب کې ژوند تېروي سره له دې چې الله جل جلاله مهربان او روزي ورکوونکی دی خو په کرنه او کښت کړلو کې له زحمت او هڅې ګاللو پرته یوه نمړی ډوډۍ چا ته نه ورکوي، پداسې حال کې چې الله جل جلاله ټولو موجوداتو ته ژوند ورکوونکی او ژوند بخښونکی دی، خو که ژوندي موجودات خواراک او څښاک

و نه کړي نو ژوند ته دوام نه شي ورکولای، همدارنګه که چېرې ناروغ له درمل څخه ګټه وانخلي نو روغتیا نشي ترلاسه کولای، چې په حقیقت کې الله جل جلاله د ژوند کولو، روغتیا او مال ترلاسه کولو او داسې نورو دنیوي نعمتونو لپاره بېلا بېل سببونه پیدا کړي دي، نو پر دې بنسټ په هغه چا رحم نه کېږي چې له دې سببونو څخه کار وانخلي او له دنیوي نعمتونو څخه محروموي، اخروي نعمتونه هم په همدې توګه دي، همدارنګه کفر او ناپوهي د روح د وژلو زهر او ټنبلي یې رنځ دی، که چېرې دا رنځونه تداوي نشي نو روح ستړی او مړه کېږي، چې د کفر او ناپوهۍ یوازینی درمل علم او پېژندګلوي ده، او د ټنبلۍ علاج په لمانځه او بېلا بېلو عبادتونو سره کېږي، نو که څوک زهر وخوري او بیا ووایي چې الله جل جلاله مهربان دی د زهرو له زیان څخه به مې وساتي، خو داسې نه ده بلکه دا کس لومړی پتنګ او بیا مړ کېږي، او که څوک د کاسټر غوړي وڅښي پداسې حال کې چې اسهال وي[یا د شکر ناروغ که خواړه او نشایسته لرونکي شیان وخوري] نو ناروغي یې نوره هم ورسره ډېرېږي، همداراز که څوک د شهوتونو او نفسي غوښتنو لاره وځاري نو زړه یې رنځور کېږي، سره له دې چې پر دې باندې که باور هم ولري چې د نفسي او شهواني غوښتنو ترسره کول رنځ او ګناه ده خو زړه یې نه وژني، مګر که چېرې د دې برعکس باور ولري نو منکر یې کافر او کفر د زړه لپاره وژونکي زهر دي.

همدا شان د فاسدې عقیدې او فکرونو بله ډله هغه ده چې د لوړې له لارې خپل نفسونه په ریاضت کې غورځوي او په دې توګه غواړي چې خپلې شهواني غوښتنې په اساسي ډول له منځه یوسي، چې سپېڅلی شریعت دا ډول ریاضت نه خوښوي، پداسې حال کې چې دوی داسې فکر کوي چې شریعت په دا ډول کړنو امر کوي، او تر اوږدې لوړې تېرولو او سختۍ ګاللو وروسته دوی ته داسې جوتېږي چې دا ناوړه(نفسي) غوښتنې لا هم د دوی په داخل کې شتون لري، لکه څرنګه چې شریعت هم پدې سره امر کړی چې دوی د دې نفساني غوښتنو نشتون نه شي زغملی، همدارنګه ګمان کوي چې(وروسته بېرته له خپلې خبرې راګرځي او وایي چې د شریعت دا امر د پلي کولو وړ نه دی، ځکه انسان ته دا ناشونې ده چې له هغو اخلاقو څخه چې دی پر هغو باندې پیدا او له هغه سره لوی شوی ډډه او لیرې والی وکړي، چې له دې اخلاقو څخه خلاصون داسې دی لکه د یوه تور پوستي انسان بدلېدل په سپین پوستي باندې، او په یو ناشوني کار باندې بوختېدل پرته له دې چې عمر ضایع شي بله پایله نه لري) نو ټول هغه تېر وتلي کسان چې داسې فکر کوي او په ځانګړې توګه چې وایي شریعت موږ پدې سره امر کړی دی، خو داسې نه ده بلکې دا دوه ګونې ناپوهي(مرکب جهل) او حماقت دی، ځکه چې سپېڅلی شریعت هېڅکله هم د انساني صفتونو د له منځه وړولو امر نه کوي، لکه د غوسې، شهواني او نورو داسې غریزو او د دې برعکس دعوا کول دروغ او په سپېڅلي شریعت پسې د درواغو تړل دي، نو که چېرې دا د شریعت امر وای نو د شریعت په څښتن، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم کې به دې صفتونو شتون نه درلود، پداسې حال کې چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په دې اړه داسې وایي: (انما أنا بشر اغضب کما یغضب البشر) ژباړه: په تحقیق سره چې زه بشر یم، نو داسې غوسه کېږم لکه نور خلک چې غوسه کېږي) او همداراز یې به یې ویل(الغضب لا یخرجنی عن الحق) ژباړه: غوسه او قهر مې له حق څخه نه

باسي(خارجوي)، لکه څرنګه چې په البريقه د الطريقه[۲۸] په شرحه کې راځي چې د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم پر مبارک مخ به ځینې وختونه د غوسې نښې نښانې راڅرګندېدلې، چې الله جل جلاله یې په قران کریم کې داسې صفت کړی دی (والکاظمین الغیظ) ژباړه: دوی د غوسې زغمونکي او خوړونکي، دا پداسې حال کې ده چې الله جل جلاله داسې نه دي ویلي چې هغوی نه غوسه کېږي، خو د فاسدو فکرونو لرونکي په دې اند دي چې باید انسان خپله شهواني قوه له منځه یوسي، چې دا یو غلط او باطل فکر دی، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم له نهو ښځو سره نکاح کړې وه چې دا د دوی د غلطې دعوا د رد بشپړ دلیل دی، نو که چېرې د یو چا شهوت له دې کبله له منځه لاړ شي چې د بېرته جوړېدلو لپاره یې تداوی ته اړتیا ده، همدارنګه د غضب یا قهر قوه هم داسې ده، چې انسان د دغه صفت پر مټ خپله ناموس(ښځه) او اولادونه له هر ډول تېرې او تعرض څخه خوندي ساتي، او د همدې صفت په وسیله د دین د دښمنانو پر وړاندې جهاد کوي، او د انسان حافظه دوامداره، دېدبه او عزت یې د اولادونو په وسیله چې د همدې شهواني قوې په ترڅ کې رامنځته کېږي لوړوي، دا ټول هغه څه دي چې سپڅلي شریعت یې ښه‌والی او غوره والی بیان کړی دی.

سپڅلی شریعت خلکو ته پدې امر نه کوي چې خپل شهوت او غضب(غوسه) له منځه یوسي، بلکې پر هغو باندې د کنټرول او واکمنېدلو امر کوي، او دا چې په مناسب ځای او وخت کې چې شریعت یې لارښوونه کړې ترې غوره ګټه واخیستل شي، چې د دې مثال داسې دی لکه د سپرلۍ د اس او د ښکاري سپي تربیه کول، چې د لمنځه وړلو او زیان پر ځای یې ورځخه غوره ګټه اخیستل کېږي، پدې معنا چې شهوت او غضب داسې دي لکه د سپرلۍ اس او یا هم ښکاري سپی، نو همداراز له دې دوو قوو پرته د اخرت د نعمتونو ښکار کول شوني نه دي، خو تر هر څه لومړی یې تربیه کول او بیا یې د اسلامي شریعت سره سم استعمالول اړین دي، نو که چېرې د دې دوو قوو د تربیې هڅه ونه شي او د سستۍ له امله، له شرعي حد څخه تېرې وکړي، نو ژر ده چې انسان په خطرناکو چارو کې راښکېل کړي، او ریاضت یا تربیه د دې دوو صفتونو د وژلو لپاره نه ده، بلکې سپېڅلي شریعت ته د هغو د تابع کولو لپاره ده، چې دا کار د ټولو خلکو لپاره شونی او سم دی.

ځلورمه ډله چې غلط فکر او اند لري، په حقیقت کې دوی یوازې خپل ځانونه دوکه کوي، دوی وایي(په ازلي تقدیر کې ټول هغه شیان چې انسان ته ورپېښېږي د ده له زیږېدنې مخکې معلوم دي، ان تر دې چې ایا دی (نېکبخت) دی که (بدبخت) چې دا نېکبختي او بدبختي وروسته بدلون نشي کولای، نو پر دې بنسټ وایي چې پیروي کول کومه ګټه نه لري) خو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو کرام رضی الله عنهم اجمعین ته د قضا او قدر(تقدیر) د نه بدلون او په ازل کې د هر څه د تقدیر خبره وکړه، نو صحابه کرامومو هم دا پورته خبره وکړه (مور عبادت پرېږدو او پر قضاء او قدر باندې چې په ازل کې ټاکل شوی دی باور کوو) خو رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی له دې کار څخه منع کړل او ورته یې وفرمایل(اعملوا فکل میسّر لما خلق له) ژباړه: تاسې عمل وکړئ ځکه هر څوک هغه عمل ترلاسه کوي چې ورته پیدا شوی وي. یعنې د الله جل جلاله په ازلي

[۲۸] د البریقة کتاب لیکونکي، محمد الخادمي دی چې په ٦٧١١ هـ ق کال کې چې له [۲٦٧١م] کال سره سمون لري وفات شوی دی.

علم کې داسې دي چې نېکبخته انسان به د نېکبختانو کړنې او عملونه په دنیا کې ترسره کوي، له دې ځخه پوهېږو چې د نېکبخته خلکو عبادت پدې معنا دی چې په ازل کې ورته نېکبختي مقدر شوې ده، او د بدبختانو ګناهونه له دې امله دي چې په ازل کې د دوی بدبختي مقدر شوې ده، لکه څرنګه ټولو هغه کسانو ته چې په ازل کې روغ ژوند مقدر شوی وي نو دوی د روغتیا لپاره دوا خوري، او هغه کسانو ته چې په ازل کې ناروغي او مرګ مقدر شوی وي نو دوی دوا او غذا نه خوري، ځکه چې دوی ته په ازل کې له لوړې او ناروغۍ وروسته مرګ مقدر شوی دی، نو دوی ته د دوا او غذا خوړل نه په برخه کېږي. او چا ته چې په تقدیر کې غنامندي لیکل شوې وي، نو هغه ته د کار کسب او ګټې فرصتونه پراخېږي او په لاس ورځي، خو چا ته چې په خټیځ کې مرګ په ازل کې مقدر او لیکل شوی وي نو د هغه پر مخ لویدیځ ته د تللو ټولو لارې بندېږي، لکه څرنګه چې حکایت کوي چې یوه ورځ عزرائیل علیه السلام پر سلیمان علیه السلام باندې تېرېدو، نو کله چې یې له هغه سره د ناستو کسانو له ډلې یو نفر ته په پوره پاملرنه وکتل، نو هغه کس د عزرائیل علیه السلام له دې ډول کتنې ځخه په وېره کې شو، نو کله چې عزارئیل علیه السلام له ده ځخه مخ وګرځوو، هغه کس له سلیمان علیه السلام ځخه غوښته وکړه چې باد ته امر وکړي ترڅو دی یوه لوېدیځ ښار ته یوسي تر څو د روح اخیستونکې پرښتې ځخه خلاصون پیدا کړي، کله چې عزرائیل علیه السلام ببرته سلیمان علیه السلام ته راوګرځېد نو هغه کس ته یې د ده د ژورو کتلو د لامل په هکله پوښتنه ترې وکړه، نو عزرائیل علیه السلام ځواب ورکړ چې(ما ته یوه کړې وروسته په لوديځو ښارونو کې د دې سړي د روح اخیستلو امر شوی وو، نو کله مې چې دی ستا سره په مجلس کې ولیدو، نو ما په ډېره حیرانتیا سره ده ته وکتل خو کله چې لویدیځ ښار لاړ نو ما هم د الله جل جلاله په امر سره د هغه روح واخیست) [چې دا کیسه د مولانا جلال الدین رومي [۲۹] رحمه الله په مثنوي کتاب کې په بشپړ تفصیل سره راغلې ده] له دې ځخه څرګندېږي چې ازلي تقدیر علم دی په امر سره نه دی، ځکه هغه سړی خپل ازلي تقدیر ترلاسه کولو لپاره له عزرائیل علیه السلام ځخه وېرېدلی وو نو سلیمان علیه السلام یې غوښتنه ومنله او لویدیځ ښار ته یې ورسواه. رښتینې خبره دا ده چې الله جل جلاله کوم څه په ازلي تقدیر کې مقدر کړي وي، هغه د یو لړ سببونو په وسیله ترسره کوي او همدارنګه ایمان هم داسې دی، او هر چا ته چې په ازل کې نېکبختي او د نفس د تزکیې په وسیله د ښو اخلاقو لرل لیکلې شوي وي، پدې اړه الله جل جلاله د انعام سورت په پنځه ویشتم ایت شریف کې داسې فرمایي (**فمن یرد الله ان یهدیه یشرح صدره للاسلام**) ژباړه: الله جل جلاله چې چا ته د نېغې او سمې لارې د ښوونې اراده وکړي نو د هغه سینه د اسلام لپاره پراخوي. هغه څوک چې په ازل کې یې بدبختي مقدره شوې وي یعنې دا چې دوزخ ته به داخلېږي، نو هغه ته دا فکر ورکول کېږي چې(عبادت ته اړتیا نشته ځکه چې په تقدیر کې هر چا ته دا لیکل شوي دي چې نېکبخت دی که بدبخت) چې د دې ډول فکر په ترڅ کې عبادت نه کوي، نو دا ډول فکر او عمل کول د ده پر ازلي بدبختۍ باندې دلیل دی، همدارنګه هغه چا ته چې په تقدیر کې یې دومداره ناپوهۍ په برخه وي دا فکر ورکوي چې(ټول شیان په تقدیر کې لیکل شوي دي، نو چا ته چې په ناپوهۍ کې پاتې کېدل لیکل شوي وي هغه ته زده کړه کول او لوستل ګټه نه

[۲۹] محمد جلال الدین رومي په ۶۷۲ هـ ق کال کې چې له [۱۲۳۷م] کال سره سمون لري په قونیه کې وفات شوی دی.

کوي) نو د دې فکر پر بنسټ زیار او زده کړه نه کوي او پدې توګه ناپوه او جاهل پاتې کېږي. او چا ته چې د کرکیلې له لارې د زیات حاصل د ترلاسه کول لیکل شوي وي، هغه ته په کرنیزو چارو کې بریالیتوب او توان ورکوي، همدارنګه دې ته ورته هغه نېکبخته انسان ته چې په ازل کې نېکبختي مقدره شوې وي، د ایمان او نېکو عملونو د ترسره کولو توان ورکوي، او ازلي بدبخته انسان ته په کفر او د ګناهونو په ترسره کولو توان ورکوي، خو دا بې عقل انسان پدې نه پوهېږي بلکه وایي(په ازل کې د انسان نېکبختي له ایمان او نېک عمل سره، او بدبختي یې له کفر او ګناهونو سره هېڅ تړاو نه لري) پداسې حال کې چې دی غواړي دا تړاو پخپل واړه عقل سره درک کړي، او هڅه کوي چې هر څه پخپل عقل سره حل کړي، خو د انسان عقل محدود دی او پدې محدود عقل سره د هغه څه حل کول او پېژندل چې په عقل سره نه پېژندل کېږي، د عقل پر نیمګړتیا او حماقت باندې دلالت کوي، نو که څوک پدې فکر باندې وي هغه بې عقل دی، لکه څرنګه چې عیسی علیه السلام د بي بي مریم علیها السلام زوی ویلي دي(ما د ړندو او فیس ناروغانو درملنه وکړه او مړي مې راژوندي کړل، خو د مرکبو ناپوهانو په درملنه کې پاتې راغلم) الله جل جلاله پخپل علم او حکمت سره د ځینو بنده ګانو مرتبې د پرښتو د مرتبو تر کچې لوړوي، بلکې د پرښتو تر مرتبو یې هم لوړوي او د ځینو نورو بنده ګانو مرتبې د سپي او خنزیر تر مرتبې هم ښکته کوي. د اتلسم مکتوب ژباړه دلته بشپړه شوه.

د شیخ شرف الدین احمد بن یحیی منیري په (المکتوبات) کتاب کې تر سلو زیات مکتوبونه(لیکنې) شتون لري. دا کتاب په ۷۴۱ هـ ق کال کې چې له [۱۳۳۹م] کال سره سمون لري لیکل شوی او په ۱۳۲۹ هـ ق کال کې چې له [۱۹۱۱م] کال سره سمون لري په هند کې چاپ شوی دی، چې په اصلي او خطي بڼه د سلیمانیة په کتابتون کې چې د استنابول په ښار کې دی شتون لري.

د دې کتاب لیکونکي په شپږ اویایم مکتوب کې وایي: د (نېکبختی) معنا دا ده چې انسان د جنتیانو له ډلې شي، او د (بدبختی) معنا دا ده چې انسان د دوزخیانو له ډلې شي. نېکبختي او بدبختي د الله جل جلاله دوې خزانې دي، چې د لومړۍ خزانې کلي عبادت او پېروي، او د دویمې خزانې کلي ګناهونه او سرکشي ده. د انسان نېکبختي او بدبختي یوازې او یوازې د الله جل جلاله په علم کې دي[چې دې علم ته تقدیر وایي]. هر هغه څوک چې په ازل کې نېکبخته وي د الله جل جلاله عبادت کوي، او هغه څوک چې په ازل کې بدبخته وي هغه پرته له بدیو بل کار نه ترسره کوي، په دنیا کې هر انسان خپلو عملونو ته په کتو او پام کې نیولو سره پدې پوهېږي؛ چې نېکبخته دی که بدبخته! لکه څرنګه چې پرهېزګاره علماء پر همدې بنسټ نېکبخت او بدبخت انسانان یو له بل څخه بېلوي او پېژني، خو هغه انسان چې ټول فکر یې له دنیا سره وي پدې نه پوهېږي. د الله جل جلاله په پیروۍ او د زړه له اخلاصه عبادت کې عزت او نعمت نغښتی دی، همداراز ټول بدۍ او تنګسیا د ګناهونو په ترسره کولو کې نغښتي او هره سختي او غم یو چا ته د بدیو له املې رسېږي. لکه څرنګه چې ارامي، سوکالي او ډاډ د عبادتونو له املې دي[دا د الله جل جلاله سنت او لاره ده او هېڅوک یې د بدلون توان نه لري، او هغه څه چې د نفس لپاره اسانه او خوند ترې اخلي اړینه نه ده چې نېکبختي وګڼل شي. همداشان داسې انګیرنه او فکر هم لازم نه

دی، چې د نفس لپاره هره سختي او درد بدبختي او غم وګڼل شي] هغه عبادت کوونکی تباه شو چې ټول عمر يې په عبادت او ثنا ويلو سره د اقصی په مسجد کې تېر شو خو دا چې يوه سجده ترې د عبادت د شرطونو د نه پېژندلو او اخلاص نه لرلو له امله پاتې شوه له بشپړې تباهۍ سره مخ شو، او د اصحاب کهف سپی سره له دې چې حيوان او ناپاکه وو، خو د خپلو نېکو ملګرو سره يې په ملګرتيا او تر شا يې په ګام اخيستلو خپل برخليک او تقدير د تل لپاره داسې بدل کړ چې هېڅکله به خوار نشي. چې د اصحاب کهف د سپي دغه لوړوالي د انسان عقل په حيرانتيا کې اچولی او د ډېر وخت له تېرېدو سره سره علماء پدې ونه توانېدل چې دا معما حل کړي، ځکه چې د انسان عقل د دې موضوع پر حکمت باندې احاطه او درک نه لري، همدارنګه الله جل جلاله ادم عليه السلام او د هغه ښځې ته فرمايلي دي(ولا تقربا هذه شجرة) ژباړه: تاسې دواړه دې ونې ته مه نږدې کېږئ. خو دوی ته يې اراده وکړه چې له هغه ونې څخه خوراک وکړي، ځکه چې الله جل جلاله په ازل کې پدې پوهېده چې ادم عليه السلام به له دې منع کړل شوې ونې څخه خوراک کوي، همداراز الله جل جلاله ابليس ته امر وکړ چې ادم عليه السلام ته سجده وکړي، خو د الله جل جلاله ورته خوښه نه وه چې ابليس د ادم عليه السلام ته سجده وکړي، لېکن الله جل جلاله وغوښتل چې سجده ورته ونه کړي، او بنده ګانو ته يې د هغه په ترلاسه کولو امر وکړ، خو هغه چا ته يې ورسره مخامخ کېدل نه غواړ ي چې اخلاص ونه لري، له همدې کبله ده چې عارفان وايي(مور اصلا نه پوهېږو) او مور نه شو کولای چې څه ووايو ځکه الله جل جلاله د هېچا ايمان او پيروی کولو ته اړتيا نه لري، او همدارنګه د هېچا کفر او ګناهونه ورته زيان نه رسوي، او دی جل جلاله بې نيازه(صمد) ذات دی نو اصلا هېڅ مخلوق ته اړتيا نه لري، همداشان يې علم د تيارو او تېريو د لمنځه وړلو او ناپوهي يې د ګناهونو د ترسره کولو لپاره سبب ګرځولي دي، چې له علم څخه ايمان او پيروي او له ناپوهی څخه کفر او سرغړونې رامنځته کېږي، سره له دې چې يو اطاعت هر څومره کوچنی هم وي بايد پرېښودل شي، او له ګناه څخه که هر څومره کوچنی هم وي ډډه کول اړينه ده، همداراز مسلمان علمان وايي چې درې شيان د دريو شيانو لپاره سبب کېږي: اطاعت او پيروي د الله جل جلاله د رضا ترلاسه کولو او بريالیتوب، د ګناهونو ترسره کول د الله جل جلاله د قهر او ايمان د لوړو درجو ترلاسه کولو سبب کېږي.

پر دې بنسټ د ګناهونو ترسره کولو څخه بايد کلکه ډډه وشي، ځکه ممکن چې دا ګناه د الله جل جلاله د قهر او غوسې سبب وګرځي، او هر مسلمان او مسلمانه بايد له خپل ځانونو څخه غوره وګڼو ځکه کېدای شي دوی د الله جل جلاله غوره بنده ګان وي، او د هېڅ چا ازلي تقدير اصلا بدلون نه کوي، که چېرې الله تعالی وغواړي چې يوه مؤمن پرهېزګاره کړي پداسې حال کې چې هغه په ټول ژوند کې پرته له ګناهونو نور عملونه نه وي ترسره کړي، لکه څرنګه چې پرښتو هم پدې هکله پوښتلي وو(قالوا أتجعل فيها من يسفد فيها و يسفک الدماء) ژباړه: دوی(پرښتو) وويل، ايا انسانان په دې ځمکه کې ګرځوې چې دوی به فساد کوي او يو د بل وينې به تويوي. نو دوی ته يې داسې ځواب ورنه کړ چې(دوی به په ځمکه کې فساد نه کوي) بلکې الله جل جلاله وفرمايل(انی اعلم ما لا تعلمون) ژباړه: په تحقيق سره زه په هغه څه پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ. دا چې (زه د هغه څه وړ يم چې دوی يې وړ نه دي، او ليرې نږدې او خوار عزتمن ګرځوم) پداسې حال کې چې تاسې د دوی عملونو ته ګورئ او زه د دوی ايمان ته چې په زړونو کې يې دی ګورم، تاسې

یې له ګناهونو څخه ډډې کولو ته ګورئ پداسې حال کې چې دوی زما رحمت ته امید لري او زه دا خوښوم چې تاسې له ګناهونو څخه خلاصون پیدا کړئ، او همدارنګه دا خوښوم چې د مؤمنانو ګناهونه وبخښم، تاسې په هغه څه نه پوهېږئ په څه چې زه پوهېږم، په تحقیق سره زه دوی پخپل ازلی لطف او کرم سره مکرم ګرځوم او دوی ټول مو پخپل ازلي لطف سره ساتلي دي) د شیخ شرف الدین احمد بن یحیی منیري رحمه الله د شپږ اویایم مکتوب ژباړه همدلته ته پای ته ورسېده، چې نوموړی په ۷۸۲ هـ ق چې له[۱۳۸۰م] کال سره سمون لري وفات شوی، او خپل ژوند یې د هند په بهار ښار کې تېر کړی او قبر یې هم همالته دی، المنیر د بهار ښار د یوه کلي نوم دی، او د ده د ژوند بشپړ معلومات د شیخ محقق شاه عبدالحق دهلوي[۳۰] په (اخبار الأخیار) کتاب کې چې په فارسي ژبه دی راغلي دي، او دا کتاب دوه ځلې چاپ شوی چې لومړی ځل د هند په دیوبند ښار کې په ۱۳۳۲ هـ ق کال کې چې له [۱۹۱۴م] کال سره سمون لري، او دویم ځل د پاکستان په لاهور ښار کې د (ارشاد السالکین، معدن المعاني او المکتوبات) له کتابونو سره چاپ شوی چې ډېره لوړه بیه هم لري.

امام رباني په ښلا ښلو مکتوبونو کې یادونه کړېده چې(د الله جل جلاله اوامرو ته فرض، منع کړل شوو ته یې حرام او هغه څه ته چې نه یې امر پرې کړی وي او نه یې حرام ګرځولي وي، مباح ویل کېږي. همدا شان په فرضو باندې عمل، له حرامو څخه ډډه کول او د الله جل جلاله د رضا پخاطر د مباحو ترسره کولو ته عبادت ویل کېږي، او د عبادت د سموالي لپاره لازمه ده چې علم، عمل او اخلاص پکې شتون ولري، تر څو عبادت د قبولېدو تر پورې ورسېږي، یعنې دا چې هر عبادت یوازې د الله جل جلاله لپاره په اخلاص ترسره شي او د عبادت د شرطونو زده کړه واجب ده، او یوازې د الله جل جلاله د رضا ترلاسه کولو او د هغه د اوامرو سره سم باید عبادت ترسره شي، نه د مال، مقام او نورو دنیوي ګټو ترلاسه کولو پخاطر.

علم او پوهه له عالم څخه د فقهې د کتابونو په لوستلو، د ولي د اخلاص، حرکتونو او حالتونو څخه او همدارنګه د صوفیانو د کتابونو په لوستلو ترلاسه کېږي.

اسلامي علوم په دوه ډوله دي: ديني علوم او مسلکي یا فني علوم، چې د دې دواړو علومو زده‌کړه د اړتیا په اندازه فرض ده. د ښلګې په ډول، د درملو(دوا) خوړونکي لپاره فرض ده چې د درملو کیفیت او د خوراک اندازه یې په پام کې ونیسي. همدارنګه د برېښنایي الو(وسایلو) څخه ګټه اخیستونکي باندې د هغه د اجمالي علم ترلاسه کول فرض دي، ځکه چې نه پوهېدل یې د مرګ او تباهۍ سبب کېږي.

په تحقیق سره هر چا چې په فرایضو او حرامو کړلو شوو باندې ایمان راوړ، مګر په عبادت کولو کې یې غفلت او ټنبلي وکړي او یا هم له ناوړه او بد عمله کسانو سره ناسته ولاړه وکړي، نو که چېرې مخکې له مرګه توبه ونکړي نو په اور کې به د خپلو ګناهونو سزا وګوري، همدارنګه که څوک د فرایضو د زده کړې رغبت(مینه) ونه لري او یا یې زده کړي خو پاملرنه ورته نه کوي، او یا هم فرض د الله جل جلاله له وېرې پرته پرېږدي او نه پرې غمجن کېږي، نو دا سړی له اسلام څخه وځي او کافر کېږي، چې تل تر تله به په دوزخ کې وي، همداشان حرام کړل شوی شیان هم دا ډول حکم لري.

[۳۰] شیخ عبدالحق دهلوي په ۲۵۰۱ هـ ق کال کې چې له [۲۴۶۱م] کال سره سمون لري، وفات شوی دی.

هېڅکله داسې عبادت نه صحیح کېږي، چې عبادت کوونکي ته د عبادت علم او شروط معلوم نه وي، اګر که بنده عبادت په اخلاص سره هم ترسره کړی وي، نو دې بنده ته په دوزخ کې داسې عذاب ورکول کېږي لکه هغه چا ته چې هېڅ عبادت یې نه وي ترسره کړی. خو د بنده هغه عبادت صحیح ګڼل کېږي چې د عبادت علم یې زده او ټول شرطونه یې په پام کې نیولي وي، چې دا بنده د الله جل جلاله له عذاب څخه ژغول کېږي، خو که چېرې عبادت پرته له اخلاصه ترسره شي نو دا عبادت او نورې نېکۍ او غوره کارونه هم نه قبولېږي، او ترسره کوونکي ته یې اجر نه ورکول کېږي، لکه څرنګه چې الله جل جلاله د دې ډول عبادت، نېکیو او غوره کارونو له ترسره کولو څخه د خپلې ناخوښۍ او نارضامندۍ یادونه د کهف سورت په وروستنۍ برخه کې کړې ده، نو داسې عبادت چې پرته له علم او اخلاص ترسره شي، هېڅ ګټه نلري، او ترسره کوونکی یې له کفر، ګناه او عذاب څخه نشی ژغورلای، او همدارنګه په روایتونو کې راځي چې په تحقیق سره ډېرو منافقینو به دا ډول عبادتونه ترسره کول او د کفر په حالت کې مړه شول.

هغه عبادتونه چې له علم او اخلاص سره ترسره شي ترسره کوونکي یې له کفر او ګناه څخه په دنیا کې ژغوري او عزتمن کوی یې، او په اخرت کې یې د دوزخ له اور څخه ساتي لکه څرنګه چې الله جل جلاله د مائدې سورت په نهم ایت او د عصر په سورت کې دا ژمنه کړې ده، چې بېشکه الله جل جلاله له ژمنې څخه مخالفت نه کوي)].

الله جل جلاله وو، نور هېڅ شی نه وو
او هر څه له منځه تلونکي دي، مګر الله جل جلاله تل تر تله دی

هر هغه څه چې زمونږ په شاوخوا کې دی د حسي غړو په وسیله پېژنو، او هغه څیزونه چې زمونږ په حسي غړو کې اغېز کوي د (وجود) په نامه سره یادېږي، او په پنځه ګونو حسونو باندې د موجوداتو اغېزې ته (خاصیت او صفت) ویل کېږي، او د موجوداتو پېژندل او یو له بل څخه یې توپیر کول په ځانګړو خاصیتونو سره کېږي.

نور، غږ، اوبه، هوا او ښیښه چې دا هر یو د کایناتو له ډلې (موجودات) دي، چې هغه کایناتو ته چې وزن ولري او په فضا کې ځای ونیسي جوهر یا ماده ویل کېږي، چې د مادې توپیرونه د هغوی د صفتونو او ځانګړنو په وسیله یو له بل څخه پېژندل کېږي، د بېلګې په توګه هوا، اوبه، ډبره او ښیښه ماده ده. خو نور(رڼا) او غږ ماده نه ګڼل کېږي، ځکه چې وزن نه لري او په فضا کې ځای نه نیسي، او ټول کاینات د یوې قوې او قدرت په وسیله په حرکت راځي تر څو یو عمل ترسره کړلای شي.

ماده په درې ډوله پیدا کېږي، چې درې ګوني حالتونه یې عبارت دي له مایع، جامد او غاز څخه. چې جامد توکي ثابت شکل لري، خو مایعات او غازات ثابت شکل نه لري، ځکه چې دا مواد د هر هغه لوښي بڼه ځانته غوره کوي چې پکې اچول شوي وي. همدارنګه ټول مواد په جسمي بڼه پیدا کېږي، د بېلګې په توګه کلی، مېخ، بېل او زولنې(ځنځیر) بېلا بېل جسمونه دي، خو دا ټول شیان د یوې اوسپنیزې مادې څخه جوړ شوي دي، چې پدې توګه جسمونه په دوو برخو وېشل کېږي: ساده جسم او مرکب جسم.

هر جسم د دایمي بدلون په حال کې دی، د بېلګې په توګه یو جسم د حرکت په وسیله له یوه ځایه بل ځای ته بدلون کوي، او همداشان وده کوي او یا هم کوچنی او رنګ یې بدلون مومي، خو ژوندی جسم وروسته له ناروغۍ څخه مړ کېږي چې په ژوندیو جسمونو کې دې ډول بدلونونو ته پېښه(واقعه) ویل کېږي، او په یوه ماده کې له بهروني اغېز پرته بدلون نه راځي، نو که چېرې د یوې مادې په اصل کې بدلون رانشي او د یوې پېښې په ترڅ کې په بله ماده باندې بدله نشي نو دې ډول بدلونونو ته فزیکي پېښې وایي، لکه د یوه کاغذ ټیرې کول چې دا یوه فزیکي پېښه ده یا پدې معنا چې د مادې ظاهري حالت بدلون وموند، نو د دې لپاره چې په یوه ماده کې فزیکي بدلون راشي اړینه ده چې یوه بهرنۍ قوه په ماده باندې عمل وکړي. خو هغه پېښې چې په ترڅ کې یې د مادې اصل بدلون وکړي او یوه ماده په بله ماده بدله شي کیمیاوي پېښې یا تعاملونه بلل کېږي، لکه د کاغذ له سوځېدو وروسته یوه بله ماده رامنځته کېږي چې ایره ده، نو د دې لپاره چې په یوه جسم کې کیمیاوي پېښه یا تعامل رامنځته شي اړینه ده چې په هغه کې یوه بله ماده اغېز وکړي، چې د دوو او یا ډېرو مادو تر منځ د کیمیاوي پېښو رامنځته کېدل د دوی د خپلمنځي اغېز په ترڅ کې د (کیمیاوي تعاملونو) په نامه یادېږي.

په کیمیاوي تعاملونو کې د ځینو موادو پر نورو باندې اغېز کول د یوې کوچنۍ برخې(اتوم) په

وسیله پېښېږي، چې د موادو دې وړې ذرې ته اتوم یا ذره ویل کېږي، او هر جسم د ذرو له ټولګې رامنځته شوی دی، سره له دې چې د زراتو د جوړښت تر منځ ورته والی شتون لري، خو په تحقیق سره د حجم او وزن تر منځ توپیر شتون لري، له همدې امله یو سل او پنځه ډوله ذرې پېژنو چې لویه ذره یې دومره کوچنۍ ده چې په پرمختللو الو یې هم نه شو لیدلای، د یو شانته(ورته) ذرو له یوځای کېدلو څخه بسیط جسم او عنصر او د سلګونو ذرو د شتون له کبله په سلګونو بسیط جسمونه رامنځته کېږي، همداراز اوسپنه، ګوګړ، سیماب، د اوکسېجن غاز او زغال چې ذات لري او د بېلا بېلو عناصرو له یوځای کېدلو څخه (مرکب جنس) رامنځته کېږي، چې په زرګونو او میلیونونو مرکب جسمونه شتون لري.

اوبه، خولې، مالګه او ګچ ټول مرکب جسمونه دي، نو ویلای شو چې مرکب جسمونه د دوو یا زیاتو ساده جسمونو له یوځای کېدو څخه رامنځته کېږي، او ساده یا بسیط جسمونه د اتومونو یا ذرو له یو ځای کېدو څخه رامنځته کېږي.

ټول جسمونه لکه غرونه، بحرونه او بېلا بېل نباتي او حیواني جسمونه د یو سل او پنځه جوهرونو(ذات لرونکو موادو) له یوځای کېدلو څخه رامنځته شوي دي، چې د ټول ژوندیو او مړو موجوداتو د رامنځته کېدلو بنسټیز توکي همدا یو سل او پنځه ډوله جوهرونه دي، پدې توګه هر جسم د همدې یو سل او پنځه ډوله جوهرونو له یوې برخې سره تر یوځای کېدلو وروسته رامنځته کېږي، چې هوا، خاوره، اوبه، تودخه، د لمر وړانګې، بربښنا او میکروبونه د مرکبو جسمونو د له منځه وړلو او د جسمونو د یوځای کېدلو لامل کېږي، او پرته له سبب څخه بدلون راتلل شونی نه دی، او د دې بدلونونو په ترڅ کې ذاتي جسمونه لکه ډبرې او داسې نور له یو ځای څخه بل ځای ته لېږدول کېږي، او وروسته له هغې چې دا جوهرونه له یوه جسم څخه بېل شي خپلواک حالت ځانته غوره کوي چې پر دې بنسټ د جسمونو ورکېدل وینو، او په دې توګه دې حکم ته باید غاړه کېږدو چې ووایو دا ظاهری خبره ده او وایو په تحقیق سره د یو شي رامنځته کېدل او له منځه تلل د موادو له بدلون پرته شوني نه دي، د بېلګې په توګه د یوه جسم له منځه تلل لکه په قبر کې په نورو جسمونو او بل بڼه د مړي بدلون په نوې بڼه د اوبو، غازونو او خاورینو توکو رامنځته کېدل، نو که چېرې له جسمونو څخه رامنځته شوي نوي بدلون موندونکي توکي زموږ پر پنځه ګونو حواسو اغېز ونه کړي نشو کولای چې د دې توکو په بیا رامنځته کېدلو پوه شو. نو له دې ځایه د مادې په بدلېدونکي حالت باندې د ورکېدلو(له منځه تللو) حکم کوو، همداراز موږ وینو چې د یو سل او پنځه ډوله عناصرو جوهر(اتوم) بڼه بدلون مومي او کیمیاوي او فزیکي پېښې پکې رامنځته کېږي، همداشان کله چې اتوم د یوه مرکب په جوړښت کې ګډ شي دا اتوم ایونونو ته بدلون کوي پدې معنا چې د دې اتوم ذرې یا الکترون ورکوي او یا یې اخلي.

همدارنګه د یوې مادې د ټولو کیمیاوي او فزیکي ځانګړنو بدلون د همدې اتوم له امله دی، او هر اتوم یوه هسته او ګڼ شمېر الکترونونه لري، چې هسته د اتوم په مرکز(منځنۍ برخه) کې شتون لري او د ټولو عنصرونو هسته له دوو برخو جوړه شوې ده چې عبارت له پروتون او نیوترون څخه دي، چې د پروتون ذره مثبت چارج لري، او نیوترون چارج نه لري بلکې د چارج له مخې خنثی ذره ده، همداشان الکترونونه چې په مدارونو کې د هستې پر شاوخوا ګرځي منفي چارج لري، او ځینې

وخت الکترونونه له یوه مدار څخه بل مدار ته انتقالېږي، پداسې حال کې چې الکترونونه تل پخپلو ټاکلو مدارونو کې حرکت کوي.

پدې توګه د زرو د هستو بدلونه او تجزیه کېدل په هغو عناصر کې چې ثابته هسته و نلري لیدل کېږي، [(لکه یورانیم، رادیوم او داسې نور). ژباړونکی]

د هستې د تجزیې په وخت کې په ډاګه کېږي چې کله یو اتوم بل اتوم ته بدلون وکړي او ماده د له منځه تلو په وخت کې په انرژۍ بدلېږي، چې دا بدلون د انشټین لخوا کشف شو، لکه څرنګه چې په مرکبونو کې بدلونونه رامنځته کېږي، همدا شان په اتوم کې هم دا بدلون رامنځته کېږي چې په ترڅ کې یې یو اتوم په بل اتوم بدلون کوي، نو پر دې بنسټ هره ژوندۍ او مړه ماده یو شانته بدلون مومي، یعنې دا بدلون پدې معنا چې پخوانۍ ماده لمنځه ځي او نوې ماده رامنځته کېږي، لکه څرنګه چې نن ورځ روح لرونکي موجودات(نباتات او حیوانات) رامنځته کېږي پداسې حال کې چې مخکې یې شتون نه درلود او پرځای یې نور ژوندي موجودات وو. ممکن تر څه مودې وروسته شته ژوندي موجودات هېڅ شتون ونلري، او پر ځای یې نور ژوندي موجودات رامنځته شي. همداشان دا خبره د غیر ژوندیو موجوداتو په برخه کې هم صدق کوي، او ټول ژوندي او غیر ژوندي کاینات به هم ژر ده چې داسې بدلون ومومي، د بېلګې په توګه اوسپنه یوه خالصه ماده او ډېره یوه غیر متجانسه او له بېلا بېلو جسمونو څخه جوړه شوې ماده ده، همدارنګه هډوکی او هغه څه چې هډوکي ته ورته دي، ټول بدلون مومي یعنې پخواني له منځه ځي او پرځای یې نوي ځیزونه رامنځته کېږي، خو انسان د نوو رامنځته کېدونکو او لمنځه تلونکو ځیزونو ترمنځ ښکاره توپیر له درک کولو څخه عاجز دی، خو که چېرې ټول ځیزونه یو او بل ته په ځانګړنو کې ورته وګڼې، او دا فکر وکړي چې ماده تل تر تله شتون لري، نو د دې انسان مثال هغه چا ته ورته دی چې د سینما پر پرده فېلم ګوري او نشي کولای چې د سیمنا پر پرده د ډېر تکرار له امله عادي انځور له اصلي انځور څخه بېل کړي، بلکې فکر کوي چې د سینما پر پرده اصلي او واقعي خلک شتون لري او حرکتونه ترسره کوي، همدارنګه کله چې کاغذ تر سوځېدو وروسته په ایرو بدل شي، وایو چې کاغذ له منځه لاړ او ایرې ترې لاسته راغلې، یا هم کله چې واوره ولې شي وایو چې واوره له منځه لاړه او اوبه ترې پیدا شوې. د مادې په اړه بشپړ معلومات په اوسنیو عصري علومو کې لیکل شوي دي، چې د لا زیاتو معلوماتو لپاره کولای شئ د (السعادة الابدیة) کتاب ته مراجعه وکړئ.

علامه سعدالدین مسعود بن عمر تفتازاني رحمه الله د خپل کتاب (شرح العقائد) په لومړي سر کې وایي: پرته له الله جل جلاله څخه نور ټول موجودات چې پر هغوی باندې یې جوړونکی(الله جل جلاله) علم لري د جسمونو، نبنو نښانو، نباتاتو، حیواناتو او داسې نور مخلوقات د کایناتو په نامه یادیږي.

همداراز علامه سید شریف جرجاني[۳۱] د (شرح المواقف) په ۴۴۱ مخ کې وایي: (په تحقیق سره پیدا کړل شوي جسمونه[یعنې د هر هغه مخلوق پیدا کېدل چې مخکې یې شتون نه درلود لکه چې مخکې مو هم په دې اړه یادونه کړې وه چې جسمونه تل له ځینو نورو څخه زېرېږي] او په

[۳۱] سید شریف علی جرجاني په ٦١٨ هـ ق کال کې چې له [۳۱۴۱ م] کال سره سمون لري په شیراز کې وفات شوی.

دې اړه د دې خبرې کول چې دا جسمونه یا خو پخپلو صفتونو او ذات سره موجود وو، یا دا چې له پخوا څخه یې ذات او صفتونه موجود وو، یا دا چې ذات یې پخوانی او صفتونه یې پیدا کړل شوي او یا هم د دې برعکس دي، چې دا څلور ډوله حالتونه نسبت د هغوی حقیقت ته قیاس شوي دي، وروسته که یو د دوی څخه یاد، یا هم رد او یا توقف وکړو، نو پدې صورت کې دا پنځه ګوني احتمالونه شتون لري: لومړی دا چې په تحقیق سره دا جسمونه د خپل ذات، اتومونو او عارضي صفتونو له کبله رامنځته شوي، چې دا خبره سمه ده او دا خبره په میلیونونه مسلمانان، یهودان، عیسویان او مجوسیان هم کوي.

دویم ډول هغه جسمونه چې ذات او صفات یې پخواني دي چې مشهور فیلسوف، ارسطو او د ده وروستني پیروان لکه فارابي[۳۲] او ابن سینا[۳۳] هم دا نظر لري[یعنې دا چې دا جسمونه ازلي دي او له نشت(هېڅ) څخه نه دي پیدا شوي او تل یې شتون درلود، چې د کیمیا علم د دې نظریې باطلان ثابت کړی دی، نو څوک چې داسې عقیده ولري او نور هم دې عقیدې ته راوبلي، د اسلام له دین څخه بهر او کافر کېږي].

دریم ډول هغه جسمونه چې ذات یې پخوانی خو صفتونه یې پیدا کړل شوي دي، چې دا نظر د هغو حکمیانو او فیلسوفانو دی چې تر ارسطو مخکې یې ژوند کوو.[چې په دې وخت کې ډېرې کسبي او هنرمند خلک پدې تېر ابستونکي او غلط نظر عقیده لري].

څلورم ډول هغه جسمونه چې ذات یې پیدا کړل شوی او صفتونه یې پخواني دي، چې دا نظر هېڅوک هم نه منې ځکه د دې نظر بطلان او غلط والی حتمي دی، نو دې عقلي ډولونو او بې ځایه نظري احتمالاتو ته په کتو سره پنځم ډول دا چې په څلور واړو ډولونو کې چې مخکې مو بیان کړل درېدل دي، نو هوښیار او عاقل کس ته دا نه ښایي چې دا احتمالونه رد او پکې سرګردان شي، بلکې اړینه ده چې په شعوري توګه دا احتمالونه رد کړل شي، چې جالینوس هم پدې نظر دی، لکه څرنګه چې له ده څخه کیسه کوي چې دی پداسې یوه ناروغۍ کې وو چې د هماغه له املا مړ هم شو، خپله زده کوونکو ته یې وویل ولیکئ هغه څه چې زه پرې پوهېږم دا دي چې کاینات پخواني(قدیم) او پیدا کړل شوي دي، او ویونکی نفس په حقیقت کې مزاج – خوی دی، چې پدې خبره سره یې د خپل وخت هغه کسانو ته چې پادشاه به ورته د فیلسوف لقب ورکاوه پېغور ورکړ. کله چې پدې خبره پوه شوې، نو تا ته د جسمونو د ذات او صفتونو د رامنځته(پیدا کېدلو) شېرګوني مسلکونه چې لومړی هغه یې د دې خبرې د ثبوت لپاره خورا نامتو او ساده دی، داسې چې جسمونه له پېښو (پیدا کېدلو) څخه نه بېلېږي، او هر هغه څه چې له پیدا کېدلو څخه بېل نشي هغه په ذات او صفاتو کې رامنځته (پیدا شوی) دی، نو جسمونه همداشان په ذات کې پیدا شوي دي).

او مسلمانانو دا له څو اړخونو په ډاګه(ثابته) کړې ده چې مواد او صفتونه یې حادث او پیدا کړل شوي دي: لومړی اړخ دا چې ټولې مادې او ذرې بدلېدونکې دي، او بدلون منونکو شیانو ته دا شونې نه ده چې پخواني(قدیم) وي، بلکې حادث او رامنځته کېدل یې حتمي دي، ځکه چې د هر هغې مادې شتون چې مخکې تر دې وه خپل لایتناهي پیل ته یې ورګرځېدل پرې کېږي او د دې

[۳۲] محمد الفارابي په ۳۳۹ هـ ق کال کې چې له[۹۵۰ م] کال سره سمون لري، وفات شوی دی.

[۳۳] () ابن سینا حسین په ۴۲۸ هـ ق کال کې چې له[۱۰۳۷ م] کال سره سمون لري، وفات شوی دی.

بدلونونو لپاره د پیل شتون حتمي او اړین دی، یعنې دا چې لومړنی مادې د رامنځته کېدلو پیل لري او په حقیقت کې هغه له نشت(عدم) څخه پیدا شوې دي، نو که چېرې لومړنی مادې چې له نشت څخه پیدا شوې نه وای، یعنې که چېرې د وروستنی مادې پیدا کېدل له هغه لومړنی مادې څخه چې د لایتناهي پیل ته ورګرځي وای، نو د ځینو موادو پیدا کېدل به له ځینو نورو څخه شوني نه وای، او نن ورځ به مور د مادې د نشتون شاهدان وو.

او دا پر دې دلالت کوي چې د ځینو مادو له ځینو نورو څخه پیدا کېدل، له هغو مادو څخه شوي چې د لومړي ځل لپاره له هېڅ شی(عدم) څخه پیدا شوې وي. چې دا موضوع د (المجددون في الدين) کتاب په اووه دېرشمه ماده کې بیان شوې، چې دا د دلیل او ثبوت په توګه دی، او د دې موضوع لوستل په یاد کتاب کې غوره دي.

همداراز وایو چې له اسمان څخه رالوېدلې ډېره، شوني نه ده چې له ازل څخه راغلې وي، ځکه د ازل پدې معنا چې هغه پیل او اول نه لري. او له ازل څخه د یوه شي راتګ پدې معنا چې له لایتناهي او هېڅ شي(عدم) څخه د هغه پیدا کېدل، او هغه شی چې په ازل کې یې د رامنځته کېدلو انګیرنه شتون ولري، نو لازمه ده چې هغه شی رامنځته نشي او د یوه رامنځته(حادث) شي په حق کې داسې دعوا کول چې په حقیقت کې له ازل څخه راغلې، یوه ناسمه، د عقل، منطق او فن خلاف دعوا ده، او د دې ډول فکر لرونکی له رانقل شوو روایتونو څخه منکر ګڼل کېږي، او دې ډول کس ناپوه(جاهل) ویل کېږي. همدارنګه له ځینو انسانانو څخه د ځینو نورو زېږېدنه شونې نه ده چې مخکې والی ولري، پداسې حال کې چې انسان د لومړي ځل لپاره له نشت څخه پیدا شوی او له هغه څخه نور انسانان د زېږېدنې په پایله کې پیدا شوي دي، خو که چېرې ووېل شي چې لومړنی پیدا کړل شوی انسان نه له هېڅ(عدم) څخه نه دی پیدا شوی، بلکې د زېږېدنې له لارې انسان له نورو مخکښنیو انسانانو څخه پیدا شوی، نو پدې حالت کې په ډاګه کېږي چې هېڅ انسان شتون نه لري. چې دا فرضیه همداشان په نورو ټولو مخلوقاتو باندې صدق کوي، او داسې دعوا کول چې جسمونه او مادې له ځینو نورو څخه رامنځته شوې دي، نو تر هر څه لومړی اړینه ده چې(داسې او هسې وي، او یا هم داسې او هسې نه وي، او یا دا چې په تحقیق سره له هېڅ یا نشت څخه پیدا شوې، او لومړني مواد هېڅ شتون نه لري) چې دا خبره د عقل، مطق او فن سره په ټکر کې ده، او د یوه شي بدلون دا غوښتنه نه کوي چې هغه شی د پخواني(قدیم) وي، بلکې له نشت(عدم) څخه د پیدا کېدلو غوښتنه کوي، یا په بله معنا؛ شتون یې د (واجب الوجود) غوښتنه نه کوي، بلکې د (ممکن الوجود) غوښته کوي.

پوښتنه: د دې کایناتو د جوړونکي ذات او صفتونه په تحقیق سره چې پخواني(ازلي قدیم) دي، نو ایا اړینه ده چې دا کاینات هم قدیم(پخواني) وي؟ ځکه چې د پیدا کړل شوو صفت قدیم دی.

ځواب: لکه څرنګه چې مور تل وینو چې ازلي جوړونکی(الله جل جلاله) مادې او ذرې په بېلا بېلو سببونو بدلوي او تغییر پکې راولي، یعنې اتومونه له منځه وړي او د هغه پر ځای بل څه رامنځته کوي، او همداراز ازلي خالق ځینې مواد له ځینو نورو څخه چې هر وخت یې اراده او خوښه شي پیدا کوي، لکه د اسبابو له لارې د کایناتو، مادې او ذرې پیدا کول پداسې حال کې که چېرې

اراده وکړي دا قدرت هم لري چې دا شیان پرته له سبب او واسطې پیدا او رامنځته کړي.

که څوک دا عقیده لري چې کاینات رامنځته کړل(حادث) شوي دي، نو پدې هم عقیده لري چې دا کاینات به ضرور له منځه ځي، یعنې لکه څرنګه چې لومړی ځل پیدا شوي داسې به له منځه ځي، ځکه هغه رب تعالی چې دا کاینات یې له نشت(عدم) څخه پیدا کړي نو بېرته به یې نشت ته ورګرځوي. لکه څرنګه چې اوس مهال د ډېرې کایناتو له منځه تلل پخپلو سترګو وینو، پداسې توګه چې دا فنا کېدل زمونږ په پنځه ګونو حسونو اغیز نه کوي.

نو پر دې باندې چې ټولې مادې، جسمونه او ټول شیان له نشت څخه پیدا شوي او دا شیان به بېرته نشت(عدم) ته ورګرځي، ایمان روا ؤل واجب دی تر څو یو کس پدې سره مسلمان وګرځي، او مور د شیانو رامنځته کېدل او بېرته له منځه تلل وینو، یعنې وینو چې د شیانو شکلونه او ځانګړنې په یوه حالت نه پاتې کېږي. مخکې مو وویل چې د جسمونو له منځه تللو وروسته د هغوی ماده پاتې کېږي، پداسې حال کې چې دا جسمونه ازلي نه دي، بلکې الله جل جلاله له اوږدې مودې راهیسې پیدا کړي دي، او د قیامت په ورځ یې ممکن بېرته له منځه یوسي، چې په اوس وخت کې صنعتي علوم هم د دې موضوع له منلو څخه انکار نه کوي، او له دې موضوع څخه د صنعتي علومو انکار په صنعت باندې د دروغو ټرې او د اسلام له دین سره دښمني ګڼل کېږي، همداراز د اسلام سپېڅلي دین د صنعتي او عصري علومو د پرېښودلو امر نه کوي، بلکې د ديني علم زده کړه نه کول او د عبادت په واجبو او اوامرو ځان نه خبرول نه خوښوي او له هغه څخه بېزاره دی، همدارنګه عصري او مسلکي علوم هم د اسلام له دین څخه انکار نه کوي.

نو که چېرې کاینات(عالم) پیدا شوی(حادث) وي نو حتمي ده چې خالق هم ولري، ځکه لکه چې مخکې مو وویل داسې شی نشته چې پخپل سر پیدا شوي وي، او نن ورځ په تولیدي او صنعتي مرکزونو کې په سلګونو او زرګونو صنعتي، کرنیز او سوداګریز توکي لکه درمل، د کور سامان، بربښنايي توکي او بېلا بېل جنګي او چاودېدونکي توکي د کره حسابونو او زیاتو تجربو په پایله کې تولیدېږي، نو ایا داسې دعوا کوونکی شته چې ووایي دا ټول شیان پخپل سر رامنځته او پیدا شوي دي؟ چې ځواب منفي دي بلکې ووایي چې دا توکي د علم او غوښتنې په ترڅ کې رامنځته شوي او پرته له جوړونکي یې رامنځته کېدل امکان نه لري، نو پر دې سربېره بیا ولې ووایي چې په میلیونونو توکو، ژوندیو موجوداتو، جامداتو او نوو کشفیاتو کې څرګندې نښې نښانې په هر وخت کې تر سترګو کېږي، نو ولې یې تر نن ورځې پورې چا ته ترکیب نه څرګندېږي، یا دا چې دا ټول شیان پخپل سر جوړ او راڅرګند شوي دي؟ دا پرته له دې چې د دې ډول دعوا کوونکي یوه دسیسه، ناپوهی، ضد او سکاره بې عقلي وي بل څه نه دي، او له دې څخه په ډاګه کېږي چې هره ماده او حرکت پیدا کوونکي(خالق) ته اړتیا لري. چې دا خالق واجب الوجود ذات دی، داسې چې هغه تل تر تله او واجب الوجود ذات دی، او شتون یې اصلا بل هېڅ شي ته اړتیا نلري، نو که چېرې تل تر تله ذات نه وای نو بیا به (ممکن الوجود) وای، لکه نور مخلوقات چې پیدا کړل شوي او رامنځته شوي دي العیاذ بالله، او یو مخلوق وروسته له هغې چې بل مخلوق بدلون وموميي رامنځته کېږي، او یا دا چې له نشت څخه پیدا کېږي نو اړینه ده چې جوړونکی او پیدا کوونکی ولري، او همدارنګه پدې کې پیوستون(تسلسل) داخلېږي چې ناشونی دی، لکه مخکې مو چې وویل او فکر

پکې وکړو دا چې په مخلوقاتو کې بدلونونه تر لایتناهي او اخیره پورې ادامه نه پیدا کوي، همدارنګه په دوو خالقانو(پیدا کوونکو) کې هم خلق کول ادامه نه پیدا کوي، او پیدا کول له لومړي خالق څخه پیل کېږي، که چېرې د خدای تعالی په خلقت کې پیوستون او دوران په نظر کې ونیسو نو د یوه خدای شتون له منځه ځي، پداسې حال کې چې لومړنی خالق نه دی پیدا کړل شوی، بلکې هغه د ټولو موجوداتو پیدا کوونکی او رامنځته کوونکی دی، او له هغه پرته بل د عبادت وړ نشته او هغه د هر شي پیدا کوونکی دی، نو کله چې د خدای تعالی قدیم والی ثابت شي، نو بیا یې نشتون(عدم) ناشونی کېږي، او هغه جل جلاله تل تر تله دی او که چېرې یوه شېبه نه وای نو هر څه او ټول موجودات به له منځه تللي وای، او هغه واجب الوجود ذات دی چې هېڅ شي ته اړتیا نه لري.

او همدارنګه اړینه ده چې هغه جل جلاله د ځمکو، اسمانونو، ذرو او ټولو مخلوقاتو چې په بشپړ دقت سره یې جوړ او پیدا کړي خالق وي، او د داسې ابدي او خارق العاده قدرت څښتن او پوه رب دی چې هر وخت وغواړي یو شی پیدا کوي داسې چې هېڅ بدلون پکې رانشي، نو که چېرې د ازلي قدرت او همېشنې علم څښتن نه وای، نو پدې حیرانونکي او کره نظم سره به یې دا مخلوقات او کاینات نه وای پیدا کړي، نو که پرته له الله جل جلاله بل خدای هم شتون لرلای، نو د دوی تر منځ به د یوه شي د خلقت پر سر اختلاف او د ارادې بدلون راتللای، او هغه چې اراده یې ونه منل شي هېڅکله خدای نشي کېدلای، نو پدې صورت کې په مخلوقاتو کې فساد رامنځته کېږي او د کاینانو نظام ګډوډېږي، لکه څرنګه چې الله جل جلاله پدې اړه په قران کریم داسې فرمایي (**لو کان فیهما آلهة الاّ الله لفسدتا**) ژباړه: که چېرې له یوه خدای جل جلاله پرته په ځمکه او سمانونو کې بل خدای هم شتون لرلای، نو د ځمکې او اسمانونو نظام به ګډوډ او وران شوی وای.

هغه څوک چې اراده یې سسته او څه چې وغواړي ترسره نشي کړلای، هېڅکله خدای نشي کېدلای. که څوک په دې اړه لا زیات معلومات غواړي نو د(قصیدة الأمالي) [٣٤] کتاب ته چې په عربي او ترکي ژبه دی، مراجعه وکړي.

او په خالق(پیدا کوونکي) کې هېڅکله بدلون نه راځي، او مخکې د کاینانو له پیدا کولو څخه هم داسې وو لکه اوس چې دی، لکه څرنګه یې چې ټول مخلوقات له هېڅ څخه پیدا کړل نو اوس هم همداسې د هر شي خالق او پنځوونکی دی، او بدلون پدې معنا چې له نشت(عدم) څخه یې شیان پیدا کړي دي. همداراز لکه چې مخکې مو وویل الله جل جلاله تل تر تله او همېشنی ذات دی او تل به وي، نو له دې کبله یې ذات او صفات هېڅ بدلون نه کوي، او ده جل جلاله ته ټول مخلوقات همېشه اړ دي، لکه څرنکه چې په لومړي سر کې ورته اړ وو، خو الله جل جلاله هر څه چې وغواړي ترسره او بدلون پکې راولي، همداشان یې د هر څه لپاره یې یو لامل پیدا کړی تر څو هر شي له تاکلي قانون او نظم سره حرکت وکړي، تر دې پورې چې نن ورځ بشر کولای شي چې د یوه فرهنګ او تمدن په اډانه کې ژوند وکړي، نو څرنګه یې چې سببونه پیدا کړي نو همداسې یې په دې سببونو کې د اغېزتیا او کار ترسره کولو وړتیا پیدا کړې ده. خو خلک نشي کولای چې یوه شی پیدا کړي، بلکې یوازې دومره کولای شي چې په موادو کې د سببونو د اغېزمنتیا لپاره اړین سامانونه چمتو کړي.

---

[٣٤] د قصیدة الأمالي کتاب لیکونکي، علی الأوشي دی چې په ٥٧٥ هـ ق کال کې چې له[٠٨١١ م] کال سره سمون لري، وفات شوی.

د لوړې په وخت کې د یوه شي خوړل، د ناروغۍ په وخت کې د درمل استعمالول، د ګوګړو څخه د شمعې روښانولو په وخت کې ګټه اخیستل، پر جستو باندې د تبزابو اچول یا ربړکشن د هایدروجن د غاز ترلاسه کولو لپاره، د ګچ د ډبرو سوځول د سمنټو ترلاسه کولو لپاره، د غوا ساتل د شیدو ترلاسه کولو لپاره او د برښنایي مؤلد جوړل د برښنا ترلاسه کولو لپاره او د بېلا بېلو صنعتي توکو جوړول د بېلا بېلو موخو لپاره چې دا ټول شیان د هغه څه لپاره چې الله جل جلاله پیدا کړي دي، وسایل او سببونه دي، چې د دې وسایلو جوړل د انسان د هغه ارادې او وړتیا په ترڅ کې چې الله جل جلاله ورکړې او پکې پیدا کړې ده، صورت مومي او خلک د دې شیانو د جوړولو لپاره سبب ګرځي، همدارنګه کله چې الله جل جلاله د یوه شي د رامنځته کولو اراده وکړي هغه شی رامنځته کېږي.

نو له دې څخه دا ویښا په ډاګه څرګندېږي چې وایي(دا هغه څه دي چې انسان پیدا کړي) او (دا شی یې پیدا کړي) دا پرته له دې چې یوه نه منونکي، د عقل او دین مخالفه خبره ده، بل څه نه دي او یوازې ناپوه او بې عقل انسان داسې خبره کوي، او پر ټولو خلکو باندې لازمه ده چې د هغه الله جل جلاله سره مینه وکړي چې پرته له هغه بل د عبادت وړ نشته، او په بشپړ اخلاص سره د هغه رب جل جلاله چې د هر څه څښره او بڼه جوړونکی، د مړو ژوندی کوونکی او روزي ورکوونکی دی بنده ګي وکړي، پدې معنا چې په هر چا لازمه ده چې د الله جل جلاله عبادت او اطاعت وکړي. چې دا موضوع په هغو مکتوبونو کې چې د دې کتاب په لومړي سر کې مو یادونه کړې، راغلې ده.

همداراز موږ ته واجب الوجود الله جل جلاله چې یو او بې نیازه ذات دی، او له ده څخه نو څوک زیږېدلی او نه دی له چا څخه زیږېدلی، پدې خبر کړي یو چې د (الله) نوم یوازې د ده حق دی، او بنده ګانو ته په هغه څه کې د بدلون راړولو حق نشته چې ده جل جلاله موږ ته د خپل ذاتي نوم په اړه ښودلي(رازده کړي) دي، او په یوه شي باندې پرته له حق او صلاحیت څخه عمل کول ظلم او بد کار ګڼل کېږي.

نصرانیان(عیسویان) او د دوی کشیشان او راهبان په درېیو خدایانو(خالقانو) باندې عقیده لري، مګر زموږ مخکینۍ خبرې د الله جل جلاله یووالی(وحدانیت) ثابتوي، داسې چې پرته له هغه بل د عبادت وړ نشته، چې د دوی د ټولو غلطو او باطلو خبرو لپاره ثبوت دی.

الله اکبر الله اکبر لا اله الاّ الله

والله اکبر الله اکبر ولله الحمد

ژباړه: الله جل جلاله لوی دی، او پرته له هغه بل د عبادت وړ نشته. او الله جل جلاله لوی او ټوله ستاینه ده لره ده.

سلفیان

د اهل سنت او جماعت په کتابونو کې د (سلفیانو) او یا هم (سلفي مذهب) لفظ نه موندل کېږي، دا او دې ته ورته نومونه د وهابیانو او بې مذهبو کسانو لخوا جوړ شوي دي. کله چې د دې بې مذهبو کتابونه له عربي ژبې څخه ترکي ژبې ته د ناپوهو کسانو لخوا وژباړل شول، نو دا سلفي فکرونه په ترکانو کې نشر شول، چې د دوی په فکر (یو مذهب چې نوم یې سلفي دی شتون لري،

او ټولو سنیانو د اشعریه او ماتریدیه مذهبونو له رامنځته راتللو څخه مخکې د دې مذهب پیروي کوله، او دوی د اصحابو کرامو او تابعینو رضی الله عنهم لاره څارله چې د اصحابو کرامو او تابعینو رضی الله عنهم او د هغوی د پیرواونو مذهب هم دا وو، او د تابعینو کرامو پیروان چې لوی امامان وو هم د دې مذهب پیروي کړې او لومړنی هغه کتاب چې ددې مذهب څخه په دفاع کې لیکل شوی د امام اعظم ابوحنیفه رضی الله عنه (فقه اکبر) کتاب دی، او همدارنګه امام غزالي[۲۵] پخپل کتاب (الجام العوام عن علم الکلام) کې د دې مذهب په اړه معلومات وړاندې کړي دي، داسې چې د سلفي مذهب مبداء او بنسټونه اووه دي، همدا راز د کلام علم په وروستنیو علماوو کې د امام غزالي لخوا رامنځته شو، او نومورې د کلام د علم په اصولو او بنسټونو کې د مخکښنیو متکلمینو او مسلمانو فیلسوفانو تر ژورې مطالعې او تحقیقاتو وروسته ډېر بدلونونه راوستل او فلسفي بحثونه یې د کلام په علم کې د رد په موخه ور د ننه(داخل) کړل، خو امام رازي او امدي د کلام او فلسفې په یو ځای کولو سره یو ځانګړی علم رامنځته کړ، او امام بیضاوي کلام او فلسفه داسې سره ګډ کړل چې یو له بل څخه یې بېلول او توپیر کول ناشوني شول، د کلام وروستنیو علماوو د سلفي مذهب نشر منع کړ، خو ابن تیمیه او شاګرد یې ابن القیم جوزیه د دې مذهب په بیا راژوندي کولو کې ډېره هڅه وکړه. سلفي مذهب په دوو برخو وېشل کېږي، لومړی ډول هغه لومړني سلفیان دي چې د الله جل جلاله د صفتونو او متشابهاتو په اړه جزئیاتو ته نه ځي، خو دویم ډول سلفیان چې وروسته را څرګند شول د پورته یادو شوو موضوعاتو جزئیاتو ته ډېره پاملرنه کوي، چې له دې ډلې وروستني سلفیان چې ابن تیمیه او د ده شاګرد ابن القیم جوزیه دي یادولی شو.

لومړني او وروستني سلفیان د (ځانګړو اهل سنت) په نامه سره یادېږي، سره له دې چې د اهل سنت لومړنیو متکلمینو ځینې ایتونه تفسیر کړل خو سلفیانو ورسره مخالفت وکړ او د دې قول چې د الله جل جلاله بلا کیف مخ او راتګ د انسان له مخ او راتګ سره ورته والی نه لري) ورسره جدایي وکړه، او دا د دوی خبرې دي.

همدارنګه دا خبره هم سمه نه ده چې د (الاشعریه او ماتریدیه) مذهبونه وروسته رامنځته شوي دي، ځکه دې دوو لویو امامانو دیني علوم او عقاید په بشپړه توګه بیان کړي، کوم چې صالحو سلفو پېژندلي او بیان کړي دي، او هغه یې په بېلا بېلو بابونو(څپرکو) کې تنظیم کړي ترڅو ځوانان په اسانۍ سره پرې وپوهېږي. همداراز د امام اشعري د درس په کړۍ(حلقه) کې داسې زده کوونکو شتون درلود لکه امام شافعي رحمه الله او د امام ماتریدی د درس لویه کړۍ درلوده چې امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله به پکې شتون درلود، چې دا دواړه امامان هېڅکله هم د خپلو استاذانو له مذهب څخه نه دي بهر شوي، او کوم نوی مذهب یې هم نه دی رامنځته کړی، او د دوي د استاذانو او د ځلورو واړو مذهبونو لپاره یوازې یو مذهب شتون لري چې له(اهل سنت او جماعت) څخه عبارت دی، او سمه خبره دا ده چې دا یوه ډله ده. چې د دې ډلې عقیده په ټوله معنا سره د صحابوو، تابعینو او تبع تابعینو رضی الله عنهم له عقیدې سره موافقه او یو شانته ده.

د (فقه اکبر) کتاب چې امام ابو حنیفه لیکلي دی، د اهل سنت او جماعت له عقیدې څخه دفاع کوي، خو په دې کتاب کې د سلفي په نوم هېڅ کلمه نه ده راغلې، او نه هم د امام غزالي رحمه

[۲۵] امام غزالی رحمه الله په ۵۰۵ هـ ق کال کې چې [۱۱۱۱ م) کال سره سمون لري په طوس کې وفات شوی.

الله په (الجام العوام عن علم الكلام) كتاب كې داسې څه راغلي دي، او مورږ مخكې هم دا او دې ته ورته ډېر كتابونه لوستي دي، چې د فقې اكبر كتاب يوه شرحه (القول الفصل) چې تر څلور سوه زياتې پاڼې لري، په هغه كې د اهل ست او جماعت مذهب تعريف شوى او پر بدعتيانو او فيلسوفانو يې قوي رد كړى دى، نو له همدې امله مو د (القول الفصل) او (الجام العوام) كتابونه چاپ كړل، ځكه په دې كتابونو كې مورږ ډېرې لويې ګټې ليدلې وې.

همدارنګه د حقيقت كتابتون د دويم ځل لپاره دا دوه كتابونه له فلمونو څخه چاپ كړل، امام غزالي پخپل كتاب(الجام العوام) كې وايي چې(پوه شه چې سكاره حق هغه دى چې د بصيرت د خاوندانو پر وړاندې په هغه كې شک نه وي، چې دا د سلفو مذهب هم دى، چې موخه مې د صحابو او تابعينو كرامو مذهب دى، چې ما يې بيان او د دليل بيان هم راوړى دى نو مورږ وايو چې د سلفو صالحينو مذهب حقيقت دى او زمورږ په وړاندې هغه حق مذهب دى، او په تحقيق سره هر چا ته چې له عامو خلكو څخه يو له دغې حديثونو څخه رسېدلى وي، نو پر ده باندې دا اووه چارې لازمې دي).

له دې ځايه څرګندېږي چې د الجام العوام كتاب اووه څيزونه د سلفو صالحينو د مذهب لپاره بنسټ بللي دي، پداسې حال كې چې سلفيانو دا خبره داسې تحريف كړې ده(د سلفيانو اووه ګونې مبداوې) چې د كتاب عبارت يې تحريف كړى او په امام غزالي رحمه الله پسې يې دروغ تړلي دي، پداسې حال كې چې د اهل سنت په ټولو كتابونو كې دا مسئله راغلې، د بېلګې په توګه د (الدر المختار) كتاب د (شهادت په فصل) كې چې دا يو غوره كتاب دى، راځي چې (د سلف كلمه د صحابه او تابعينو كرامو نوم دى چې دوى ته «صالح سلف» وايي، او خلف د اهل سنت هغه علماوو ته ويل كېږي، چې تر سلفو صالحينو وروسته راغلي دي)، همدا شان تبع تابعين هم په سلفو صالحينو كې راځي، لكه امام غزالي، فخرالدين رازي او امام بيضاوي رحمهم الله تعالى[چې امام بيضاوي د سلفو صالحينو د مذهب سره سم د تفسير د علماوو سرلارى او تاج وو. هغه بدعتي ډله چې د ده په وخت كې راځرګنده شوه، هغوى د عقايدو علم له فلسفې سره ګډ كړ، بلكې دا يې هم وكړل چې د ايمان بنسټ يې پر فلسفه باندې كېښود، چې د دې لار وركې ډلې عقيده د ابي الفتح محمد بن عبدالكريم الشهرستاني [٣٦] په (الملل والنحل) كتاب كې په بشپړه توګه بيان شوې ده.

همدارنګه دريې واړو امامانو د اهل سنت او جماعت له مذهب څخه د دفاع په وخت كې د ټولو لار وركو ډلو پر فلسفه باندې اوږده ردونه كړي او د دوى باطلې نظريې يې باطلې كړې دي، چې دا ځوابونه د فلسفې او اهل سنت د مذهب له ګډېدو څخه نه دي شوي، بلكې د كلام د علم پر متې يې هغه فلسفه چې مذهب ته رانونتلې وه په له مذهب څخه پاكه او سوچه كړه، چې د دې خبرې ستر دليل د امام بيضاوي قاضي رحمه الله تفسير او د هغه تر ټوله غوره شرحه(شيخ زاده) ده، چې په هغه كې هېڅ ډول فلسفي فكر، نظريه او تګلاره شتون نه لري. او دا دعوا كول چې دا امامان په فلسفي تګلاره روان وو، دا په حقيقت كې په نومورو امامانو پسې لوى دروغ تړل ګڼل كېږي.

ابن تيميه پخپل كتاب(الواسطه) كې د اهل سنت په علماوو پسې لومړني دروغ دا تړلې چې ابن تيميه او شاګرد يې ابن القيم الجوزيه هڅه او كوښښ كړى تر څو سلفي مذهب راژوندى كړي،

[٣٦] عبدالكريم شهرستاني په ٨٤٥ هـ ق كال كې چې له [٤٥١١ م] كال سره سمون لري په بغداد كې وفات شوى.

چې د حق او باطل تر منځ دا مهم ټکی تري څرګندېږي چې دوی له حق څخه وښوېدل داسې چې تر دې مخکې د سلفي په نوم کوم مذهب شتون نه درلود، نو ځنګه کولای شي چې د داسې یوه مذهب په بیا راژوندي کولو کې هڅه وکړي چې مخکې هېڅ شتون ونه لري؟ پداسې حال کې چې تر دې مخکې یوازې یو په سالم اعتقاد ولاړ مذهب چې هغه د(اهل سنت او جماعت) مذهب دی شتون درلود، خو ابن تیمیه راغی او حق مذهب یې فاسد کړ، او د ده په لاس لوی، لوی بدعتونه راڅرګند شول چې د وهابیت د لوېې غمیزې د رامنځته کېدو سبب وګرځېدل. چې نن ورځ د ابن تیمیه بدعتونه د وهابیانو، بې مذهبو او په دین کې په ناپوهې او ګمراهۍ سره نوي کوونکو(تجدیدونکو) د فکرونو، لیکنو او کتابونو لپاره اصلي سرچینه او مصدر وګرځېد، او دغو پر باطله کسانو(وهابیانو) د مسلمانانو د تېر ابستلو او مسلمانو ځوانانو د قانع کولو لپاره یوه لویه دوکه او چل وکړ، داسې چې ورته یې دا څرګنده کړه چې مورږ پر حق لاره روان یو، خو تر هغه چې ځوانان د ابن تیمیه په لاره درومي دوی ته د ابن تیمیه بدعتونه په حقه او سم ښکاري، او ده د سلفي نوم صالحو سلفو پر ځای وکاراوه او مسلمان علماء یې بد وګڼل، پداسې حال کې چې هغه د سلفو صالحینو خلف(وروستني) او پیروي کوونکي وو، چې دوی په بدعت او فلسفه سره ملامتوي او دا تور پرې لګوي چې دوی د سلفیانو له لارې اوښتي دي، چې د سلفي کلمه د ده لخوا رامنځته او جوړه شوې ده، او وهابیانو د ابن تیمیه لپاره داسې تبلیغاتي پروپاګند وکړل چې ګواګې نوموړی یو اتل مجتهد دی او سلفي مذهب یې له سره راژوندی کړ، پداسې حال کې چې په حقیقت کې د سلفو صالحینو خلف او پیروي کوونکي د سني علماء دي چې پخپلو پخوانیو او اوسنیو تالیفاتو کې یې له د اهل سنت له مذهب او عقایدو څخه دفاع کړې ده، چې هغه د سلفو صالحینو مذهب وو، او همداراز یې خبر ورکړی چې ابن تیمیه، شوکاني[۳۷] او د دوی پشان کسان او ټول وهابیان د سلفو صالحینو له لارې بې لاره شوي او دوی مسلمانان د تباهۍ او اور خوا ته شړي. که څوک د (التوسل بالنبي و بالصالحین، علماء الاسلام والمخالفون، شفاء السقام او د دې کتاب مقدمه تطهیر الفؤاد من دنس الاعتقاد) ولولي نو پر دې پوهېږي چې هغه څوک چې د (السلفیة جدیدة) یا نوی سلفیت په نامه یې دا باطله عقیده رامنځته کړې ده، دوی په حقیقت کې له داخل څخه دین تخریب او له منځه وړي.

پدې وروستیو وختونو کې د ډېرې کسانو له خولې دا کلمه اورو چې (سلفي او سلفیت چې اوسنۍ رسنۍ یې د رښتینو خلفو«الخلف الصادقون» په نامه یادوي، خو په هر مسلمان او مسلمانه باندې لازمه ده پر دې پوه شي چې په اسلام کې پرته له یوه مذهبه نور مذهبونه نشته او هغه یوازینی مذهب د سلفو صالحینو مذهب دی، او ټول هغه مسلمانان چې په لومړنیو دوو پېړیو کې اوسېدل او په مبارکو حدیثونو کې یې ستاینه او پر دوی ثنا ویل شوې ده، چې د هغوی عزتمندو مذهب د (اهل سنت او جماعت) په نامه سره یادېږي، او دا د ایمان او عقیدې مذهب دی چې د صحابه رضی الله عنهم او تابعینو کرامو هم دا ایمان وو، او د دوی په عقیده کې هېڅ توپیر شتون نه درلود او د ځمکې پر مخ لویه کچه مسلمانان هم د اهل سنت مذهب ته منسوب دي.

---

[۳۷] محمد شوکاني زیدي په ۱۲۵۰ هـ ق کال کې چې له [۱۸۳۴ م] کال سره سمون لري په صنعاء کې وفات شوی.

په تحقیق سره چې دوه اویا باطلې ډلې وروسته له خیر القرون (د اسلام لومړنیو پیړیو) څخه راڅرګندې شوې، پداسې حال کې چې د ځینو ګمراه ډلو بنسټګر مخکې له دې پیړیو اوسېدل، خو د تابعینو کرامو له دورې وروسته راڅرګند شول او خپل کتابونه یې ولیکل او د یوه ټولې په څېر راڅرګند او د اهل سنت او جماعت سره یې مخالفت پیل کړ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د اهل سنت او جماعت عقیده بیان کړې ده، او صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم دیني علوم له اصلي مصدر او سرچینې(رسول الله صلی الله علیه وسلم) څخه ترلاسه کړي، پر همدې ترتیب تابعینو کرامو رحمهم الله له صحابه رضی الله عنهم څخه دیني علوم ترلاسه کړي، همدارنګه مونږ ته د اهل سنت دا دیني علوم په تواتر ډول رارسېدلي او لېږدول شوي دي، چې د دې علومو ترلاسه کول او زده کړه د عقل له لارې شونې نه ده ځکه عقل د هغه د بدلولو توان نه لري، بلکې عقل د دې علومو د زده کړې لپاره یوه وسیله ده او همدارنګه د دې علوْمو د سموالي او ارزښت پېژندلو لپاره د عقل شتون اړین دی.

همداشان ټولو محدثیونو کرامو هم د اهل سنت او جماعت د عقیدې پیروي کوله، او د فقهې څلور واړو امامان پخپلو مذهبونو باندې وو، او همدارنګه دوه لوی امامان لکه اشعري او ماتریدي هم د اهل سنت او جماعت پر مذهب وو، چې دوی له دې مذهب څخه د ټولو ګمراهانو او ماده پرستانو کوم چې د یونایي فلسفې په کندو او ډنډونو کې لوېدلي وو دفاع کوله، او د اهل سنت همدا دوه جلیل القدر عالمان چې په مختلفو وختونو کې راغلي وو د دین د دښمنانو د فکرونو، نظرونو او وختونو سره سم ځواب ویلی دی، چې د یو او بل څخه یې د دفاع ډول او بڼه د یادو ستونزو پر بنسټ توپیر کوي. سره له دې چې د دې دوو لویو علماوو د دفاع بڼه یو له بل سره توپیر لري، خو د دوی دواړو مذهب یو وو، او پر دې خبره په زرګونو سني علماوو او اولیاء کرامو چې وروسته له دوی څخه راغلي دي د دې دوو لویو عالمانو د کتابونو له ډېرې څېړنې وروسته اجماع کړې چې دا دوه لوی عالمان(اشعري او ماتریدي) د اهل سنت پر مذهب دي، سني عالمانو د نصوصو ظاهري معنا اخیستې ده، هغه معنا چې قراني ایتونه او نبوي احادیث ظاهر ته په کتو سره پرته له دې چې په معنا کې یې بدلون راشي او د ارتیا غوښتنه هم نه وي معنا کوي، او هېڅ ډول بدلون د خپل فکر او پېژندګلوی سره پکې نه راولي، خو بدعتیان، د نفسي غوښتنو پیروان، شک کوونکي او بې مذهبه کسان د نصوصو په معنا کې له یوناني فلسفې، له دین سره د کینه کښو کسانو له مهارتونو او هر هغه څه چې دوی پرې علم لري ګټه اخلي، او پر دې سبب هېڅ شرم نه کوي چې په اعتقادي او عبادي علومو کې بدلون راولي، له کله چې عثماني خلافت یا دولت (چې د اسلام د دین او سني عالمانو خادم او ملاتړی وو)، د کمونېستانو، تبشیري ډلو (چې په پیړیو یې دوام وکړ) او د انګرېزانو د ناولي سیاست او د بېلا بېلو وسایلو، چلونو او لومو کارولو په ترڅ کې له منځه لاړ او ونړېد، نو دا وخت بې مذهبو ډګر تش ولید او دا وخت یې غنیمت وګاڼه، او په هغه هېوادونو کې چې د اهل سنت عالمانو ته د خبرو کولو حق نه وو، په ځانګړي ډول په سعودي عربستان کې نو دې بې مذهبو خپل یرغل او هجوم پر اهل سنت او جماعت مذهب او له د ننه څخه د دین په له منځه وړلو پیل کړ، چې په دروغو او شیطاني لومو سره یې د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې خپل یرغل ته د سعودي دولت پر مالي ملاتړ او سرو زرو په ورکولو سره دوام ورکړ، همدارنګه هغه خبرونه چې مور ته له هند، پاکستان

او افریقایي هېوادونو څخه رارسېدلي دي ځرګندوي چې ځینې هغه کسان چې په یادو هېوادونو کې ورته د دین عالمان ویل کېږي، په حقیقت کې دوی هېڅ علم، تقوا او له الله جل جلاله څخه وېره نه لري، او دوی لوی، لوی مقامونه او لوړې رتبې د دې ظالمانو د تایید او منلو پر مټ ترلاسه کړي دي، او په ځانګړې توګه د ځوانانو د بې لارې کولو او د اهل سنت له مذهب څخه د راګرځولو او ناوړې ګټې اخیستلو هڅه کوي، همداراز موږ یو داسې کتاب ترلاسه کړ چې دې بې مذهبو د ځوانانو د تېر ایستلو لپاره لیکلی او په مدرسو کې یې ورته لولي تر څو دوی او د مسلمانانو اولادونه پرې دوکه کړي. چې د نوموړي کتاب په یوه پاڼه کې راځي(دا کتاب مې د دې لپاره لیکي چې مذهبي تعصب له منځه لاړ شي او هر څوک وکولای شي د خپلې خوښې مذهب غوره کړي) چې دا کس د مذهبي تعصب له منځه وړل په دې کې وینې چې د اهل سنت مذهب او سني عالمانو شان او شوکت تر اغېز او څار لاندې ونیول شي، او دی د اسلام دین په خنجر سره وهي او په دې توګه داسې انګیري چې له دې لارې مسلمانان کولای شي په ارامۍ او سوله کې ژوند وکړي، همداراز د کتاب په یوه ځای کې وایي چې (هغه فکر کوونکی او مفکر انسان چې پخپل فکر سره موخې یا حق ته ورسېږي لس نېکۍ ورکول کېږي، خو که چېرې پخپل فکر کې تېر وځي او یا خطا شي نو یوه نېکي ورکول کېږي) چې په دې توګه هر انسان ته که مسلمان، مشرک او یا کافر وي، په فکر کولو سره حق ته د رسېدو په صورت کې اجر(ثواب) ورکول کېږي.

نو تاسې دې کس ته وګورئ چې ځرنګه د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم حدیث تحریفوي او بدلون پکې راولي، پداسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي(که چېرې د اجتهاد او فکر حق ته ورسېږي لس نېکۍ او که خطا شوې یوه نېکي درکول کېږي) لکه ځرنګه چې د شرح العقاید په وروستنۍ برخه کې هم دا رنګه راځي، له دې نبوي حدیث شریف څخه په ډاګه کېږي چې نېکي د هر فکر کوونکي لپاره نه ده، بلکې د هغه مسلمان او دیني عالم لپاره ده چې د اجتهاد مرتبې ته رسېدلی وي، او همدارنګه د هر ډول فکر کولو لپاره هم نېکي نشته، بلکې یوازې د هغه فکر لپاره ده چې له نصوصو څخه یې مجتهد د احکامو را ایستلو په وخت کې کوي، او د مجتهد دا فکر عبادت دی، او د هر عبادت لپاره اجر او ثواب وي.

د سلفو صالحینو او مجتهدینو عالمانو (چې د سلفو صالحینو خلف دي) په وخت کې، یعنې د څلورمې هجري پېړۍ تر وروستیو پورې، په بشري ژوند کې نوې پېښې، بدلونونه او ځیزونه راڅرګند شول چې تر هغه مخکې یې شتون نه درلود، نو مجتهدینو علماوو د دې نوو ځیزونو او پېښو د حل لپاره شپه او ورځ هڅه وکړه او د هغو لپاره یې احکام له څلور ګونو سرچینو(مصدرونو) څخه را استنباط کړل، چې دا څلور مصدرونه (الادله الشرعیه) د شریعت ستنې او بنسټ تشکیلوي، او نورو ټولو مسلمانانو د خپلو مجتهدینو امامانو تقلید پر دې عقیده پیل کړ چې دوی دا احکام استناط کړي دي.

همدارنګه پر دې احکامو عمل کوونکي هم پر لسو او یا یوې نېکۍ باندې بریالي کېږي، تر څلورمې هجرۍ پېړۍ وروسته پر همدې مجتهدینو علماوو او هغه څه چې دوی دا استناط کړي وو، مسلمانانو اقتدا وکړه. خو په دې دومره اوږده وخت او زمانه کې یو مسلمان هم داسې پیدا نه شو چې سرګردانه شي او کومه دیني مسئله یې له حل پرته باقي پاتې شي، نو پر مونږ باندې لازمه ده

چې له داسې مسلمان او پوه عالم څخه چې د څلورګونو مذهبونو کتابونه ولوستلای او بیان کړای شي او علم پرې ولري، علم او پوه ترلاسه کړو، او یا د اهل سنت د یوه مذهب له ارزښتمنو کتابونو څخه چې ژباړل شوي علم ترلاسه کړو، او څرنګه چې مناسبه وي د هغه په رڼا کې هماغه ډول ژوند او عبادت وکړو، لکه څرنګه چې تر دې وروسته شونې نه ده چې یو عالم او مفتي د اوومې مرتبې ته کومه چې مخکښني مجتهدین علماء هغه ته رسېدلي وو ورسېږي، او همداشان الله جل جلاله مور ته په قران کریم کې د ټولو مسایلو په اړه خبر او حکم راکړی دی، او وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم مور ته هغه ټول احکام او مسایل بیان کړي، او سني عالمانو ورسته له هغې چې دا احکام او علوم یې له صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه زده کړل په کتابونو کې ولیکل، او وروسته ټولو لویو عالمانو چې د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې یې ژوند کاوه دا احکام په کتابونو کې ولیکل، او هر هغه نوی شی چې د قیامت تر ورځې د نړۍ په هر ګوټ کې راڅرګندېږي د همدې لویو عالمانو له کتابونو څخه د قیاس کولو پر مټ د هرې مسئلې حل شونی دی، چې دا د قران کریم د ښکاره معجزو څخه یوه معجزه او د مسلمانو علماوو د کرامتونو له ډلې یو کرامت دی.

خو تر ټولو اړینه دا ده، چې د یوې بېړنۍ مسئلې او پر هغه د عمل کولو د څرنګوالي پوښتنه او تعلیم له رښتیني سني مسلمان څخه ترسره شي، او که چېرې له داسې یوه عالم څخه چې د هېڅ مذهب پیروي نه کوي پوښتنه ترسره شي، نو ممکن داسې ځواب او لاره وښایي چې د فقهې له کتابونو سره په ټکر کې وي، او انسان د ګمراهۍ لارې او زیان ته کاږه کړي.

او مور په دې کتاب کې دا په ډاګه کړې ده چې څنګه ځینې کسان عربي هېوادنو ته لاړل او هلته ډېر کلونه پاتې شول، هلته یې په عربي ژبه خبرې کول زده کړل، او په دې توګه یې خپل عمر په خوندونو، شهوتونو او ګناهونو کې تېر کړ، او په پای کې د اهل سنت د دښمنانو او بې مذهبو لخوا چې د هېڅ یوه حق مذهب پیروي نه کوي د فراغت سندونه ورکړل شول او بېرته یې خپلو هېوادونو لکه پاکستان او هند ته ستانه شول، او هلته یې مسلمان ځوانان ګمراه او دوکه کړل، دا ځکه چې ځوانانو دا فکر کاوه چې دا عالمان دي او د دوی جعلي او دروغجن سندونه او په عربي ژبه خبرې کولو دوی تېر اېستلي وو، پداسې حال کې چې په حقیقت کې دوی هغه ناپوه کسان وو چې د یوه فقهي کتاب د متن له لوستلو څخه عاجز وو، او په ځانګړې توګه د دوی په مغز کې هېڅ ډول فقهي پوهه او د فقهي مسایلو په اړه چې په فقهي کتابونو کې راغلي دي علم شتون نه درلود، خو پر دې سربېره دوی دا اسلامي علوم(فقه) هېڅ نه منله بلکې هغه یې د رجعي یا بېرته ګرځېدو په نامه سره یادول.

په تېرو وختونو کې مسلمانو عالمانو د هغو پوښتنو ځوابونه چې له دوی څخه به ترسره کېدلې په فقهي کتابونو کې لټولې، خو بې مذهبه ديني عالم پوښتونکي له خپل فکر، ناپوه سر او لنډ عقل څخه په ځواب ویلو سره دوکه او تېر باسي، ځکه چې دی په فقهي کتاب نه پوهېږي نو پر دې بنسټ دی اور ته د پوښتونکي د داخلېدو سبب کېږي. نو له همدې کبله رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي(الا ان شرّ الشرّ شرار العلماء و ان خیر الخیر خیار العلماء) رواه الدرامي[۳۸] ژباړه: تر ټولو بده بدي د عالمانو بدي ده، او تر ټوله ښېګڼو ښه ښېګڼه د عالمانو ده.

[۳۸] عبدالله دارمي په ۵۵۲ هـ ق کال کې چې له [۹۶۸م] کال سره سمون لري وفات شوی.

له دې حدیث شریف څخه په ډاګه کېږي چې تر ټولو ښه مخلوق سني عالم او تر ټولو بد مخلوق بې مذهبه عالم دی، ځکه چې لومړی ډول عالم خلک جنت او بخښنې ته رابلي او دویم ډول عالم خلک د خپل ځان، نظر او باطلو فکرونو پیروی ته رابلي چې د تباهۍ او دوزخ ته ننوتلو سبب کېږي.

استاذ ابن خلیفه علیوي چې د مصر د قاهرې له ازهر اسلامي پوهنتون څخه فارغ شوی پخپل کتاب (عقیدة السلف والخلف) چې له (تاریخ المذاهب الاسلامیه) د محمد ابی زهرة له کتاب څخه رانقل شوی وایي: (تر دې وروسته د عصر علامه شیخ صاحب زهرة ته بلنه ورکوو چې موږ ته لومړني سلفیان راوپېژني او را ته څرګنده شي چې تر هغوی وروسته معاصر سلفیان څوک دی؟ علامه ابو زهرة پخپل کتاب « د اسلامي مذهبونو تاریخ» کې د سلفیانو او وهابیانو په څېرکي کې وایي: « په څلورمه هجري پېړۍ کې یوه ډله خلک چې حنبلیان ورته ویل کېدل راڅرګند شول، چې دوی به ځانونه سلفیان بلل. چې د دوی د نظرونو او رایو ټولګه د امام احمد بن حنبل مذهب ګڼل کېږي، چې امام احمد بن حنبل هغه سړی دی چې د لومړي ځل لپاره یې د سلفو صالحینو عقیده را ژوندۍ کړه، چې بیا وروسته په اوومه هجري پېړۍ کې دا عقیده ابن تیمیه را ژوندۍ کړه او د سلفو صالحینو تګلارې ته په ورګرځېدو یې ټینګار وکړ او ځینې نور شیان یې وربانديې اضافه کړل. او په دیارلسمه پېړۍ کې په عربي جزیره کې د محمد بن عبدالوهاب لخوا یو دعوت(بلنه) راڅرګنده او پیل شوه، چې تر نن پورې دوام لري او د همده پر نامه دې خلکو ته وهابیان ویل کېږي او دوی(وهابیان) خلک خپلې لارې ته رابلي.

کله چې په څورلسمه پېړۍ کې د حنبلیانو لخوا یو دعوت راڅرګند شو او سلفیان یې خالص توحید او له زیارتونو څخه د مجسم شرک لیرې کولو ته راوبلل، نو دوی د قران کریم په ایتونو کې تاویل(تفسیر) او ورته والی او خبرې وکړې، همداراز په دې پېړۍ کې ځینو حنبلیانو لکه ابن جوزي بحثونه وکړل چې ان شاء الله وروسته به یې یاد کړو، دې سلفیانو کوښښ کاوه چې خلک د صحابه او تابعینو کرامو هغو عقایدو ته چې دوی پرې ایمان درلود دعوت کړي، او پر خلکو یې د کلام په علم کې وهمونه او چټیات حرام وګرځول، تر څو ایمان سالم شي او پر خلکو یې دا لازمي وګڼله چې له قران کریم او نبوي احادیثو څخه خپله عقیده ترلاسه کړي، لکه څرنګه چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم او اصحابو یې غوره کړې وه، همدومره خبره پاتې وه چې خلک دا شی واخلي او یا یې رد کړي چې په همدې وخت کې ابن تیمیه راغی» وروسته له هغه چې پر لومړنیو حنبلي سلفیانود ابن جوزي[۳۹] رد واورو نو په ډاګه کېږي چې د دوی دعوت او بلنه د څه لپاره ده؟ او بیا د ابي زهرة څخه رانقل شوی حدیث شریف هم لولو) په دې کتاب کې د سلفیانو او وهابیانو ډېر بدعتونه او په اهل سنت او جماعت علماوو پسې د دوی لخوا دروغجنې دسیسې او د هغو رد په بشپړ تفصیل سره راغلی دی، چې دا کتاب په ۱۳۹۸ هـ ق کال کې چې له [۱۹۷۸م] کال سره سمون لري او دري سوه او څلوېښت پاڼې لري، په شام(دمشق) کې چاپ شوی دی.

بې مذهبه خپلو ځانونو ته د سلفیانو خطاب کوي، او وایي چې ابن تیمیه د سلفي علماوو تر

[۳۹] عبدالرحمن ابن جوزي حنبلي په ۷۹۵ هـ ق کال کې چې له [۲۰۲۱ م] کال سره سمون لري په بغداد کې وفات شوی.

ټولو غوره او پوه عالم وو، چې دا خبرې له یوې خوا سمې دي ځکه تر ابن تیمیه مخکې هېڅا هم د (سلفي) کلمه نه ده یاده کړې، او د ده نیمګړې، علتمند او فاسد فکرونه د وهابیانو، بې مذهبانو او نورو لارورکو لپاره دلیل او لارښود وګرځېدل. ابن تیمیه له حنبلي مذهب څخه پیل وکړ، چې د اهل سنت او جماعت له ډلې یوه مذهب دی، خو کله یې چې علم لوړ او د فتوا ورکولو مرتبې ته ورسېد، نو ځان ته په غوره کې شو، او ځان یې د اهل سنت پر علماوو لوړ وګاڼه، او د علم ډېروالی یې د ګمراهۍ او له حنبلي مذهب څخه د وتلو او کرېدو سبب وګرځېد، پداسې حال کې چې لازمه ده د اهل سنت د ځلورو مذهبونو څخه پر یوه مذهب منګولې خښې کړل شي، تر څو انسان د اهل سنت او جماعت په ډله کې وشمېرل شي، نو څوک چې د اهل سنت پر عقیده باندې نه وي، روا نه ده چې هغه ته حنبلي وویل شي. خو بې مذهبان له هر فرصت او موقع څخه ګټه اخلي، او دوی ته پخپلو هېوادونو کې په سني علماوو پسې د بدو خبرو او توهین کولو موقع په لاس ورغله او په ټول چل او دوکه سره یې د اهل سنت او جماعت د کتابونو په لوستلو بندیز ولګاوه، او د هغه د زده کړې مخه یې ونیوله، د ښېلګې په ډول؛ یوه بې مذهبه عالم د یوه تکړه عالم نوم اخلي او وایي(د کیمیاوي درملو جوړونکی په دین باندې څه پوهېږي، هغه د پخپله دنده کې بوخت اوسي او مور د خپل کار ته پرېږدي) تاسې د دې جاهل او بې عقل انسان فکر او خبرې ته پام وکړئ، دی داسې فکر کوي چې د عصري او تخنیکي علومو زده کوونکی په ديني علم کې برخه نه لري، پداسې حال کې چې دی پر دې نه پوهېږي چې د تخنیکي علومو ماهر تل د شیانو په جوړښت کې د الهي قدرت نښې نښانې او د هغه جل جل جلاله د کمال صفتونه وینې، او د ستر خالق ستاینه او پاکي هره شېبه بیانوي، ځکه دی د مخلوقاتو ناتواني د خالق د ابدي قدرت پر وړاندې تر هر چا ښه وینې، لکه څرنګه چې د اتوم او کیمیا د علم المانې عالم ماکس پلانک پخپل کتاب (Der Strom) کې دا موضوع په بشپړه او ښه توګه بیان کړې ده، بلکې دا جاهل او بې مذهبه دینې علم یوازې په هغه سند او اجازه نامې پورې تړلی ګڼي چې د ځان په څېر یوه بې مذهبه څخه یې ترلاسه کړی دی، او له هغه څوکې څخه خبرې کوي چې ده ته د نورو لخوا ورکړل شوې، او د هغو سرو زرو پر مټ چې د سعودي عربستان د دولت له خوا ورکول کېږي، د هغوی ستاینه کوي او کېدای شي چې د دې سرو زرو ځل او بل یې سترګې ړندې کړي وي.

الله تعالی ته دعا کوو چې د دې مسکین پر حال رحم او ذهن یې ورته سم کړي، همداراز زمور ذهنونه هم اصلاح او ساده مسلمانان د دین د دښمنانو له چل او فریب څخه وساتي. او ټوله ستاینه یوازې الله جل جلاله ته ده، درود د وي پر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم.

هو دا قدرمن عالم د یوه درمل جوړونکي او ستر کیمیاوي انجینیر په توګه رامخکې شو او امت ته یې له دېرشو کلونو زیات خدمت وکړ، او وتوانېد چې د یوه مسلمان عالم څخه د اوو کلونو په شپه او ورځ زحمت ګاللو سره ستاینلیک ترلاسه کړي، او ديني او تخنیکي علومو پر وړاندې یې خپله ناتواني درک کړه، خو سره له پوهېدلو یې خپله ټوله هڅه کوي تر څو یو مخلص او حقیقي بنده و اوسي، او لویه وېره او اندېښنه یې دا ده چې د جعلي سند او په زرو باندې د چاپ شوې اجازه نامه او دا فکر ترلاسه کړي چې دی پداسې شیانو کې د خبرو کولو وړ دی، او له دې لوړ مقام سره بیا هم پخپلو ټولو کتابونو کې دېر احتیاط کوي، او خپل ټول کتابونه، ارزښتمنې مقالې او نظرونه د

دې لپاره چې غلطي پکې نه وي د سني عالمانو تر نظر تېروي، چې دا د مسلمانو خويندو او وروڼو لپاره ډېر د حيرانتيا ځای دی، او د له عربي او فارسي ژبې څخه ترکي ژبې ته د ژباړلو له لارې شوي دي، او د ډېرې وېرې له کبله يې ډېر کلونه د کتاب د ليکلو زړه نه دی کړی، بلکې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي(اذا ظهرت الفتن) ژباړه: کله چې فتنې را څرګندې او خورې شي. او بيا وايي (البدع و سب اصحابي فليظهر العالم علمه فمن لم يفعل ذلک فعليه لعنة الله والملائكة والناس اجمعين لا يقبل الله منه صرفا ولا عدلا) ژباړه: بدعت او زما اصحابو کرامو ته سپکنځلي کول، نو يو عالم به خپل علم سپکاره کړي، نو که چېرې داسې ونه کړي، پر ده باندې دې د الله جل جلاله، پرښتو او ټولو خللو لعنت وي، او الله جل جلاله د هغه انفاق او عدل نه قبلوي. که چېرې مور دا حديث شريف په لومړي سر کې ليدلی وای، نو په سوځونکې برېښنا او تندر کې به مو په فکر او غور پيل کړی وای، او له بله اړخه به مو خپل ځانونه ډېر سپک او کم ګڼلي وای، ځکه کله چې مور په ديني علومو کې د اهل سنت د عالمانو ژور او قوي علم، د هغه وخت په تخنيکي علومو کې د دوی لاسبري، د عقل ځواکمنتيا او د ذهن روښاني او داسې کوښښ وليد چې په پرهېزګاری او عبادت کې يې بېلګې شتون نه درلود، او بل اړخ ته کله چې مور خپلو عالمانو ته کتل نو د دوی علم نسبت و هغوی ته داسې وو لکه د يوه ځاځکي نسبت بحر ته، او له وروستني اړخه مور ليدل چې هغه صالح کسان چې د سني عالمانو په کتابونو باندې پوهېږي، په همېشنی نيمګړتيا کې دي او ناپوه او لاروړکي د ديني عالمانو په جامه کې ننوزي او د کتابونو په ليکلو سره پيل کوي، پداسې حال کې چې سراسر له بدعتونو او شکونو څخه ډک وي، چې پر دې حالت باندې مور ډېر خواشيني کېږو، او مور به په دې حديث شريف کې د ياد شوي لعنت له ګوټ څنډې څخه حيران شولو، نو د دې دين لپاره مو د ګرانو مسلمانو خويندو او وروڼو په مهربانی سره مو خدمت د سني عالمانو د کتابونو له ژباړلو او خپرولو څخه پيل کړ، او دا چې مور د دې کار او خدمت له امله ډېر وستايل شو او مبارکي راکړل شوه، خو د ځينو خلکو لخوا بد او رد او دروغجنې خبرې هم راپسې وشوې، خو مور خپل دغه خدمت ته د الله جل جلاله په توکل او مرسته او د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د پاک روح او نورو مخلصو بنده ګانو د روحونو په توسل سره دوام ورکوو، ځکه په خالص نيت او رښتيني وجدان سره د الله جل جلاله په مخ کې دې کار ته ادامه ورکوو، نو الله تعالی د مور او تاسې بريالی او سرلوړي لري.

شيخ محمد بخيت معيطي حنفي چې د ازهر پوهنتون له لويو استاذانو څخه دی، پخپل کتاب (تطهير الفؤاد من دنس الاعتقاد) کې وايي: (په تحقيق سره تر ټولو ستر او پوره نفسونه د انبياء او رسولانو عليهم اجمعين دي، چې له هرې خطاء، شوېښدنې، بې پروايی، سستی، خيانت، تعصب او د نفس، هوا او کينې خوا ته له ميلان کولو څخه پاک دي (الله يجعل حيث يجعل رسالته) ژباړه: الله جل جلاله سپه پوهېږي چې پيغمبري چا ته ورکړي. نو دوی(انبياء او رسولان) ټول هغه څه چې راوړي له الله جل جلاله څخه يې اخيستي او ترلاسه کړي او د شريعت احکام يې ټول ورته په حق او رښتيني توګه بيان کړي دي (لا ياتيه الباطل من بين يديه ولا من خلفه تنزيل من حکيم حميد) ژباړه: باطل نه د مخ لخوا پرې راتلای شي او نه هم د شا لخوا، بلکې دا د حکمت د څښتن او يو ستايل شوي ذات لخوا نازل کړل شوی دی. په هغوی پسې اصحابو کرامو رضی الله عنهم اجمعين په مستقيمه توګه شرعي احکام له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ترلاسه

کړل، او څه چې دوی ته بیان شوي وو د هغه پیروي یې کوله، او هغه یې خوندي ساتل او هېڅ یوه صحابي له بل سره د تعصب، نفساني غوښتنې او غرض له مخې مخالفت نه کاوه، او د دوی رایې او اجتهادونه د شارع پراخي او اساني وه، هغه شارع چې د اجتهاد باب یې پخپله مهربانۍ او رحمت سره پرانیستی وو(محمد رسول الله والذین معه اشدا علی الکفار رحماء بینهم تراهم رکعا سجدا یبتغون فضلا من الله و رضوانا) ژباړه: محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله پیغمبر دی، او هغه کسان چې له ده سره ملګري دي، دوی پر کافرانو باندې سختي کوونکي او پخپل مېنځ کې یو پر بل نرمي کوونکي او خواخوږي دي، ته چې کله هغوی ګورې نو د رکوع او سجدې په حالت کې او د الله جل جلاله د فضل او خوښۍ په لټه کې به یې بوخت مومې. حق یو دی او د ټول لپاره اجر شته او تر هغه وروسته تابعینو کرامو د اصحابو کرامو پیروي وکړه، او له دوی څخه یې دین ترلاسه کړ، او تبع تابعینو د تابعینو کرامو پیروي وکړه، او تر هغه وروسته یې هغو نېکو کسانو پیروي وکړه او دا لړۍ به د قیامت تر ورځې دوام مومي. هغه صالح سلف عالمان چې په لومړي سر کې وو او هغه عالمان چې په ننني وخت کې ژوند کوي، دوی ټول په هغه قولونو او کړنو باندې منګولې خښې کړې وې کوم چې له نبي اکرم صلی الله علیه وسلم، اصحابو کرامو او صالحو سلفو څخه دوی ته رسېدلي وو، او پرته له مخالفت او سرغړوني یې د دین ټول اصول، عقیدې، او شرعي حدود په بشپړه هوښیارۍ او ذکاوت سره منلي او عملي کړي وو، چې د الله جل جلاله پر وړاندې یې د هېڅ ملامتونکي له ملامتیا څخه وېره نه لرله، او له حق څخه د توطئو د طوفانونو په شتون کې پر شا نه شول، او پرته له دې چې د دوی په هوډ کې یوه ذره شک، تېنبلي او اعتراض ولیدل شي پر خپل موقوف ثابت پاتې شول، او د مجتهدینو امامانو له مذهبونو څخه بهرون نه شول، نو له دې ځایه پوهېږو چې دا عالم هغه بریالی کس دی چې خبرې یې منې او په دوی پسې په عمل کې اقتدا کوي، دا ځکه پوهېږي چې د روح لپاره ګټور درمل الله جل جلاله په دې کې اېښی دی چې انسان خپل ځان د حقایقو په درک کولو کې له خطا څخه وژغوري، او اوامر پر ځای او له منع کړل شویو شیانو ډډه وکړي، او همداراز خپل ځان او شوندې له هغو رنځونو او ناوړه سببونو څخه چې د هغه فلم د لیدلو له درک کولو څخه چې قولونه، کړنې او عقیده یې له شرعي احکامو سره په ټکر کې وي، نه غافلوي نو دوی پرته له حق څخه بل څه نه درک کوي، همداشان پرته له رښتیا ویلو بل څه نه وایي او له غوره کارونو اخوا بل څه نه ترسره کوي(**والذین جاهدوا فینا لنهدینهم سبلنا**) ژباړه: هغوی چې زمور لپاره کوښښ وکړي، دوی ته د نېغې لارې لارښوونه کوو).

(**الله ولی الذین آمنوا یخرجهم من الظلمات الی النور**) ژباړه: الله جل جلاله د هغو کسانو دوست او ملاتړی دی، چې ایمان راوړی او خلک له تیارو څخه رڼا ته وباسي).

(نورهم یسعی بین ایدیهم و بایمانهم) ژباړه: د هغوی رڼا به د هغوی مخکې او ښي لوري ته ځغلي. (اولئک مع الذین انعم الله علیهم من النبیین والصدیقیین والشهداء والصالحین) ژباړه: دوی به له هغو کسانو سره چې الله جل جلاله پرې لوړینه او مهربانۍ کړې ده له نبیانو، رښتیا ویونکو، شهیدانو او صالحانو سره وي). خو له عالمانو څخه که کوم ځینې په هر وخت کې داسې وي چې په هغه څه چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابو کرامو راوړي منګولې خښې نه کړي، او په هغه قولونو، کړنو، عقایدو او شرعي حدودو کې مخالف وکړي، او د نفس او هوا

د غوښتنو پر بنسټ له هغه څخه کوږوالی وکړي، او پخپل پاشلي عقل سره د تعصب لاره غوره او د شریعت پر سالمو او پټو حکمتونو باندې اعتراض وکړي، نو داسې کسان د اهل سنت پر حقه امامانو له مذهبونو څخه بهر ګڼل کېږي، او دا ډول عالم د هغو بدو عالمانو له ډلې شمېرل کېږي چې په قران کریم کې یې په هکله داسې ویل شوي دي(**ختم الله على قلوبهم و على سمعهم و على ابصارهم غشاوة ولهم عذاب عظيم**) ژباړه: الله جل جلاله د هغوی پر زړنو او غوږونو باندې مهر وهلی، او پر سترګو یې پرده غوړلې او دوی ته لوی عذاب ټاکل شوی دی. نو دوی له حق څخه شړل او خوار کړل شوي، له ریښتنولې او سمې لارې څخه لیرې شوي او دوی پداسې استدراج کې راګیر شوي چې په ځان نه پوهېږي، او دوی د انبیاء کرامو دښمنان دي لکه چې الله جل جلاله فرمایي(و کذلک جعلنا لکل نبی عدوا شیاطین الانس والجن یوحی بعضهم الی بعض زخرف القول غرورا) ژباړه: مور تل داسې شیطان انسان او شیطان پېریان د هر پیغمبر لپاره دښمنان ګرځولي دي، چې دوی یو بل ته د دوکې او غولونې لپاره خوږې خبرې رسوي) همداشان (**وهم يحسبون انهم يحسنون صنعا**) ژباړه: او دوی داسې انګیري او فکر کوي چې ټول کړه او وړه یې ښه دي. دوی د شیطان ډله ده، له دوی څخه ډېر لږ پر دې توانېږي چې سمه لاره ومومي او واقعیت درک کړي، اګر که په ظاهر کې د دوی قولونه او خبرې ښکلې بڼه لري، خو په باطن کې فاسدې دي او پر کمزور عقلونو باندې یې د رڼې په څېر کښېني، خو کله چې د حقه دلایلو زرینې وړانګې پرې ولوېږي، وېلې کېږي او له منځه ځي (والذين كفروا اولياءهم الطاغوت يخرجونهم من النور الى الظلمات) ژباړه: هغوی چې کافر شوي د دوی ملګری او مرستندویان شیطانان دي، چې دوی له رڼا څخه د تیاروو خوا ته کاږي. (اولئک طبع الله على قلوبهم) ژباړه: دوی هغه کسان دي چې الله جل جلاله یې پر زړونو باندې مهر وهلی دی. (والله يقول الحق وهو يهدى السبيل) ژباړه: الله جل جلاله حق خبره کوي او هماغه د سمې لارې ښوونه کوي. نو د هغو کسانو چې د علماوو قولونه مني او په هغه پسې اقتدا کوي، او هغوی چې د عالمانو قولونه نه مني او اقتدا هم پسې نه کوي او کوم څه چې مور پورته ذکر کړل، ترمښځ یې توپیر کوونکی څوک دی؟ څوک چې له لومړۍ ډلې کسانو څخه وي، نو د دوی خبرې د منلو وړ، بیان یې معقول او پر سمه لار برابر دی، چې په قول، فعل او عقیده کې تر شرعي حدودو پښه نه اړوي، خو څوک چې د دویمې ډلې څخه دي، پر دوی باندې لازمه ده چې خپلې خبرې په ښکاره توګه ماتې او پرېږدي، ځکه د ګناهونو، نېکو کارونو د نه کولو او له منهیاتو څخه د ډډې نه کولو پر بنسټ له داسې درمل څخه ګټه نه اخلي چې په هغه سره خپل ځان له داسې رنځونو څخه وساتي او شفاء ترلاسه کړي چې د ده او حق لارې تر مښځ پرده لیرې کړي(فأي الفريقين احقّ بالامن ان كنتم تعلمون) ژباړه: د دواړو ډلو څخه کومه یوه زیاته د نه وېرېدلو او ډاډېښې وړ ده، که چېرې تاسې څه علم لري نو راوېې ښایئ. (الذين آمنو ولم يلبسو ايمانهم بظلم اولئک لهم الأمن وهم مهتدون) ژباړه: په حقیقت کې خو امنیت د هغو کسانو لپاره دی او پر سمه لاره برابر دي چې ایمان یې راوړی، او خپل ایمان یې په ظلم نه دی ککړ کړی. (و تلک حجتنا) ژباړه: دا زمور دلیل وو. او له دویم ټولي څخه چې له زړونو څخه یې الله جل جلاله لیرې شوی، او بدعتیانو وربانديِ د داسې عقیدې او عملونو مهر وهلی دی چې د قران کریم، نبوي احادیثو او اجماع سره په ټکر دي، نو دوی ګمراه شول او ډېر نور خلک هم له ځانه سره ګمراه کوي (قاتلهم الله أنّي يؤفكون) ژباړه: خدای تعالی د دوی ووهي، دوی کوم لوري ته اړول کېږي؟ (و مأواهم

جهنم و ساءت مصیرا) ژباړه: د دوی استوګنځی دوزخ دی چې ډېر بد استوګنځی دی. همدارنګه مسلمانان په ډېرو داسې مخکینیواو وروستنیو ډلو سره و ازمویل شول، چې د دوی د مسلمانانو لپاره عیب او ننګ وو، او د دوی موخه فاسده وه نو لازمه وه چې دا فاسده موخه یې پرې کړل شي تر څو نورو ته سرایت ونه کړي، او دا د هغه جذام ناروغۍ ته ورته دی چې تېښته ورڅخه کول اړین دي، چې له هغه ډلې یو هم ابن تیمیه [٤٠] دی، چې د (الواسطه) په نامه سره یې یو کتاب لیکلی او په هغه کې یې داسې نوي شیان لیکلي چې د مسلمانانو له اجماع څخه یې سرغړونه او تر پښو لاندې کړې ده، او له قران کریم، څرګندو نبوي احادیثو او صالحو سلفو څخه پکې مخالفت کړی دی، او دی له خپل فاسد ذهن سره مخ پر وړاندې لاړ او الله جل جلاله له علم سره، سره ګمراه کړ، پداسې حال کې چې د ده رب د ده نفساني غوښتنې(هوا) وې، او فکر یې کاوه څه چې وایي حق دي، پداسې حال کې چې حق نه بلکې منکر او دروغ وو، لکه څرنګه چې په ټولو فنونو کې پوه او د ښلا ښلو کتابونو لیکونکی امام علامه ابن حجر پخپله فتاوا کې لیکي: ابن تیمیه د الله جل جلاله هغه بنده دی چې الله جل جلاله خوار، لاروړکی، ړوند او کوڼ کړی دی، او علماوو د ده د حالاتو او قولونو په دروغ والې باندې څرګندې خبرې کړې دي، نو که څوک غواړي چې هغه ووینې نو د امام ابي حسن السبکي او د هغه د زوی امام عز بن جماعه کتابونه د ولولي، ده(ابن تیمیه) نه یوازې دا چې د خپل وخت د شافي، مالکي او حنفي مذهبونو او وروستنیو صوفي عالمانو باندې یې اعتراض وکړ، بلکې د عمر فاروق رضي الله او علی کرم الله وجه پشان کسانو باندې یې اعتراض وکړ، پایله یې دا چې د ده خبرې هېڅ وزن نه لري، بلکې په ټوله بې باکۍ او خپګان سره خبرې کوي او فکر کوي چې نوښتګر دی، پداسې حال کې چې لارو ورکی او ګمراه کوونکی، ډېر ناپوه دی او الله جل جلاله د له ده سره پخپل عدل فیصله او معامله وکړي، او مور دې د داسې کسانو له کردار، عقیدې او لارې څخه وژغوري او اجر راکړي. هغه څه چې مور پخپله پوښتنه کې ورته اشاره وکړه پایله یې دا شوه چې دی(ابن تیمیه) پخپلو ځینو خبرو کې وایي، چې د صوفیانو په ځینو کتابونو کې هغه څه چې د پخواني یونان د فلسفي اصولو پر بنسټ ولاړ دي، د دین سره په ټکر کې دي که چېرې همداسې ومنل شي نو څوک پر دې باندې پوهېږي پرته له هغه چا چې د دې موضوع پر حقیقت باندې علم لري، دا هغې دعوا ته ورته ده چې یو څوک ووایي چې زه پر لوح محفوظ باندې علم لرم، نو دا خبره د فیلسوفانو لکه ابن سینا او داسې نور چې د فلکي نفس پیروان دي پر وړاندې مطرح کړې، او دوی داسې انګیري چې د انسانانو نفسونه له فلکي نفسونو، فعال او ویښ عقل او خوب سره وصل دي، همداراز دوی دعوه کوي چې هغه څه چې په خوب او ویښه کې انسان کشفوي د دې سبب دا دی چې انساني نفس له فلکي نفس سره پیوستون پیدا کوي، چې دا په کایناتو کې د پېښو د رامنځته کېدلو لامل کېږي، خو کله چې بشري نفس له هغه سره پیوسته شي نو په هغه څه کې چې په فلکي نفس کې دي بحث او شننه کوي، چې دا شیان مخیکنیو حکیمانو نه دي بیان کړي، بلکې دا شیان ابن سینا او هغوی چې له ده څخه داسې انګیرنه لري بیان کړي دي، همداراز دا ډول موارد د ابي حامد محمد غزالي، ابن عربي او قطب الدین محمد بن سبعین او ځینو نورو په خبرو کې هم موندل کېږي، چې دوی ټولو د تصوف او د هغه د حقیقت په هکله د فیلسوفانو د قاعدو پر بنسټ

[٤٠] احمد ابن تیمیه حراني په ٨٢٧ هـ ق کال کې چې له [٨٢٣١ م] کال سره سمون لري په شام کې وفات شوی.

خبرې کړې، نه د مسلمانانو د اصولو پر بنسټ، چې پر دې سره الحاد ته وتلي لکه د اسماعلیه شیعه ګانو، قرمطیانو او باطنیانو محلدین، چې د اهل سنت او حدیث او تصوف د کسانو لکه فضیل او نور خلکو پر خلاف په انکار کولو کې تر هغو خلکو چې فیلسوفان دي غوره دي، لکه معتزله او کرامیه ډلې نو فیلسوفان او د متصوفینو دري ګونې ډلې چې د اهل سنت او حدیث په مذهب باندې دي څرنګه وي؟ او ځینې متکملین د کرامیه له ډلې او هغوی چې د فلسفې لارې ته وتلي دي، داسې لکه د ټوکر له تارونو څخه یو تار چې د ابي حیان په کلام کې توحید موندل کېږي خو د ابن عربي [۴۱]، ابن سبعین [۴۲]او د دوی په څېر کسانو د فلسفې په غوڅولو او ټوټه کولو سره راتګ وکړ، او د هغې عبارتونه یې بدل کړل او د تصوف په چوکاټ کې یې راوستل، او ابن سینا د « د عارفانو مقام ته په اخیرنیو اشارو کې) پداسې ډول سره چې د ده له حال سره سمایې خبرې کړې دي، همدارنګه ډېر هغه کسان چې له ایماني حقیقتونو څخه خبر نه لري، او غزالي هم پخپلو ځینو کتابونو کې یادونه کړې ده، په ځانګړې توګه د (الکتاب المضنون به علی غیر اهله) او (مشکاة الانوار) او داسې نورو کتابونو کې، تر دې پورې چې د هغه ملګري دا دعوه وکړه چې زمور شیخ او استاذ ابوبکر بن عربي د فیلسوفانو نظر ته ننوت او اراده یې دا وه چې له هغه څخه ووځي خو په وتلو سره ونه توانېد، بلکې ابو حامد فیلسوفان په یو نا مناسب ځای کې کافر وګڼل او د دوی د لارې او طریقې غلطي یې بیان کړه، خو خپلې موخې ته ونه رسېد، او د ژوند په وروستیو وختونو کې یې په امام بخاري پسې راواخیستله او په همدې حالت کې مړ شو، ویل کېږي چې له دغې کتابونو څخه تېر او رجوع یې ترې وکړه، او ځینې وایي چې دا کتابونه په ده پسې په درواغو ټرل شوي دي، او خلکو په دې اړوند ډېرې خبرې کړې دي، لکه مازري اندلسي، طرطوشي، ابن جوزي، ابن عقیل او داسې نور.

لنډه دا چې ابن تیمیه هغه فاسدې عقیدې چې له ده سره وې، په لویو صحابه کرامو او له هغوی وروسته تر خپله وخته پورې د امت په لویو عالمانو پسې غلطې خبرې منسوبولې، او کېدای شي چې د ده عقیدې دی په ډېرو چارو کې د بدعت خوا ته بېولی وي، چې له هغې ډلې یې هغه څوک چې قطب العارف ابو حسن شاذلي ولي پیروي کوي، الله جل جلاله د مور ته د هغه په علومو سره چې په حزب کبیر او حزب بحر کې دي ګټه راورسوي، همداشان د دې ولي پیروي ابن عربي، ابن فارض، ابن سبعین او حلاج حسین بن منصور هم کړې ده، تر دې پورې چې لویو لویو عالمانو او د هغه وخت ټولو خلکو هم د هغه پیروي کړې، خو دا ټول کسان په فسق او بدعت تورنوي، تر دې پورې چې ځینې وخت د کفر خطاب هم ورته کوي [پداسې حال کې چې لوی متبحر مسلمان عالم عبدالغني نابلسي پخپل کتاب (الحدیقة الندیة) په ۳۶۳ او ۳۷۳ پاڼو کې د لویو عالمانو او د تصوف د سرلارو په حق کې د داسې ناوړه خبرو کول او ژبه اوږدول د دوی پر جهل او بې پروایۍ باندې دلالت ګڼي، او وایي چې دا عالمان او صوفیان په حقیقت کې د الله جل جلاله ولیان دي]

ابن تیمییه ته دهغه وخت ځینو لویو علماوو په ۷۰۵ کال کې یو لیک ور ولېږه، چې

---

[۴۱] محیی الدین ابوبکر بن عربي په ۸۳٦ هـ ق کال کې چې له [۰۴۲۱ م] کال سره سمون لري، په شام کې وفات شوی.

[۴۲] عبدالحق بن سبعین اندلسي په ۹٦٦ هـ ق کال کې چې له [۰۷۲۱ م] کال سره سمون لري ، په مکه مکرمه کې وفات شوی.

پکې راغلي وو: له طرفه د فلاني و هغه چا ته چې په خپل ګمان سره لوی شیخ، عالم او د هغه عصر امام دی و بعد؛ په تحقیق سره مورِ له تا سره د الله جل جلاله د رضا په خاطر په هر وخت کې مینه کوله، او له هغه څه څخه چې ستا په حق کې ویل کېدل په نېکه مخ اړونه سره مو له هغه څخه اعراض(مخ اړونه) د احسان له امله کوله، تر دې چې مورِ ته د هغه څه چې د هغې له کبله مو له تا سره مینه کوله برعکس څه راڅرګند شول، او دغه شی مورِ ته په عقل او حس سره معلوم شول، ځکه ایا یو عاقل چې کله لمر ولویږي او شپه راڅرګنده شي په هغه کې به شک وکړي؟ او په تحقیق سره تا دا په ډاګه کړه چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر لپاره دې قیام کړی، خو الله جل جلاله ستا په نیت او موخه باندې ښه عالم دی خو لېکن په یوه عمل کې اخلاص دغه عمل د قبولیت درجې ته رسوي، او مورِ وینو چې ستا کار به کومه نتیجه ورنکړي، مګر دا چې ستا د کار نتیجه به یوازې بې عزتي او بې پردې کول وي، له دې کبله چې تا د هغو خلکو پیروي کړې ده چې دوی د نفساني غوښتنو او شخصي موخو په جال کې راګیر دي، او د دوی په قول اعتماد هم نه کېږي، نو دغه داسې خلک دي چې ټول وخت د ذاتونو او اوصافو بدي بیانوي او دوی د ژوندیو په بدی بیانولو نه قانع کېږي، تر دې چې دوی مړو ته هم د کفر نسبت کوي او دوی د وروستنیو پېړیو د سلفو په بدی کفایت نه کوي، تر دې چې دوی مخکینیو او لومړیو پېړیو ته تجاوز کړی او د هغه چا بدي یې بیان کړې ده چې هغه ته په غوره والي کې لوړې رتبې دي، نو افسوز دی هغه چا ته چې دوی د دغه پېړیو د اهل په قیامت کې دښمنان وي، او لیرې نه ده چې دغه دښمني کوونکو ته به غضب ورسېږي، او چېرې به دوی ته د الله جل جلاله له غضب څخه ژغورنه وي، نه هېڅکله نشته او ته(ابن تیمیيه) هغه څوک یې چې یو د دغه خلکو ته دې غوږ نیولی وو، هغه وخت چې دی د صالحیه ښار د یو جامع مسجد پر ممبر باندې وو، او دغه شخص په ممبر باندې د عمر رضي الله تعالی عنه ذکر کاوه او داسې یې ویل چې عمر رضي الله تعالي عنه ته ډېرې تېروتنې دي، او ډېر سختي کوونکی دی. او ما ته له سلفو څخه دا خبره رارسېدلې ده چې دغه شخص بل ځل په یوه بل مجلس کې علي ابن ابي طالب رضي الله تعالی عنه یاد کړی وو، او داسې یې ویلي وو چې علي رضي الله تعالی عنه له درې سوه څخه په زیاتو ځایونو کې تېر وتلی دی .

نو افسوز دی تا ته به څرنګه حق حاصل شي پداسې حال کې چې علي ابن ابي طالب او عمر رضي الله تعالي عنهما خطا شوي وي، ستا په ګمان سره نور نو ستا دغه حال وروستي حد ته رسېدلی او دغه کار خپلې غوښتنې ته رسېدلی، نور نو مورِ ته هېڅ شی ګټه نه کوي پرته له دې چې ستا پر وړاندې پاڅون وکړو او ستا د شر مخه ونیسو، ځکه تا په ګمراهۍ کې افراط کړی او ستا زیان مړو او ژوندیو ته رسېدلی، نو د علماوو د قول پر بنسټ پر مورِ بلکې په ټولو مسلمانانو د الله جل جلاله او د هغه د رسول حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د رضا په خاطر غیرت لازم دی، ځکه د شریعت اهل همدغه علماء دي او دغه علماء د تورو خاوندان دي، داسې چې د دوی په وسیله تر حق پورې وصل کېدل او د باطل څخه بېلېدل راځي، نو مورِ به تر هغه وخته ستا (ابن تیمیيه) په مقابل

کې پاڅون وکړو تر څو ته نېکو خلکو ته د بدو خبرو له نسبت ورکولو څخه ډډه ونه کړې.

پوه شه چې دغه ابن تیمیيه له نورو خلکو سره په ځینو مسائلو کې اختلاف کړی چې التاج السبکي[٤٣] او ځینو نورو علماوو په هغه باندې خبرداری او بیان کړي دی، چې له هغه ډلې یې ځینې دلته بیانوو چې په لاندې ډول دي:

١- په طلاق کې د ابن تیمیيه دا قول دی چې د طلاق په لفظ سره طلاق نه واقع کېږي، بلکې په دغه شخص باندې د قسم کفاره لازمېږي او حال دا چې مخکې له ده څخه هېڅ مسلمان هم په کفاره باندې قول نه دی کړی.

٢ـ حائضې ښځې ته طلاق ورکول نه واقع کېږي، او همدارنګه هغه طلاق هم نه واقع کېږي چې په داسې طهر کې مېړه خپلې ښځې ته ور اچولی وي په کوم کې چې دغه مېړه له خپلې ښځې سره جماع کړې وي.

٣- کله چې په قصدي ډول لمونځ پرېښودل شي نو قضا نه لري.

٤ـ حائضې ښځې ته د بیت الله شریفې طواف روا دی او کفاره هم وربانديې نشته.

٥- درې طلاقونه یوه ته رد کېږي او ده (ابن تیمیيه) مخکې له دغه ادعا څخه د مسلمانانو اجماع را نقل کړې وه په خلاف د دغه ادعا سره.

٦- هغه مالونه چې له خلکو څخه په لارو کې د مالیې په ډول اخیستل کېږي، که چا دغه مالونه چور کړل او یا یې واخیستل ده ته حلال دي.

٧- او بل دا چې دغه مالونه چې په لارو کې له سوداګرو څخه واخیستل شي دوی ته په زکات کې حسابېږي، ولو که د زکات په طریقه او نامه هم ترې وانخیستل شي.

٨- کله چې په مایعاتو کې یو حیوان مړ شي، لکه موږک نو دغه مایع نه پرې مردارېږي.

٩- که یو څوک جنب (غسل پرې واجب شوی وي) ده ته دا روا ده چې د شپې لخوا نفل وکړي پرته له

دې چې نفل وروسته کړي او غسل مخکې تر سهاره وکړي، ولو که په ښار کې هم وي.

١٠- په وقف کې د وقف کوونکی شرط اعتبار نه لري، بلکې که وقف د شافعي مذهب مطابق وکړي کولای شي حنفي مذهب ته واوړي یا د دې برعکس، او پر قاضیانو لازمه ده چې تصوف ته واوړي، او دې ورته د اصولو په مسایلو کې ښې او بدې مسئلې شتون لري چې اړینه ده په ټولو باندې رد وشي.

١١- که څوک د اجماع مخالفت وکړي، نو کافر او فاسق نه ګڼل کېږي.

١٢- الله جل جلاله چې پاک او لوړ دی، له هغه څه څخه چې جاهلان او ظالمان یې د ده په حق کې وایي خو دغه ابن تیمیيه وایي چې الله جل جلاله (نعوذ بالله) محل د

---

[٤٣] احمد تاج الدین ابن عطاء الله سبکي سکندري مالکي شاذلي په (٧٠٩ هـ) کال کې چې له [١٣٠٩ م] کال سره سمون لري ، په مصر کې وفات شوی دی.

حوادثو(پېښو) او مرکب دی، او د ده جل جلاله ذات داسې اړ دی لکه جز کل ته، الله جل جلاله له دغه رنګه خبرو څخه په پوره لوړوالي سره لوړ دی او له دې ټولو څخه پاک دی.

۱۳- (ابن تیمییه) همدارنګه وایي چې قران کریم په ذات د الله جل جلاله کې نوی راپیدا شوی، الله جل جلاله له دې خبرې څخه لوړ دی.

۱۴- او بل دا چې عالم قدیم بالنوع دی او دغه عالم همېشه د الله جل جلاله سره مخلوق او موجود و نو ده (ابن تیمییه) د الله جل جلاله ذات واجب ګرځولی خو اختیاري فاعل یې نه دی ګرځولی، الله جل جلاله لره پاکي ده له دې څخه او لوړ دی او قول د ده(ابن تیمییه) په جسمیت سره یعنې چې الله جل جلاله لره یې جسم ثابت کړی او یا د ده قول په لوري سره یعنې چې الله جل جلاله ته یې لوری او طرف ثابت کړی یا د ده قول په انتقال سره او یا دا خبره د ده چې عالم په اندازه د عرش سره دی نه ورځخه کوچني او نه ترې لوی دی، دا ټولې خبرې یوه بده افتراء او له ځانه جوړې شوې خبرې او یو زوال خوړونکی او صریح کفر دی، الله جل جلاله له دغه ټولو خبرو څخه په پوره لوړوالي سره لوړ دی، او د ده (ابن تیمییه) پیروي کوونکي هم ښویېدلي دي او د ده د معتقدینو ډلې هم تیت پاشان ګرځېدلې دي او داسې قول یې کړی دی....

۱۵- چې اور یعنې دوزخ فنا کېږي.

۱۶- انبیاء علیهم السلام معصوم او پاک نه دي.

۱۷- حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم هېڅ مرتبه نه لري، او الله جل جلاله ته وسیله نه ګرځول کېږي.

۱۸- کوم سفر چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لوري ته د ده د زیارت په موخه پیل شوی وي نو دغه سفر معصیت او ګناه ده او په دغه سفر کې لمونځ هم نه قصر کېږي.

۱۹- کوم کس چې دغه سفر په همدغه نیت وکړي، نو ژر ده چې دی به له شفاعت څخه محروم پاتې شي په هغه ورځ چې دی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم شفاعت ته اړتیا ولري.

۲۰- ابن تیمییه او د ده پیروانو داسې ویلي دي چې د تورات او انجیل الفاظو تغیر نه دی خوړلی، بلکې یوازې معناوې یې بدلې شوې او تغیر یې موندلی دی.

ځینو علماوو داسې ویلي هغه چا چې د ابن تیمییه کتابونو ته کتلي دي نو د ډېرو داسې مسائلو نسبت یې ده ته نه دی کړی غیر له دې چې دی(ابن تیمییه) د جهت (لوري) په ثبوت باوری دی یعنې الله جل جلاله ته یې لوری ثابت کړی، او ابن تیمییه په اثبات د لوري باندې قائل دی ځکه دی په ترکیب د ذات د الله جل جلاله باندې قائل وو، او د دغه مذهب اهل له جسمیت، برابرښت او قرار سره لازم دی یعنې دوی چې په جهت قائل دي نو له جهت سره خپله جسمیت، یو له بل سره مقابله او په یوه ځای کې قرار نیول دا ټول لازم دي، نو ښایي چې ابن تیمییه په ځینو وختونو کې په دغه

لوازمو باندې صراحت کړی وي، نو ځکه یې ده ته نسبت کېږي او کومو لویو علماوو چې د دوی پر امامت، دیانت او لوړو مرتبو باندې د ټولو خلکو اتفاق راغلی او داسې علماء دي چې دوی د دعوې اثبات په دلیل سره کوي او د دلایلو اثبات په دلایلو سره کوي، نو دغې نومورو علماوو که د دغه ځینو شیانو نسبت ده (ابن تیمیه) ته کړی دی په ډېره پلټنه، تحقیق، فکر او د بشپړ احتیاط په پام کې نیولو سره یې دغه نسبت ده ته کړی، په ځانګړې توګه چې کله دغه علماء یوه مسلمان ته د داسې شي نسبت کوي چې د هغه شي غوښتنه دا وي چې دغه شخص دې کافر، فاسق، مرتد، ګمراه او وینه د یې روا شي نو بیا خو په پوره توګه له احتیاط څخه کار اخلي. نو که چېرې ده ته داسې یو شی پیدا شي چې د ده دې فاسدې عقیدې ته کفاره وګرځي، نو الله تعالی به له ده سره د خپل عدل معامله وکړي او که ده ته داسې یو شی نه وو نو الله تعالی د موړ او ده ته هم بخښنه وکړي. تر دې ځایه د ابن حجر خبرې پای ته ورسېدې .

هر کله چې په دغه وروستي عصر کې د ابن تیمیه په تقلید کې یو قوم راڅرګند شو تر څو د ده د دغه ناروا او بې بنسټه عقایدو پیروي وکړي او د ده دغه فاسدې خبرې یو او بل لوري ته تاو را تاو کړي او د عوامو او خواصو په مېنځ کې یې بربنډې کړي او د دغه خبرو د چمتو کولو لپاره یې د خپل یوه کتاب چې د (الواسطة) په نامه سره وو د هغې په لیکلو سره مرسته وغوښته او کتاب یې نشر کړ او په تحقیق سره په دغه کتاب کې ډېر داسې شیان وو چې ابن تیمیه له ځانه را ایستلي وو، په دغه کتاب کې یې له قران کریم، سنتو او د مسلمانانو له اجماع څخه مخالفت کړی دی، نو دوی د دغه کتاب په وسیله داسې یوه فتنه راویښه کړه چې تر اوسه ویده وه.او دوی د هرو دوو مسلمانو وروڼو په مېنځ کې د دښمنۍ د پیدا کېدو سبب رامنځته کړ، نو دغه فتنه د هند وهابیانو او هغو ناپوهو خلکو ونیوله کومو چې ابن تیمیه یې په اسلامي هېوادونو کې د یوه مبلغ په نوم مشهور کړ، او د ځانونو لپاره یې امام وګرځاوه تر څو په خپلو ګمراهیو کې په هغه پسې اقتدا وکړي او په ډېرو نښو اوصافو سره یې د ده صفتونه وکړل لکه (المجتهد الاکبر) یعنې لوی مجتهد یا لکه (شیخ الاسلام) او دغو جاهلانو د ابن تیمیه په فاسدو اقوالو او کتابونو باندې په دې نامه چې همدغه حقیقي اسلام او شریعت دی منګولې ولګولې، نو په سبب د هغه پاڅون چې پر موړ باندې لازم وو، موړ دا نیت او قصد وکړ چې داسې یو کتاب ولیکو تر څو پر ده باندې رد او نقد وګرځي، د دې لپاره چې مسلمانان د ابن تیمیه او هغو خلکو په وسیله چې د ابن تیمیه په څېر دي، د تل پاتې ګمراهۍ په کنده کې ونه لوېږي. خو موږ د لوی امام او مجتهد تقي الدین ابي الحسن السبکي [٤٤] کتاب پیدا کړ چې د (شفاء السقام فی زیارة خیر الانام) په نامه سره یادېږي، دا داسې یو کتاب دی چې په هغه کې په هر هغه چا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیارت له فضیلت څخه منکر وي قوي رد او حمله کوي، د مقصودي غرض لپاره کافي دی او هغه څه پکې راغلي دي چې ابن تیمیه په خپل کتاب کې لیکي دي یا نورو ویلي دي،

[٤٤] [ ] ابو الحسن علي سبکي شافعي په (٦٥٧ هـ) کال کې چې له (٥٥٣١ م) کال سره سمون لري ، په قاهره کې وفات شوی دی.

او دغه کتاب د ابن تیمییه د کتاب د بنسټونو ړنګوونکی او د ستنو ښوروونکی، د اثارو له منځه وړونکی، د باطلو یې سوځوونکی، د فاسد ځایونو ځرګندونکی، او د ابن تیمییه د عناد بیانوونکی دی.

دغه قیمتي کتاب د حقیقت کتابتون له لوري چې په استانبول ښار کې موقعیت لري په ماشیني بڼه چاپ شوی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي(من تمسک بسنتي عند فساد امتي فله اجر مأة شهید) ژباړه: چا چې زما د امت د فساد په وخت کې زما پر یوه سنت باندې منګولې ټینګې کړې ده ته به د سلو شهیدانو اجر ورکړل شي.(الحدیقة ۱۰۸ ص،البریقة ۱۰٦ ص، المعلومات۱۵۴ ص،.

پدې حدیث شریف کې له سنت څخه موخه اهل سنت او جماعت دی، او د څلورو مذهبونو څخه د یوه مذهب عالم ته، عالم د اهل سنت او جماعت ویل کېږي.

امام رباني د خپل کتاب مکتوبات په دوهم ټوک او پنځه پنځوسم مکتوب کې داسې وایي(تر ټولو غوره علما چې د سنتو ښه پیروي یې کړې ده، امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله دی چې د تقوا او پرهېزګاری په برکت سره او د سنتو د پیروی په دولت سره په اجتهاد کې دومره لوړې درجې ته رسېدلی چې نور خلک یې له فهم کولو څخه عاجز دي، دا چې امام شافعي رحمه الله تعالی د امام صاحب د فقهي پوهې څخه معلومات ترلاسه کړي دي نو د ده په حق کې یې داسې ویلي دي (ټول فقهاء په فقه کې د امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله پیرو او شاګردان دي) همداشان امام رباني ویلي دي چې اکثره مسلمانان د امام ابو حنیفه رحمه الله په مذهب دي.

خبرداری! په تحقیق سره هغه عیسوي مبلغین چې په ښکاره خلکو ته د ژغورنې او نجات زېرې ورکوي او له یوه ځایه بل ځای ته د دې لپاره ځي چې کلیساوې جوړې کړي، دوی په پوره توګه دا هڅه کوي چې عیسویت نشر او تیت کړي، همدارنګه یهودان په دې هڅه کې دي چې هغه فاسد یهودي احکام چې د دوی په تلمود نومي کتاب کې دي نشر کړي، خو په استنابول ښار کې د حقیقت کتابتون او مطبعه پدې هڅه کې ده چې حنفي اسلامی دعوت وکړي، همدارنګه بې دینان په دې هڅه کې دي چې ټول دینونه له مېنځه یوسي او په دې لاره کې خپله ټوله هڅه کوي، نو یو عادل، هوښیار او امین سړی حقیقتونه درک کولای شي او د خلکو له مېنځه د مرستې لاس هغه چا ته ور اوږدوي چې هغه د حق دین نشروي، نو له همدې امله د حقیقت کتابتون او مطبعې دا زیار د دې سبب کېږي چې زیات شمېر خلک د دنیا او اخرت له نېکبختۍ څخه برخمن ګرځي او له بدبختۍ څخه نجات مومي .

نن ورځ مسلمانان په دریو ډلو وېشل کېږي؛ لومړی هغه پر حق مسلمانان دي چې دوی د صحابه کرامو پیروي کوي او دوی د (اهل سنت او جماعت) او یا (ژغورونکې ډلې) سره موصوف او نومول شوي دي. دویم هغه ډله خلک دي چې له صحابه کرامو سره په دښمني کولو سره مشهور دي، او دوی د (شیعه) یا (فرقه ضاله یا ګمراه ډلې) په نامه سر یادېږي .

دریمه ډله هغه خلک دي چې له اهل سنت او جماعت او شیعه ګانو دواړو سره دښمني کوي، چې دا خلک او ډله د (وهابیانو) او (نجدییانو) په نامه سره یادېږي، او دوی ته نجدیین ځکه وایي چې د دوی اول ظهور په جزیرة العرب (نجد) کې شوی دی او دغه ډلې ته (ملعونه فرقه) هم وایي ځکه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه چا ته په لعنت سره ښېرا کړې ده څوک چې مسلمانانو ته د کفر نسبت کوي لکه همدغه ډله یې چې کوي .

مسلمانان په دغه درېو ډلو د انګرېزانو او یهودیانو لخوا وېشل شوي دي. نو په ټولو مسلمانانو باندې لازمه ده چې د توحید د کلمې چې(لا اله الا الله محمد رسول الله) ده ډېر ذکر وکړي او ډېر استغفار ووایي تر څو د دوی د نفسونو او زړونو تزکیه او پاکوالی پرې وشي.

د توحید دعا

اې الله، اې الله! له تا پرته بل پر حقه معبود نشته، او محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله پیغمبر دی، اې مهربان، رحم کوونکیه او نرمي کوونکیه ربه زما له ګناهونو راتېر شه او پر ما رحم وکړه. اې ډېر مهربانه ذاته، مسلمان مې وفات او له نېکانو سره مې یوځای کړه، اې الله ما، پلرونو او مورګانو، د مېرمنې مور او پلار، نیکونو او نیاګانو، زامنو او لونېو، خویندو او وروڼو، ترونو او عمه ګانو، ماماګانو او خاله ګانو او زما استاذ عبدالحکیم ارواسي او ټولو مسلمانو نارینه او ښځینه او د دوی ژوندیو او مړو ته بخښنه وکړه، ستا د مهربانۍ او بخښنې په هیله یو او ټوله ستاینه د عالمیانو رب ته ده.

د استغفار(توبې) دعا

(استغفرالله العظیم الذی لا اله الا هو الحی القیوم و اتوب الیه) ژباړه: له هغه الله جل جلاله څخه بخښنه غواړم چې له هغه پرته بل پر حقه معبود نشته، او هغه تل تر تله ژوندی دی او یوازې ده ته توبه اېستل کېږي.

په یقیني توګه د حقیقت کتابتون او چاپخونې نشرونکی خدای بخښلی حسین حملي ایشیق رحمه الله دی چې په ۱۳۲۹ هـ کال کې چې له (۱۹۱۱ م) کال سره سمون لري، د استانبول په ایوب سلطان سیمه کې زیږېدلی دی، د هغو کتابونو شمېر چې د دې کتابتون لخوا نشر شوي دي، د درې شپېته عرب، څلور ویشت فارسي، درې اوردو او څوارلسو ترکي لیکوالانو تالیفونه دي، او له دې ډلې یې هغه کتابونه چې نورو ژبو ته لکه فرانسوي، المانې، انګرېزي، روسي او نورو ژبو ته ژباړلی دي، شمېر یې یو سل او نه څلوېښتو ته رسېږي، چې دا ټول کتابونه د حقیقت خپروندیه چاپخونه **کې چاپ شوي دي. خدای بخښلی حسین حملي ایشیق یو پاک، صالح او تقوا داره عالم وو، او د الله جل جلاله د ارادې او رضا پیروي یې کوله، او د کامل او بشپړ ولي چې د پوهې، خارق العاده کرامتونو لرونکی او د لوړ نسب څښتن سید عبدالحکیم ارواسي رحمة الله علیه شاګردي کړې او له هغه څخه یې پوه ترلاسه کړې ده، او دی د یو لوی مسلمان عالم په توګه راڅرګند شو، او په ۲۰۰۱/۱۰/۲۶ په ۲۵ شپه چې د (۱۴۲۲ هـ ق کال د شعبان مبارکې میاشت له اتمې او نهمې ورځې سره سمون لري .) وفات شو، او پخپل پلرني(زیږېدنې) په ټاټوبي کې د ایوب سلطان(الله جل جلاله یې د پخپل پراخه رحمت کې راونغاړي او جنتونه یې د ځای شي.) هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.**

د لغتونو ټولګه

د تصوف اړوند وردونه(ذکرونه) د حضرت احمد فاروقي سر هندي له مکتوبونو څخه په غوره او ښه ډول زده کېږي.

أدلة الشرعية: د اسلامي شريعت څلور مصدرونه او سرچينې: چې عبارت دي له؛ قران کريم، نبوي احاديث، د امت اجماع او د فقهاوو قياس.

اهل: خلک، وګړي: اهل البيت؛ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم مستقيم خپلوان او اقارب، (د ډېرى اسلامي پوهانو په اند) علي کرم الله وجهه د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم د کاکا زوى او زوم، فاطمه يې لور، حسن او حسين يې لمسيان.

ائمة المذاهب: د مذهبونو امامان، ائمه د امام جمع ده.

الله: الله اکبر، الله د خداى جل جلاله خاص نوم دى، او هغه ذات ته ويل کېږي چې ټولې ښېګڼې او غوره والى يوازې او يوازې ورپورې اړه ولري.

آمين: د دعا په وخت کې د دعا د قبولېدو لپاره ويل کېږي، يعنې اې الله زما دعا قبوله کړه.

امر بالمعروف و نهى عن المنكر: په نېکو کارونو باندې امر کول، او له بدو کارونو څخه د خلکو د راګرځولو دندې ته وايي، چې په اسلامي حکومت کې د محتسبينو دنده ده.

انصار: د مدينې منورې هغه اوسېدونکي چې د مکې له فتحې مخکې يې ايمان راوړى وو.

عقايد: د عقيدې جمع ده، باور، ايمان، اعتقادي اصولو او عقيدې ته ويل کېږي.

عرفات: د مکې معظمې د شمال لوري په ۲۴ کيلو مترى کې يوه خلاصه سيمه.

عارف: پوه او پېژندونکى، په تصوف کې عارف هغه چا ته ويل کېږي چې الله جل جلاله هغه ته د خپل ذات او صفتونه د مشاهدې تر حده رسولى وي او دا ورته د کشف په وسيله ترلاسه شوي وي، نه دا چې يوازې د علم او پېژندنې له لارې وي.

عرش: د کايناتو بام، تر اووم اسمان پورته ځاى او هلته بلا کيف کرسي(چوکۍ) شتون لري.

اصحاب الكهف: هغه اووه تنه مؤمنان چې د ظالم او کافر پاچا له لاسه يې يوه غار ته پناه يوړه او هلته د الله جل جلاله په امر سره ۳۰۹ کاله په ژور خوب ويده شول.

بسم الله: د الله جل جلاله په نامه سره پيل کوم.

باطني: د باطنيه په نامه د يوه لارورکې او بدعتي ډلې پيرو ته ويل کېږي.

فاضله- واسيله: د جنت دوې لورې درجې.

فقيه: چې جمع يې فقها ده، او فقيه هغه چا ته ويل کېږي چې په دين کې ژوره پوهه ولري، لکه امام اعظم ابوحنيفه، امام مالک، امام شافعي، امام حنبل او داسې نور لوى فقها.

فرض: (عمل، کړنه او حرف) هر هغه امر چې الله جل جلاله يې د ترسره کولو امر په قران کريم کې کړی وي.

فتوا: د داسې يوې مسئلې په اړه د مفتي نظر او رايه څرګندول چې په فقه کې يې حکم نه وي راغلی، خو مفتي يې د فقهې په رڼا کې حکم راباسي.

فقه: (ژور علم او پوهه) د عملي عبادتونو د ترسره کولو او څرنګوالي په اړه چې سړی بايد کوم کار ترسره او کوم کار ترسره نه کړي، د عملي احکامو ټولګې ته ويل کېږي.

فتنه: يوه عامه بلوا او هغه څه چې مسلمانانو ته زيان رسوي.

غسل: (وينځل) لکه څرنګه چې په فقه کې راځي غسل د ټول بدن درې ځلو وينځلو ته ويل کېږي.

حديث شريف: د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم قول، فعل او تقرير ته ويل کېږي، چې د دين علماوو په لويو کتابونو کې راغونډ کړي دي، لکه صحيح بخاري، صحيح مسلم او داسې نور، او تر قران کريم وروسته د شريعت دويم مصدر دی.

حضرت: (حاضر او موجود، د غايب خلاف) د درناوي لپاره د پيغمبرانو او ديني عالمانو تر نامه مخکې د مختارې په ډول ويل کېږي، لکه حضرت محمد صلی الله عليه وسلم او داسې نور.

حلال: هر هغه شی چې په اسلامي شريعت کې حرام نه وي ګڼل شوي.

حنفي: د امام اعظم ابو حنيفه د مذهب پيرو ته حنفي ويل کېږي.

حنبلي: د امام احمد بن حنبل د مذهب پيرو ته ويل کېږي.

حرام: هر هغه شی چې په اسلامي شريعت کې يې ترسره کول او يا نه کول منع کړل شوي وي.

حجاز: د عربو په جزيره کې د سرې بحيرې سره سيمه چې مکه معظمه او مدينه منوره پکې دي.

اجازه: هغه سند چې په اسلامي علومو کې د يوه کس پر علم باندې شاهدي ورکوي.

اجماع: پر يوه مسئله د صحابه کرامو، تابعينو او د امت د عالمان او پوهانو اتفاق ته ويل کېږي.

اجتهاد: د مجتهد له لوري له يوه ايت يا حديث شريف څخه د پټې معنا را ايستل او پر هغه پوهېدل.

اباحاتي: هغه څوک چې په ناحقه د يوه مسلمان وژل حلال ګڼي، کله وهابيان او داسې نور ګمراه کسان.

اخلاص: (څرنګوالی، نيت او حالت) يوازې د الله جل جلاله د راضي کولو په موخه د کار ترسره کول.

علم: پوهه، چې د ديني کتابونو څخه ترلاسه کېږي او هر مسلمان پر دې مکلف ګرځول شوی دی تر څو ديني علم ترلاسه کړي.

امام: مخکښ او سرلاری، د يوه مذهب بنسټګر، لکه امام اعظم ابو حنيفه، د لمانځه امام، او د اسلامي دولت مشر(خليفه).

ان شاء الله: که چېرې د الله جل جلاله خوښه او اراده وه.

استغفار: له الله تعالی څخه د بخښنې هيله.

جلالت: لويي او لوړه مرتبه.

جماعت: ټولی، غونډه او د مسلمانانو يو ځای والی.

جُنب: کله چې له يوه انسان څخه په خوند سره مني ووځي، او غسل پرې واجب شي.

کعبه: د مکې معظمې په ښار کې لوی او مبارک ساختمان چې د ابراهيم عليه السلام لخوا جوړ شوی دی.

کلمات: جملې او خبرې

کرامت: هغه خارق العاده کار يا امر چې د ولي په لاس يې الله تعالی ښکاره او څرګند کړي.

کريم: بخښونکی

خطبه: هغه وينا چې معمولا د جمعې په ورځ او په اخترونو کې د امام لخوا په عربي ژبه ويل کېږي او پر يوې ځانګړې موضوع بحث کېږي.(په بله ژبه خطبه نه ويل کېږي)

کرسي: د عرش په موضوع کې د وکتل شي.

مدينه منوره: د هجرت ټاټوبی، چې تر هجرت مخکې يې نوم يثرب وو، او د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم له ورتګ وروسته په مدينه منوره سره يې بدلون وموند.

محشور: د قيامت په ورځ د يو چا حشر کول، چې هلته به وروستنی پرېکړه او قضاوت د الله جل جلاله له لوري کېږي.

مکروه: بد، نامناسب او ناخوښ فعل يا وينا، هغه فعل او وينا چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم لخوا پرهېز ترې شوي وي.

مالکي: د امام مالک د مذهب پيرو ته ويل کېږي.

مندوب: غوره او خوښ فعل او وينا، که چېرې ترسره شي ثواب لري، او پرېښودل يې سزا نه لري.

معرفت: هغه پېژندنه او علم چې د الله جل جلاله د ذات او صفتونو په اړوند يې د وليانو کرامو په زړونو کې الله جل جلاله الهام کوي.

ميلادي: د عيسی عليه السلام د زوکړې نېټه، چې عيسويان يې د خپل تاريخ مبدا بولي.

منبر: په مسجد کې هغه لوړ زینه لرونکی ځای چې امام پرې وعظ او خطبه وایي.

معاملات: د خلکو تر منځ د ورځنیو چارو د سمبالښت لپاره د راکړې ورکړې معاملې، چې په فقه کې لوی بحث او برخه ده.

مباح: هغه چارې چې په کولو او نه کولو یې امر نه وي شوی، یعنې اختیاري وي.

مدرس: د ښوونځي، پوهنتون او مدرسې استاذ

مفسر: د قران کریم تفسیرونکی او کارپوه.

مفتي: هغه دیني عالم چې د فتوا ورکولو صلاحیت او اجازه ولري.

مهاجرون: د مکې هغه مسلمانان چې د مکې له فتحې مخکې یې ایمان راوړی.

معجزه: هغه خارق العاده کار چې د عاجز کولو په موخه یې الله جل جلاله د خپل پیغمبر پر لاس ښکاره کوي.

مجتهد: هغه لوی عالم چې د شریعت پېچلې مسئلې حل کوي او د اجتهاد مرتبې ته رسېدلی وي.

منافق: هغه څوک چې په ښکاره مسلمان خو په زړه کې کافر وي، ایمان یې زړه ته نه وي داخل شوی، ریا کار او دوکه باز وي.

مرشد: لارښود، مشر.

متشابه: (یو ایت یا حدیث) چې پټه معنا ولري.

نجس: ناپاک، هغه څه چې د شریعت په امر ناپاک بلل شوي وي.

قضا: له ټاکلي وخت وروسته د یوه کار ترسره کول، یعنې هر هغه عبادت چې پخپل ټاکلي وخت کې ترسره نشي او وروسته ترسره شي، هغه ته قضا ویل کېږي، قضا د ادا ضد دی.

قبله: د عبادت په وخت کې د شریعت سره سم یوه لوري ته مخ ګرځول، لکه په لمانځه کې کعبې شریفې ته مخ کول.

قیاس الفقها: د اجتهاد یوه لاره، او د شریعت د څلورګونو اتفاقي مصدرونو وروستنی مصدر، او قیاس دا معنا چې مجتهد د هغه موضوع حکم چې په نص سره نه وي ثابت شوی، له هغه مشابه او ورته موضوع څخه چې نص پکې راغلي وي ثابتوي.

قطب العارفین: د ولایت وروستنی درجه.

رب: الله تعالی، پیدا کوونکی او لارښود.

رمضان: د روژې مبارکې میاشت، چې په قمري تقویم کې ده.

رسول: چې جمع یې رُسل دی، پیغمبر، استازي، رسول الله، محمد صلی الله علیه وسلم ته ویل کېږي.

ریاضة: پرهېزګاري، د هغه څه له ترسره کولو څخه ډډه کول چې نفسه یې خوښوي.

صحابه: هغه خلک چې رسول الله صلی علیه وسلم یې پخپل ژوند کې لیدلی، ایمان یې وراندې راوړی او د ایمان په حالت کې وفات شوی وي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګري.

سلام: جوړ پخیر، احوال اخیستل، او هغه عبارت چې د لمانځه څخه د وتلو پر مهال ښي او کیڼ لوري ته داسې ویل کېږي: (السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته)

صالح: نېک عمله، هغه څوک چې پرهېز ګار او نېکو کاره وي.

شافعي: د شافعي مذهب بنسټګر امام شافعي ته د منسوب مذهب پیرو.

شیخ الاسلام: د شرعي علومو لوی دفتر، هغه څوک چې په اسلامي علومو کې لوړه مرتبه ولري.

صدیق: رښتونی، هغه څوک چې په رښتني ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ژمن وي، د ابوبکر رضی الله عنه لقب.

صوفي: متصوف، هغه څوک چې د تصوف په موخه یې تعلیم او تربیه شوې او کمال ته رسېدلی وي.

صحبة: د پیغمبر یا ولي سره ملګري او مجلس کول.

صالحة: نېکه عمله ښځه، همدارازد صالح جمع.

سنت: (کړنه یا یو شی) هغه کړنه او امر چې د الله جل جلاله لخوا یې د ترسره کولو امر نه وي شوی، بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا ترسره او خوښ کړل شوي وي،(که چېرې ترسره شي ثواب لري، خو که همېشه پرېښودل شي ګناه لري، او که چېرې سپک وګڼل شي د کفر سبب کېږي) سنت د شریعت د څلورګونو اتفاقي مصدرونو څخه تر قران کریم وروسته دویم مصدر دی.

سورة: د قران کریم یوه برخه.

تقوا: له الله تعالی څخه وېره، له حرامو څخه پرهېز او ډډه کول.

تصوف: علم (د فقهې تر قبولو وروسته) د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د رفتار تمرین کول چې د ایمان د غښتلتیا سبب کېږي، او تصوف د فقهې تمرین اسانه کوي او د معرفت د تر لاسه کولو وسیله او لار هواروي.

طواف: د حج په وخت کې د کعبې شریفې څخه چارچاپېره په دایروي شکل ګرځېدل، چې ستر عبادت دی.

توبه: پښېماني، ځان پرې ګڼل؛ له تېرو کړو ګناهونو څخه الله جل جلاله ته توبه اېستل او ژمنه کول چې په راتلونکي که به هغه کارونه نه تکراروي.

ثواب: په دنیا کې د نېکو عملونو د ترسره کولو په بدل کې بنده ته په اخرت کې د الله جل جلاله لخوا بدله ورکول.

علما: پوهان، د عالم جمع.

امت: هغه مؤمنان چې د یوه پیغمبر پیروي یې کړي وي، اسلامي امت.

وحی: هغه پوهه چې د الله جل جلاله له لوري پیغمبر ته ورکړل شوې وي.

واجب: (کړنه او شی) هغه فعل او شی چې هېڅکله پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه دي ترک کړي، په فقه کې هغه فعل او شی ته ویل کېږي چې په ظني دلیل سره ثابت شوي وي، واجب الوجود: یعنې هغه شی چې شتون یې حتمي وي او نشتوالی یې ناشونی وي.

ولي: جمع یې اولیا دي، هغه څوک چې د الله جل جلاله دوست وي، او الله جل جلاله یې ساتنه کوي.

ولایت: د ولي توب حالت.

زاهد:په دنیایي شیانو پورې زړه نه تړل ، له مباح کارونو څخه ډډه کول.